تسهیل الوقایه

پښتو شرح

شرح الوقایه

دویم جلد

مؤلف
شیخ القرآن والحدیث حضرت
مولانا **عبدالرشید** صافي عفي عنه
حالاً مدرس فیض القرآن پغمان کابل

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سرچوک کابل
0782690850
محله جنگی قصه خوانی پشاور
091-2580074

مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ (الحديث)

الحمد اللّٰه الذی وفقنا لطبع هذا الشرح المستطاب باللغة الافغانی

المسمٰی به

تسهیل الوقایه

پښتو شرح

دویم جلد

شرح الوقایه

تالیف

مولانا **عبدالرشید** صافی عفی عنه

فاضل دارالعلوم اسلامیه تحصیل چارسده

ومدرس دارالعلوم شمس الاسلام سراچه نغلو جلال آباد

ناشر

مکتبه رشیدیه

قصه خوانی بازار محله جنګي پښاور

۰۹۱۲۵۸۰۰۷۴

د کتاب نوم تسهيل الوقايه شرح شرح الوقايه (دويم جلد نکاح)
تاليف مولانا عبدالرشيد صافي عفي عنه
ضخامت ۳۱۵
تصحيح مولوی محمد بشيرحقانی
ستينګ بختورشاه آفريدی
زيری نګرانی مولانا سيدمحمد حقانی
دچاپ کال محرم ۱۴۳۶ هـ / نومبر ۲۰۱۵

ناشر
مكتبه رشيديه
قصه خوانی بازار محله جنګي پښاور
۰۹۱۲۵۸۰۰۷۴

د کتاب ترلاسه کولو ځايونه

(۱) جلال آباد (۴) پروان (۷) کابل (۱) پښاور
(۲) خوست (۵) کندوز (۸) قندهار (۲) اکوړه ختك
(۳) غزنی (۶) بغلان (۹) لوګر (۳) کوئټه

دمضامینو فهرست

شمیره	مضمون	صفحه

شمیرہ	مضمون	صفحہ

شمیرہ	مضمون	صفحہ

شمیره	مضمون	صفحه

تقریظ شیخ القرآن والحدیث جامع المعقول والمنقول استاذنا واستاذ العلمآء صاحب التصانیف حضرت مولانا المولوی ابو الحنیف محمد أمیر الرحمٰن النعمانی دامت برکاتہم العالیۃ۔

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

الحمد للّٰہ الذی وفقنا للتفقہ فی الدین الذی ھو حبلہ المتین والصلوۃ والسلام علی من بُعث رحمۃ للعلمین وعلی الہ وصحبہ اجمعین

امابعد: فقد طالعت الکتاب المستطاب المسمّی باالتسھیل الوقایۃ فی شرح الوقایۃ الذی الفہ اخونا المکرم والعالم المحترم الشیخ مولانا عبدالرشید صافی حفظہ اللّٰہ من کل حاسد وعنید ورتبہ با النمط الجدید والبحث الوحید وأظن ان ھذا الکتاب لایستغنی عنہ معلم شرح الوقایۃ ولا متعلمہ واسأل اللّٰہ تعالی ان یقبل ھذا لسعی المفید ویوفقہ للمزید وما ذلک علی اللّٰہ بعزیز۔

وأنا العبدالجانی ابو الحنیف محمد أمیر الرحمٰن النعمانی غفرلہ الباری

۳۲/ محرم/ ۱۴۳۲ھ

تقریظ شیخ القرآن والحدیث جامع المعقول والمنقول استاذ العلماء والطلباء فقیہ العصر وحید الزمان مولانا المولوی صالح محمد حقانی دامت برکاتہم۔

بسم اللّٰہ الرحمن الرحیم

الحمدللّٰہ وحدہ والصلوۃ علی من لانبی بعدہ.

امابعد: فقد سرحت نظری علی بعض المباحث المتعلقة بالشرح الموسوم بالتسهیل الوقایة علی شرح الوقایة فوجدته مفیداً لسائر العلوم الاسلامیة الشرعیة وهذ الشرح المعظم قد صنفه العالم النبیل والمحقق الکامل اخونا ومولانا المولوی عبد الرب صافی فجزاه اللّٰه احسن الجزاء وان یوفقه المزید خدمة العلوم الشرعیة وان یبارک فی عمره وعمله واللّٰه علی مانقول وکیل عبده صالح محمد حقانی.

۲۳/ محرم/ ۱۴۳۲ھ

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

الحمدللّٰه رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين

امابعد: د خالق لایزال څخه ډیر شکر گذاریم چې زما غوندی یو عاجز گناه گار بنده څخه ئی د خپل دین څه ناڅه کار واخسته او د الله جل جلاله څخه ددین لپاره دزیاتی خدمت طلب گاریم محترمو ورونو چونکی دشرح الوقایی عبارت څه ناڅه مغلق او مشکل ځایونه لری نومادډی حل لپاره کومه دزړه پوری یوه جامع شرح هم ونه موندلو نو ددی په حل کولو کی می څه ناڅه کوشش وکړو اوبل په پښتو ژبه کی هم ددی کومه شرحه نه وه نو ما ځکه په خپله مورنی ژبه ددی شرحه وکړه او دالله جل جلاله د باقی حصو د شرح کولو لکه بیع۔ شفع هم امید لرم۔

محترمو!

زه دخپلی کم علمی او کم فهمی سره سره ستاسو څخه دا خواهش لرم چې که په دې شرحه کی چې موسومه په تسهیل الوقایة ده کومه غلطی وی نو ددی د اصلاح کوشش وکړی او ستاسی ددعاء طلب کونکی یم۔ والسلام

طلب کونکی ددعاء خادم العلم والعلماء العبدالضعیف ابوالحسین عبدالرشید صافی عفی عنه فاضل دارالعلوم اسلامیه تحصیل چارسده حالًا اوسیدونکی دسوړداک ولسوالی ککه خوگیانی ننگرهار افغانستان

۲۳/ محرم/ ۱٤۳۲ ه

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الحمد للّٰه الذی شرح صدورنا للإسلام بالوقایة من الکفر والظلام ، والصلاة علی سید الانبیاء العظام و علی اله و اصحابه الکرام .

کتاب النکاح

تقدیر ددی داسی راځی ای هذا کتاب فی بیان احکام النکاح۔ یعنی داکتاب دی په بیان د احکامو د نکاح کی۔

بیان الشراح فی لغة النکاح :

علامه کاکی وائی : چه نکاح په لغت کی جمع کولو او یو ځای کولو ته وائی لکه عرب په یو مثال کی وائی چه : انکحنا الفری فسنری ای جمعنا بین الحمار الوحشی الذکور والاناث فننظر ما یتولد منهما۔ ترجمه : مونږه جمع والی وکړو په مینځ د خره وحشی کی په نرو او ښځو کی نو مونږ به ګورو چه دی دواړو نه څه پیدا کیږی ، او مبرد د بصریانو په قول د کوفیانو نه نقل کوی چه نکاح عبارت ده د جمعه کولو نه او دا استعمالیږی په وطی کی ځکه چه په هغی کی هم ضم او جمعه والی د اندامونو راځی ، او استعمالیږی په عقد کی مجازا۔

زمونږ د احنافو په نزد نکاح لغةً او شرعًا حقیقتًا په وطی کی استعمالیږی او مجازا په عقد کی ، او امام شافعیؒ په نزد نکاح په لغت کی حقیقتا وطی کی استعمالیږی او شرعا حقیقتا هم نکاح عبارت ده له عقد څخه او کوم ځای کی چه الله تعالی نکاح ذکر کړی نو امام شافعیؒ د هغی څخه عقد مراد کړی او دا صحی خبره نه ده ځکه چه الله تعالی فرمائی :(الزانی لا ینکح الا زانیة او مشرکة۔ النور الایة ۳) او په بل ځای کی فرمائی چه :(حتی اذا بلغوا النکاح۔ النساء الایة ٦) نو دلته بالاجماع وطی مراد ده او په شرح الاسبیجابی کی لیکلی دی چه نکاح په لغت کی مطلق جمعه والی ته وائی۔

او په اصطلاح کی : العقد بشرائطه۔ یعنی نکاح عقد ته وائی سره د شرائطو ، او علامه فخر الاسلام ویلی دی چه نکاح عقد شرعی ته وائی خو مراد پدی سره وطی ده لیکن بعضی علماء وائی چه نکاح حقیقت ده په دواړو کی ځکه معنی د ضم په دواړو کی شته لکن صحی خبره داده چه نکاح حقیقت ده په وطی کی خاص ځکه چه معنی د ضم په دی کی حقیقتا شته او دا جائز نه ده چه نکاح حقیقت شی په عقد کی ځکه چه دا مؤدی کیږی اشتراک د لفظینو ته چه وطی او عقد ده او دا خلاف الاصل ده دارنګی دلیل په دی خبره حدیث د نبی علیه السلام دی چه : ناکح البهیمة ملعون۔ یعنی وطی کونکی د چارپائی سره لعنتی دی نو دلته د نکاح نه مراد وطی ده نه عقد ځکه د چارپائی سره عقد نشی کیدای او وطئ کیدای شی ، همدارنګه مطرزی وائی : چه تزویج ته هم نکاح ویلی شی ځکه چه تزویج سبب دی لپاره د وطی۔ (بنایه ج ۵ ص ۳) .

الاختلاف الوجيز فى فعل التزويج

سوال: مصنف ولی احکام د نکاح په ما بين د احكامو د معاملاتو محضووکی او د عبادات محضوو کی راوړه ؟

جواب: دا ځکه نکاح من وجه معامله ده چه تسميه د مهر پکی کیږی او من وجه عبادت ده ځکه چه نکاح د سنتو د انبیاؤو څخه ده ، او په نکاح کی نیم دین د انسان حاصلیږی دارنګی د نکاح نه کولو په صورت کی وعید راغلی دی لکه حدیث مبارک کی راغلی دی. (قال النبی ﷺ النکاح من سنتی فمن لم یعمل بسنتی فلیس منی. رواه ابن ماجه. بنایه) دارنګی بل حدیث مبارک کی نبی علیه السلام عکاف بن وداعه ته فرمائی (چه لازم دی تاله څلور طریقی د پیغمبرانو نه (۱) حیاء کول (۲) خوشبوئی استعمالول (۳) مسواک وهل (۴) نکاح کول. رواه الترمذی. بنایه العینی) هم دارنګ د یو حدیث مبارک په یو جز کی راغلی دی چه (شرارکم عزابکم. الحدیث رواه احمد) یعنی بد ترین ستاسی بی نکاح خلک دی ، هم دارنګه د نکاح په کولو کی ډیری فائدی شته لکه نبی علیه السلام فرمائی چه : (تزوجوا فانی مکاثر بکم الامام. رواه البیهقی) یعنی ودونه وکړئ بیشکه زه فخر کوم ستاسی په وجه په نورو امتونو باندی. بل حدیث مبارک کی راځی (چه تاسی ودونه وکړئ ځکه واده بهتر دی د زرو کلو د عبادت څخه. رواه الطبرانی) خو د الله پاک نه د نیکی ښځی سوال پکار دی ځکه نیکه ښځه په دی دنیا کی جنت ده او بده ښځه په دی دنیا جهنم دی. یو حدیث مبارک کی راځی چه نبی علیه السلام فرمائی (چه دنیا ټوله متاع ده خو بهترینه متاع پکی نیکه ښځه ده. رواه مسلم وابن ماجه) همدارنګه الله پاک د خپلو نکو بندګانو په صفت کی فرمائی (والذین یقولون ربنا هب لنا من ازواجنا و ذریاتنا قرة اعین واجعلنا للمتقین اماما. الفرقان)

ترجمه: زما نیک بندګان هغه کسان دی چه دوئی وائی ای ربه زمونږ راکړی مونږته د ببیانو زمونږ نه او د اولادی زمونږ نه د سترګو یخوالی او یا الله پاک وګرځوی مونږ سره د نیکانو خلکو پیشوا او رهبر ، یعنی زمونږ نه وروسته خلک نیکان وګرځوی.

نو ددی روایاتو څخه دا معلومه شوه چه نکاح من وجه معامله ده او من وجه عبادت ده اوس د دغه احادیثو نه اصحاب الظواهر دا اخذ کړی چې نکاح فرض عین ده تر دی پوری چې څوک په وطی کولو او خرچه ورکولو باندی قادر وی نو د نکاح په پریخودو به ګناه ګاریږی ، او بعضی شوافع وائی : چې نکاح فرض کفائی ده او بعض شوافع وائی چې نکاح مستحب ده ، او بعضی علماء وائی چې سنت مؤکد ده او بعض وائی چې نکاح واجب علی الکفایه ده ، او په مبسوط کی ذکر دی چې نکاح سنت مستحبه ده په قول د جمهورو علماؤ. لیکن د نکاح لپاره یو څو حالته دی د هغه حالاتو مناسب باید حکم وکړای شی :

(۱) اول دا چې نکاح فرض ده په وخت د غلبې د شهوت کې او د ويرې د واقع کيدلو نه په زنا کې. کذا في البدائع .

(۲) دويم په وخت د اعتدال کې يعنې برابرۍ کې چې د شوق او شهوت ډيره غلبه نه وي نو بيا نکاح سنت مؤکد ده ـ قاله النسفي .

(۳) دريم که د ظلم ويره وه چې مانه په ښځه ظلم وشي نو بيا مکروه ده ـ کذا في البنايه .

(۴) څلورم او که يقين ددې ؤ چې مانه به خامخا ظلم کيږي د ښځې حق به رانه پايماليږي نو بيا نکاح حرامه ده ـ کذا في الحاشيه .

(۵) پنځم که ويره د عاجزۍ وي چې زه به ددې د حقوقو څخه عاجز شم يا خالص دشهوت د کولو لپاره وي نو بيا نکاح مباح ده ايضا قاله المحشيؒ .

هو عقد موضوع لملك المتعة اى حِلّ استمتاع الرجل من المرأة آه

ترجمه : دا نکاح يو عقد دی چې وضع شوی لپاره د ملك د متعې يعنې حلال والی د نفع اخستو د سړي د ښځې نه .

تشريح المسئلة

غرض د مصنفؒ په دې عبارت سره بيان ددې خبرې دی چې مراد د نکاح نه په دې مقام کې عقد دی نه وطی ځکه چې خبره دعقد شروع ده نه د وطی ـ نو نکاح يو عقد دی چې د شريعت له طرفه مقرر شوی لپاره د ملک د متعې ،او متعه هغه څه ته وائي چې په کوم شي نه نفع اخستلې شي (اسم لما ينتفع به) خو په معنی د استمتاع سره هم راغلې لکه څرنګه چې شارحؒ ورته اشاره کړې ده په دې قول سره چې. اى حل استمتاع الرجل من المرأة ـ يعنې وضع د عقد لپاره د حلال والي د نفع اخستو د سړي د ښځې نه ده خو فرق به ئې داشي چې متعه به خاص شي په نفع اخستو د سړي د بضع (فرج) د ښځې نه او استمتاع به خاص شي تر نورو اندامونو پورې.

سړي لره جائز دی چې د ښځې نه نفع واخلي په هره طريقه سره چې وي د لوبو په شکل کې وي يا د جماع په شکل کې وي ، او جماع په هره طريقه کولی شي او د نورو اندامونو څخه هم نفعه اخستلی شي مګر د هغه نه نشي اخستی چې کوم شريعت منع کړی دی لکه نفع اخستل په لواطت سره ځکه حديث مبارک کې راغلي چه (ملعون من اتى امرأة في دبرها ـ اخرجه اصحاب السنن قاله المحشي) ترجمه : لعنتي شوی دی هغه څوک چې راتلل وکړي خپلې ښځې ته د شا لخوا ـ په دبره کې) مطلقا د شا لخوا راتګ ممنوع نه دی بلکې هغه ممنوع دی چې په دبره کې وي يعنې د غټ اودس ماتې په ځای کې.او که څوک د خپلې بي بي سره د شالخوا په فرج کې جماع کوي نو بلکل جائز ده.

اوس يو اعتراض راځي چې شارح ووېل: چې حلاله ده نفع اخستل د سړي د ښځې نه نو تخصيص د سړي ولې وشو ځکه نکاح کې څرنګه چې استمتاع سړي ته د ښځې نه جائزه ده دارنګې ښځې ته د سړي نه جائز ده نو بيا ولې تخصيص د سړي وشو ؟

ددې اول جواب دادې چې سړې اشرف دی د ښځې نه. دويم جواب دادې چه د سړي حق د ښځې نه زيات دې اګر که استمتاع د طرفينو جائز ده ليکن کله که شرعا مانع نه وې لکه حيض و غيره.

او ښځه د کوروالي نه انکار اوکړي نو سړې لره دا حق شته چې دې ښځې سره د زور نه کار واخلي. او ښځه کوروالي ته مجبوره کړي خو ليکن که سړي يو ځل کور والي وکړي نو دويم ځل لپاره ښځه په خاوند څه زور نه شي کولې چې ماسره بيا کوروالي وکړه اګر که کله کله ديانةً لازم دې چې کوروالي ورسره وکړي.

بله خبره دا چې شارح په تفسير کې د من المراة قيد اولګولو ديکې ديته اشاره ده چې سړي لره صرف استمتاع د خپلې منکوحې نه جائزه ده د دينه هغه ښځې خارجې شوې چې کومې په سړي هميشه حرامې دي لکه خور مور و غيره، او دا رنګې استمتاع د سړي د بل نارينه نه يا دخنثې نه يا د جنې (پيرې) نه حرامه ده.

فالعقد هو رَبْطُ اجزاء التصرف اى الايجاب والقبول شرعا.

اوس غرض د شارح بيان د تعريف د هغه عقد دې چې کوم په تعريف د نکاح کې راغلې چې عقد ديته وائي چې دا تړل د هغه اجزاؤ د تصرف دې چې مراد د هغې نه ايجاب او قبول دې له جهته د شرعې نه. ايجاب کلام اول د احد العاقدين ته وائي او قبول کلام آخر ته وائي يعنې تړل د هغه اجزاؤ د تصرف د عاقدينو په خپل مينځ کې چې د کومو اجزاؤ په سبب دوي په خپل منځ کې تصرف کوي دې تړلو ته عقد وائي خو په ربط شرعي سره چه دا د شريعت له طرفه يو ربط دې نه په ربط حسي سره.

لكن هنا أُريد بالعقد الحاصل بالمصدر و هو الارتباط

تشريح ا وتوضيح: غرض د شارح په دې عبارت سره دفعه د يو وهم ده هغه دا چې نکاح نه مراد عقد شو او د عقد نه مراد هغه ربط مصدري شو چه کوم د ايجاب او قبول خپل منځ کې ربط او تړل راولي او حال دا چه نکاح نه مراد خو دانشې کيداې ځکه چې نکاح هغه غقد ته وائي چې د ايجاب او قبول نه پس کوم احکام پدې مرتب کيږي ؟

نو شارح ددې وهم دفع وکړه چې صحې ده عقد په معنې اصلي کې په معنې د ربط مصدرې راځي خو ليکن مراد ترې په تعريف د نکاح کې هغه حاصل بالمصدر دې چې هغې ته ارتباط خاص وائي چه حاصل وي د ربط د کلام د احدالمتعاقدين دآخر سره چې په هغې باندې کوم احکام مرتب کيږي.

لكن النكاح هو الايجاب والقبول مع ذلك الارتباط

تشريح او توضيح : لکن نکاح همدغه ایجاب او قبول دی سره د همدغه ارتباط نه. غرض د شارح پدی عبارت سره دفع د يو اعتراض کوی چې تاسی مراد د عقد نه ارتباط خاص مراد کړ خو دا نه صحی کیږی ځکه چې نکاح شرعا صرف دغه ارتباط ته نشی ویلی کوم چې ثابت دی په ما بین د زوجینو کی بلکه نکاح عبارت ده د هغه ایجاب او قبول نه چې کوم سره ددغه ارتباط خاص وی ؟

نو شارحؒ ورته جواب وکړو چې صحیح ده چه نکاح شرعی ویلی کیږی ایجاب او قبول ته سره ددغه ارتباط خاص نه خو لیکن دلته چې مراد د عقد نه ارتباط شو دا له وجې د کمال مدخل د دی ارتباط نه په عقد کی نو د دی وجې نه دوی تعبیر د عقد نه په ارتباط خاص سره وکړو.

و انما قلنا هذا لان الشرع يعتبر الايجاب والقبول اركان عقد النكاح لا امورا خارجية كالشرائط و نحوها

ترجمه : او بیشکه دا خبره چې مونږ کوو [چې نکاح عبارت ده له ایجاب او قبول نه سره ارتباط نه] دا ځکه چې شریعت ګرځولی ایجاب او قبول رکنونه د عقد د نکاح نه امور خارجیه لکه شرائط او داسی نور.

توضيح المعنى لما قلنا

غرض د شارح په دی عبارت سره بیان ددی خبری کوی چې نکاح یوائی عبارت د دغه ارتباط نه نه ده بلکه نکاح عبارت ده د ایجاب او قبول نه سره د دغه ارتباط خاص نه ځکه چه شریعت ایجاب او قبول ته اعتبار د رکنونو ورکړی په عقد د نکاح کی، او رکن ویلی شی داخل د شی ته او جزء د هغی نه نو ایجاب او قبول هم جزء دی د نکاح نه نو که چیری نکاح صرف د ارتباط خاص نه عبارت شی نو بیا به ایجاب او قبول د امور خارجیو د نکاح نه یعنی د شرائطو د نکاح نه وګرځی او حال دا چه داسی نه ده نو معلومه شوه چې حقیقت د نکاح مرکب دی د ایجاب او قبول نه سره د دغه ارتباط خاص نه نه یوائی د دغه ارتباط نه او نه یوائی د ایجاب او قبول نه.

و قد ذكرت في شرح التنقيح في فصل النهي كالبيع فان الشرع يحكم بان الايجاب والقبول الموجودين حسا يرتبطان ارتباطا حكميا فيحصل معنى شرعيٌّ يكون ملك المشتري اثرا له فذلك المعنى هو البيع

ترجمه : او په تحقیق سره ما ذکر کړی په شرح د تنقیح کی چې (توضیح) ده په فصل د نهی کی چې نکاح په شان د بیع ده ځکه شریعت حکم کوی پدی سره چې ایجاب او قبول چې موجود دی حسا د دوی ارتباط راځی (په تکلم د عاقدینو سره) په ارتباط حکمی سره (په حکم د شرع سره) نو حاصلیږی د

دغه ارتباط نه یو معنی شرعی داسی معنی شرعی چې ملک د مشتری به اثر ددی لپاره وی نو دغه معنی چې حاصل د ایجاب او قبول نه راغله همدغه بیعه هم ده .

بیان الواضح فی عبارة التوضیح

غرض د شارح په راوړلو د دی عبارت سره ثابتول د دی خبری چې ایجاب او قبول د ارکانو د عقد څخه دی. شارح وائی ما په توضیح کی چې د تنقیح شرحه ده ذکر کړی په فصل د نهی کی چې نهی به یا د حسیاتونه وی لکه د زنا نه او د شرابو نه او یا به د شرعیاتو څخه وی لکه روژه او بیعه دا د تنقیح د عبارت خلاصه ده ، او په توضیح کی ئی ویلی چې مراد په حسیاتو سره هغه دی چې هغی لره وجود حسی وی فقط او مراد په شرعیاتو سره هغه دی چې هغی لره وجود شرعی وی سره د وجود حسی نه لکه بیعه شوه څکه دی سره وجود حسی هم شته څکه ایجاب اوقبول حسا موجود دی او سره ددی وجود حسی نه دی لره وجود شرعی هم شته څکه شریعت حکم کوی چه ایجاب او قبول چې کوم حسا موجود دی په خبرو د عاقدینو سره دی سره یو ربطی حکمی راځی او د دغه ربط حکمی نه بیا شرعی معنی حاصلیږی چې تصرف د مشتری دی په مبیعه کی دا د دغه مجموعی مرکبی معنی یو قسم اثرؤ او همدغی مجموعی مرکبی معنی ته بیع ویل کیږی دی ځای پوری د توضیح عبارت خلاصه ده .

فالمراد بذلك المعنى المجموع المركب من الايجاب والقبول مع ذلك الارتباط الشرعي لا ان البيع هو مجرد ذلك المعنى الشرعي والايجاب والقبول آلة له كما توهم البعضُ لان كونهما اركانا ينافي ذلك.

ترجمه : نو مراد په دغی معنی سره هغه مجموعه مرکب د ایجابه او قبوله سره د دغه ارتباط شرعی نه ـ نه داسی چې بیع صرف دغه معنی شرعی ده یعنی ارتباط ایجاب او قبول د دی لپاره آله دی لکه څرنګه چې بعضی خلکو دا وهم کړی ؤ ، داسی څکه نه ده چې کیدل د ایجاب او قبول چې ارکان شي دا منافی دی د دی سره چې آله د دی معنی لپاره شي.

تشریح او توضیح : غرض د شارحؒ په دی عبارت سره تطبیق د عبارتینو دی لکه څرنګه چه بیع کی ایجاب او قبول د ارکانو د بیع نه حسابولی شي نو دارنګی په نکاح کی هم ایجاب او قبول د ارکانو د عقد د نکاح نه حسابولی شي نو مراد په دغی معنی سره چې کومه پس له ارتباط شرعی نه حاصله شوی هغه مجموع ده چې مرکب ده د ایجاب او قبول نه سره د دغه ارتباط شرعی نه ، او داسی نه څرنګه چې بعضی خلکو یو وهم کړی چې بیع صرف دغه معنی شرعی ته ویلی شي چې ارتباط دی او ایجاب او قبول آله دی یعنی واسطه دی د دغی ارتباط لپاره نو دا وهم غلط دی څکه چې کله ایجاب او قبول مونږ رکنونه حساب کړل نو بیا کله دا آله او شرائط کیدای شي ؟ څکه رکن داخل د شي ته ویلی شي او شرط خارج د

شي ته ویلی شي نو د رکن او شرط تر منځ فرق شته .

فلا شك ان لـه عللا اربعا فالعلة الفاعلية هو المتعاقدان، المادية الايجاب والقبول، والصورية هو الارتباط المذكور الذى يعتبر الشرع وجوده ، والغائية المصالح المتعلقة بالنكاح

ترجمه : نو شک نشته چې د دی نکاح لپاره څلور علتونه دی یو علت فاعلی چې هغه متعاقدان (زوج او زوجه) دی ، دوهم علت مادی چې هغه ایجاب او قبول دی ، او دریم علت صوری دا هغه ارتباط مذکور دی چې کوم شریعت د هغی وجود ته اعتبار ورکړی ، او څلورم علت غائی هغه مصالح چې د نکاح متعلق سره وی.

تشریح او توضیح : غرض د شارح په دی عبارت سره تفریع په ما قبل ده چې نکاح عبارت ده شرعا د هغه مجموع مرکب نه چې ایجاب او قبول او ربط حکمی دی نو ثابت شو د نکاح لپاره څلور علتونه نو که چیری نکاح صرف د دغه ارتباط خاص نه عبارت وی نو بیا به دی لره علت مادی او صوری نه ؤ ځکه چې علت مادی او صوری د خواصو د حقائقو مرکبو نه دی او دغه ارتباط لره څه حقیقت مرکبی نشته ـ مثال د علل اربعوو لکه یو ترکاڼ کټ جوړه وی نو دغه ترکاڼ ددی کټ لپاره علت فاعلی دی او د دغه کټ بازوګان ددی کټ لپاره علت مادی دی او د دی یو ځای کول سره علت صوری دی او په دی ملاسته او ناسته کول علت غائی دی.

نو دارنګی نکاح لپاره څلور علتونه دی. علت فاعلی : علت فاعلی د نکاح لپاره متعاقدان یعنی ښځه او سړی دی او علت مادی ددی لپاره ایجاب او قبول دی او علت صوری د دی نکاح هغه ارتباط دی چه کوم په ربط د ایجاب او قبول سره راغلی او دا ارتباط څه حسا موجود نه دی چې په سترګو ولیدلی شی بلکه دا یوه معنی عقلی شرعی ده چې دی لره شریعت اعتبار د وجود ورکړی او که شریعت اعتبار د وجود ورنکړی نو بیا به بلکل موجود نشی او څلوم علت غائی د دی نکاح هغه مصالح دی کوم چې د دی نکاح سره متعلق دی لکه خپل شهوت پوره کول او خوند اخستل او طلب د اولاد او طلب د خدمت و غیره .

تعریف العلل

(۱) علت فاعلی دیته وائی چې صدور د فعل د ده نه کیږی (۲) علت مادی دیته وائی چې ترکیب د دینه د هغه شی کولی شی چې کوم مقصود وی او دغه مقصودی شی د دی په وجود سره بالقوه موجودیږی (۳) علت صوری دیته وائی چې دا موجب د وجود د دغه شی لپاره بالفعل وی او ترکیب د دی مادی نه راځی (۴) علت غائی دیته وائی چې کوم باعث لپاره د فاعل ؤ په دغه فعل باندی او علت غائی په اعتبار د تصور سره د وجود د معلول نه مقدم وی خو په اعتبار د وجود سره مؤخر وی .

و انما قلنا عقد موضوع لان البيع والهبة و نحوهما يثبت به ملك المتعة لكن غير موضوع له فلهذا يصح البيع و نحوه في محل لا يحل الاستمتاع فيه بخلاف النكاح.

ترجمه : او بيشكه مونږ وويل چې عقد موضوع يعنى عقد وضع كړاى شوى ځكه چې بيع او هبه او داسې نور عقود ثابتيږى پدى سره ملك د نفع اخستو لكن ملك متعى د دى لپاره نه دى وضع شوى نو د دى وجې نه صحيح ده بيع او داسې نور عقود پداسې محل كې چې هلته نفع اخستل حلال نه وى په خلاف د نكاح نه .

تشريح او توضيح : غرض د شارحؒ په دى عبارت سره دفع د يو اعتراض ده چې ماتنؒ په تعريف د نكاح كې لفظ د موضوع ولې راوړه د دى په ځاى به ئې لفظ د مفيد يا يق بل لفظ راوړى ؤ ؟

نو شارحؒ د دى اعتراض جواب وكړو چې ماتنؒ لفظ د موضوع د دى وجې نه راوړو چې بيع او هبه او داسې نور عقودو سره ملك متعى راځى لكه اخستل د يوى وينځى يا چا نه په هبه كې قبلول او داسې نورو طريقو سره چې په هغى سره ملك رقبى راځى نو ملك متعى به هم ورسره وى لكن دا بيعه يا دا هبه و غيرهما خو د ملك متعى لپاره شرعا ندى وضع شوى بلكه كله داسې هم كيداى شي چې بيع يا هبې سره ملك رقبى راشي خو ملك متعى نه راځى لكه يو غلام واخستلى شي يا په هبه كې قبول كړاى شي نو په دى باندى خو ملك رقبى راغلو خو ملك متعى نشته ځكه ملك متعى د غلام څخه حرام دى ، په خلاف د نكاح چې په دى كې به خامخا ملك متعى وى كومه نكاح چې په هغى كې ملك متعى نه وى هغه نكاح بلكل صحى نه ده لكه نكاح د سړى د سړى سره او داسې نور امثال ، نو معلومه شوه چې نكاح د ملك متعى لپاره شرعا وضعه كړاى شوى ده نو راوړل د مصنف لفظ د موضوع بالكل صحى شو .

و ينعقد بايجاب و قبول لفظهما ماضٍ كزَوَّجتَ و تزَوَّجتُ او ماضٍ و مستقبلٌ كزَوِّجنِيُ فقال زَوَّجتُ و ان لم يعلما معناه

ترجمه : دا نكاح منعقد كيږى په ايجاب او قبول سره لفظ د دى دواړو به ماضى وى لكه زوّجت او تزوجتُ او يا به يو ماضى وى او بل به مستقبل وى لكه زَوِّجنِيُ (چې په نكاح ئې راكړه) او هغه بل وويل چې تزوجتُ (چې ماپه نكاح دركړه) اگركه دوى دواړه د دى په معنى نه پوهيږى .

تشريح او توضيح : مصنف فرمائى چې د نكاح انعقاد به په ايجاب او قبول سره وى يابه دواړه لفظين ماضى وى لكه لفظ د زوجت او تزوجت نو لفظ د زوجت د باب تفعيل نه دى او متعدى دى نو معنى ئې داسې شوه چې زوجتَ يعنى تا خپل نفس يا خپله لور په نكاح وركړه ؟ او تزوجتُ دا د باب تفعل نه صيغه د واحد متكلم بحث اثبات فعل ماضى معلوم دى تزوج په خپله واده كول او تزويج بل ته واده كول نو معنى د تزوجتُ داسې شوه چې ما په نكاح واخيسته.

مصنفؒ په عبارت کی لفظ د لفظهما راوړو دا د دی لپاره چې په نکاح کی د تلفظ نه بغیر هیڅ مجال نشته یعنی تلفظ به خامخا ضروری وی مثلا چې ما دا فلانئ ورکړه او ما دا فلانئ قبوله کړه، او د کتابت په ذریعه باندی نکاح نه صحیح کیږی مثلا یوسړی یوی ښځی ته ولیکی چې ته ماته خپل ځان په نکاح راکړه او ښځه ورته په همدغه کاغذ یا په بل شی باندی ولیکی چې ما تالره خپل ځان په نکاح درکړ نو په دی سره نکاح نه منعقد کیږی ، او بل په دی کی اشاره دی خبری ته ده چې تعدد د لفظ هم شرط نه دی چې د ایجاب او قبول دواړه الفاظ ووائی یا یو لفظ دوه کرتی تکرار کړی بلکه که چری د دوه وړو ماشومانو نکاح یو ولی تړی یا د دوو لویو کسانو نکاح د دوی وکیل تړی او فقط دومره ووائی ما دا فلانئ دی فلانی هلک ته په نکاح ورکړه نو دا هم کافی ده (هذا بعض ما اخذت من البنایه للعینیؒ و ایضا صرح به فی جامع المضمرات)

مدارنگی مصنفؒ په عبارت کی لفظ د ماضٍ راوړو او صاحب هدایه هم ویلی (و یعبر بهما عن الماضی) او تعبیر به کولی شی د ایجاب او قبول نه په لفظ د ماضی سره دا ځکه چې صیغه د ماضی په اعتبار د لغت سره وضع شوی لپاره د اخبار ځکه چې په اخبار سره اظهار د ماکان او سیکون وی لا لاثبات مالم یکن یعنی نه لپاره د اثبات د هغه څه چې موجود نه وی لکه دا قول ستا چې اقمت دی نو په دی سره اثبات د قیام نه راځی همدارنګه که ته ووائی چې تزوجت نو په دی سره خو تزویج نه ثابتیږی نه په اعتبار د وضعی سره او نه په اعتبار د لغت سره نو د دی وجی صیغه د ماضی شرعا د انشاء لپاره وګرځولی شوه ځکه چې پدی سره اثبات د هغه څه راځی چې کوم موجود ندی لکه صاحب د بنائی هم ویلی دی چې (لان الانشاء اثبات مالم یکن) او لفظ د ماضی چې په وجود او ثبوت باندی دلالت کوی .

قوله او ماض و مستقبل کزَوِّجْنِیْ فقال زَوَّجْتُ و ان لم یعلما معناه.

ترجمه : یا به یو لفظ ماضی وی او بل به مستقبل وی لکه دا قول چې مالره ئی په نکاح راکړه نو هغه بل ورته ووېل چې ما درکړه اګر که دوی دواړه د دی په معنی نه پو هیږی۔

تشریح او توضیح : یعنی کله به یو ماضی وی او بل به مستقبل وی مثال د مستقبل لکه زوجنی یعنی په نکاح راکړه مالره ، او مثال د ماضی لکه زوجتُ یعنی ما په نکاح درکړه . نو پدی الفاظو سره هم نکاح منعقد کیږی او داسی نور الفاظ اګر که دوی د دی په معنی نه پو هیږی۔

د دی خبری څه مطلب شو ؟ د دی مطلب د مصنفؒ په نزد دادی چه دغه ښځه او خاوند اګر چې د دغه دوه لفظونو په معنی نه پو هیږی نو بیا هم نکاح صحیح ده خو دا د مصنفؒ د تفرداتو څخه ده لکه په ظهیریه کی راغلی چې یو سړی یوی ښځی سره نکاح وکړه په عربی سره یا په یو داسی لفظ سره چې په معنی ئی نه پو هیدل یا دغی ښځی په همدغه الفاظو دغه سړی ته ځان په نکاح ورکړه نو که چیری دوی

پو هیدل چې پداسې الفاظو سره نکاح منعقد کیږي نو بالاتفاق د دوی نکاح جائز ده او که چیرته دوی د دی الفاظو په معنی نه پوهیدل نو صحیح قول دادی چې نکاح نه صحی کیږی (و فیها زیادة فانظرها فی الحاشیة) .

الانعقاد هو الارتباط الشرعي المذكور والمراد بالمستقبل الامر و قوله زوجني حُذِفَ مفعوله نحو زوجني بنتك او نفسك.

ترجمه : مراد د انعقاد نه هغه ارتباط شرعي دی کوم چې مقدم ذکر کړای شو او مراد په مستقبل سره په قول د مصنف کی امر دی او دا قول د مصنف چې زوجني دی د دی مفعول حذف شوی نو تقدیر به ئی داسی راځی چې زوجنی بنتک او نفسک.

تشریح او توضیح : غرض د شارح په دی عبارت سره بیان د بعضو الفاظو دی چې هغه دا دی چې مراد د انعقاد نه چې په عبارت د ماتن کې راغلی په لفظ د ینعقد سره هغه ارتباط شرعي دی چې کوم مخکی ذکر شو چې سره د ایجابه او قبوله وی نه یوازی ارتباط ځکه که یوازی ارتباط شی نو بیا نسبت د دی نکاح ته نه صحیح کیږی او مراد په مستقبل سره امر دی ځکه چې په صیغې د مضارع سره انعقاد نه صحیح کیږی ځکه چې مضارع مشترکه ده په ما بین د حال او استقبال کی نو نکاح به په مضارع نه صحی کیږی مګر هله چې تحقق د ارادی د حال وشی (کما ذکره فتح القدیر) خو لیکن په موجوده صورت کی حمل د دی په امر وشو او دا حمل علی طریق الحصر نه دی بلکه علی سبیل التمثیل دی او دا قول د مصنف چې زوجنی دی په دی باندی یو اعتراض راځی هغه دا چې لفظ د زوجنی فقط نه ایجاب کیدای شی او نه توکیل کیدای شی ځکه چې داد باب تفعیل نه ده او باب تفعیل متعدی وی مفعول غواړی او دلته مفعول نشته ؟

نو شارح دفع د دغه اعتراض وکړه چې د زوجنی بنتک دا هله چې د لور خطبه ئی کوی او کله چې پخپله همدغه ښځه غواړی نو بیا داسی راځی لکه زوجنی نفسک اوس داخبره چې غرض د مصنف په حذف د مفعول سره څه ؤ ؟ جواب غرض د مصنف په حذف د مفعول سره صرف مقصد ذکر د لفظ د استقبال ؤ ـ علی طریق التمثیل لا ذکر تمام ما یتم به العقد. او صحت د عقد په لفظ د مستقبل سره دا تبعا لپاره د ماضی راځی کذا فی البنایه .

واعلم ان قوله زوجني ليس في الحقيقة ايجابا بل هو توكيل ثم قوله زوجتُ ايجاب و قبول فان الواحد يتولى طرفي النكاح بخلاف البيع فانه اذا قال بعْني هذا الشيء فقال بعتُ لا ينعقد البيع الا ان يقول الاخر اشتريتُ فان الواحد لا يتولى طرفي البيع و ذلك لان حقوق العقد ترجع الى العاقد في باب البيع و اما في النكاح فحقوقه ترجع الى الزوج والزوجة لا الى العاقد فان العاقد. ان كان غيرهما فهو سفير محض.

ترجمه : پوه شه (ای طالبه) چې بیشکه دا قول د (اول) چې زوجنی دی دا په حقیقت کې ایجاب ندی بلکه توکیل دی بیا دا قول د (ثانی) چې زوجتُ دی دا ایجاب او قبول دی ځکه چې یو کس ولی ګرځیدای شی په طرفینو ـ یعنی ایجاب او قبول ـ د نکاح کې په خلاف د بیع سره ځکه کله چې د بیع په صورت کې مشتری بائع ته و وائی چې دا شی په ما راخرخ کړه نو بائع ورته و وائی چې ما درخرخ کړ نو په دی سره بیع نه منعقد کیږی مګر چې مشتری بیا ووائی چې ما واخسته دا ځکه نه منعقد کیږی چې یو کس ولی نشی ګرځیدای د طرفینو د بیع چې ایجاب او قبول دی دا ځکه چې حقوق د عقد راجع کیږی عاقد ته په صورت د بیع کې اما په نکاح کې حقوق د نکاح راجع کیږی خاوند اوښځی ته نه عاقدته ځکه عاقدد زوجینو نه ماسوا بل څوک ؤ نو بیا دا عاقد محض سفیر دی .

فتح الباب فی التوکیل والایجاب

غرض د شارح بیان د دی خبری دی چې ایا زوجنی ایجاب دی او که توکیل دی ؟ صحیح خبره داده چې لفظ د زوجنی ایجاب نه دی بلکه توکیل دی یعنی مخاطب لره وکیل ګرځول دی لکه څرنګه چې صاحب هدایه هم دا خبره کړی ده چې ـ لان هذا توکیل بالنکاح ـ بیا قول ثانی د احد الزوجین چې زَوَّجتُ دی ایجاب دی او قبول هم دی خو دا حقیقی ایجاب او قبول ندی بلکه په منزله د ایجاب او قبول دی ، او توکیل په منزله د تحصین (تحفظ) دی او یو کس تصرف کولی شی په طرفینو د عقد د نکاح کې لکه لفظ د زَوَّجتُ به هله په منزله د ایجاب او قبول وی چې لفظ د زوجنی ورسره وی ځکه په لفظ د زوجنی سره مخاطب وکیل ګرځی نو ګویا چې زوجنی استحسانا یو شطر د عقد شو او په بیع کې یو کس تولی یعنی ولایت د طرفینو د عقد نشی کولی مثلا یو مشتری بائع ته ووائی دغه شی په ما راخرخ کړه نو بائع ورته ووائی چې خرخ می کړ نو په دی سره بیع نه منعقد کیږی ځکه چې یو کس تولی او تصرف په طرفینو د بیع کې نشی کولی مګر هلته به صحیح کیږی چې مشتری بیا د بائع د قول نه وروسته ووائی چې ما واخسته نو دا به پخپله قبول شی او لفظ د بائع به ایجاب شی نو بیع به منعقد شی په خلاف د نکاح چې قول ثانی چې زوجتُ دی هم په منزله د ایجاب او قبول دی اګر که قول اول والا قبلتُ ونه وائی ـ

ماالفرق بین النکاح والبیع فی تولی شخص واحدصحة ام لا

فرق په ما بین د نکاح او بیع کې څه دی ؟ چه په نکاح کې یو کس تصرف کولی شی او او په بیع کې نشی کولی ؟فرق دادی چې حقوق د عقد په بیع کې پیوسته کیږی د عاقد سره یعنی د وکیل سره لکه قبض کول د مبیعی یا ادا کول د ثمن یا غوښتل د دی یا رد کول د مبیعی په خیار عیب سره او داسی نور حقوق د بیع د عاقد سره تعلق لری مثلا زید په باب د بیع کې عمرو لره وکیل جوړ کړ اوس په دغه بیع کې عیب دی او مبیعه هم د عمرو وه نو ایا د دی عیب پوښتنه به څوک کوی ؟ که ته وائی چې عمرو به ئی کوی عمرو

خو وكيل دى نو له چا به ئى كوى نو كه ته وائى چې له عمرو به ئى كوى نو دا خو ستا په خبره كى تناقض راغى ځكه چې د دى عيب پوښتنه به عمرو كوى نو او له خپله ځانه به ئى كوى نو داخبره باطله شوه.

ځكه دا نشى كيداى چې يو سړى دى هم مالک شى او هم دى مملوک شى يا دى هم طالب شى او هم مطلوب شى يا دِ هم مخاصم شى او هم دِ مخاصَم شى چې دا نشى كيداى نو يو كس تولى د طرفينو د بيع هم نشى كولى او هر چې نكاح ده نو په نكاح كى رجع د حقوقو عاقد ته نشى كيداى بلكه زوجينو ته كيږى اگر كه عاقد غير د دوى نه يا وكيل وى يا ولى همدغه وجه ده چې اضافت او نسبت د عقد او نكاح زوجينو ته كيږى نه عاقد ته پس فرضا كه چيرى عاقد ووائى چې ما دا قبوله كړى ده او داسى ونه وائى چې ما د فلانى لپاره قبوله كړى ده نو دا نكاح صحيح نه ده د دى نسبت به خامخا زوجينو ته كيږى خو كله چې وكيل يا عاقد وى او ولى وى ، او هر چې بيع ده هلته نسبت د بيع عاقد خپل ځان ته كولى شى چې ووائى چې خرڅ مى كړ يا مى واخسته او په نكاح كى صحيح نه ده.

ځكه چې وكيل په نكاح كى محض سفير وى ځكه د ده نه مطالبه د تسليم د مهر نشى كيداى او نه د بل څه نو د دينه معلومه شوه چې لفظ د زوجنى توكيل دى او لفظ د زوّجتُ په منزله د ايجاب او قبول دى ، ولى كه چيرى په زوجتُ سره نكاح منعقد نشى او زوج لره اختيار د رد كولو پاتى شى نو دا به مفضى شى ضرر د ښځى ته او شرم او عار د ښځى ته او د دى قبيلى ته بيا به خلک وائى چې فلانى فلانى ته لور وركړه خو هغه قبوله نكړه نو دا ښځه به رسوا شى بيا به ئى بل څوک نه كوى او د دى د كورنئ او د هلک تر منځ به بغض او عداوت پيداشى او په بيع كى رد كول د مبيعى شرم او عار نشى گرځولى. هذا بعض ما التقطته من البنايه و حواشى شرح الوقايه .

و قولهما داد و پذيرفت بلا ميم بعد دادى و پذيرفتى اى اذا قال للمرأة خويشتن را بزنى بفلان دادى فقالت داد ثم قيل للآخر پذيرفتى فقال پذيرفت بحذف الميم يصح النكاح كبيع و شراء اى اذا قيل للبائع فروختى فقال فروخت ثم قيل للمشترى خريدى فقال خريد يصح البيع.

ترجمه : او نكاح منعقد كيږى پدى قول د زوجينو سره چې داد (يعنى چې درمى كړه) او په دى قول سره چې پذيرفت (يعنى قبوله مى كړه) بى د يادولو د ميم نه پس له لفظ د دادى نه او پس له لفظ د پذيرفتى نه يعنى كله چې ښځى ته وويل شى چې خپل ځان دى په ښځه والى سره فلانى ته وركړه نو هغى وويل چې داد بيا هغه بل ته وويل شو چې قبوله دى كړه نو هغه وويل چې پذيرفت په حذف كولو د ميم سره نو نكاح صحيح كيږى لكه بيع او شراء يعنى كله چې بائع ته وويل شى چې خرڅ دى كړه نو هغه وويل چې فروخت بيا مشترى ته وويل شو چې وادى خيست نو هغه وويل چې خريد نو بيع صحيح ده.

صورة المسئلة

یو سړی یوی ښځی ته وویل چې خپل ځان دی فلانی سړی ته په ښځه والی سره ورکړه نو هغې ښځی ورته وویل چې داد یعنی ما په ښځه والی سره فلانکی ته ځان ورکړو خو میم ئی پریخود یعنی د فارسی د قاعدی مطابق د متکلم لپاره میم راځی یعنی داد م ویل کیږی او ښځی فقط داد لفظ وویل بیا دغه سړی زوج ته وویل چې تا دا ښځه قبوله کړه نو هغه وویل چې پذیرفت یعنی قبوله می کړه په ترک د میم سره په پذیرفتم کی ځکه دلته هم د فارسی د قاعدی مطابق د متکلم لپاره پذیرفتم ویل کیږی خو زوج د پذیرفتم په ځای پذیرفت وویل نو په دواړو صورتونو کی نکاح صحیح کیږی ، لکه څرنګه چې بیع او شراء د دی په الفاظو سره صحیح کیږی بغیر د میم نه یعنی بایع ته چا وویل مثلا چې کتاب دی خرڅ کړ نو هغه د فروختم په ځای فروخت وویل یعنی بغیر د میم نه ځکه فروختم معنی ده چې خرڅ می کړه او د فروخت معنی ده چې خرڅ کړ یعنی یو د متکلم لپاره راځی او بل د غائب لپاره راځی بیا مشتری ته چا وویل چې کتاب دی واخسته نو مشتری د خریدم په ځای خرید وویل بغیر د میم نه نو بیع بلکل صحیح ده نو همدارنګی نکاح هم صحیح کیږی .

لا بقولهما عند الشهود ما زن و شو ئیم.

ترجمه : نه صحیح کیږی نکاح د ګواهانو په حضور باندی په دی قول د زوجینو چې زه ښځ او خاوند.

تصویر المسئلة

یو سړی او یوی ښځی د ګواهانو په مخ کی دا اقرار وکړو چې زه ښځه او سړی وویل چې زه خاوند نو پدی اقرار سره نکاح نه صحی کیږی ځکه چې اقرار لپاره د اظهار د ما ثبت راځی او دلته نکاح ثبوت نلری نکاح په هغه لفظ صحی کیږی چې دلالت په انشاء د عقد کوی او دغه اقرار انشاء ندی یعنی که دوی اقرار په عقد ماضی سره وکړو او مخکی عقد موجود نه ؤ نو په دی اقرار سره نکاح نه صحی کیږی۔

او که سړی اقرار وکړو زه د دی ښځی خاوند یم او ښځی اقرار وکړو چې زه د ده ښځه یم نو پدی الفاظو سره بیا نکاح صحیح کیږی ځکه چې دا اقرار متضمن دی انشاء لره او هر چې اقرار په ماضی سره دی نو هغه دروغ دی ځکه اخبارو کی احتمال د صدق او د دروغو وی نو چونکه دلته مخکی عقد نشته نو ځکه دا اقرار دروغ دی او که چیری بیا هم ګواهانو دوی ته وویل چې تاسی دا اقرار نکاح ګرځوی ؟ نو هغوی وویل چې هو ! مونږ ئی نکاح ګرځوو نو بیا نکاح منعقد کیږی ځکه چې نکاح په جَعل سره منعقد کیږی۔ هذا بعض ما اخذت من الحاشیه .

و یصح بلفظ نکاح و تزویج و هبة و تملیك و صدقة و بیع و شراء لا بلفظ الاجارة والاعارة والوصیة.

ترجمه : او صحیح کیږی عقد په لفظ د نکاح سره او تزویج او هبی او تملیک او صدقی۔ بیع او شراء سره او نه صحیح کیږی په لفظ د اجاری او اعاری سره او وصیت سره۔

تصحیح العقود بالفاظ المحدود

مصنف ؒ فرمائی چې نکاح په الفاظ صریحه و سره صحیح کیږی لکه لفظ د نکاح چه یو سړی یوی ښځی ته ووائی چې انکحتنی یعنی زما سره نکاح وکړه او ښځه ورته ووائی چې نکحتک چې ما نکاح وکړه تاسره، یا په لفظ د تزویج سره چې سړی ورته ووائی چې تزوجنی او ښځه ورته ووائی چې تزوجتُ نو پداسی الفاظو سره بالاتفاق صحیح کیږی او ما سوا د دینه نور الفاظ لکه لکه هبه شوه چې سړی ښځی ته وائی چه هبِی لِیْ نفسکِ او ښځه ورته ووائی چې وهبْتُ یا لکه لفظ د تملیک شو چې یو سړی یوی ښځی ته ووائی چې ملکی نفسکِ او ښځه ورته ووائی چې ملکتک یا لکه لفظ د صدقی شو چې سړی ورته ووائی چې تصدقی لی نفسک او ښځه ورته ووائی چې تصدقتُ، یا لفظ د بیع شو چې یوه ښځه ووائی چې بعتُ نفسی منک او سړی ووائی چې اشتریت یا یو سړی یوی ښځی ته ووائی چې اشتریتک بکذا نو مصنف ؒ فرمائی چې په دی ټولو الفاظو سره نکاح منعقد کیږی او دا الفاظ کنائی دی۔

اصل کی الفاظ کنائی په څلور قسمه دی: اول قسم چې بلا خلاف زمونږ په نزد په هغی سره نکاح منعقد کیږی لکه لفظ د هبی، صدقی، تملیک، او جعل شو۔ دویم قسم چې په هغی کی خلاف دی زمونږ په نزد خو صحیح خبره داده چې نکاح منعقد کیږی لکه لفظ د بیع او د اشتراء شو۔ او دریم قسم چې زمونږ په هغی کی خلاف شته خو صحیح خبره داده چې په هغی سره نکاح نه منعقد کیږی لکه لفظ د اجاری، وصیت، شو۔

او څلورم قسم چې بالاتفاق په هغی سره نکاح نه صحیح کیږی لکه لفظ د اباحت شو یا د حلالی یا د اعاری یا د رهن یا د تمتع و غیره لکه څرنګه چې بنائی ذکر کړیدی نو پدی سره نکاح نه صحیح کیږی او مصنف ؒ اولینو دوه قسمونو ته اشاره وکړه.

لفظ المختصر هذا و یصح بلفظ نکاح و تزویج و ما وضع لتملیك العین حالا هذا هو الضابطة فلا یصح بلفظ الاجارة والاعارة لانهما لم توضعا لتملیك العین و لا بلفظ الوصیة لانها وضعت لتملیك العین لا فی الحال.

ترجمه : عبارت د مختصر دادی او صحیح کیږی نکاح په لفظ د نکاح سره او تزویج سره او په

هغه لفظ سره چې وضع شوی وی لپاره د مالک کولو د ذات خو په اعتبار د حال سره دا یوه قاعده شوه نو نه صحی کیږی په لفظ د اجاری سره او اعاری سره ځکه دا دواړه لفظه وضع شوی نه دی لپاره د ملکیت د ذات او نه صحیح کیږی په لفظ د وصیت سره ځکه دا لفظ مقرر شوی لپاره د مالک ګرځولو د ذات خو نه فی الحال یعنی سمدستی نه بلکه بعد الموت ـ

تشریح او توضیح : غرض د شارح پدی عبارت د مختصر الوقایه سره بیان د دی خبری دی چې دغه مفهوم چې کوم دلته ذکر شو دا په مختصر الوقایه کی هم ذکر دی خو په طریقه د اختصار سره او ټولو لره شامل دی مطلب د دی عبارت دادی چې عقد په لفظ د نکاح سره یا تزویج سره خو بلکل صحیح دی او په هغه الفاظو سره هم صحیح کیږی چې کوم سره ملکیت د ذات راځی خو حالا یعنی سمدستی تر دی ځای پوری د مختصر الوقائی د عبارت مقصد ؤ ـ

اوس شارح بیان کوی چې دا عبارت د مختصر یوه قاعده شوه په باب د صحت د نکاح کی نو هر هغه لفظ چې په هغی کی تملیک د عین حالا وی نو پدی سره به نکاح صحیح کیږی او که کوم کی چې تملیک د عین حالا نه وی نو په هغی سره به نه صحی کیږی ـ

اوس خبره داده چې په تعریف کی لابدی وی د فصل نه نو په لفظ د تملیک سره تری هغه خارج شو چې کوم سره تملیک نه راځی لکه ودیعت یعنی امانت کیښودل او رهن یعنی ګره وی کول او شرکت ځکه په شرکت سره تملیک د بعض راځی نه د کل او په لفظ د عین سره تری اجاره او اعاره خارج شوه ځکه اجاره او اعاره د تملیک د منفعت لپاره وضع دی نه لپاره د تملیک د ذات او په لفظ د حالا سره تری وصیت خارج شو ځکه وصیت حالا نوی بلکه پس له مرګ د موصی څخه وی نو شارح همدغه قیودات بیان کړل ۔

فاللفظ الذی وضع لتملیك العین حالا اذا اطلق و تكون القرینة دالة علی ان الموضوع له غیر مراد بان تكون الزوجة حرة فیثبت المعنی المجازی وهو ملك المتعة فان ملك العین سبب لملك المتعة فیكون اطلاق لفظ السبب علی المسبب.

ترجمه : نو هغه لفظ چې وضع شوی وی لپاره د مالک ګرځولو د ذات په اعتبار د حال سره کله چې مطلق ذکر شی او قرینه دلالت کونکی وی پدی خبره چې دا موضوع له غیر مراد ده پدی شان چې ښځه اصیله وی نو بیا معنی مجازی ثابتیږی چې ملک د نفع دی ځکه چې ملک د ذات سبب دی لپاره دملک متعی نو دا اطلاق د سبب شو په مسبب باندی ـ

تشریح او توضیح : غرض د شارح پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چې کوم لفظ مطلق ذکر شی که قید د معنی حقیقی ورسره ؤ نو معنی حقیقی به اخستلی شی او که قید د معنی مجازی ورسره ؤ نو معنی مجازی به اخستلی شی خو که یو لفظ مطلق ذکر شی بلا قیده او دا لفظ د تملیک د

عين لپاره وضع شوی وی او قرينه هم داسې موجوده وی چې دلته موضوع له د دغه لفظ مراد نه دی يعنې معنی حقيقی مراد نه دی مثلا يوه ښځه حره (اصيله) وی او ولی د دی ووائی چې بعتک هذه يا وهبتک هذه نو په دی صورت کې معنی حقيقی د بيع او هبی نشی مراد کيدای ځکه محل تقاضا د دی کوی چه دلته معنی حقيقی مراد نه دی ځکه چې دا ښځه حره ده او حره ښځه محل د بيع نه دی، په خلاف د وينزی چې پدی صورت کې معنی حقيقی ثابتيږی ځکه وينزه محل د بيع ده.

نو کله چې ښځه حره وی او معنی حقيقی متعذره وی نو بيا به معنی مجازی اخستلی شی چې ملک د متعی (دنفع اخستلو دی) ځکه چې ملک د ذات سبب دی لپاره د ملک متعی کله چې ملک د ذات راشی نو ملک متعی راځی نو دا اطلاق د لفظ د تمليک العين په نکاح باندی د قبيلی د اطلاق د لفظ د سبب شو په مسبب باندی نو پدی کې اشاره دی خبری ته وشوه چې په مابين د حقيقت او مجاز کې علاقه مصححه دلته موجود ده فافهم و تدبر فيه.

و عند الشافعيؒ لا ينعقد بهذه الالفاظ

ترجمه: او د امام شافعیؒ په نزد پدی تولو الفاظو سره نکاح نه منعقد کيږی.

تنقيح المسئلة

امام شافعیؒ وائی چې کوم الفاظ وضع شوی وی د ملک د ذات لپاره حالا لکه هبه و غيره الفاظو سره نکاح نه منعقد کيږی نکاح صرف په لفظ د نکاح سره او تزويج سره منعقد کيږی ځکه په قرآن کريم کې څو کرتی راغلی دی لکه پدی ايات کې (فانکحوا ما طاب لکم من النساء) او په دی قول د الله تعالی کې (حتى تنکح زوجا غيره) او په دی قول د باری تعالی کې (زوجناکها) او پدی قول د باری تعالی کې (و زوجناهم بحور عين) او داسې نور اياتونه نو د لفظ د نکاح او تزويج نه ماسوا نه صحيح کيږی.

ځکه چې تمليک نه حقيقت دی په نکاح کې او نه مجاز دی ځکه چې که چيری تمليک حقيقت شی په نکاح کې نو بيا به ترادف لازم شی او دا خلاف الاصل ده او که چيری تمليک مجاز شی په نکاح کې نو مجاز تقاضا د مشاکلت د معانيو کوی او دلته مشاکلت په معانيو کې نشته ځکه چې تزويج تلفيق يعنی پيوسته کولو ته وائی او نکاح ضم کولو ته وائی او د مالک او مملوک تر منځ نه ضم وی او نه ازدواج وی.

د دينه مونږ جواب کوو چې تمليک سبب د ملک متعی دی په خپل محل کې خو په واسطی د ملک رقبی سره او دا ملک رقبی ثابت دی په نکاح سره، په نکاح سره هم ملک رقبی راځی نو په مابين د تمليک او تزويج کې اتصال په اعتبار د سبب سره راغی او سبب طريقه د مجاز ده، هذا بعض ما التقطته

من البنايه و حواشي شرح الوقايه .

و انعقاده بلفظ الهبة مختص بالنبي ﷺ لقوله تعالى (خالصة لك من دون المؤمنين) ولنا قوله تعالى (ان وهبت نفسها للنبي - الآية) مجاز و المجاز لا يختص بحضرة الرسالة و قوله تعالى (خالصة لك) في عدم وجوب المهر او احللناهن خالصة لك اى لا يحل لاحد نكاحهن .

ترجمه : او منعقدكيدل د دى نكاح په لفظ د هبه سره دا خاص دى تر نبى ﷺ پورى له وجى د دې قول د الله تعالى نه . دا حكم خاص دى تالره ماسوا د نورو مؤمنانو څخه. او زمونږ لپاره دا قول د الله تعالى دى - كه چيرى وبښى يوه ښځه نفس خپل لپاره د نبى ﷺ. دا ايات مجاز دى او مجاز خاص نه دى تر رسالت د حضور پاك ﷺ پورى، او دا قول د الله تعالى چې. خالص دى تالره دا په عدم وجوب دمهر كى دى يا دا چې مونږه حلالى كړى دا ښځى خاص ستا لپاره يعنى حلاله نه دى نكاح د ببيبانو ستا دبل هيچا سره .

تشريح او توضيح : غرض د شارح پدى عبارت سره ذكر د هغه اعتراض دى چې په امام شافعى" وارديږى او جواب د امام شافعى" د هغى نه مخكى ذكر شو چې د امام شافعى په نزد د لفظ د تزويج او نكاح نه ماسوا په نورو الفاظو سره اگر چې تمليک د عين حالا راځى خو نكاح پرى صحيح نده نو په امام شافعى" باندى اعتراض راغى چې ته وائى چې لفظ د هبه سره نكاح نه صحيح كيږى او حال دا چې دا په كتاب الله كى راغلى لكه پدى ايت كريمه كى .

(وامرأة مؤمنة ان وهبت نفسها للنبي ان اراد النبي ان يستنكحها خالصة لك من دون المؤمنين) نو امام شافعى" د دينه داسى جواب وكړو چه په لفظ د هبى سره نكاح منعقد كيدل د نبى پورى خاص ؤ، د وجې د دى قول د بارى تعالى نه (خالصة لك من دون المؤمنين) .

احناف د دينه درى جوابونه كوى

(١) اول جواب دا دى چې دا ايت. ان وهبت نفسها للنبي . دا مجاز دى او مجاز د نبى ﷺ د حضور پورى خاص نه دى يعنى انعقاد د نكاح نبوى په لفظ د هبى سره ديكى شک نشته چې دا په طريقه د حقيقت نه وه بلكه په طريقى د مجاز وه او مجاز خاص كول د نبى ﷺ پورى د عقل نه هم بعيده ده ځكه چې خصوصيات د احكامو وى نه د اطلاق د الفاظو نه اونه د ارادى د معنى حقيقى او مجازى نه نو لهذا خاص كول د دى ايت د نبى ﷺ پورى جائز ندى .

(٢) جواب دا ايت دا معنى نه دى چې انعقاد د نكاح په لفظ د هبى سره خاص دى تالره بلكه د دى دا معنى ده چې نكاح په لفظ د هبى سره بغير د مهر نه خاص دى تالره او د بل چا لپاره بغير د مهر نه جائز

نه ده لکه څرنګه چې په حدیث مبارک کی راغلی چې (لا یحل لاحد ان یهب ابنته بغیر مهر الا للنبی)
ترجمه : هیڅوا ته حلال نه دی چې خپله لور بغیر د مهر نه چاته وبښی مګرنبی علیه السلام ته ۔ نو هبه کول جائز دی بل چالره خو سره د مهرنه اوبغیردمهر نه صرف نبی علیه السلام ته جائزدی ۔
(۳) دریم جواب دادی چې دا خلوص متعلق دی تر احللنا هن پوری نه تر موهوبی پوری نو معنی به ئی داسی شی چې دا ښځی مونږه خاص ستا لپاره حلالی کړی دی نه د بل چا لپاره ځکه چې ازواج مطهرات په نورو خلکو حرامی دی لکه الله پاک فرمائی (و ازواجه امهاتهم) ترجمه : چې بیبیانی د نبی ﷺ د مؤمنانو مور ګانی دی او مور په سړی حرامه وی نو لهذا بیبانی د نبی ﷺ په نورو خلکو حرامی دی ۔
سوال : احلال خو مختص تر هغو ښځو پوری نه ؤ چې کومی د نبی علیه السلام په نکاح کی وی بلکه دا عام ؤ شامل ؤ منکوحو او غیر منکوحو لره چې کومی په ایت کی ذکر دی کله چې نبی ﷺ د هغوی د نکاح اراده کوله نو پدی خو خلوص نه راځی ځکه تر څو چې نبی صلی الله علیه وسلم د تره لور ګانی مثلا د نبی ﷺ په نکاح کی راغلی نه وی نو نورو ته هم جائزی وی نو دا دریم جواب ستاسی صحیح نه شو؟
جواب : دلته خالصةً مرتب دی په ازواجک پوری نو معنی به ئی دا شی چې مونږه حلالی کړی تالره بیبیانی خاص ستا لپاره نه ده نورو مومنانو لپاره اګرکه بعد الوفات وی ۔
فائده : هغه ښځه چې نبی ﷺ ته ځان هبه کړی ؤ هغه یا بی بی میمونهؓ وه یا ام الشریک الازدیه وه، او بعض علماء وائی چې د انصارو ښځه یوه ښځه وه ۔

> و شرط سماع کل واحد منهما لفظ الآخر و حضور حرین او حرٌ و حرتین خلافا للشافعیؒ اذ عنده لا یصح الا بشهادة الرجال.

ترجمه : او شرط کړی شوی اوریدل د هر یو د دی دواړو نه لفظ د هغه بل لره او حاضریدل د دوؤ اصیلو سړو او یا د یو اصیل سړی او د دوو اصیلو ښځو پدیکی خلاف دی امام شافعی لره ځکه د هغه په نزد باندی نکاح نه صحیح کیږی مګر په شهادت د سړو باندی ۔
تشریح ا وتوضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چې متعاقدین به یو د بل وینا په خپله اوری یا حقیقتا چې په خپلو غوږونی واوری او یا حکما لکه د کتابت په شکل باندی چې یو غائب ته ولیکل شی نو د دغه خط قرائت قائمقام د خطاب ګرځی همدارنګی که یو سړی ګونګی وی او د هغه داسی یوه معلومه اشاره وی چې د هغی نه خلک د نکاح معلومات کولی شی نو پدی سره هم نکاح منعقد کیږی (فتح القدیر) ۔
او که چیری معلومه اشاره ئی نه وی نو بیا نه منعقد کیږی ، او دسماع شرط والی د دی لپاره دی چې رضاء د زوجینو ثابته شی نو د ایجاب او قبول ربط به راشی ، او بل د نکاح لپاره شرط دادی چې اقلا

دوه گواهان به حاضر وی که دوو به زیات وی نو حه باک نه لری او دا گواهان به یا دوه اصیل سړی وی او یا به یو اصیل سړی وی او دوه به اصیلی ښځی وی زمونږ په نزد باندی شهادت په نکاح کی شرط دی کما فی البنایه ۔ بغیر د شهادت نه نکاح فاسده ده او په شهادت کی دا شرط دی چې یا به دواړه اصیل سړی وی او یا به یو اصیل سړی او دوه اصلی ښځی وی او د غلامانو گواهی صحی نه دی اګر چې ډیر زیات وی دارنګی د ښځو گواهی هم یواځې قبوله نه دی اګر که په زرګونو وی نو خامخا به د دوی سره سړی موجود وی او ښځی به بیا هم د دوو نه کمی نوی ځکه د ښځو حافظه اکثره کمزوری وی نو څه ورته یاد نه وی نو دوه د یوی لپاره مقرری شوی چې که د یوی نه څه هیر شی نو بله به ئی ورته یاد کړی ځکه چې شریعت ورته په هم دی لحاظ ناقصات العقل ویلی

خو پدی کی زمونږ سره امام شافعیؒ مخالف دی هغه وائی چې د ښځو په شهادت سره نکاح بلکل نه صحی کیږی مګر په ولی سره او په عادلانو گواهانو سره نو امام شافعیؒ وائی چې لفظ د شاهدَین د دی اطلاق په مذکرو باندی کیږی

ځکه د مؤنث لپاره شاهدتین راځی نو مونږ ورته وایو چې په باب د شهادت کی په ما بین د مذکر او مؤنث کی هیڅ فرق نشته او لفظ د شاهدین په مذکر او مؤنث دواړو باندی اطلاق کیږی قطع د نظرد صفت د ذکورت او انوثت نه د ذکورت او انوثت لحاظ په کی وی او که نه وی ۔

مکلفین مسلمین سامعین معا لفظهما فلا یصح ان سمعا متفرقین کما اذا نکحا بحضور واحد ثم غاب هو و حضر آخر فاعادا بحضوره.

ترجمه : داسی گواهان چې دا به عاقل او بالغ وی او مکلف به وی په امور شرعیو باندی دواړه به مسلمانان وی دواړه به اوریدونکی وی یو ځای یعنی په یو وقت کی د تلفظ د زوجینو نو نه صحیح کیږی که دواړو جدا جدا واوریده کله چې دا دواړه نکاح کوی په حضور د یو سړی باندی بیا هغه غائب شی او بل گواه راشی او دا زوجین د ده په حضور بیا خبره دوباره راوګرځوی ۔

بیان الفصیح فی شروط التنکیح

غرض د ماتنؒ بیان د اوصافو د گواهانو دی چې دا گواهان به مکلف په امور شرعیو وی یعنی دواړه به عاقلان بالغان وی لکه څرنګه چې صاحب الهدایه هم فرمائلی دی چې (ولا بد من اعتبار العقل والبلوغ لانه لا ولایة بدونهما) او شهادت د باب د ولایت نه دی نو د غیر مکلف وَلایت نشی راتللای بل دا چې گواهان به مسلمانان وی ځکه د کافر لپاره ولایت شهادت نشته لکه څرنګه چې الله پاک فرمائی (ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلا ۔ الآیه) دا رنګی د غلام لپاره په حر باندی ولایت

نشته لکه څرنګه چې صاحب هدایه ویلی چې (ولا بد من اعتبار الحرية فيهما لان العبد لا شهادة له لعدم الولاية) بل دا چې دواړه ګواهان به د متعاقدینو خبره په یو ځل اوری چې دواړه ګواهان ناست وی او بل دا چې دواړه په غوږو روغ وی او جوړ وی خبره هم اوری ولی که چیرته دواړه ګواهان خبره نه اوری یائی یو نه اوری یا پکی یو ګونګی وی نو بیا نکاح صحیح نه ده دواړه به صحیح روغ جوړ وی او په یو ځل به ئی اوری نو که دواړو جدا جدا واوریدو نو بیا نکاح صحیح کیږی نه ۔

مثلا یو ګواه حاضر شو ښځی او خاوند نکاح وتړله بیا دا ګواه لاړو او هغه بل ګواه راغی نو نکاح ئی بیا وتړله نو دا نکاح نه صحیح کیږی ځکه دلته یو ګواه شو او یو شاهد کافی نه وی نو لازما به دواړه په یو ځل اوری ۔

فائده : کله چې د نکاح په موقعه کی ښځه پخپله او خاوند موجود وی خو هیڅ خبره نشته خو کله چې ښځه پخپله نه حاضریږی او واک بل چا لره ورکوی نو پکار دی چې کله د دی لپاره څوک د مهر او نفس وکیل معلومولو لپاره ورځی چې دا به د دی د خپلوانو څخه وی ، او کله چې ورشی نو هلته به د جینئ د خولی نه په خپله اقرار اوری داسی به نه کوی چې فلانکئ ته ورشه او پوښتنه تری وکړه بلکه پخپله به ئی اوری او داسی پوښتنه به کوی چې خوری ستا د مهر او د نفس وکیل څوک دی نو هغه چې څوک وښائی نو هم هغه به وی ۔

و صح عند فاسقین او محدودین فی قذف و عند اعمیین و ابنی الزوجین او ابنی احدهما

ترجمه : او صحیح ده نکاح په نزد د دوو فاسقانو یا د دوو هغه کسانو چې حد پرجاری کړای شوی وی په تهمت کی او په حضور د دوو ړندو او په حضور د دوو ځامنو د ښځی او خاوند یا په حضور د دوو ځامنو د یو د دی دواړو نه ۔

تشریح او توضیح : که چیری د نکاح په وخت دوه فاسقان یعنی چې عادلان نه وی یا نور د اسلام شرائط پکی مکمل نه وی او حاضر شو د ګواهئ لپاره نو نکاح صحیح ده ، دارنګی صاحب هدایه وائی چې (عدولا کانوا او غیر عدول) نو د فاسق ګواهی ځکه صحیح ده چې فاسق لره په خپل ځان ولایت شته ځکه چې مسلمان دی نو دارنګی فاسق لره په بل مسلمان هم ولایت شته اګر که د ده ولایت قاصر دی خو لیکن د انعقاد لپاره کافی دی د قاضی په حضور بیا کافی نه دی ۔

او امام شافعیؒ په نزد د فاسق ګواهی بلکل معتبره نه ده (وان کنت طالبا للتفصیل فارجع الی الهدایه) همدارنګی ګواهی د هغو دوو کسانو صحیح ده چې د تهمت په مقابله کی په درو وهل شوی وی دیته محدود فی القذف وائی نو د دوئی ګواهی په باب د نکاح کی صحی ده اګر چې عند القاضی مردود ده خو لیکن د نکاح په صورت کی د دوی ګواهی صحی ده همدارنګی ګواهی د دوو ړندو هم صحیح ده ځکه چې د دوی په سماع کی څه نقصان نشته خو لیکن د اداء کولو وخت کی به د دوی ګواهی نه قبلیږی ۔

و ابنی الزوجین صورت د مسئلی د دی دا دی چې یوه ښځه د یو سړی سره نکاح تړی د دغی ښځی د بل خاوند نه یو ځوی ؤ دا په وخت د عقد کې ناست ؤ او د دغه سړی د بلی ښځی نه ځوی وی هغه هم د دوی په عقد کی ناست وی نو نکاح د زوجینو د دغه دوو ځامنو په حضور کی صحیح ده ، یا دوه ځامن دښځی وی یا د خاوند وی نو پدی صورت کی هم نکاح صحیح ده کذا فی الحاشیه ـ

لکن لا یظهر بهما ان ادعی القریب ای اذانکحا بحضور ابنی الزوج فان ادعی هو لم تقبل شهادة ابنیه له اما اذا ادعت المرأة تقبل شهادتهما لها وان نکحا عند ابنی الزوجة فان ادعت لاتقبل شهادتهمالها وان ادعی الزوج تقبل له

الوضاحة العجيب في دعوى القريب

غرض د ماتن ؒ پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چې د نکاح لپاره دوه حکمونه دی (۱) حکم الانعقاد (۲) حکم الاظهار ـ

حکم الانعقاد خو په وجود د قریب سره هم راځی چې یوه ښځه او سړی نکاح کوی په نکاح کی ګواهان یا د سړی دوه ځامن موجود وی او یا د ښځی دوه ځامن موجود وی یا یو د ښځی موجود وی او یو د خاوند موجود وی نو نکاح خو صحیح شوه حکم الانعقاد راغی خو حکم الاظهار نشی راتللای هغه داسی چې ښځی او خاوند عقد د نکاح وکړو خو ګواهان پکی د خاوند ځامن ؤ چې د بلی ښځی نه وی نو پدی صورت کی که چیری خاوند په ښځه مثلا د مهر دعوه یا د بل څه وکړی او ښځه انکار کوی نو د ځامنو ګواهی به په دی صورت کی د خپل پلار لپاره نه صحی کیږی ځکه چې شهادت د ابن د پلار یا د مور لپاره نه صحی کیږی خو په مور او پلار باندی ګواهی صحیح کیږی یعنی د مور او پلار د نفعی لپاره ګواهی نه صحی کیږی خو په دوی باندی صحی کیږی ، او که ښځی دعوه وکړی نو پدی صورت کی د خاوند د ځامنو ګواهی د ښځی لپاره صحیح ده ځکه چې دا په دی وخت کې اجنبی دی ، او که چیری ښځه او سړی عقد د نکاح کوی اوګوهان پکی د ښځی ځامن وی چې د بل خاوند نه وی نو په دی صورت کی که ښځه دعوه وکړی نو ګواهی به د دی د ځامنو د دی لپاره نشی قبلولی د وجی د تهمت نه ، او که خاوند دعوه وکړی نو بیا ګواهی د ښځی د ځامنو د دغه خاوند لپاره قبلولی شي ځکه دا دواړه د دغه خاوند سره اجنبی دی ـ

کما صح نکاح مسلم ذمیةً عند ذمیین و لم یظهر بهما ان جحد فان شهادة الکافر علی المسلم لا تقبل و ان ادعی المسلم تقبل له

تصوير المسئلة في نكاح المسلم مع الذمية

غرض د مصنف ؒ دا دی چه نکاح په نزد د ګواهانو چه فاسقان وی یا محدودین فی القذف وی او یا

راندہ وی صحیح دہ لکہ څرنگہ چہ د یو مسلمان نکاح د ذمی سرہ صحی دہ چہ گواهان دوہ ذمیان وی دا د شیخینو (امام ابو حنیفہ او امام ابو یوسف) پہ نزد صحی کیږی او د امام محمدؒ او امام زفرؒ پہ نزد نہ صحی کیږی دوئی وائی چہ سماع پہ نکاح کی شهادت دہ او د کافر لپارہ پہ مسلمان باندی شهادت نشتہ نو لهذا داسی شو چہ دوی د مسلمان خبرہ بلکل اوریدلی نہ دہ ۔

او شیخین وائی چہ شهادت پہ نکاح کی شرط دی څکہ پہ دی سرہ اثبات د ملک متعی راځی د خاوند لپارہ پہ ښځہ د پارہ د تعظیم د هغہ جزء د انسان چہ هغہ ډیر شریف جزء دی چہ هغہ بضع دہ نہ لپارہ د لزوم د مال پہ خاوند باندی څکہ پہ وجوب د مال کی شهادت شرط نہ دی مثلا لکہ بیع او داسی نو او بل دا چہ ذمی پہ خپل مثل باندی گواهی کولی شی نو دلتہ هم گواهی د دغو ذمینو پہ ذمیہ جائز دہ خو یاد ساتہ چہ مراد د ذمیہ نہ پدی مقام کی هغہ ذمیہ دہ چہ کتابیہ وی چہ د کومی سرہ د مسلمان نکاح جائز دہ او د یهودنی او نصرانی څخہ ما سوا نورو ذمی ښځو سرہ نکاح صحیح نہ دہ خو د نن زمانی اهل کتابو سرہ د مفتیانو پہ قول نکاح بلکل صحیح ندہ څکہ دوئی پہ خپل دین پاتی نہ دی اوس تول مشرکان دی ۔

ولم یظهر بهما ان جحد ۔ د دی عبارت دا مطلب دی چہ کہ چیری ذمیہ ښځی پہ دغہ مسلمان خاوند باندی د نکاح دعوہ وکړی او خاوند انکار کوی چہ ما لہ تاسرہ نکاح کړی نہ دہ او دغہ دوہ ذمیان گواهی وکړی چہ نکاح شویدہ نو دا گواهی صحیح نہ دہ څکہ د کافر لپار پہ مسلمان باندی گواهی نہ صحی کیږی خو د مسلمان د فائدی لپارہ بیا صحی کیږی چہ مسلمان دعوہ د نکاح وکړی او ذمیہ ښځہ انکار کوی نو د ذمیانو گواهی د مسلمان لپارہ صحی دہ ، او کہ د گواهی کولو نہ مخکی ذمیانو اسلام قبول کړو نو بیا د دوی گواهی د نفع او ضرر پہ دواړو صورتونو کی صحیح کیږی عندهما لا عند محمدؒ هذا بعض ما التقطتہ من البنایہ و حواشی شرح الوقایہ فتدبر فیہ ۔

أمرَ آخرَ ان ینكح صغیرتہ فنكح عند فرد ان حضر ابوها صح و الا فلا فان الاب اذا كان حاضرا ینتقل عبارة الوكیل الی الاب فصار كان الاب عاقد والوكیل مع ذلك الفرد شاهدان

ترجمہ : یو سړی امر وکړو بل لرہ چہ پہ نکاح ورکړہ زما یوہ وړہ لور نو هغہ یو کس تہ پہ نکاح ورکړہ خو پہ حضور د یو بل کس هم خو د انجلی پلار موجود ؤ پدغہ مجلس کی نو نکاح صحی دہ او کہ پلار ئی حاضر نہ ؤ نو بیا صحیح ندہ څکہ چہ کلہ پلار حاضر وی نو عبارت د وکیل پلار تہ نقل کیږی نو داسی وګرځیدہ لکہ چہ پلار پخپلہ عاقد دی او وکیل سرہ د دغہ بل فرد نہ دواړہ گواهان شول۔

توضیح اللغات : پدی مقام کی د بعض صیغو وضاحت سرہ د اعراب د دوی نہ ضروری دی۔ امَرَ صیغہ د فعل ماضی معلوم دہ ضمیر پکی اب تہ راجع دی کوم چہ تا پہ ذهن کی فرض کړی دی ۔ آخرَ پہ نصب د راء سرہ مفعول د امر دی ۔ یُنکِحُ صیغہ د فعل مضارع معلوم دہ ضمیر پہ کی آخر (مامورتہ)

راجع دی ، یو لفظ د نکح دی او بل انکاح دی نکح لازمی دی او انکاح متعدی دی نو په دی مقام کی ینکح هم متعدی دی ۔ صغیرته په دی کوم کی چه کوم ضمیر (ہُ) دی هغه راجع دی آمِر له او دا مضاف او مضاف الیه مفعول د ینکح ده ۔ فنکح په تشدید د کاف سره د تنکیح نه یعنی د باب تفعیل نه ځکه چه باب تفعیل کی معنی د تعدی شته اګر که استعمال د دی په باب د تفعیل د استعمال د عربو نه مخالف دی ځکه ځکه چه دا اصل د فأنکح نه راتلو خو نکح بغیر د تشدید د کاف نه نح صیحیح کیږی ځکه چه ناکح خو زوج دی او مامور مُنکِحُ دی فافهم و تدبر فیه ۔

تنقیح المسئلة

صورت د مسئلی داسی دی دد چه مثلا زید بکر ته امر وکړو چه ته زما وړه لور حنیفه چا لره ورکړه نو بکر د ده لور حفیظ الله ته ورکړه نو په دغه وخت کی ورسره یو بل کس عبد الرحیم هم موجود ؤ نو که په دغه مجلس د نکاح کی د انجلئ پلار زید موجود ؤ نو صحیح ده او که موجود نه ؤ نو نکاح صحیح نه ده ۔

دا ځکه چه کله پلار موجود وی نو بیا په دی صورت کی پلار عاقد ګرځی او عبارت د وکیل چه بکر دی د دی پلار زید ته نقل کیږی یعنی پلار ته منسوب کیږی او وکیل په نکاح کی صرف سفیر او معبر محض وی نو چه پلار موجود وی نو مباشر د عقد ګرځی نو عاقد پخپله پلار شو او مباشر نوی مګر حاضر نو وکیل او هغه بل فرد چه عبدالرحیم دی هغه ګواهان شول نو نصاب د ګواهئ مکمل شو او که پلار حاضر نه ؤ نو بیا نکاح نه صحی کیږی ځکه چه مجلس مختلف دی نو عبارت د وکیل د انجلئ پلار ته نه منتقل کیږی نو که چیرته پلار ته منتقل شی نو ایجاب په یو مجلس کی راشی او قبول به په مجلس کی راشی او د نکاح لپاره یو مجلس ضروری دی ، نو پلار په دی صورت کی مباشر دعقد نه شو ځکه دی غائب دی او مباشر نشی کیدای مګر حاضر ، که ته وائی چه وکیل دی عاقد شی نو دا په دی صورت کی نه صحی کیږی ځکه چې نصاب د ګواهئ نه برابریږی هذا بعض ما التقطته من البنایه .

کاب ینکح بالغة عند فردان حضرتُ صح فصار کان البالغة عاقدة و الاب و ذلك الفرد شاهدان و عبارة المختصر هذه و الوکیل شاهد ان حضر موکله کالولی ان حضرت مولیتُه بالغة

وضاحت : د مخکی عبارت نه دا معلومه شوه چې د صغیری انجلی پلار که موجود ؤ نو نکاح صحیح ده ځکه چې پلار د دی عاقد وګرځیده او وکیل سره د فرد آخر نه ګواهان شول لکه چې یو پلار خپله بالغه لور په نکاح ورکړی په وجود د یو بل سړی کی نو که دغه انجلئ په خپله د عقد په وخت کی حاضره وه نو نکاح صحیح ده ګویا چې دا بالغه انجلئ پخپله عاقده ده او عبارت د پلار دغی انجلئ ته منتقل کیږی ځکه چې بیا مجلس د ایجاب او قبول جدا کیږی نو چې پلار عاقد وګرځیده نو نصاب د ګواهئ برابر نه شو نو نکاح

صحیح نه شو او شارح د استشهاد لپاره عبارت د مختصر هم راوړی هغه داسی چې وکیل به ګواه وی که موکِل د ده حاضر ؤ او که موکِل حاضر نه ؤ نو بیا وکیل نشی ګواه کیدای لکه ولی چه ګواه دی که مولیه دده یعنی هغه انجلۍ چې د ده په ولایت کی وی حاضره وی خو چې بالغه وی نو دغه انجلۍ مولیه عاقده د نکاح وګرځیده او ولی د دی سره د بل فرد نه ګواهان شول.

اوکه مولیه حاضره نه وه نو بیا دغه ولی عاقد وګرځیده نو نصاب د ګواهۍ نه برابریږی دارنګی که موکِل حاضر ؤ نو عبارت د وکیل موکِل ته منتقل کیږی نو موکِل عاقد وګرځیده او وکیل سره د بل فرد نه ګواهان ګرځي او که موکِل حاضر نه ؤ نو بیا نه صحیح کیږی .

وحرم علی المرء اصله و فرعه و اخته وابنتها و بنت اخیه و عمته و خالته و بنت زوجته ان وطئت و ام زوجته و ان لم توطأ و زوجة اصله و فرعه . لفظ المختصر هذا و حرم اصله و فرعه و فرع اصله القریب و صلبیة اصله البعید فالاصل القریب الاب والام و فرعهما الاخوة والاخوات و بنات الاخوة والاخوات و ان سفلت فیحرم جمیع هؤلاء . الاصل البعید الاجداد والجدات فتحرم بنات هؤلاء الصلبیة ای العمات والخالات لاب و ام او لاب او لام و کذا عمات الاب والام و عمات الجد والجدة لکن بنات هؤلاء ان لم تکن صلبیة لا تحرم کبنت العم والعمة و بنت الخال والخالة

ترجمه : او حرام کړای شوی په سړی باندی اصل د ده او فرعه د ده او خور د ده او خورزه د ده او وریره د ده ، ترورد ده توری د ده او پرکتی د ده خو که دغه زوجه وطی کړای شوی وی او خواښې د ده اګر که زوجه نه وی وطی کړی او ښځه د اصل خپل او د فرعی خپلی او عبارت د مختصر داسی دی او حرام دی اصل د ده فرعه د ده او فرعه د اصل قریب د ده او ذاتی لور د اصل بعید د ده نو اصل قریب پلار او مور دی او فرعه د دی دواړو د سړی خپل ورونه او خویندی راځی او د ورونو لورګانی د خویندو لورګانی اګر که ښکته وی نو دا ټولی حرامی دی او اصل بعید چې دی نو دا نیکونه او نیاګانی راځی نو حرامی دی د دوی ذاتی لورګانی یعنی د پلار له طرفه ترورګانی چې عمه ورته وائی او د مور له طرفه ترورګانی چې خالی دی اعیانی وی او که علاتی او که اخیافی وی ټولی حرامی دی دارنګی عمی یعنی د پلار ترورګانی د مور ترورګانی د نیکه ترورګانی د نیا ترورګانی حرامی دی لکن د دوی لورګانی که ذاتی یعنی صلبی نوی نو بیا حرامی نه دی لکه تره لور د ترور لور او د ماما لور د توریٔ لور دا بیا حلالی دی۔

النادر التوضیحات فی بیان المحرمات

غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د محرماتو دی پوه شه چې انواع د محرماتو ټول اوه (۷) دی او هره نوعه کی اقسام موجود دی تقریبا ټول (۲۵) برابریږی :

(۱) نوع اول بيان د هغه محرماتو دی چې د نسب په زريعه وی ـ (۲) محرمات بالمصاهره سخرگنی ـ (۳) محرمات د رضاع په ذريعه ـ (۴) حرمة الجمع ـ (۵) حرمت په حق د غير سره لکه منکوحه د غير او دارنگې معتده د غير ـ (٦) حرمت د غير مذهبه يعنی غير دين سره ـ (۷) حرمت د وجی د تنافی نه لکه نکاح د سيدی د مملوک سره ـ

د دی هری نوعی تفصيل به انشاء الله په مکمل طور راځی په همدغه شان صاحب بنايه هم د دی اقسام د النهايه په حواله (۲۱) يوويشت برابر کړی دی ـ

د نوع اول لپاره تقريبا اووه (۷) اقسام دی : (۱) الامهات يعنی مورگانی (۲) البنات يعنی لورگانی (۳) الاخوات يعنی خويندی (۴) العمات د پلار له طرفه تروږگانی (۵) الخالات د مور له طرفه تروږگانی (٦) بنات الاخ يعنی وريری (۷) بنات الاخت يعنی خورزی دا ټولی له جهته د نسب نه حرامی دی ـ

هم دا رنگ د نوع ثانی څلور اقسام دی يعنی محرمات له جهته د مصاهرته : (۱) ام المرأة يعنی خواښې (۲) ابنتها يعنی د خواښې لور چې ښينه ورته وائی خو د دی حرمت تر هغه وخته پوری دی چې تر کومه د دی خور ستا په نکاح کی وی (۳) منکوحة الاب يعنی دپلار ښځه چې ميره ده دا هم له جهته د مصاهرت نه حرامه ده كذا فی البنايه (۴) حليلة الابن يعنی د ځوی ښځه چې انگور ده ، دا ټولی د وجی د مصاهرت نه حرامی دی ـ

او د نوع ثالث اقسام هم اووه (۷) دی د وجی د دی قول د نبی ﷺ نه (يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب) يعنی کوم چې په نسب سره حرام دی دارنگې په رضاع سره هغه هم حرام دی ـ

د نوع رابع اقسام دوه دی : (۱) الجمع بين اکثر من اربع يعنی د څلورو نه زياتو ښځو تر منځ جمعه کول په نکاح سره (۲) الجمع بين الاختين يعنی د دوو خويندو تر منځ په نکاح سره جمع کول دارنگې جمع په ما بين د هغو دوو ښځو کی چې هر يو د دينه نارينه فرض کړی هغه بله ورته حلاله نه وی ـ سياتی بيانه فی المتن انشاء الله ـ

د پنځمی نوعی د دی هم دوه اقسام دی : (۱) منکوحة الغير چې د بل په نکاح وی (۲) معتدة الغير يعنی چې د بل په عدت کی وی يعنی يو سړی ښځه طلاقه کړی او عدت پوره شوی نه دی يا يو سړی مړ شی او د ښځی عدت لا پوره شوی نه وی نو د بل کس لپاره د دی نکاح حرامه ده ـ

د شپږمی نوعی لپاره يو قسم دی چې مشرکه ده و سياتی تفصيله انشاء الله تعالی ـ

د اوومی نوعی لپاره دوه اقسام دی : (۱) نکاح السيدة مملوکها يعنی د باداری د خپل غلام سره نکاح کول (۲) نکاح السيد امته حال کونها امة يعنی نکاح د بادار د خپلی وينزی سره په داسی حال کی چې دا وينزه وی ـ

نو ټول اقسام (۲۵) پنځه ويشت برابر شو پديکی به ضمنا نور هم وی خو هغه به په تفصيل کی بيانولی شی انشاء الله و قال صاحب البنايه فعلی هذا تکون المحرمات خمسة و عشرين کلها مذکورة فی الکتاب ـ كذا فی البنايه ج ۵ص ۱۲ ـ

فائده : د تفصيل نه مخکی د بعضی الفاظو تشريح کول ضروری دی (۱) اصل جمع يې اصول په لغت کی اسفل الشیء ما يقابل النوع ته وائی لکه عرب وائی لا اصل له و لا فصل له الاصل الوالد والفصل الولد (منجد) خو د شريعت په اصطلاح کی په فقه کی د اصل استعمال د مور او پلار لپاره راځی حمدارنګه د نيا نيکه لپاره راځی اګر که پورته وی اصل د دی وجی نه ورته وائی چې لکه څرنګه چې د بوی ونی وجود په اصل بنا وی دارنګی د بچی وجود په مور او پلار بنا وی اوله دوی پوری منحصر وی خو د اصل استعمال د مور او پلار په اعتبار وړ ته قريب يعنی اصل قريب ويلی شی او د نيا او نيکه که د مور له طرفه وی او که د پلار له طرفه وی دوی ته اصل بعيد وائی ۔

(۲) الفرع من کل شیء جمعه فروع ای اعلاه المتفرع من اصله کفرع الشجرة يعنی فرع جمعه د دی فروع راځی په معنی د پورته شیء چه کوم په اصل بنا وی لکه د ونی فرعه چه څانګی دی او په اونه بنا دی و فی المسائل العلمية ما بنی علی غيره و قيس عليه و يقابله الاصل (منجد) يعنی په مسائل علميه کی فرعه هغه مسائلو ته وائی چې کوم په بل بنا وی او په بل قياس شوی وی او د دی په مقابله کی اصل راځی خو شريعت کی د فرع اطلاق په اولاد باندی کيږی او د اولاد په اولاد باندی ۔

(۳) صلبية الصلب جمعه اصلاب و اَصْلُبُ و صِلَبَة عظم فی الظهر ذو فقار يمتد من الکاهل الی العجب او اسفل الظهر و جمعه صِلَبة الحسب و يقال هو من صُلب فلان ای من نسله و ولده (منجد) يعنی د صلب جمع اصلاب اصْلُبُ او صلبةٌ دری واړه راځی په معنی د هډوکی سره چې په ملا کی وی چې خاوند د بندونو دی چې اوږد دی له اوږو نه تر اخری حصی د ملا پوری او په جمعه د صلبة سره په معنی د نسب سره هم راځی لکه ويلی شی چې فلانی د فلانکی د صلب نه دی يعنی د هغه د نسل او اولادی څخه دی خو پدی مقام کی به د صلبيه نه مراد داوی چې د ده بذاته بلا واسطی ولد وی او متبنی نه وی ۔

(۴) النسبة التی قرابتها نسبية : د نسبی نه مراد هغه دی چې خپلولی د دی په اعتبار د نسب سره وی نه په طريقه د رضاع سره ۔

(۵) الرضاعية : چې منسوب الی الرضاع وی يعنی چې قرابت د دی په طريقه د رضاع سره وی چې د بلی زنانه سره ئی سينه رودلی وی ۔

(٦) الاخوة بکسر الهمزة و سکون الخاء المعجمة جمع الاخ يعنی ورور ۔ يا الاخوات بفتحتين جمع الاخت يعنی خور ۔

فائده : زده کړه چې خويندی او ورونه په دری قسمه دی : (۱) اعيانی يا عينی (۲) علاتی (۳) اخيافی ۔ اول عينی ديته وائی چې مور او پلار ئی سره شريک وی يعنی چې هم ئی له موره وی او هم له پلاره ۔ او علاتی ديته وائی چې پلار ئی سره شريک وی خو مور ئی جدا وی علاتی ورته ځکه وائې چې

علات بنى ته وائى او دا هم سره خپل منځ کی د بنو اولاد وی . اخیافی دیته وائی چې مور ئی سره شریکه وی خو پلار ئی جدا وی مثلا د زید پلار وفات شو او د زید مور د بل خاوند سره نکاح وکړه او د دغه بل خاوند نه ئی بچی پیدا شو چې عمر ئی نامه وه نو زید او عمر سره اخیافی ورونه شول .

توضیح المرام

بیان د نوع اولی چې حرمت یې په اعتبار د نسب سره دی هغه دادی . چې سرې باندی نکاح د خپل اصل یعنی مور نیاګانی چې د پلار له طرفه نیا وی او که د مور له طرفه نیا وی حرامی دی . دوهم فرعه د سرې د دوی سره نکاح حرامه ده لکه لور ، د ځوی لور ، د لور لور ، همدارنګه ښکته پسی زه . دریم خور حرامه ده اعیانی وی که علاتی وی که اخیافی وی د دی سره نکاح حرامه ده . و قد مر تعریف کل واحد فیما سبق .

څلورم خورزه حرامه ده د هر نوع خور ښځه چې وی دارنګی د خورزی لور هم حرامه ده و ان سفلت . همدارنګه د خورزئی لور هم حرامه ده لکه قاضی صاحب چه خپل تفسیر کی رانقل کړی یعنی فروع الاخ والاخت بناتهما وبنات ابنائهما وبنات بناتهما وان سفلن سواء کان الاخ والاخت لابوین اولاحدهما . تفسیر مظهری ۲ جلد سورة النساء ٦٥ همدارنګی سیلمان الجمل هم لیکی فشملت العبارت بنت ابن الاخ وان سفل وبنت ابن الاخت وان سفل حاشیته الجمل علی الجلالین ج۲ ص۳۳ پنځم وریری سره نکاح حرامه ده وریره عینی وی که علاتی وی که اخیافی وی دارنګی د وریری د لور سره هم حرامه ده و ان سفلت . شپږم د عمی (د پلار خور) سره هم نکاح حرامه ده ، همدارنګه د پلار عمی (ترور) د نیکونو عمی د مور عمی د نیاګانو عمی اګر چې ښکته وی حرامی دی . او هر چه عمة العمة (د ترور ترور) ده دا به کتلی شی که دا لنډه ترور ستا د پلار او مور یا صرف ستا د پلار ترور وه نو بیا هغه لری ترور حرامه ده ، او که دا لنډه ترور ستا د مور ترور وی نو هغه لری ترور بیا حرامه نه ده . و ان کنت تطلب التفصیل فارجع الی البنایه .

- اووم خالات د مور خور د دوی سره نکاح حرامه ده عینی وی که علاتی که اخیافی وی دا قیدونه په عماتو کی هم موجود دی دارنګه د پلار خالات (ترورپانی) د نیکه خالات و غیره ، او د مور خالات د نیاګانو خالات ټولی حرامی دی ، او هر چه د خالی خاله ده نو بیا ګوره چه دا نزدی خاله که ستا د پلار او مور خاله وه نو بیا هغه لری خاله پر تا حرامه ده او که دا نزدی خاله صرف ستا د پلار خاله وه نو د دی نزدی خالی خاله په تا حرامه نه ده . فارجع الی البنایه والهدایه .

نوع ثانی : اتمه بنت زوجته ان وطئت د خپلی زوجی چه وطی ده ورسره کړی وی د هغی لور چه د بل خاوند نه وی دا په تا حرامه ده . پدی مقام یوه قاعده یاد ولره نو پکار به دی راشی هغه دا (دخول الامهات تحریم البنات ، نکاح البنات تحریم الامهات) یعنی چه کله ئی د جینئ مور سره جماع وشی نو

لورئی حرامه ده او که جماع ئی له مور سره نه وی شوی نو د مور سره په صرف نکاح سره لور نه حرامیږی ـ او کله چه د یوی ښځی د لور سره صرف نکاح وشوه اگر که جماع نه وی شوی نو د دی جینۍ مور د ابد لپاره حرامه ده ـ

فائده : کله چه د یوی ښځی سره نکاح وشوه او وطی هم وشوه نو د دی لور چه د بل خاوند نه ده برابره خبره ده چه د ده په تربیت کی وی او که د ده په تربیت کی نه وی نو هغه په ده حرامه دیته د فقهی په اصطلاح کښی ربیبه وائی کذا فی الهدایه ـ

قوله و زوجة اصله و فرعه : او حرامه ده ښځه د اصل خپل او ښځه د فرع خپل ، شارح د زیادت وضاحت لپاره عبارت د مختصر رانقل کړو او دا چې دا عبارت مختصر دی او ډیر اقسامو لره شامل دی لکه وائی چه حرام دی اصل خپل لکه مور نیا اگر که بره وی او فرعه خپله چې لور د لور لور د خوی لور اگر که ښکته وی دا ټول راځی او فرعه د اصل قریب خپل نو اصل قریب ستا خپل مور او پلار راځی او د دوی فرعه ستا خپلی خویندی ورونه او خورزی او خوریونه اگر چې ښکته وی دا راځی دا ټول حرام دی ـ

و صلبیة اصله البعید : ذاتی اولاد د اصل بعید حرام دی اصل بعید ستا خپل نیکونه نیاګانی راځی نو د دوی خپلی ذاتی لورګانی ستا خپلی عمات یعنی تروریانی د پلار له طرفه ، خالات د مور له طرفه ترورپانی راځی همدارنګی ستا د مور او پلار عمات او د نیا نیکه عمات ټولی حرامی دی لیکن د اصول بعیده اولاد چې ذاتی نه وی حرامی نه دی لکه د تره لور د عمی (ترور) لور د ماما لور د خاله (ترور) لور دا حرامی نه دی ـ

فائده : د دی حرمت تخصیص صرف د نارینو سره نه دی بلکه د زنانوو سره هم دی ځکه چې کوم په سړی حرام دی نو هغه په ښځی هم حرام دی ـ

و کل هذه رضاعا . هذا یشمل عدّة اقسام کبنت الاخت مثلا تشتمل البنت الرضاعیة للاخت النسبیة ، و البنت النسبیة للاخت الرضاعیة و البنت الرضاعیة للاخت الرضاعیة

ترجمه : دغه ټولی (چه کومی ذکر شوی حرامی دی) له جهته د رضاع نه شارح وائی دا کلام شاملیږی یو څو قسمونو ته لکه د خور لور مثلاً شاملیږی لور رضاعی ته چې لپاره د خور نسبی وی او لور نسبی ته چې لپاره د خور رضاعی وی او لور رضاعی ته چه لپاره د خور رضاعی وی ـ

تشریح او توضیح : غرض د ماتن بیان د نوع ثالثی دی چه کومی ښځی د رضاع په طریقه حرامی دی هغه اووه دی لکه څرنګه چه د نسب په اعتبار سره حرامی دی (۱) الامهات یعنی میندی لکه مور نیا د پلار له طرفه وی او که دمور له طرفه وی د پلار نیا وی او که د مور نیا وی اګر که پورته وی د رضاع په طریقه دا حرامی دی ـ (۲) بنات (یعنی لورګانی) رضاعی لورګانی حرامی دی او د دی لوریانو لوریانی

هم حرامي دي و ان سفلت همدا رنګه د رضاعي ځوی لورګاني هم حرامي دي و ان سفلت ـ (۳) اخوان (خويندي) رضاعي خويندي حرامي دي ـ (۴) عمات يعني رضاعي ترورياني هم حرامي دي او د رضاعي پلار ترورياني هم حرامي دي ـ (۵) خالات يعني توريانې هم حرامي دي و ان علت ـ (٦) بنات الاخ وريريګاني يعني د رضاعي ورور لورګاني هم حرامي دي او بيا د وريرو لورګاني هم حرامي دي و ان سفلت ـ (۷) بنات الاخت يعني د رضاعي خور لورګاني هم حرامي دي او د دغو خورزو لورګاني هم حرامي دي و ان سفلت ـ

د دينه ما سوا د رضاع په طريقه بعضي نوري هم حرامي دي لکه رضاعي خواښې چه ستا د ښځې رضاعي مور وي نو رضاعي خواښې شوه په تا حرامه ده دارنګې د دغه رضاعي خواښې لورياني هم په تا حرامي دي تر څو چې دغه ښځه ستا په نکاح کې حقيقةً يا حکماً موجوده وي دارنګه ښځه د رضاعي پلار حرامه ده مثلا ستا يو رضاعي پلار وي او دمرضعی نه ما سوا د ده بله ښځه موجوده وه نو دغه ښځه هم حرامه ده دارنګه د رضاعي ځوی ښځه هم حرامه ده لکه څرنګه چه د خپل صلبي ځوی ښځه حرامه ده ـ دا خو د مصنفؒ يو اجمالي بيان ؤ ، او د دي باقي تفصيل به انشاء الله په کتاب الرضاع کې راځي فانتظره ـ

اوس شارحؒ فرمائي چه د مصنفؒ دا کلام چه (کل هذه رضاعا) دي مطلق ئې ذکر کړو نو دا يو څو نورو صورتونو ته هم شامل دي مثلا خورزه شوه دا شامله ده دري صورتونوته (۱) چه خور نسبي وي او د دي بنته رضاعي وي مثلا ستا نسبي خور ده او يوی جينۍ ته ئې پئ ورکړی چه دغه جينۍ د بل سړی لور وه نو دا ستا رضاعي خورزه شوه ـ (۲) چې خور رضاعي وي او بنت نسبي وي مثلا ستا يوه رضاعي خور ده او د دي رضاعي خور خپله نسبي لور ده نو دغه بنته هم ستا رضاعي خورزه شوه ـ (۳) لور رضاعي لپاره د خور رضاعي مثلا ستا يوه رضاعي خور ده او د دغه خور يوه رضاعي لور ده نو دغه جينۍ هم ستا خورزه شوه نو دا عبارت دي دري صورتونو ته هم شامل دي نو دا خورزي هم حرامي دي ـ

و فرع مزنية و ممسوسة و ماسة و منظورة الى فرجها الداخل بشهوة و اصلُهن . المس بشهوة عند البعض ان يشتهي بقلبه و يتلذذ به ففي النساء لا يكون الا هذا ، و اما في الرجال فعند البعض ان ينتشر آلته او يزداد انتشارا هو الصحيح ، و ما دون تسع سنين ليست بمشتهاة و به يفتي . اعلم ان بنت تسع سنين او اكثر قد تكون مشتهاة و قد لا تكون و هذا يختلف بعظم الجُثة و صِغرها اما قبل ان تبلغ تسع سنين فالفتوى على انها ليست بمشتهاة

ترجمه : او حرامه ده فرع (اولاده) د هغې ښځې چه زنا ورسره وکړای شي او فرع د هغې ښځې چه لاس وروړلی شي او فرع د هغې ښځې چې لاس وروړونکي وي سړی ته ، او فرع د هغې ښځې چه نظر وکړی شي فرج داخل د ديته خو دا لاس وروړل يا نظر کول په خوند سره وي ، او حرامي دي اصول دد غو مذکورو ښځو شارح وائي: چه لاس وروړل په خوند سره په نزد د بعضي علماؤ هغه دادی چه اشتهاء ئې

وشي په زړه سره او خوند حاصل کړي پدې مس ، يا نظر يا په اشتهاء بالقلب سره نو په ښځو کې نه راځي مګر هم دغه د زړه اشتهاء ۔
او هر چه په سړو کې دی نو په نزد د بعض علماء هغه دا دي چه د ده ذکر (اندام مخصوص) راوچت شي او يا زيات شي انتشار د ده هم دا صحيح قول دی ، او هغه جينئ چه د نهه (۹) کلو نه کمه وي نو هغه مشتهاته نه ده او همدا قول منتی به ده شارح وائي چه پوه شه چه د نهه (۹) کلو جينئ يا د دينه زياته کله کله مشتهاته وي او کله نه وي ، خو دا اشتهاء او عدم اشتهاء مختلفه کيږي په لوئي والي د جثې او وړوکوالي د جُثې سره ، او هر چې مخکې له دينه چه دا نهه کلو ته ورسيږي نو فتوی پدې ده چه دا مشتهاته نه ده ۔

الکتابة المبين بفضل المتين

غرض د مصنفؒ بيان د بعضې محرماتو دی چه موجب د دې مشابه دی د موجب د وطی حلالې سره هغه دا چه کومې ښځې سره زنا د فرج له لارې وشي نو د دغې موطئې (چه وطی کړای شوه) اصول لکه مور نيا و غيره و ان علت او د دې فروع لکه لور لمسئ و ان سفلت ټولې په واطی (وطی کونکې) باندې د امام صاحب په نزد حرامې شوي ۔ و فيه اختلاف الائمة لا يسعه هذا المقام و ان کنت طالبا فارجع الى حاشية العمدة الرعاية او البناية ۔ او تخصيص د دې چه د فرج له لارې زنا وشي ځکه چې که د دبر (د شا خوا د ګندګئ په لار) وطی وکړې نو پدې سره تحريم نه راځي دارنګې کومې ښځې ته چې په خوند سره لاس وروړلې شي د دې هر اندام چه وي اګر که د سر ويښتو ته لاس وروړلې شي نو د دغې ښځې اصول او فروع ټول په دغه لاس وروړونکي باندې حرام شو خو د سر هغه ويښته مراد دي چه کوم د سر سره لګيدلي وي لکن که هغه زوړندو ويښتو ته ئې لاس وروړو نو بيا حرمت نه راځي ۔
دارنګه که يو سړي د يوې ښځې سره زنا وکړه خو سره د کپړې په داسې طريقې چې دذکر څخه يې يا داسې شي تاو کړ چه بدن ته پرې حرارت نه رسيده يائې پرتوګ سره زنا وکړه او بدن ته ئې حرارت نه رسيده نو بيا حرمت نه راځي د ويښتو په مسئله کې هم داسې ده چې ويښتوته لاس وروړي نو که حرارت ئې بدن ته ورسيده يعنې جوش پکې پيدا شو نو بيا حرمت راولي او که حرارت ئې بدن ته ونه رسيده نو بيا حرمت نه راولي ۔
همدارنګه که ښځه يو سړي ته لاس په خوند سره وروړي او ددې بدن حرارت محسوس کړي او يا ښځه د سړي ذکر ته په خوند سره وګوري نو د دغې ښځې اصول او فروع په دغه سړي حرام شو ، او همدارنګګ که د يوې ښځې فرج داخل ته (چه کوم د پردې نه اخوا مقام دی) په خوند سره وکتلی شي اګر چه په شيشه کې وی نو د دغې ښځې اصول او فروع پدغه سړي حرام شو خو ليکن که يو سړي يوې ښځې ته د فرج نه ماسوا نورو اندامونو ته په شهوت سره وګوري بيا حرمت نه راولي خو ياد ساته په پدې

پورته مسئلو کې لکه څرنګه چه د ښځې اصول او فروع په سړي حرامیدل او همدارنګه د سړي اصول او فروع په ښځه حرام دي حرمت د جانبینو نه دی ۔

خو لیکن زنا د اصولو او فروعو نه ماسوا حرمت نه راولي مثلا یو سړي د یوې ښځې سره زنا وکړه نو په دغه سړي ددغې ښځې خور حرمه نه ده نکاح ورسره کولی شي او که یو سړي د خپلې ښځې د خور سره زنا وکړه نو ښینه خو حرامه ده خو د ده ښځه پده نه حرامیږي ۔

قوله المس بشهوة عند البعض : غرض د شارح په دې عبارت سره تعریف د مس دی چې د مس حد څومره وی ؟ د بعض علماء په قول سره دا ده چه د لاس وروړلو یا د نظر کولو نه مخکې د ده اشتها نه وی خو د لاس وروړلو سره د ده په زړه کې اشتهاء راشي خو صرف اشتهاء هم کافي نه ده بلکه چې دی د جماع خوا ته میلان او حرکت وکړي ، او یا د جماع نه مخکې د ده اشتهاء موجوده وی خو د مس یا د نظر سره د ده په اشتهاء کې زیادت راشي خو د اشتهاء دا حد په زنانه ؤ کې او بوډاګانو کې او په عنین کې چه (سره د آلې په جماع قادر نه وی) دی څکه چه په بوډا کې شهوت مړ شوی وی، دا رنګې په عنین کې هم د جماع طاقت نه وی نو د دوی د اشتهاء حد دا دی چه دوی کوم مس وکړه فرضا که دا ځوان روغ وای نو آله به ئې اوچته شوی وه نو پدی مس سره حرمت راغې او هر چه په ښځه کې دی نو د هغې د اشتهاء حد هم په زړه دی څکه چه د هغې لپاره داسې آله نشته چه را اوچته شي ، او دا چه د اشتهاء یو حد دا هم دی چه د مس یا د نظر نه وروسته چه په خوند سره وی اکثره مذي راځي نو هغه نر وی او که ښځه او دا تجربه اکثره ثابته او معروفه ده ۔

او هر چې په سړو کې کوم ځوانان وی نو دبعض علماؤ رایه داده چه مخکې له دینه آله منتشره نه وی خو د مس سره آله راوچته شي او یا مخکې آله اوچته وی خو د مس سره انتشار نور هم زیات شو حرمت راولي او هم دا صحیح قول دی او شارح څکه دا خبره وکړه چې (و هو الصحیح) چې پدې سره احتراز راشي د قول د بعضې مشائخو نه چې هغوئې وائي چې په ځوان سړي کې هم انتشار د آلې شرط نه دی بلکه میلان د زړه کافي دی ، خو یاد ساته چې دا حرمت هلته راځي چې د ده په مس سره یا په نظر بشهوة سره انزال ونشي نو که په مس سره یا په نظر بشهوة سره ئې انزال وشو نو بیا حرمت نشته څکه چې کله انزال وشو نو معلومه شوه چه دا مس یا نظر مفضي (رسیدونکي) الی الوطی ندی څکه چې په انزال سره د ده زړه مات شي نو بیائې میلان جماع ته نه وی او مخکې د انزال نه د ده زړه ډک وی نو جماع ته زیات متوجه وی ۔ هذا بعض ما اخذت من الهدایة والبنایة مع زیادة ۔

فائده : صاحب د هدایه وائي چې نظر کول هله معتبر وی چې فرج داخل ته وی او فرج داخل هلته معلومولی شي چه کله ښځه تکیه وکړي او پښې ازادې کړي نو که په ولاړه ئې ورته نظر وکړو یا ناسته وه خو سمه برابره ناسته وه نو پدی سره حرمت نه راځي ، دارنګې که د فرج شا وخوا وینبتو ته یې

وګوری نو صحی قول دا دی چې حرمت نه راځی ۔

قوله و ما دون تسع سنین الخ : غرض د مصنفؒ په دی عبارت سره دا ده چې ښځه په څو کلو کښی مشتهاته کیږی ؟ نو صاحب د معراج الدرایه لیکلی چې د پنځو (۵) کلو جینئ بالاتفاق غیر مشتهات وی د وجود په لحاظ چاغه وی او که خواره وی ، او هر چې د نهه (۹) کلو یا زیاته نو دا بالاتفاق مشتهاته ده ، او په ما بین د پنځو (۵) کلو کی او د نهو (۹) کلو کی اختلاف دی بعضی وائی چه مشتهاته ګرځی او بعضی وائی چه مشتهاته نه وی

خو لیکن شارحؒ خپله رایه داسی بیانوی چه د نهه (۹) نه مخکی خو قطعا مشتهاته نوی او هر چې نهه کاله دی یا د دی نه زیات نو پدیکی هم شک دی کله کله مشتهاته وی او کله غیر مشتهاته وی دا په څه معلومیږی ؟

دا په دی معلومیږی که دغه جینئ په اعتبار د ظاهری بدن سره قوی او چاغه وه نو دا مشتهاته ده او که نه ضعیفه وه او خواره ډنګره وه نو بیا دغه د نهه کلو یا زیاته هم مشتهاته نه ده ۔ خو زه وایم چې د شارح دی قول کی څه خبره شته هغه داسی چې د نهه (۹) کلو نه زیاته جینئ خواره وی او که چاغه وی قوی وی او که ضعیفه وی خامخا مشتهاته وی خصوصا په نن زمانه کی خو په نهه (۹) کلو یا زیاتو کی شک نشته چې دا مشتهاته وی خو خبره د نهه کلو نه مخکی ده ځکه چې مختلف قسم ګرم خوراکونه راووتل مونږ وینو چې د ډیر کم عمر ماشومان مشتهات وی پاتی لا ښځی فافهم ۔

والجمع بین الاختین نکاحا و عِدَّةً و لو من بائن و وطیا بملك یمین ، و بین امرأتین ایَّتهما فرضت ذکرا لم تحل له الاخری ، عبارة المختصر هذا و یُحرِّمُ نکاح امرأة و عدتها نکاح امرأة ایتهما فرضت ذکرا لم تحل له الاخری .

و وطیها ملکا و کذا وطیها ملکا و طیها نکاحا و ملکا لا نکاحها فان نکحها لا یطأ واحدةً حتی یحرم الاخری ، ای کون المرأة فی نکاح رجل او فی عدته و لو من طلاق بائن یحرم نکاح امرأة ایتهما فرضت ذکرا لم تحل له الاخری و ایضا یُحرِّم وطی هذه المرأة بملك یمین و اما وطی احداهما بملك یمین فیحرم وطی الاخری نکاحا و ملك یمین لکن لا یحرم نکاحها حتی اذا انکحها لایطأ واحدةً حتی یحرّم الاخری و هذا معنی ما قال المصنف .

ترجمه : او حرام دی جمعه کول په مابین د دوه خویندو کی په طریقه ده نکاح او عدت نه اګر که دا عدت د طلاق بائن نه وی او له جهته د وطی په ملك یمینی سره ، او حرامه دی جمعه کول په ما بین د دوو ښځو کی چه کومه یوه د دوی نه نرُ فرض کړی نو هغه بله ورته حلاله نه وی ۔ شارح وائی : عبارت د مختصر دادی او حراموی نکاح د یوی ښځی سره او عدت د دی نکاح د (بلی ښځی سره) چه کومه یوه نر

فرض کړی شی نو هغه بله ورته حلاله نه وی او (حرامه وی) وطی د دی (بلی) ښځی سره له جهته د ملک نه ، همدارنګه وطی د دی ښځی سره حراموی وطی د دی (بلی) سره له جهته د نکاح نه او د ملک نه نه حراموی نکاح د دی (بلی) سره نو که په نکاح سره ئی واخسته نه به وطی کوی یوه هم تر دی چه هغه بله په ځان حرامه کړی ۔

تشریح او توضیح: اوس شارح د مختصر د عبارت وضاحت کوی ۔ ای کون ۔ یعنی کیدل د دغه ښځی په نکاح د یو سړی کی یا په عدت د یو سړی کی اګر که دا عدت کائن وی د طلاق بائن نه نو دا حراموی نکاح د هغه ښځی چه کومه یوه فرض کړی شی نر نو بله ورته حلاله نه وی او همدارنګه حراموی وطی د دی ښځی په ملک یمینی سره ، او هر چې وطی د یو د دی دو ښځو نه ده په ملک یمینی سره نو دا حراموی وطی د هغه بلی ښځی له جهته د نکاح نه او د ملک یمینی نه لکن نه حراموی (صرف) نکاح د دی تر دی پوری که په نکاح ئی واخسته دی بلی لره نو نه به وطی کوی یوی لره هم تر دی پوری چه حرامه کړی په ځان باندی هغه بله او همدا مقصد د هغه دی کوم چه مصنف ویلی دی ۔ الحمد لله حمدا کثیرا ۔

مسئلة التحریم باستعانة الکریم

غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د نوع رابعی دی ، د نوع رابعی لپاره دوه اقسام ؤ نو یو قسم ئی دا ده چې جمع کول د دوو خویندو حرام دی په نکاح سره چې دوه خویندی په یو وقت کی په نکاح کی راشی یا یوه ستا په نکاح کی وه خو طلاق بائن دی ورکړو نو د عدت په موقعه د دی مطلقی د خور سره نکاح کول حرام دی اګر چې دا عدت د طلاق بائن نه وی ، خو لیکن د دی عدت لپاره حکم د نکاح دی من وجه هغه داسی چې بعضی احکام د نکاح لا باقی پاتی دی لکه نفقه شوه منع د وتلو نه دارنګه فراش شو فرضا که ښځه اوس بچی راوړی نو نسب به ئی له ده نه ثابت وی (بنایه) ۔

دارنګه د دوو خویندو په مینځ کی جمع کول حرام دی په اعتبار د وطی سره چې دا وطی په ملک یمینی سره وی نو دا حرمت د دوه خویندو په دی صورت کی مقید دی په قید د وطی سره چه د دواړو وطی حرامه ده ، او چه وطی نه وی نو بیا جمع کول د دوو خویندو په ملک یمینی سره حرام نه دی نو که یوه ئی وطی کړه نو بله به نه وطی کوی ۔

دارنګی حرام دی جمع کول په ما بین د هغه دوو ښځو کی چه هر یوه د دی نه نر فرض کړای شی نو هغه بله ورته حلاله نه وی نو دا خویندو ته هم شامله ده فرضا که یوه خور نر حساب کړی نو خور او ورور به شی او د خور او ورور تر منځ نکاح حرامه ده ، دارنګی یوه ښځه او د دی ترور یا د دی توری که فرضا یوه نر فرض کړی نو نکاح ئی صحی نه ده نو دارنګی د یوی ښځی او د هغی د لور تر منځ جمع کول حرام دی ځکه چې پدی کی هر یوه نر فرض شی نو بل باندی هغه حرامه ده ، دارنګی ددوو خالو تر منځ جمع او د

دوو عمو تر منځ جمعه والي په نكاح سره حرام دي ، دارنګي نور هم په دي قياس كوه خو صرف د ميرى او پركتهي تر منځ جائز ده وروسته به راشي ، نو شارح د زيات وضاحت لپاره عبارت د مختصر الوقائي رانقل كوي او وائي۔

چي نكاح د يوي ښځي سره او عدت د دي ښځي حراموي نكاح د هغي ښځي چي كه يوه نر فرض كړي شي نو هغه بله ورته حلاله نه ده مثلا ستا په نكاح كي يوه ښځه چه زينب نوميده وه يا دا ښځه په عدت كي وه نو د دي د خور سره يا د ترور سره يا د لور سره و غيرها سره بيا نكاح حرامه ده ، ځكه چه پدي كي هر يو نر فرض كړي شي نو هغه بله ورته جائز نه ده ۔

و وطيها ملكًا : دا عطف دي په هغه نِكاحَ لفظ باندي چه كوم مفعول د يُحَرِم دي نو دا به هم مفعول د يُحَرِم شي نو مطلب به ئي داسي راځي چه نكاح د يوي ښځي سره او عدت د دي ښځي حراموي وطي په ملك يميني سره د هغي ښځي چه كومه د دي دواړو نه نر فرض كړي شي نو بله ورته حلاله نه وي ، مثلا يوه ښځه چي عابده نوميده ستا په نكاح كي وه يا په عدت كي وه نو يوه بله ښځه چي وينځه وه او د عابدي يا خور وه او يا ترور وه يعني هر هغه ښځه وه چي يوه تري نر فرض كړي شي بله ورته حلاله نه وي نو دا وينځه وطي كول تالره په ملك يميني سره حرامه ده ۔

وكذا وطيُها ملكًا وطيَها نكاحًا و ملكًا لا نكاحَها الخ : پدي عبارت كي وطيُها اول فاعل د يُحَرِم دي او ملكا د دي وطيُها تميز دي او وطيَها ثاني مفعول د يُحَرِم دي او نكاحا او ملكا دواړه تميز د وطيَها ثاني نه دي نو د عبارت مقصد به دا وي چه وطي د يوي ښځي سره په ملك يميني سره حراموي وطي د هغه بلي ښځي سره په اعتبار د نكاح يا د ملك يميني سره يعني دوه ښځي وي چه هر يو د دي نه نر فرض كړي نو بله ورته حلاله نه وي يوه تا په ملك يميني سره وطي كړه نو هغه بلي ښځي سره وطي كول د نكاح په طريقه وي او كه د ملك يميني په طريقه وي تالره حرامه ده ۔

لا نكاحَها ۔ يعني نده حرامه نكاح د ثاني ښځي سره ، مطلب ئي دا دي چه د يوي ښځي سره په ملك يميني سره وطي وشي نو د هغي بلي سره وطي حرامه ده د نكاح په طريقي وي او كه يميني په طريقي سره وي خو د ثاني سره صرف نكاح حرامه نه ده بلكه وطي حرامه ده ، مثلا تا له ساجدي سره وطي وكړه په ملك يميني سره نو ددي خور سره وطي كول حرام دي نكاحا وي او كه ملكا وي خو د ساجدي دخور سره صرف نكاح كول حرام نه دي خو كه نكاح ئي ورسره وكړه نو يوه هم نشي وطي كولي نه مملوكه او نه منكوحه تر دي پوري چه يوه په ځان حرامه كړي ۔

خو دا خبره چه ايا د ساجدي د خور سره صرف نكاح كول ولي حرام نه وي ؟

ځكه چي صدور د نكاح د خپل اهل نه راغلي چي ته اهل د دي ئي چي نكاح وكړي او دا مضاف

ده خپل محل ته چې هغه ښځه ده ، بلکه دا چې مملوکه خور چې هغه ساجده ده د دې وطی د باب د استخدام نه ده او دا وطی نکاح نه منع کوی ، خو لیکن اوس به نشی وطی کولی ځکه چې جمع بین الاختین بوطء راځی او دا حرامه ده ، تر هغې پورې نه نشی وطی کولی چې یوه د دوی نه په ځان حرامه کړی دا ځکه چې منکوحه اګر چې دې وطی نکړی خو لیکن هغه حکما موطوءه ده نو حرمت به خامخا په یو سبب راولی لکه بیع یا تزویج یا هبه بالتسلیم او اعتاق شو کتابت شو ۔ (بنایه ج۵ ص۲۷) نو د دینه وروسته چې هره یوه پاتې شی وطی کول ورسره حلال دی ۔

ای کون المرأة الخ : تر دې ځایه پورې د مختصر دعبارت مقصد بیان شو اوس شارحؒ د مختصر د عبارت وضاحت کوی نو دا عبارت چې (کون المرأة) دا وضاحت د دې الفاظو دی چې (و یُحَرّم نکاحُ امرأة الخ) . او ایضا سره شارح مقصد د دې الفاظو بیانوی چې (و وطیَها ملکا) ، او په (امّا وَطی احداهما) سره د دې الفاظو (و کذا وطیُها ملکا) بیانوی ، او په (لکن لا یحرم) سره غرض د (لا نکاحَها) بیانوی ۔

فائده : مخکې تیر شو چې د دوو خویندو تر منځ په نکاح سره جمعه والی ، او د هغه دوو ښځو چې یوه تری نر فرض کړی بله ورته حلاله نه وی تر منځ په نکاح سره جمعه والی حرام دی نو په دې منع کې حکمت څه دی ؟

جواب : هغه حکمت بعضی علماء داسې بیانوی چه په دې بیا قطع د صله رحمیٔ او خپلولیٔ راځی ځکه د بنو تر منځ اکثر جنګ جګړه بغض عداوت وی نو که دوه خویندی مثلا په نکاح کې یو ځای شی نو د دوی تر منځ به صله رحمي کټ شي نو د دې وجې حرمت راغی (بنایه) ۔

وهذا معنی ما قال المصنف : فان تزوج اخت امة وطیها لا یطأ واحدة حتی یحرم احداهما علیه اما بازالة الملك عن کلها او بعضها او بالتزویج

ترجمه: او دا معنی او مقصد د هغې دی چې مصنف بیان کړی هغه دا چې که چیری نکاح وکړه د خور د وینځې سره داسې وینځه چې ده وطی کړی ده نو یوه به هم نه وطی کوی تر دې پورې چې یوه په ځان حرامه کړی یا په ختملو د ملک د وینځې نه مکمل یا بعضی حصه یا په نکاح سره بل لره ورکول ۔

تتمة المسئلة الاولی بعون الخالق هو الله تعالی

شارحؒ مخکې د دینه مسئله د جمع بین الاختین وطیا و نکاحا بیان کړه نو بیائی په آخر کې اوویل چې (و هذا معنی ما قال المصنف) چې د مصنف هم په راروان عبارت سره مقصد هم دا دی چې یو سړی خپله وینځه وطی کړه بیائی د دې له خور سره نکاح وکړه نو اوس به یوه هم نه وطی کوی تردې پورې چې یوه په ځان حرامه نه کړی نو دغه حرمت خو یا په طلاق د منکوحې سره یا په خلعې سره دی او دیا دوینځې په خرڅولو سره دی یا په ازادولو سره مکمل یا بعضی حصه وی یا په هبه سره خو چې ورته وسپارلی شی یا په

تزويج سره چې بل لره ئې په نكاح صحيح سره وركړې د دينه وروسته ورته هره يوه چې پاتې شوه جائز ده ـ

فان تزوجها بعقدين و نسى الاولى فرِّق بينهما و لهما نصف المهر . لان النكاح الاخير باطل غير موجب للمهر و النكاح الاولى صحيح و قد فارق الاولى قبل الوطى فيجب نصف المهر و لا يُدرى لمن هو فينصَّف بينهما و انما قال بعقدين حتى لو تزوجها بعقد واحد يبطل نكاحهما فلا يجب شيء من المهر .

ترجمه :كه په نكاح ئې واخستې دا دواړه (خويندې) په دوه عقدينو سره اوله هيره وه نو د دوى تر منځ به جدا والې راوستلې شي او دوى دواړو لره به نيم مهر وى ځكه چې نكاح دوروستنئ باطله ده نه واجبونكې د مهر او اوله نكاح صحيح ده

او حال دا چې اوله جدا شوې وې مخكې له وطى نه نو نيم مهر واجب دې او نشې معلومولې چې دا مهر د چا لپاره دې نو د دوى تر منځ به نيمولې شي ، او مصنف بعقدين لفظ اوويل (دا ځكه چې) تر دې كه دواړه ئې په نكاح سره واخستې په يو عقد سره نو د دواړو نكاح باطله ده نو بيا نه دې واجب هيڅ شې د مهر نه ـ

الجمع بين الاختين بعقد او بعقدين

مخكې بيان كې تير شو چې جمع بين الاختين او هغه دوه ښځې چې هره يوه پكې نر فرض كړاى شي نو بله ورته حراموي وطيا او ملكا حرام دى نو مصنفؒ اوس فرمائي چې كه د دغه خويندو سره ئې نكاح وكړه يا هغه دوه ښځې چې يوه پكې نر فرض كړې بله ورته حرامه وى سره نكاح وكړه نو يا به دا نكاح په يو عقد سره وى ، او يا به په دوه عقدونو سره يعنې د يوى سره نكاح وكړې او بيائې له بلې سره اوكړې ، كه په دوه عقدو سره وى نو بيا به خالى نه وى يا به ئې اوله هيره وى او يا به ئې ياده وى كه هيره ئې وى بيا به خالى نه وى يا به ئې مهر مقرر وى او يا نه ، كه مقرر ؤ بيا به خالى نه وى يا به دواړه سره برابر وى قدرا و جنسا او يا نه ـ

كه په عقد واحد سره وه نو بيا د دواړو نكاح باطله ده اوس كه تفريق قبل الدخول ؤ نو نه مهر شته او نه عدت شته او كه بعد الدخول تفريق ؤ نو بيا د هرى يوى لپاره عقر دى يعنې اقل د مسمىٰ نه او اقل د مهر مثل نه يعنې كه مسمىٰ كم ؤ نو مسمىٰ واجب دى او كه مهر مثل كم ؤ نو مهر مثل واجب دى ، اوكه نكاح په عقدينو سره وه او نكاح اوله ترى هيره نه وه نو اوله نكاح صحيح ده او دويمه باطله ده اوس به د دى دويمى لپاره مهر يا مقرر وى او يا نه دا هر يو به بيا خالى نه وى يا به تفريق قبل الدخول وى او يا بعد الدخول وى ، كه تفريق قبل الدخول ؤ نو بيا د دى لپاره مهر نشته مقرر وى او كه غير مقرر ، او كه تفريق بعد الدخول وى نو بيا د دى لپاره مهر مقرر وى او كه نه عقر دى يعنې كم د مهر مثل نه او كم د مسمىٰ نه او عدت پرى لازم دى ـ

او كه نكاح اوله ترى هيره وه نو د دوى تر منځ به تفريق (جداوالى) راوستې شى او د دواړو لپاره به

نیم مهر وی د هغی نه کوم چې په وخت د عقد کی مسمٰی شوی وی دا په دی دواړو باندی علی السویة تقسیم کولی شی دا ځکه چې نکاح د یو د دی چې هغه وروستنئ ده باطله ده شرعا او په نکاح باطله کی په زوج باندی هیڅ شی هم نه لازمیږی نو په دوی کی چې د کوم یو نکاح صحیح ده چې هغه اولنئ ده نو د هغی لپاره نیم مهر په خاوند باندی واجب دی خو لیکن د اولی پته نه لرېږی ځکه چې څه وجه د تعین لپاره پکی نشته او هره یوه دا دعوه کوی چې زه اولنئ یم او د خاوند نه هم اولنئ هیره شوی نو دا نصف به پدی دواړو تقسیمولی شی ۔

او نصف ځکه لازمیږی چې اولنئ ښځه قبل الوطی جدا شوی ځکه چې فرقت د خاوند له طرفه راغی گویا چې دا طلاق قبل الدخول شو او په طلاق قبل الدخول کی چې مهر مقرر وی نیم مهر دی نو دا نیم به تقسیم شی نو هری یوی ته به ربع ربع رسی ، خو لیکن د دی حکم لپاره یو څو شرائط دی :

(۱) چې په دواړو عقدینو کی به مسمٰی وی (۲) چې تفریق به قبل الوطی وی (۳) چې دواړه مهرونه به په قدر او جنس کی برابر وی (۴) چې هره یوه ښځه به دا دعوه کوی چې زه اولنئ یم او د دوی لپاره به گواهان هم نه وی ۔

اوس که فرضا مهر مسمی نه ؤ عند العقدین نو بیا متعه واجب ده خو د دواړو لپاره به یوه متعه وی متعه ځکه واجب ده چې نیم مهر په غیر موطوءة هلته راځی چې مهر مقرر وی او چې مقرر نه وی نو لازما به متعه وی ، او که په یو عقد کی مهر مسمی ؤ او په بل کی نه ؤ نو د چا لپاره چې مقرر ؤ نو هغه به ربعه اخلی او د چا لپاره چه مقرر نه ؤ نو هغه نیمه متعه اخلی ، او که دوهم شرط موجود نه ؤ مثلا تفریق بعد الوطی ؤ نو په دی صورت کی د صحیح نکاح والا لره کامل مهر دی او د فاسدی نکاح والا لره عقر دی یعنی اقل د مهر مسمی نه او د مهر مثل نه خو چونکی د اولی پته نه لرېی چې مونږ د صحت حکم پری وکړو نو دواړه مهرونه به په دوئی تقسیم کړو نو د هری یوی لپاره مکمل مهر رسیږی ، او که دریم شرط برابر نه ؤ مثلا د دوی په مهرونو کی یا قدرا اختلاف ؤ مثلادیوی مهردسپینو زرونه په وزن د زرو (۱۰۰۰) روپو دی او د بلی (۸۰۰) روپئ دی د همدی سپینو زرونه ، او یا جنسا اختلاف وی مثلا د یوی مهر په وزن د (۱۰۰۰) روپو وی دسپینو زرو نه اودبلی په وزن د(۱۰۰۰)روپو وی د سرو زرونه یا قدرا او جنسا دواړه مختلف وی نو په دی صورت کی به د هری یوی لپاره د مهر مسمی نه ربعه وی ۔

او بعضی علماء وائی چې د دواړو لپاره به په نصف د اقل د مهرینو باندی فیصله کولی شی ، مثلا د یوی مهر (۱۰۰) روپئ دی او د بل (۸۰) روپئ وی نو بنا په قول اول د اولی ښځی لپاره (۲۵) روپئ رسیږی او د دوهمی لپاره (۲۰) رسیږی او بنا په قول ثانی چې اقل په دواړو مهرونو کی (۸۰) دی د هری یوی لپاره شل (۲۰) رسیږی خو قول ثانی غوره دی ۔

او که څلورم شرط مکمل نه شی مثلا دی ښځو ویل چې مونږ ته ړومبنئ نکاح پته نه لرېږی نو

یا به د دوی لپاره هیڅ هم نه وی ترڅو چې دوی اصطلاح ونه وکړی هغه داسی چې د قاضی په وړاندی به ژانی چې زمونږ پدی سړی باندی مهر دی خو مونږ د ده نه په نیم مهر راضی کیږو نو بیا به د هری یوی لپاره ربعه وی (بنایه) ۔
نو اوس که تفریق قبل الدخول ؤ نو فی الحال د کومی سره چې غواړی نکاح دی وکړی او که تفریق بعد الدخول ؤ نو د یوی سره هم نکاح نشی کولی تر دی پوری چې د دواړو عدت تیر شی ، او که دیوی عدت تیر شو او د بلی نه وی تیر شوی نو د کومی چې عدت نه دی تیر شوی د هغی سره به نکاح وکړی د هغی بلی سره به نکاح نه کوی ځکه بیا جمع بین الاختین راځی ځکه چې د یوی خور عدت نوی تیر شوی او بله په نکاح شي دا جمعه بین الاختین راغله او دا نا روا ده ۔ هذا بعض ما خذت من البنایه و حواشي الوقایه ۔

لا بین امرأة و بنت زوجها ، لان بنت الزوج لو فرضت ذکرا کان ابنَ الزوج وهو حرام اما المرأة الاخری لو فرضت ذکرا لا تحرم علیه تلك المرأة

ترجمه : نه ده حرام جمعه کول په ما بین د ښځه کی او د لور د خاوند کی ځکه چې د خاوند لور که نر فرض کړی نو دا به د خاوند ځوی وی او دا حرام دی او هر چې هغه بله ښځه که نر فرض کړی شی نو نه حرامیږی په ده باندی دغه ښځه ۔

توضیح الکلام باسم السلام

غرض د مصنف دا دی چې کوم ځای کی جمع بین الاختین یا نوری داسی ښځی چې هره یوه د دینه نر فرض کړی بله ورته حلاله نه وی حرامه ده خو لیکن شرط پدی کی دادی چې دابه متصور وی د جانبینو نه هره ښځه چې ورته نر فرض کړی بله ورته حلاله نه وی او کوم ځای کی چې په جانبینو کی دا شرط موجود نه وی نو هلته بیا حرمت نشته لکه د یوی ښځی د هغی د خاوند لور یعنی د مَیِرِی او د هغی د پرکتهئ تر منځ جمعه کول په نکاح سره حرام نه دی ځکه چې د خاوند لور نر فرض کړی نو د ښځی پرکتی راځی او هغه ښځه د هلک میره راځی او د میری او پرکتی تر منځ نکاح نه صحی کیږی خو لیکن که دغه ښځه نر فرض کړی نو بیا دغه بنت الزوج ئی هیڅ نه کیږی اونکاح ورسره صحیح ده
چې یو طرف نه هم جواز د نکاح راغی نو جمعه کول د دوی دواړو تر منځ هم جائز ده ځکه چې شرط دادی چې د جانبینو نه به وی او د لته د یو جانب نه دی ۔ هذا علی مذهبنا و اما علی مذهب زفر فلا یجوز ۔

و صح نكاح الكتابية و الصابئية المؤمنة بنبيٍّ المُقِرَّة بكتابٍ لا عابدة كواكب لا كتاب لها :
اعلم ان نكاح الصابية يحل عند ابی حنیفةؒ لا عندهما فقيل هذا الخلاف بناء على تفسير الصابی فا بوحنیفةؒ زعم ان الصابی من اهل الکتاب فان كان كذلك يجوز نكاح الصابية و هما زعما انه من عَبَدَةِ الكواكب و لا كتاب لهم فلو كان كذلك لا يحل نكاحها

ترجمه : او صحی ده نکاح د کتابی ښځی او د صابیی ښځی هغه صابیه چې ایمان راوړونکی وی په نبی باندی او اقرار کوونکی وی په یو کتاب (منزل من السماء) سره او نه ده صحیح نکاح د هغی ښځی چې عبادت کوونکی وی د ستورو او نه وی کتاب دی لره ، شارحؒ وائی چې پوه شه چې نکاح د صابیی حلاله ده په نزد د امام ابوحنیفهؒ نه په نزد د صاحبینو ، چا ویلی دی چې دا اختلاف بناء دی په تفسیر د صابیی باندی نو امام ابوحنیفه وائی چې صابی د اهل کتابو نه وی ، نو که دارنګی وی نو بیا د صابیی ښځی نکاح جائز ده او صاحبین وائی چې صابی د عبادت کوونکو د ستورو نه دی او نه هیڅ کتاب شته دوی لره نو که دارنګی وی نو بیائی نکاح حلاله نه ده ۔

بيان الاختلاف فی تفسير الصابی بهداية الهادی

مخکی بیان د بعضی محرماتوشو اوس صحت د نکاح د بعضو سره چې هغه کتابیه ده او صابیه ده خو یاد ساته چې اول د کتابیی او صابئیی تفسیر به کولی شی بیا به وروسته حکم ذکر کولی شی ۔
کتابیه هر هغه ښځی ته ویلی شی چې یهودیه وی یا نصرانیه وی یا د هغی قبیلی نه وی چې هغوی عقیده د دین سماوی لری او د دوی سره کتاب منزل من السماء (اسمانی نازل شوی کتاب) وی مثلا لکه ابراهیم علیه السلام صحیفی یا د شیث علیه السلام صحیفی یا زبور د داود علیه السلام یا داسی نوری اسمانی صحیفی او په تثلیث باندی (چې عیسی علیه السلام یو د دری خدایانو نه ګنی یعنی دوی یو خدای الله ګنی بل بی بی مریم دریم عیسی علیه السلام) قائل نه وی نو د دوی سره نکاح صحیح ده ۔
خو لیکن دا صحت د کراهت منافی ندی بهتره خبره داده چه د دوی سره نکاح و نشی بلکه د نن زمانی علماؤ فتوای په همدی خبره ده چه د اهل کتابو سره نن زمانه نکاح نه کیږی ځکه چه اکثره مشرکان دی او د شرک ماده په دوی کی شته ، او بل د فتنی باب به د نکاح سره خلاص شی ځکه چه د نکاح په وجه د هغوی سره تعلق راځی نو د هغوی اخلاق کفریه به درکی اثر وکړی په دی باب مفتی شفیع رحمه الله په معارف القرآن کی مکمل تفصیل کړی ۔ هغی تفسیر ته رجوع وکړی ۔
صابیة جمع د صابئة ده او مذکر ئی صابئ راځی او دا مأ خوذ دی د صَبئ نه چه د یو دین نه ووځی بل دین ته او المؤمنة لفظ دا صفت موضحه دی لپاره د صابئی د امام ابوحنیفه په نزد وصف تقید دی لپاره د

صابئی په نزد د صاحبینو نو د امام ابو حنیفهؒ په نز د صابئی سره نکاح حلاله ده او د صاحبینو په نزد د صابئی سره نکاح حلاله نه ده نو د دوی دا اختلاف مبنی دی په تفسیر د صابئی سره نو امام ابو حنیفه د دی تفسیر داسی کوی چه صابئی دا د اهل کتابو نه دی او زبور لولی د ستورو عبادت نه کوی خو لیکن د ستورو تعظیم کوی لکه څرنګه چه مونږ د قبلی تعظیم کوو . او صاحبین د دی تفسیر داسی کوی چه صابئی د ستورو عبادت کوی ، او کتاب منزل دوی نه لری نو دوی په شان د بت پرست وګرځیده نو په حقیقت کی د امام صاحب او صاحبینو تر منځ اختلاف نشته ځکه صابئی که دارنګی ؤ لکه څرنګه چه امام صاحب وائی نو د صاحبینو په نزد هم د صابئی سره نکاح جائز ده او ذبیحه د دوی لکه څرنګه چه د امام صاحب په نزد حلاله ده دارنګی د صاحبینو په نزد هم جائز ده او که صابئی دارنګی وی لکه څرنګه چه صاحبین تفسیر کوی نو څرنګه چه د صاحبینو په نزد د دوی سره نکاح جائز نه ده نو دارنګی د امام صاحب په نزد هم نه ده جائز ، او څرنګه چه د صاحبینو په نزد د دوی ذبیحه حرامه ده نو دارنګی د امام ابو حنیفهؒ په نزد هم حرامه ده نو په حقیقت کی د دوی اختلاف لفظی دی نه حقیقی -

> ثم عطف علی نکاح الکتابیة قولَه و نکاح المحرم و المُحْرِمَةِ و الامة المسلمة و الکتابیة ، و فیه خلاف الشافعیؒ بناء علی ان التخصیص بالوصف یوجب نفی الحکم عما عداه عنده لا عندنا فقوله تعالی (من فتیا تکم المؤمنات) ینفی جواز نکاح الکتابیة عنده و لو مع طول الحرة المراد بطول الحرة القدرة علی نکاحها بان تکون له مهر الحرة و نفقتها و فیه خلاف الشافعیؒ بناء علی ان التعلیق بالشرط یوجب العدم عند عدم الشرط فقوله تعالی (ومن لم یستطع منکم طولا ـ الایة) دل علی انه لو کان له طول الحرة لم یجز له نکاح الامة امّا عندنا فهو ساکت عن هذا الحکم فبقی الحکم علی تقدیر طول الحرة علی الحل الاصلی و کذا فی الامة الکتابیة .

ترجمه : بیا مصنف عطف کړی پر نکاح د کتابیی باندی دا قول خپل چه و نکاحُ المُحْرِمِ الخ صحیح ده نکاح د محرم سړی او د محرمی ښځی او د وینزی مسلمانی او د وینزی کتابیی ، او په دیکی خلاف د امام شافعیؒ صاحب دی دا (اختلاف) بناء دی په دی چه تخصیص بالوصف دا واجبوی نفی د حُکم د هغی نه چه په هغی دا وصف نه وی په نزد د امام شافعیؒ باندی نه زمونږ په نزد نو دا قول د الله تعالی (من فتیاتکم المؤمنات) دا نفی کوی جواز د نکاح د کتابیی ښځی په نزد د امام شافعیؒ باندی اګر کـه سره د قدرت نه وی ، مراد د طول الحرة نه قدرت دی په نکاح د دی سره پدی شان چه وی ده سره مهر د حری ښځی او نفقه او پدیکی (په جواز د نکاح د اِمِیٔ (وینزه) کی سره د قدرتِ نه په نکاح د اصیلی ښځی) خلاف دی د امام شافعیؒ دا خلاف مبنی دی په دی چه تعلیق بالشرط واجبه وی عدم په وخت د

عدم شرط کی نو دا قول د الله تعالی (ومن لم یستطع منکم طولا۔ الایه) دا دلالت کوی په دې باندې چه که چیرې ده سره قدرت په نکاح د اصیلې ښځې وي نو بیا ده لره نکاح د وینزې نه ده جائز . هر چه زمونږ په نزد دې نوهدا ایت ساکت دې لـه دې حکم نه نو باقي پاتې شو حکم په تقدیر د طول د حرې سره په جل اصلي باندې همدارنګې په امة (وینزې) کتابیه باندې۔

بیان اختلاف العلماء ولو مع طول الحرة فی نکاح الاماء

مخکې بیان د نکاح د کتابیه سره او صابیه سره وشو اوس مصنف بیان د نکاح د محرم او د محرمې و غیره کوي . نو وئې ویل چه د محرم سړي نکاح او د محرمې ښځې نکاح الخ صحیح ده ، د محرم نه مراد هغه دې چه احرام ئې تړلې وي یا په حج سره یا په عمرې سره په دې کې د ائمه ؤ اختلاف دې۔

امام شافعیؒ په نزد په حالت احرام کې د محرم سړي سره یا د محرمې ښځې سره په حالت احرام کې نکاح نده جائز ده امام شافعي لپاره دلیل دا قول د نبي ﷺ دې چه (لا یَنکِحُ المحرم ولا یُنکحُ) نه به محرم نکاح کوي او نه ئې بل ته په نکاح ورکولې شي ، دارنګې یو سړي د احرام په حالت کې نکاح کړې وه نو حضرت عمرؓ د ده نکاح رد کړه ۔یعنې فسخ کړه۔

او د امام ابو حنیفةؒ په نزد د محرم سره د احرام په حالت کې نکاح صحیح ده لکه چه حضرت عبد الله بن عباسؓ روایت کوي چه نبي الصلاة السلام مبارک میمونیؓ بي بي سره نکاح وکړه او نبي ﷺ محرم ؤیعنې په حالت ده احرام کښې وه۔ دارنګې قیاس هم دا وائي ځکه نکاح د نورو بیعو په شان ده په تلفظ کې لکه څرنګه چه محرم لره په حالت احرام کې بیع جائز ده نو دارنګې نکاح هم ورلره جائز ده ۔

او د امام شافعیؒ د حدیث نه جواب دادې چه دا حدیث یا محمول دې په وطې سره ځکه نکاح لپاره وطې حقیقت دې او په عقد کې مجاز ، یعنې محرم سړي به وطې نه کوي او نه به محرمه ښځه خپل خاوند په ځان قادروي ، یا دا حدیث که صرف په نهي مجردې سره وي نو بیا به نهي تنزیهي مراد وي او که په نفي سره وي نو بیا به دا نفي په معنی د نهي سره وي ، کذا فی البنایه ج۵ ص۵۰ نو که څوک اعترض وکړي چه نهي قول دې او جواز فعل دې او کله چه د قول د نبي ﷺ او د فعل مینځ کې تعارض راشي نو بیا قول طرف ته ترجیح ورکول کیږي د دوو وجهو نه :

(۱) چه قول متعدي وي او فعل غیر متعدي وي (۲) دا چه فعل کله کله د نبي ﷺ پورې خاص وي لکه وجوب د تهجدو یا بلا مهره نکاح کول یا د څلور نه زیات و دونه کول ، دارنګې دلته د احرام په حالت کې د میمونې بي بي سره نکاح کول کیدې شي چه د نبي ﷺ خصوصیت وي نو دا بیا د امام شافعیؒ د مذهب تائید کوي ۔

د دینه مونږ دوه جوابونه کوو : (۱) دا نه منم چه فعل غیر متعدي دې ځکه چه فعل هم متعدي

کیږی ځکه چه احرام هر کله مانع نه شو د نکاح نه په حق د نبی ﷺ کی او ثابت شو جواز د عقد سره د احرام نه چرنګی ثابت شو په حق د امت نبی ﷺ کی هم ځکه چه امت د ده اولی دی په رخصت سره د عزیمت نه د وجی د ضعف د دوی نه (۲) جواب چه اصل په اشیاء کی عدم اختصاص دی فافهم و تدبر فیه، بنایه ۴۹/۵۔

والامة المسلمة : د مسلمانی وینځی سره هم نکاح جائز ده په دی کی څه اختلاف نشته نه خپله وینزه پدی کی به تفصیل راشی انشاء الله تعالی۔

والکتابیة : او صحیح ده نکاح د وینزی کتابیی سره پدی کی زمونږ سره د امام شافعیؒ اختلاف دی دلته اصل کی دوه خبری دی (۱) چه د کتابیی وینزی سره نکاح جائز ده یا نه ؟ (۲) د مطلق وینزی سره نکاح کول سره د قدرت نه په حره باندی جائز دی یا نه ؟

۔ د وینزی کتابیی سره نکاح زمونږ په نزد جائز ده او د امام شافعیؒ په نزد نه ده جائز، مصداق د دی اختلاف دا ایت کریمه دی چه (ومن لم یستطع منکم طولا ان ینکح المحصنات المؤمنات فمما ملکت ایمانکم من فتیاتکم المؤمنات۔ الایه) نو الله پاک د وینزی سره نکاح جائز کړه خو قید د مؤمناتو ئی ورسره ذکر کړ، او بیائی دا معلق کړ په عدم طاقت سره په نکاح د اصیلی ښځی سره نو امام شافعیؒ دا غوره کړه چه نکاح د کتابیی وینزی سره جائز نه ده ځکه د هغه په نزد باندی تخصیص بالوصف واجبوی نفی د حکم د هغه څه نه چه په هغی کی دا وصف نه وی نو پدی صورت کی الله جل جلاله وینزو لره موصوف کړی په صفت د مؤمناتو سره او د دی تخصیص ئی وکړ په قید دا یمان سره نو په کوم ځای کی چه وصف د مؤمنات نه وی نو هلته به حکم چه جواز د نکاح سره هم نه وی نو په کتابی ښځه کی دا وصف د مؤمنات نشته نو لهذا نکاح به هم ورسره نشی کولی۔

او زمونږ په نزد د کتابیه وینزی سره نکاح جائز ده ځکه چه تخصیص بالوصف دلالت نه کوی په نفی د حکم د عما عدا نه ځکه کله کله ذکر د وصف اتفاقا ذکر کولی شی نه احترازا دا جاری مجری د عادت وی یعنی عام عادت کی خلک مؤمنی وینزی په نکاح کوی او یا دا وصف د وجی د اهتمام نه ذکر کولی شی له وجی د شرافت د دی وصف نه ځکه د مؤمنی وینزی سره نکاح کول بهتر کار دی نو قید د مؤمنی دا دلالت نه کوی په نفی د جواز د نکاح د غیر مؤمنی۔

دوهمه خبره دا ده چه د وینزی سره نکاح کول سره د طاقت نه په نکاح د حری ایا جائز ده او که نه ؟ امام شافعیؒ وائی چه کوم سړی د اصیلی ښځی په نکاح قادر وی نو د هغه لپاره نکاح د وینزی سره جائز نه ده، او امام ابو حنیفهؒ فرمائی چه جائز ده۔

شارحؒ فرمائی چه مراد د طول نه قدرت دی په نکاح د اصیلی ښځی سره چه د هغی مهر ورسره وی، د هغی لپاره د نفقی طاقت ولری ځکه چه د اصیلو ښځو مهرونه هم ګران وی او نفقی ئی هم غالبا

گرانی وی ، نو دا اختلاف د امامانو مبنی دی په دی خبره چه امام شافعیؒ فرمائی چه تعلیق بالشرط واجبوی عدم د حکم په وخت د عدم شرط کی نو په دی ایت کریمه کی (ومن لم یستطع منکم طولا ۔الایه) عدم طاقت په نکاح د اصیلی شرط دی او نکاح د وینزو مؤمنو سره دا جزا ده نو دا جزا الله جل جلاله معلقه کړه تر عدم طول په نکاح د حری پوری کوم ځای چه دا شرط موجود وی چه عدم طول دی نو هلته به حکم هم موجود وی چه نکاح د وینزی ده او کوم ځای چه دا شرط موجود نه وی نو هلته به دا حکم هم موجود نه وی ۔

او امام ابو حنیفهؒ فرمائی چه تعلیق بالشرط صرف په دی خبره دلالت کوی چه دا جزاء مربوطه ده په دی شرط باندی نه په عدمیت د حکم په وخت د عدم شرط کی نو زمونږ په نزد باندی مطلقا د وینزو سره نکاح جائز ده ځکه الله جل جلاله فرمائی چه (واحل لکم ما وراء ذلکم) دا مطلق دی او حمل دی په حل اصلی باندی سره د طول د حری نه ، او ایت د طول چه دی نو هغه د دی حکم نه چه په وخت د طول کی د اماء سره نکاح جائز نه ده ساکت دی ، او نه دلالت کوی په حرمت نو حل اصلی منتفی نه شو نو حکم چه نکاح د وینزی ده سره د طول نه دا هم منتفی نه شو نو لهذا سره د طول نه په حره باندی د وینزی سره نکاح جائز ده همدارنګی په وینزه کتابیه کی هم حکم باقی پاتی شو په حِل اصلی باندی چه مطلق وینزه ده نو وصف د مؤمنات نفی د جواز د نکاح د کتابیی نه نه راولی ، و ان کنت طالبا للتفصیل فعلیک بکتب الاصول ۔

و الحرة علی الامة و اربع من حرائر فقط وللعبد نصفها و حبلی من زنا و لا توطأ حتی تضع حملها و موطوء ة سیدها او زان ، ای یجوز نکاح امة وطئها سیّدُها و لا یجب علی الزوج الاستبراء و کذا نکاح من وطئها رجل بالزنا ولا یجب علی الزوج الاستبراء ۔

ترجمه : او جائز ده حره په نکاح کول په وینزی باندی ، او څلور د اصیلو او وینزو نه فقط او د غلام لپاره په نیم د دی (دوه ښځی اصیلی وی که وینزی وی) او جائز ده نکاح د هغی ښځی سره چه حامله وی د زنا نه خو وطی کولی به نشی تر دی بچی خپل وزیږوی او جائز ده موطوء ه د سید خپل یا هغه وینزه چه زنا کار وطی کړی وی ۔

شارح فرمائی یعنی جائز ده نکاح د داسی وینزی چه وطی کړی وی دی سره سید خپل او واجب نه ده په زوج د دی استبراء (پاکوالی د رحم) همدارنګی جائز ده نکاح د هغی وینزی چه وطی کړی دی لره یو سړی په زنا سره اونده واجب په زوج باندی استبراء د رحم ۔

و اربع من حرائر و اماء فقط بحکم القادر المقسط

غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره مقصد دادی چه جائز ده نکاح د حری ښځی په وینزی باندی لکه څرنګه چه په حدیث مبارک کی راغلی چه (و یتزوج الحرة علی الامة ولا یتزوج الامة علی الحرة) یعنی د وینزی د پاسه

اصیله ښځه په نکاح کولی شي خو د اصلي ښځي له دباندي وینزه نشي نکاح کولی (و اربع من حرائر فقط) او جائز دی څلور ښځي فقط هغه اصیلي وي او که وینزي د دینه زیاتو سره نکاح کول جائز نه دی دا حکم په اتفاق د ټولو علماؤ سره دی ، اګر که بعضي شیعه ګان په نهه (۹) ښځو قائل دي چه د مثنی نه دوه مراد دي او د ثلث نه دري او د رُبع نه څلور مراد دي چه ټولي نهه راځي او بعضي خوارج بیا په اتلس (۱۸) قائل دي پدی شان چه مثني معنی کي تکرار دی چه دوه دوه ثلث دري دري رُبع څلور څلور نو ټول اتلس (۱۸) شوی ـ

خو دا قول د شیعه ګانو او خوارجو په حماقت او بی عقلي دلالت کوی دا قول ده دوی دقرآن او احادیثو نه مخالف دی ـ په یو روایت کي د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دی چه غیلان الثقفي اسلام راوړو او د ده په نکاح کي لس ښځي وي نو نبی ﷺ ده ته وفرمائیل چه څلور تري غوره کړه او نوري پریږده ـ

دارنګي د قیس بن الحارث الاسدي په روایت کي چه ما اسلام راوړو او زما په نکاح کي اته (۸) ښځي وي نو نبی ﷺ ته مي خبر ورکړ نو نبی ﷺ راته وفرمائیل چه څلور غوره کړه او نوري پریږده ـ

دارنګي د نوفل بن معاویه په نکاح کي پنځه بیبیانی وی نو نبی علیه السلام ورته د یوی د پریښودلو امر ورکړو ـ

نو څلور ښځي په نکاح اغستي شي اصیلي وي او که وینزي وي ځکه الله پاک فرمائي (فانکحوا ما طاب لکم من النساء ـ الایه) نو لفظ د نساء مطلق دی اصیلو ښځو ته هم شامل دی او وینزو ته هم شامل دی ، نو د دواړو جنسونو نه به صرف څلور په نکاح کښي اخلي هو که خپلي وینزي ساتی بغیر د څه نکاح نه هر خومره چه وي جائز دي ـ

سوال : څرنګه چه د النساء لفظ عام ؤ دارنګي د فانکحوا لفظ دی هم عام شی احرار او عبیدو یعني غلامانو ته دی شامل شی نو لکه څرنګه چه احرارو ته څلور جائزدی دارنګي غلامانو ته دی هم څلور روا شي ؟

جواب : پدی سابقه لفظ کي د فانکحوا لفظ مطلق نه دی بلکه دا صرف منحصر دی تر احرار پوری فقط په دی دلیل سره چه الله پاک فرمائي چه (فان خفتم ان لا تعدلوا فواحدة او ما ملکت ایمانکم ذلک ادنی ان لا تعولوا) نو پدیکي الله پاک احرارو ته ولایت ورکړ چه که تاسي ویریږئ چه عدل به ونه کړئ نو یوه ښځه په نکاح واخلئ او یا هغه وینزي چه ستاسي پری قدرت او ولایت وي ولا ولایة للعبید ـ

و للعبد نصفها : او جائز دی غلام ته په نیم د دی دوه ښځي چه هغه وینزي وي او که اصیلي وي او په همدی باندي اجماع د ټولو اصحابو ده ـ

و حبلی من زنا ولا توطأ حتی تضع حملها : کومه ښځه چه په زنا سره حامله شوي وي نو که د زاني نه سوا بل څوک ئي په نکاح اخلي جائز ده خو لیکن تر وضع د حمل پوری نشي وطی کولی یعني جماع ورسره نه شي کولی د دی لپاره چه د بل چا فصل اوبه نه کړی ، او که زاني په نکاح اخستي وه یعني

هغه زانی چه د دی همدا حمل د ده نه ؤ نو بیا نکاح د ده هم ورسره جائز ده او وطی هم ورسره کولی شی ځکه چی خپل فصل اوبه کول جائز دی، خو لیکن کومه ښځه چه د زنا نه حامله نه وی نو بیا دا په عدن کی ده نو د وضعی د حمل پوری د دی سره نکاح نه ده جائز لکه الله پاک فرمائی چه (و اولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن۔ الایه)

و موطوءة سیدها او زان :

شارح په خپله د دی تفسیر کوی چه کومه وینزه خپل بادار وطی کړی وی نو د دی سره نکاح کول جائز دی خو لیکن زوج لره دا حق شته چه دا قبل الاستبراء وطی کړی ځکه چه کله بادار د ه ته خپله وینزه په نکاح ورکوی سره د رضا نو دا دلالت کوی چه د دی رحم به خالی وی د هغه د اوبو نه خو لیکن دلته نفی د وجوب ده نه نفی د استحباب نو مستحب طریقه داده چه استبراء وکړی لکه څرنګه چه امام محمدؒ فرمائی چه (لا احب له ان یطأ ها حتی یستبرئها لانه احتمل الشغل بماء المولی فوجب التنزه) ۔

دارنګی هغه ښځه چه زانی ورسره زنا کړی وی خو حامله نه ده نو د دی سره نکاح جائز ده او وطی هم ورسره کولی شی بغیر د وجوب د استبراء نه په خاوند باندی ځکه شرعا د زانی اوبو ته اعتبار نشته نو دا په حکم د عدم کی دی و لا اعتبار للعدم ۔ فلهذا جازله الوطی

و من ضمَّتْ إلی محرَّمة اذا تزوج امرأتین بعقد واحد و احداهما محرمة علیه صح نکاح الاخری

ترجمه : او هغه ښځه چه یو ځای کړای شی د یو محرَمی سره (نو نکاح ئی صحیح ده) شارح وائی : یعنی کله چه کله په نکاح واخلی دوه ښځی په یو عقد سره او یوه د دوی نه په دی ناکح حرامه وه نو صحیح ده نکاح د هغه بلی (چه کومه په ده حرامه نه ده)

الوضاحت القلیل

مقصد د دی عبارت نه دا دی چه یو سړی مثلا دوه ښځی په نکاح سره په یو عقد کی واخلی او یوه پکی په ده حرامه وه مثلا یا ئی خور وه یائی ترور وه وغیره نو کومه ښځه چه په ده حرامه نه وه د هغی نکاح صحیح شوه خو د هغی چه په ده حرامه وه نکاح باطله شوه خو کوم مقرر مهر چه وی نو د هغی ښځی دی چه د کومی سره نکاح حلاله ده په نزد د امام ابو حنیفهؒ ، او د صاحبینو په نزد دا مهر به د هغوی په مَهر مثل تقسیمولی شی خو لیکن که دغه ښځه کومه چه حرامه وه ده وطی کړه نو بیا به هغی لره مهر مثل ورکړی ۔

لا نکاح امته و سیدته و المجوسیة و الوثنیة و خامسة فی عدة الرابعة هذا للحر و اما للعبد فلا یجوز الثالثة فی عدة الثانیة و امة علی حرة او فی عدتها

ترجمه : نده صحیح نکاح د وینزی خپلی او د مجوسی ښځی او د بت پرستی ښځی او د

پنځمی ښځی په عدت د څلورمه کی او دا حرمت د پنځمی په عدت د څلورمی کی لپاره د اصیل سړی دی نه ده غلام ۔ هر چه لپاره د غلام دی نو جائز نه ده دریمه ښځه په عدت د دویمه کی او حرامه ده د وینزی نکاح کول په اصیلی باندی یا په عدت د دی اصیلی کی ۔

اعادة مسئلة التحریم

قوله لا نکاح امته : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان دَ نوعی اومی (۷) دی چه د نوعی سابعی دوه اقسام ؤ یو دا چه نکاح د سید د خپلی وینزی سره نه صحیح کیږی تر څو چه دا وینزه وی برابره خبره ده چه په هغی کُلًا ملک وی یا بعضاً وی دا ځکه چه نکاح سره ډیری ثمرات (نتیجه مرتب وی) او دواړه زوجین په ملک کی مشترک وی بعض حقوق ښځی پوری خاص وی لکه نفقه ، کور ، تقسیم په ما بین د ښځو کی ، منع د عزل نه د دی امورو ښځه مالکه کیدی شی ۔

او بعضی د خاوند پوری مختص وی لکه په جماع قادریدل ، د ښځی په کور ځای په ځای اوسیدل ، د کور کارونه کول ۔

او بعضی د دواړو تر منځ مشترک وی لکه کوروالی کول نو من وجه ښځه مالکه شوه او خاوند مملوک ، او من وجه خاوند مالک شو او ښځه مملوکه شوه او د مالکیت او مملوکیت تر منځ منافات دی نو یو انسان دانشی کیدای چه هم مالک شی او هم مملوک شی په یو وخت کی و قد اشرنا الیه فی السابق فتذکرها ۔

بل دا چه نکاح د غلام نه صحیح کیږی د خپل باداری سره ځکه چه دلته هم اجتماع د متنافیینو راځی چه مالکیت او مملوکیت دی فقس علیه کما مر آنفا ۔

قوله والمجوسیة والوثنیة : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د نوع سادسی دی چه مشرکه ده ، مجوسی هغه چاته وائی چه د اور عبادت کوی نو د مجوسیه ښځی سره نکاح جائز نه ده او نه مجوسی سړی سره ځکه د کفار دی او د کفارو سره نکاح جائز نه ده ۔

والوثنیة : هغه چاته وائی چه د بت عبادت کوی یعنی د ده نسبت کیږی عبادت د بت ته وثن هغه بت ته وائی چه دی لره یو صورت او شکل وی د لرګی نه وی یا د تیږی (کانی) نه خو مراد تری هر هغه خوک دی چه د غیر الله عبادت کوی نو د داسی ښځی سره نکاح جائز نه ده ځکه چی دا مشرکان دی او د مشرک سره نکاح جائز نه ده ۔

و قوله خامسة فی عدة الرابعة : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره قسم ثانی د نوعی رابعی دی چه د څلورو نه زیاتی ښځی حرامی دی دارنګی که د یو سړی په نکاح کی څلور ښځی وی او څلورمه طلاقه کړی تر څو چه دا په عدت کی وی نو د پنځمی سره نکاح حرامه ده خو دا حرمت د اصیل سړی لپاره دی ځکه د اصیل سړی لپاره څلور ښځی حلالی دی زیاتی حرامی دی نو د عدت په حالت کی د پنځمی ښځی

سره نکاح نشی کولی ځکه دا هم حکما په نکاح کی داخله ده او د غلام لپاره دوه ښځی جائز دی زیاتی حرامی دی اوس که غلام دویمه طلاقه کړی او عدت ئی نوی ختم شوی نو د دریمی سره نکاح نشی کولی ترڅو چه د هغی دویمی عدت نوی تیر شوی۔

و امة عنی حرة او فی عدتها : مخکی دی خبری ته ما اشاره کړی وه چه د یو سړی په نکاح کی اصیله ښځه وی نو وینزی سره نکاح نشی کولی دارنګی که دغه اصیله ښځی ته طلاق ورکړی او په عدت کی وی نو وینزی سره نکاح نشی کولی ترڅو چه د اصیلی ښځی عدت تیر شوی نه وی ځکه عدت هم حکما نکاح ده خو د وینزی لپاسه اصیله کولی شي، کما مر سابقا۔

و حاملٍ من سبيٍ ، وحامل ثبت نسب حملها و لو هی ام ولد حملت من سیدها ، تزوج مُسبِّيَةً حاملا لا یجوز النکاح لان حملها ثابت النسب و انما افردها بالذکر و ان کانت داخلة تحت قوله و حامل ثبت نسب حملها لانه قد یَشْتَبِه ان ولدها ثابت النسب ام لا فلا یُعلم حکم نکاحها فافردها باالذکر و قوله و لو هی ام ولد انما قال ذلك و مثل هذا الکلام یستعمل فی مقام یحتاج الی المبالغة لان الحامل التی ثبت نسب حملها اما منکوحة او مستولدة و المنکوحة هی الفراش القوی فلدفع توهم اختصاص هذا الحکم بالفراش القوی قال بطل نکاح حامل ثبت نسب حملها و ان کان الفراش غیر قوی و ایضا قد ذکر ان نکاح موطوءة السید صحیح فهذا المعنی اوهمَ صحة نکاح الحامل من السید فانها موطوءة السید فقال بطل نکاح حامل ثبت نسب حملها و ان کانت هذه الحامل موطوءة السید فان هذا المعنی یوجب صحة النکاح فمع ذلك بطل نکاحها باعتبار ثبوت نسب حملها

ترجمه : او نه ده جائز نکاح د هغی ښځی چه بند کی راشی او حامله وی د حربی نه او بل جائز نه ده نکاح د داسی حاملی چه ثابت وی نسب د حمل د دی اګر که دا ام ولده وی چه حامله شوی وی د خپل بادار نه (شارح فرمائی) چه په نکاح ئی واخسته هغه ښځه چه په بند کی راشی او حامله وی نو نکاح جائز نه ده ځکه حمل د دی ثابت النسب دی (د حربی نه) او بیشکه ځانله یوازی ذکر د دی (و حامل من سبی) ئی وکړ اګر که دا داخله ده لاندی د دی قول نه چه (و حامل ثبت نسب حملها) دائی ځکه ذکر کړو چه کله اشتباه راځی۔

چه ایا دا ولد د دی به ثابت النسب وی او که نه نو نه معلومیدلو حکم د نکاح د دی نو ځانته ئی ذکر کړو او دا قول د ده چه (ولو هی ام ولد) دارنګی ئی وویل (په واو وصلیه سره) او په مثل د دی کلام استعمالیږی په هغه مقام کی چه ضرورت مبالغی ته وی ځکه هغه حامله چه ثابت وی نسب د حمل د دی

یا به منکوحه وی یا به مستولَدَه وی او منکوحه چه ده هغه فراش قویه دی نو لپاره د دفع کولو د توهم د اختصاص د دغه حکم د فرش قویه پوری نو مصنف وویل چه باطل دی نکاح د هغی حاملی چه ثابت وی نسب د حمل د دی اګر که فراش غیر قوی وی همدارنګی مصنف مخکی ذکر کړی چه نکاح د موطوءة السید صحیح ده نو دی معنی وهم د صحتِ د نکاح د هغی ښځی چه حامله وی د سید نه راوستلو نو مصنف وویل چه بَطل نکاح حامل ثبت نسب حَملِهَا اګر که دغه حامله موطوءه د سید وی ځکه دا معنی (چه موطوءه د سید ده) واجبوی صحت د نکاح (باالنظر الی ظاهر الالفاظ) نو سره د دینه باطل ده نکاح د دی (ام الولد الحامل من السید) په اعتبار د ثبوت د نسب د حمل د دی ۔

حکم الحوامل من السید والحربی فی الاقوال و الکتُب الحنفیة

قوله و حاملٍ من سبیٍ: غرض د ماتنؒ دا دی چه کومه ښځه د کفارو نه زمونږ سره بنده شی او هغه حامله وی یا هغه ښځه چه د کفارو نه مونږ ته هجرت اوکړی او حامله وی د کفارو نه نو د دی ښځو سره نکاح جائز نه ده ځکه چه حمل د دی ثابت النسب دی د حربی نه ۔

و قوله و حامل ثبت نسب حملها الخ : غرض د ماتنؒ دا دی چه د هغه حاملی سره هم نکاح جائز نه ده کومه چه ثابت وی نسب د حمل د دی اګر که هغه ام ولده وی او حامله شوی وی د خپل سید نه نو کومه ښځه چه حامله وی مثلا د زید نه حامله ده او عمرو په نکاح واغسته نو دا نکاح باطله ده ځکه چه دا حمل د زید نه ثابت دی نو که نکاح صحیح شی نو جمع بین الفراشین به راشی چه یو فراش د زید دی او بل فراش د عمرو دی ۔

دارنګی که یوه ام ولده د بل چا مثلا د زید ام ولده وه او د هغه نه حامله ده او بکر ته ئی په نکاح ورکړه نو دا نکاح هم صحیح نه ده ځکه چه دا حمل د سید نه ثابت دی نو که نکاح صحیح شی نو جمع بین الفراشین به راشی چه یو فراش د مولی (زید) دی او بل فرش د بکر دی او جمع بین الفراشین ناروا ده ځکه چه دیکی اشتباه د نسبونو راځی ۔فلهذا دا نکاح باطله ده۔

قوله تزوج مسبیة حاملا : دا تفسیر د وَحَامِل من سَبیٍ دی لکه بیان کی مخی تیر شوی ۔

قوله و انما افردها بالذکر : غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د یو اعتراض ده هغه داسی چه معترض وائی چه د (و حامل من سبی) ذکر کولو ته څه ضرورت نه ؤ ځکه چه وروسته عبارت چه (وحامل ثبت نسب حملها) کافی ؤ ځکه چه حامله مسبیه نسب خو ثابت وی د حربی نه نو هغی سره نکاح جائز نه ده نو بیا د (وحامل من سبی) په ځانته ذکر کولو کی څه فائده وه ؟

نو شارحؒ جواب وکړو چه وانما افردها بالذکر الخ یعنی دا و حامل من سبی ئی ځانته ذکر کړو اګر چه دا داخل ؤ د دی قول لاندی چه وحامل ثبت نسب حملها نو بیائی هم ځانته ذکر کړو د دی وجی نه چه

کله دا اشتباه راځی چه ایا ولد د مسبیه به ثابت النسب وی او که نه ؟ نو د دی د حکم معلومات نه کیده نو لهذا د دی حکم ئی ځانته ذکر کړو چه د حاملی مسبیې سره نکاح جائز نه ده ۔

و قوله ولو هی ام ولد : غرض د شارح پدی عبارت سره دفع د یو اعتراض ده چه ماتن دا الفاظ په واو وصلیه سره راوړل او واو وصلیه په کلام کی هلته راوړلی شی چه کوم ځای کی مبالغی ته ضرورت وی او دلته څه مبالغه ده ؟ نو شارح جواب وکړو چه دا الفاظ ئی په واو وصلیه سره راوړه د دی لپاره دوه وجی دی :

(۱) دا ځکه چه هغه حامله چه ثابت وی نسب د حمل د دی یا به منکوحه وی او یا به مستولده وی او منکوحه فراش قویه دی او مستولده فراش غیر قویه دی نو دلته دا وهم راتلو چه دا حکم به د فراش قویه پوری خاص وی یعنی که منکوحه حامله وی او نسب ثابت وی نو صرف د هغی سره به نکاح حرامه وی ؟ نو د دی د دفعه کولو لپاره مصنف وویل چه نکاح د هغی حاملی چه نسب ئی ثابت وی باطله ده اگر که فراش غیر قویه وی لکه ام ولده درشوه له نو کله چه فراش غیر قویه صورت کی نکاح حرامه شوه نو د فراش قویه په صورت کی خو په طریقه اولی حرامیږی ۔

مراتب الفراش

فراش په څلور قسمه دی (۱) ضعیف دا فراش د وینزی دی پدی کی نسب نه ثابتیږی مگر په دعوی د ولد سره (۲) فراش متوسط دافراش د ام ولدی دی پدیکی نسب بلا دعوی هم ثابتیږی لکن دا نسب منتفی کیږی په نفی سره (۳) فراش قویه دی دا فراش د منکوحی دی او د معتدة الرجعی دی نو پدیکی نو په دی کی انتفاء د نسب نه راځی مگر په لعان سره (۴) فراش اقوی لکه فراش د معتدی د بائن طلاق ځکه پدیکی ولد بلکل نه منتفی کیږی ځکه چه نفی د ولد موقوفه ده تر لعان پوری او د لعان لپاره شرط زوجیت دی ولا زوجیة بین المتبائنین ۔

قوله و ایضا قد ذکر ان نکاح موطوءة السید صحیح الخ

غرض د ماتن په دی عبارت سره بیان د وجهی ثانی دی هغه دا چه مصنف دا عبارت مصدر کړو په واو وصلیه سره د دی لپاره چه مصنف مخکی دا خبره ذکر کړه ص۱۲ چه نکاح د موطوءه د سید سره صحیح ده او په زوج باندی استبراء واجب نه ده نو دی خبری نه دا یو وهم راتلو چه ایا د هغی ښځی سره چه د سید نه حامله وی نکاح به صحیح وی ؟ ځکه چه موطوءه د سید سره نکاح صحیح ده نو لهذا نو لهذا د حاملی من السید سره به نکاح صځ وی نو مصنف د دفع د دغه وهم لپاره وویل چه ولو هی ام ولد الخ ۔

یعنی د کومی حاملی چه نسب ثابت وی اگر که دغه حامله موطوءه د سید وی نو نکاح ورسره حرامه ده ځکه چه موطوءة السید الفاظ اگر چه په نظر سره ظاهر الفاظو ته صحت د نکاح واجبوی خو سره د دینه نکاح د حاملی من السید سره نکاح حرامه ده د وجی د اعتبار د ثبوت د نسب د حمل د دینه ۔

و نکاح المتعة و الموقت ، صورة المتعة ان يقول اتمتّع بكِ كذا مدة بكذا من المال و صورة الموقت ان يقول تزوّجتُكِ بكذا الى شهر او عشرة ايام

ترجمه : جائز نه ده نکاح د متعی او د مؤقتی ۔ صورت د متعی دا دی چه یو سړی یوی ښځی ته ووائی چه زه به نفع اخلم په تا سره دومره موده په دومره مال سره او صورت د مؤقتی دا دی چه یو سړی یوی ښځی ته ووائی چه زه نکاح کوم له تاسره په دومره مال سره تر یوی میاشتی یا لس ورځو پوری ۔

بیان المتعة والموقت من الکتب والسنة

غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د تحریم د متعی دی ، او فرق په ما بین د متعی او موقت کی ، نکاح متعی دیته وائی چه یو سړی یو ښځی ته ووائی چه زه به تاسره نفع اخلم دومره موده په دومره مال سره ۔

او نکاح موقت دیته وائی چه سړی یوی ښځی ته ووائی چه زه له تاسره نکاح کوم په دومره مال سره تر یوی میاشتی یا لس ورځو پوری مثلا او په البدائع کی ئی ویلی چه نکاح د متعی په دوه قسمه ده یو دا چه په لفظ د تمتع سره وی بل دا چه په لفظ د نکاح یا تزویج سره وی یا داسی نور الفاظ خو چه په مال معین سره وی او د نیتی معینی لپاره وی ولی که د نیتی معینی لپاره نه وی او د تعین د زوج لپاره وی د زوج لپاره وی نو بیا خو نکاح صحیح ده ۔

د نکاح متعی تحریم کله راغلی دی ؟

په ابتداء د اسلام کی متعه حلاله وه بیا په زمانه دغزوۀ خیبر کی د دی حرمت راغی لکه د حضرت علی کرم الله وجهه په روایت کی چه نبی ﷺ منعه وکړه د متعو د ښځو نه او د کورنی خرو د غوښو نه په زمانه د خیبر کی بیا د فتح مکی په کال د غزوه اوطاس په ورځ د دی دری (۳) ورځی صرف اجازت ورکړی شو او بیا د هغی نه وروسته د همیشه لپاره حرامه ده د تولو صحابه کرامؓ پدی اجماع ده چه متعه د نبی الصلاة السلام په ژوند مبارک کی منسوخ شوی نو احادیث ناسخ شو او اجماع ورلره مظهره شوه ۔

او که څوک وائی چه اجماع څنګه منعقد کیدی شی څکه چه عبد الله بن عباس رضی الله عنه خو د دی مخالف ؤ ؟

نو د دینه دا جواب کولی شی چه عبد الله بن عباسؓ اول د دی په اباحت قائل ؤ خو بیا وروسته ئی د دینه رجوع وکړه ، لکه د جابر بن زید په روایت کی چه عبد الله بن عباسؓ د خپل قول نه په بیع صرف کی او په متعه کی رجوع وکړه ۔

په هدایه کی راغلی چه (و قال مالکؒ هو جائز الخ) چه امام مالکؒ د نکاح متعی قائل دی خو لیکن دا خبره غلطه ده څکه چه د ده په کتابونو کی د حرمت بیان دی (و قال الکاکی : هذا سهوٌ فان المذکور فی او علامه کاکیؒ ویلی ذکرچی داسهوه ده څکه چی ذکر شوی په کتابونو ده امام مالکؒ کښی حرام والی

د منعی کتب مالک حرمة نکاح المتعة الخ) دارنګی د بعضی علماؤ نه لکه ابن عبد البر او ابن قدامة الحنبلی او امام نووی ؒ دوی د امام زفر د دی نقل کوی چه نکاح متعی صحیح ده او د تایید لپاره ـ

و قال السروجی : نقلهم غلط و انما قال زفر فی نکاح الموقت کما ذکرته عن اصحابنا ، لکه صاحب هدایه دا خبره ذکر کړی چه نکاح موقت باطله ده مثلا یو سړی د یو ښځی سره تزویج وکړی په شهادت د دوو ګواهانو تر لسو ورځو پوری مثلا او بیا صاحب هدایه دا خبره ذکر کړی چه و قال زفر : هو صحیح لازم ـ یعنی امام زفر فرمائی چه نکاح موقت صحیح ده خو لیکن توقیت پکی باطل دی موده لرې وی او که ډیره وی ځکه چه نکاح په شرط فاسده سره نه باطلیږی ـ

بیا د دینه هم جواب کولی شی چه عبرت معانی ؤ ته دی او په دی کی معنی د متعی پرته ده هذا بعض ما التقطته من البنایه شرح الهدایه ـ

باب الولی والکفؤ

نفذ نکاح حرة مکلفة و لو من غیر کفؤ بلا ولي وله الاعتراض هذا ، ای للولی الاعتراض فی غیر الکفؤ روی الحسن عن ابی حنیفةؒ عدم جوازه ـ ای عدم جواز النکاح من غیر کفؤ و علیه فتوی قاضیخان اعلم ان الحرة العاقلة البالغة اذا زوجت نفسها فعند ابي حنیفةؒ و ابی یوسفؒ ینعقد و فی روایة عن ابی یوسف لا ینعقد الا بولی و عند محمدؒ ینعقد موقوفا علی اجازة الولی و عند مالکؒ والشافعیؒ لا ینعقد بعبارة النساء و اما مسئلة الکفؤ ففی ظاهر الروایة النکاح من غیر کفؤ ینعقد لکن للولی الاعتراض ان شاء فسخ و ان شاء اجاز و فی روایة الحسن عن ابی حنیفةؒ لا ینعقد .

ترجمه : باب الولی والکفؤ ـ باب دی په بیان د ولی او سیال کی ـ قوله نفذ : جاری کیږی (صحیح کیږی) نکاح د اصیلی ښځی چه مکلفه وی اګر که د غیر سیال سره وی بغیر د ولی نه او شته ولی لره اعتراض د (فسخ کولو دنکاح) او دا اعتراض ولی ته شته په غیر کفؤ کی ، او روایت کړی حسن بن زیادؒ د ابی حنیفةؒ نه د نه جائز کیدو د دی یعنی جائز نده نکاح د غیر کفؤ سره او په همدی باندی فتوای د قاضیخان ده پوهه شه چه حره ښځه چه عاقله وی او بالغه وی ځان په نکاح ورکړی (داجازت د ولی نه) نو د امام ابو حنیفةؒ او ابو یوسفؒ په نزد منعقد کیږی او د ابو یوسفؒ په یو روایت کی راغلی دی چه دا نه منعقد کیږی مګر په ولی سره ، او د امام محمدؒ په نزد باندی منعقد کیږی خو دولی داجازی پوری به موقوفه وی او د امام مالک او شافعیؒ په نزد نه منعقد کیږی په عبارت (قول) د ښځوسره ـ هر چه مسئله د کفؤ ده نو په ظاهر الروایت کی راغلی چه نکاح د غیر کفؤ سره منعقد کیږی لکن ولی لره اعتراض شته نو که خوښه ئی وی نکاح دی فسخ کړی ، او که خوښه ئی وی نو اجازه دی وکړی او د حسن بن زیادؒ په یو

روایت کی د ابو حنیفهؒ نه راغلی چه دا نه منعقد کیږی ۔

تشریح او توضیح : الولیّ : په لغت کی دوست ته وائی په دی مقام کی ولی هغه چاته وائی چه د ده خبره جاری کیږی په غیر باندی که د غیر خوښه وی او که نه وی کما قال العینی والاولیاء جمع ولی وهو المالک یقال ولی الیتیم والکفیل ای مالک امرهما ۔ خو په ولی کی دا شرط دی چه دی به عاقل وی بالغ به وی ۔

بیا ولایت په دوه قسمه دی (۱) ولایت ندب دا ولایت په مکلفی وی (۲) ولایت اجبار دا ولایت یا په صغیری وی یا په لیونئ وی یا په وینزی وی ۔

خو ولایت اجبار په څلور خبرو ثابتیږی (۱) ملک سره (۲) قرابت سره (۳) په ولاء سره (میراث سره) (۴) امامت سره چه دا څلور وی نو ولایت اجبار کولی شی ۔

قوله والکفؤ : هغه مثل ته وائی چه هغه برابر وی او دا د مکافات نه دی په معنی د مساوات سره او مراد پدی ځای کی هغه مساوات دی چه خاص دی او شریعت معتبر کړی دی۔

قوله نفذ : نفاذ په معنی د جاری کیدو سره راځی خو مراد تری صحت دی ۔ **قوله مکلفة**: مراد د دینه هغه دی چه بالغه وی او عاقله وی کما فسره الشارح تحت اسطر . **قوله ففی ظاهر الروایة** : دا د امام محمدؒ کتابونه دی چه شپږ دی (٦) دی : او ددی نه تعبیر په اصولو سره کولی شیَ

(۱) مبسوط (۲) زیادات (۳) جامع الصغیر (۴) جامع الکبیر (۵) سیر صغیر (٦) سیر کبیر او نادر الروایات څلور کتابونه دی (۱) هارونیات (۲) جورجانیات ۔(۳) کیسانیات (۴)رقیات کذا فی الطحطاوی ص۱۵ ۔

فتح الباب فی الکفؤ والولی بمفتاح الناصر والولی الوهاب

مخکی د نکاح د حِلت او حرمت خبره وه اوس د نکاح سره متعلقه د ولی بیان دی ځکه چه نکاح اکثر بغیر د ولی نه نوی نو ماتنؒ ذکر د ولی او کفؤ وکړ فقال و نفذ ۔ یعنی کومه ښځه چه اصیله وی بالغه وی او عاقله وی بغیر د ولی د رضاء نه یا د اجازت نه په غیر کفؤ کی نکاح وکړه نو دا صحیح ده یعنی پدی باندی بیا احکام مرتب کیږی خو لیکن ولی لره حق د اعتراض شته چه دا نکاح فسخه کړی او بی کاره خو دا فسخه به قاضی په مرافعه (لویه محکمه) کی کوی همدارنگی که یوی جنئ ځان په نکاح ورکړ خو کم د مهر مثل نه نو بیا هم ولی لره حق د اعتراض شته خو لیکن دا اعتراض د ولی په غیر کفؤ کی صحیح کیږی نه په کفؤ کی ۔

او د حسن بن زیادؒ په یو روایت کی د ابو حنیفهؒ نه راغلی چه د غیر کفؤ سره نکاح نه ده جائز چه د هغی ولی وی او هغه پری راضی نوی نو که ولی ئی نه وی نو بیا نکاح د غیر کفؤ سره صحیح کیږی ۔ ناکت لاندی لیکلی چه یوه مطلقه په طلاقو ثلاثوو سره په غیر کفؤ کی چالره ځان په نکاح ورکړی او دخول ئی ورسره وکړ نو د اول لپاره نه حلالیږی ، ځکه چه شرط د تحلیل لپاره نکاح صحیحه ده نه نکاح

فاسده او دا نکاح فاسده ده نو فلا یصح ۔ نکاح زوج الاول

وجه د دی روایت د حسن بن زیادؒ دفع د ضرر ده د اولیاؤ نه ځکه چه اولیاؤ په غیر کفؤ کی ناخوښ وی او بل د فساد د زمانی نه چه بیا هره ښځه به په غیر کفؤ کی چه چیرته ئی خوښه وی نکاح کوی لکه د نن موجوده زمانی په حالاتو کی چه د انګریز د قانون د وجی نه چه د جنئ چیرته خوښه وی هلته واده کوی بیائی نسب ګډ وډ شی تر دی چه بیا د خپل مور او پلار او نورو اقرباؤ لحاظ نه کوی نو نتیجه ئی خرابه شی والله اعلم ۔

قوله اعلم : غرض د شارح پدی عبارت سره وضاحت د بره متن دی چه یوه ښځه حره بالغه او عاقله وی او خپل ځان چالره بغیر د رضاء او اذن د ولی نه په نکاح ورکړی نو د شیخینو په نزد دا نکاح منعقد کیږی او په یو روایت د ابویوسف کی راځی چه بغیر د ولی نه نه منعقد کیږی او د امام شافعیؒ او د امام مالکؒ په نزد په عبارت په (قول) د ښځو بلکل نه منعقد کیږی فرق په ما بین د قول د ابویوسفؒ او امام شافعیؒ او امام مالکؒ کی دادی۔

چه د امام ابو یوسفؒ په نزد د ښځو نکاح اګر که په عبارت د ښځو سره او په غیر کفؤ کی وی خو چه رضاء او اجازه د ولی ورسره وی نو صحی ده ، او که نه وی نو صحیح نه ده او د امام شافعیؒ او امام مالکؒ په نزد د ښځو نکاح په عبارت د ښځو سره چه ښځه وکیله وی او که اصیله وی نه صحیح کیږی ترخو چه ولی د دی په عبارت دی لره په نکاح ورکړی او که دی ښځی خپله ځان په نکاح ورکړی نو که ولی اجازه وی او که نه وی نو دا نکاح صحیح نه ده ۔

اوس د جانبینو لپاره دلائل شته خو پدی مقام کی نه ځائیږی څه نا څه حاشیی هم ذکر کړی او نور تفصیل په بنایه کی اوګوره ، او د امام محمدؒ په نزد نکاح په کفؤ کی وی او که غیر کفؤ کی وی د ولی د اجازی پوری موقوف دی که اجازه ئی وکړه نو صحیح ده و الا فلا یصل ۔

و لا یجبر ولی بالغة ولو بکرا ، اعلم ان ولایة الاجبار ثابتة علی الصغیرة دون البالغة عندنا و عند الشافعیؒ ثابتة علی البکر دون الثیب فالبکر الصغیرة تجبر اتفاقا لا الثیب البالغة اتفاقا و البکر البالغة لا تجبر عندنا و تجبر عنده و الثیب الصغیرة تجبر عندنا لا عنده ثم عندنا کل ولی فله ولایة الاجبار و عند الشافعیؒ الولی المجبر لیس الا الاب و الجد

ترجمه : ولی به زور نه کوی په بالغی باندی اګر که باکره وی ، پوه شه چه ولایت د اجبار ثابت دی په صغیره باندی نه په بالغه باندی زمونږ په نزد او د امام شافعیؒ په نزد باندی ولایت د اجبار ثابت دی په باکری باندی نه په ثیبی باندی نو په باکره صغیره باندی به اتفاقا اجبار کولی شی او په ثیبه بالغه باندی به اتفاقا اجبار نشی کولی ، باکره بالغه باندی به زمونږ په نزد اجبار نشی کولی او د امام شافعیؒ په نزد به کولی ، او په ثیبه صغیره باندی به زمونږ په نزد اجبار کولی شی نه د امام شافعیؒ په نزد بیا زمونږ په نزد

هر ولی چه وی نو هغه لره ولایت د اجبار شته او د امام شافعیؒ په نزد ولی مجبر به نوی مگر پلار یا نیکه ۔

بیان ولاية الاجبار بفضل من الله الجبار

غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره تائید د خپل مذهب دی چه ولی به اجبار نشی کولی په بالغه جینئ باندی ولو که باکره وی نو زمونږ لپاره شرط د اجبار صغر دی او د امام شافعیؒ په نزد بکر دی نو زمونږ په نزد ولایت د اجبار ثابت دی په صغیره باندی نه په بالغه باندی ۔

او د امام شافعیؒ په نزد ولایت د اجبار ثابت دی په باکره باندی نه په ثیبه باندی نو پدی کی ټول څلور اقسام برابریږی :

(۱) باکره صغیره پدی باندی اتفاقا اجبار کولی شی ځکه چه زمونږ په نزد شرط صغر دی او د امام شافعیؒ په نزد بکر دی نو دواړه شرطونه پکی موجود دی (۲) ثیبه بالغه باندی اتفاقا اجبار نشی کولی ځکه چه شروط د اجبار پکی موجود نه دی (۳) باکره بالغه پدی باندی زمونږ په نزد اجبار نشی کولی ځکه چه شرط د اجبار چه صغر دی پکی موجود ندی او د امام شافعیؒ په نزد کولی شی ځکه چه شرط د اجبار چه بکر دی پکی موجود دی (۴) ثیبه صغیره پدی باندی زمونږ په نزد اجبار کولی شی ځکه چه صغر پکی موجود دی او د امام شافعیؒ په نزد نشی کولی ځکه چه شرط د اجبار چه بکر دی پکی موجود ندی ۔

بله خبره دا ده چه ایا ولایت د اجبار چا لره دی ؟ نو زمونږ په نزد هر ولی لره حق د ولایت د اجبار شته او ولی به په ترتیب عصباتو سره وی لکه څرنګه چه په میراث کی دی ، او د امام شافعیؒ په نزد پلار او نیکه نه ماسوا بل چالره حق د ولایت نشته ، او د امام مالکؒ په نزد د پلار نه ماسوا بل چالره حق د ولایت نشته د پلار په وجود کی نیکه هم ولایت نشی کولی ۔ و الدلائل لکل منهم موجود فی البناية فطالعها تفيدلك فائدة تامة ۔

> و صَمْتُها و ضحكها و بكاؤها بلا صوت اذنٌ و معه ردٌ حين استئذانه او بعد بلوغ الخبر اليها بشرط تسمية الزوج لا المهر فيهما هو الصحيح ، الضمير في صمتها راجع الى البكر البالغة فاذا استأذنها الولي فسكتت او ضحكت كان رضاء و اذا بلغ اليها خبر نكاحها فسكتت فهو رضا لكن تشترط تسمية الزوج حتى لو لم يذكر الزوج فسكوتها لا يكون رضاء و لا يشترط ذكر المهر

ترجمه : چپ والی د دی او خندا د دی او ژړا د دی چه بی له اوازه وی دا اجازت دی او سره د اواز نه دارد دی په وخت د اجازی غوښتلو کی او یا پس له رسیدو د خبر نه دیته خو په شرط د تسمیه د زوج (چه فلانی) دی او شرط نه دی ذکر د مهر په دواړو صورتونو کی او دا صحیح ده ۔ او ضمیر په صمتها کی راجع دی باکری بالغی ته کله چه ولی د دینه اجازه وغواړی نو دا چپ شی یا وخاندی نو دا رضاء ده ، او کله چه

ورسيدو دی لره خبر د نکاح د دی نو دا چپ شوه نو دا رضا ده ، لکن شرط پکی تسمیه د زوج ده تردی پوری که د خاوند ذکرئی ورته ونکړو نو سکوت ددی رضاء نه ده اوذکر د مهر پکی شرط ندی ۔

حکم الاستئذان عند السکوت والبیان

غرض د مصنف په دی عبارت سره بیان د مشاوری دی د بالغی جلکی سره کله چه د دینه دنکاح لپاره اجازه و غوښتلی شی او یا دیته د نکاح خبر وروړسیږی نو دا جنی چپ شوه یائی وخندل یائی وژړل خو بی له پورته کولو د اواز نه او خاوند هم ورته وښودلی شو چه فلانی دی نو دا علامی د ښځی له طرفه د اذن یعنی د اجازی ورکولو دی او که وئی ژړل خو په زوره اواز سره نو دا اذن نه دی بلکه دا رد دی او ذکر د خاوند به ورته هم کولی شی داستئذان په صورت کی او د خبر رسیدو په وخت کی تسمیه د خاوند ضروری ده نو که ذکر د خاوند ئی ورته ونه کړو او ښځه چپ شوه نو دا رضا نه ده بلکه دا رد دی او د مهر ذکر د استئذان په صورت کی او یا د خبر رسیدو په صورت کی ضروری نه دی خو دا په هغه صورت کی چه ولی د دی پلار یا نیکه وی او که ولی د دی بل څوک نو بیا تسمیه د مهر ضروری ده ۔

و لو استاذنها غیر ولی اقرب فرضاؤها بالقول کالثیب ای ولو استاذنها الاجنبی او ولی بعید فالرضاء لا یکون الا بالقول کما فی الثیب ۔

ترجمه : او که اجازه وغوښته د دی ښځی نه غیر د نژدی ولی نه (اجنبی) نو رضا د دی به په وینا سره وی لکه ثیبه یعنی که د دینه اجنبی سړی اجازه وغوښته او یا ولی بعید نو رضا به نه وی مگر په وینا سره لکه په ثیبه کی ۔

تشریح ا وتوضیح : یعنی که د یوی بالغی جینۍ نه یو اجنبی سړی اجازه وغوښته یا ولی بعید لکه ورور و غیره اجازه وغوښته نو پدی صورت کی به چپ والی رضاء نه وی ځکه چه چپ والی کله د دی وجی نه وی چه د هغه خبروته څه التفات نه ورکوی نو لهذا رضا د دی به بالقول ضروری وی لکه څرنگه چه د ثیبی رضا بالقول ضروری ده ۔

والزائل بکاتها بوثبة او حیض او جراحة او تعنیس او زنا بکرٌ حکما ای لها حکم البکر فی ان سکوتها رضاء و قولها رددت اولی من قوله سکت ای اذا قال الزوج للبکر البالغة بلغکِ خبر النکاح فسکتِ و قالت لا بل رددتُ فالقول قولها و تقبل بیّنته علی سکوتها و لا تحلف هی ان لم یُقِم الْبَیِّنَة و هذا عند ابی حنیفة بناء علی انه لا یحلف فی النکاح

ترجمه : هغه جینۍ چه لری شوی وی بکارت پرده د دی په توپ سره یا په حیض سره یا په زخم سره یا په وخت تیریدو سره (یعنی زیات عمرئی په کور کښی تیر کړی بغیر د زوج نه) یا په زنا سره نو دا حکما باکره ده یعنی دی لره شرعا حکم د باکری دی پدیکی چه سکوت د دی به هم رضا وی ، او دا قول د

دی جینئ چه ما رد کړی (نکاح) بهتر دی د دی قول د سړی نه چه ته چپ شوی وی یعنی کله چه خاوند ووائی باکری بالغی ته چه تاته رسیدلی ؤ خبر دنکاح نو ته چپ شوی وی او ښځی وویل چه نه بلکه ما رد کړی ؤ نو وینا د ښځی به معتبره وی او قبلولی به شی عندالقاضی، ګواهان د سړی په سکوت د ښځی باندی او ښځی ته به قسم نشی ورکولی که سړی ګواهان قائم نه کړل دا په نزد د امام ابو حنیفهؒ بناء پدی خبره چه په نکاح کی قسم نشی ورکولی ۔

وضاحت : بکارتها ۔ دا یوه نری باریکه د غوښی پرده ده د فرج خارج او داخل تر منځ چه د وطی په وخت بیا لری کیږی یا د یو بل علت د وجی نه ۔

بوثبة : په توپ سره د اوچت ځای نه ښکته ځای ته یا د ښکته ځای نه اوچت ځای ته ۔

حیض : دا یو مرض دی چه په بالغی ښځی راځی کله د کثرت د وجی نه یا د شدت د وجی نه دغه پرده لری کوی ۔

جراحة : زخم ته وائی خو دلته هغه زخم تری مراد دی چه په فرج کی وی او پرده پری لری شی ۔

تعنیس : دیته وائی چه یوه ښځه ډیر وخت د پلار په کور کی ناسته وی یعنی سرئی د پلار په کور کی سپین کړی وی نو کله چه په یوه ښځه ډیر وخت تیر شی نو بیا اکثر دغه پرده زائله کیږی ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د باکری حکمی دی یعنی که کومه ښځه چه د هغی د بکارت پرده د توپ د وجی نه یا د کثرت حیض د وجی نه یا په اندام مخصوصه د زخم د وجی نه یا د ډیر وقت په تیریدو سره زائله شوی وی دا حکما باکره ده یعنی احکام د باکری به پری جاری کیږی، چه سکوت د دی رضا ده، ځکه چه باکره جینئ د سړو سره د نه مصاحبت د وجی شرم او حیاء کوی چه په خوله بیان وکړی اګر که د دی د بکارت پرده په دغه شان زائله شوی وی ۔

دارنګی د کومی ښځی د بکارت پرده چه په یو ځل زنا سره زائله شوی وی نو هغی لره هم حکم د باکری دی ځکه چه هغه د دی فعل په اظهار سره متهمه کیږی ځکه چه خلک پدی د باکری ګمان کوی نو د دغی وجی نه په خولی سره بیان نه کوی نو د دی سکوت به هم رضا شمارلی شی، خو دا په هغه وقت کی چه دغه ښځی زنا مکرره نه وی کړی او نه په کی مشهوره وی ځکه که چیری په زنا کی مشهوره وی نو دا بیا حکما باکره نه ده ځکه چه دیکی حیاء پاتی نه وی نو لهذا دا قولا بیان هم کولی شی ۔

وقولُهَا رددتُ : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره مسائل د دعوی ذکر کوی چه د متزوجینو تر منځ نزاع واقع شی او دا ښځه عاقله بالغه وی، او خاوند ورته ووائی چه کوم وخت د نکاح خبر تاته ورسیده نو ته چپ شوی نو زما او ستا نکاح تمامه شوه او ښځه ورته ووائی چه نه ما دغه نکاح رد کړی وه نو اعتبار به دښځی قول ته وی خو دا په هغه صورت کی چه سړی د ښځی سره دخول نوی کړی نو که دخول ئی

کړي ؤ نو بیا د نکاح په رد کې د ښځې تصدیق نشي کولی نو په وخت د عدم دخول کې که خاوند ګواهان د دې په سکوت قائم کړي نو ګواهان به قبلولی شي او که ګواهان ئې قائم نه کړل نو بیا به ښځې ته قسم نشي ورکولی یعني خاوند مدعی دی او ښځه منکره ده او په مدعی ګواهان دي نو که مدعی ګواهان قائم نه کړي نو منکر ته به قسم ورکولی شي خو پدې صورت کې ښځې ته قسم نشي ورکولی ځکه چه په نکاح کې قسم نشي ورکولی۔

دا مذهب د امام ابو حنیفهؒ دی په شپږ شیانو کې قسم نشي ورکولی (۱) النکاح (۲) الرجعت (٣) الفئ (۴) الایلاء (۵) الاستیلاد (٦) الرق والولاء۔(بنایه ج۵ ص۹۸) خو لیکن د صاحبینو په نزد قسم ورکولی شي والفتوی علی قولهما کما قاله المحشی مختصرا۔

وللولی انکاح الصغیر والصغیرة ولو ثیبا هذا احتراز عن قول الشافعیؒ کما مر ثم ان زوّجهما الاب او الجد لزم و فی غیرهما فسخ الصغیر ان حین بلغا او علما بالنکاح بعده ای ان کانا عالمَین بالنکاح فلهما الفسخ عند البلوغ فان لم یکونا عالمین فلهما الفسخ حین علما بعد البلوغ و فیه خلاف الشافعی فان تزویج غیر الاب والجد قبل البلوغ لا یصح عنده لما ذکرنا ان الولی المجبر عنده لیس الا الاب والجد و سکوت البکر رضاء هنا ای عند البلوغ والعلم بالنکاح بعد البلوغ .

ترجمه : او شته ولي لره په نکاح ورکول د ماشوم هلک او جینئ اګر که هر یو ثیبه وي دا احتراز دی د قول د امام شافعیؒ نه لکه څرنګه چه مخکې تیر شوی بیا که په نکاح ورکړه دی دواړو لره پلار یا نیکه نو لازمه شوه دا نکاح ، او په غیر د پلار او نیکه نه فسخ کولی شي دا صغیران نکاح خپله کله چه دا دواړه بالغ شو او یا پوه شو په نکاح باندې وروسته د بلوغ نه یعني که ؤ دا دواړه پوه په نکاح باندې (قبل البلوغ یا عند البلوغ) نو شته دې دواړو لره فسخه دنکاح په وخت د بلوغ کې او که دوی پوه نه ؤ نو شته دې دواړو لره حق د فسخ کولو کوم وخت چه پوه شو وروسته د بلوغ نه او پدیکې (فی صورة تزویج غیر الاب والجد) د امام شافعیؒ خلاف دی ځکه تزویج بغیر دپلار او نیکه نه قبل البلوغ د ده په نزد نه صحیح کیږي د هغې وجې نه چه مونږ ذکر کړي چه ولي مُجبر د امام شافعیؒ په نزد ندی مګر پلار او نیکه ، او سکوت د باکرې په دې مسئله کې رضا ده یعني په وخت د بلوغ کې یا په وخت د علم کې په نکاح باندې بعد البلوغ۔

بیان انکاح الصغیرة والصغیر بعون الخبیر والبصیر

غرض د مصنف په دې عبارت سره بیان د حکم د انکاح د صغیر او صغیرې دی نو ولي چه عصبه وي په ترتیب د میراث سره کما مر ذکره ده لره حق د دې شته چه ماشوم هلک په نکاح ورکړي یعني ده ته په ماشوم والي کې نکاح وکړي یا ماشومه جینئ په نکاح ورکړي او دا ولایت اجبار دی یعني جبرا

ولی کولی شی چه دوی په نکاح ورکړی اگر که دغه دواړه ثیبه وی پدی ثیبه لفظ سره د امام شافعیؒ د قول څخه احتراز راغی څکه د امام شافعیؒ په نزد موجب د ولایت جبریه بکارت دی اگر که سره د بلوغه وی او زمونږ په نزد باندی موجب د ولایت جبریه صغر دی اگر که سره د ثیبت نه وی۔

نو که پلار یا نیکه یا هر هغه سړی چه هغه لره ولایت اجبار ثابت وی دا صغیران په نکاح ورکړی لازمه شوه مطلقا یعنی فسخه کولی نشی اگر چه په غیر کفؤ کی وی یا په کم مهر سره وی څکه شفقت د پلار او نیکه زیات دی نو خامخا د دوی به پکی څه مصلحت وی او په غیر د پلار او نیکه نه که بل چا د دوی نکاح کړی وه لکه وروړ مور قاضی تره و غیرهم اگر که په کفؤ کی وه او په مهر مثل سره وی نو دا ماشومان چه کله بالغ شو او دوئی ته معلومات د دی نکاح قبل البلوغ شوی وی او که بعد البلوغ شوی وی نو دوی لره حق د فسخ کولو د نکاح شته او د پلار او نیکه نه ماسوا خلکو لره نکاح په غیر کفؤ کی یا په غبن فاحش سره بلکل نه صحیح کیږی نه لازما او نه موقوفا۔

او د امام شافعیؒ په نزد د غیر الاب والجد تزویج بلکل نه صحیح کیږی څکه د هغه په نزد ولایت اجبار صرف پلار او نیکه ته شته او نورو ته نشته او امام ابویوسفؒ فرمائی: چه د غیر الاب والجد نکاح به هم لازمه وی او خیار بلوغ به ورته نه وی، او د غیر الاب والجد په صورت کی که جینئ د مخکی نه خبره وه او د بلوغ په وخت کی چپ پاتی شوه نو دا چپ والی د دی په رضا دلالت کوی نو د دی خیار باطل شو۔

و لا یمتد خیارها الی آخر المجلس و ان جهلت به ای بالخیار فان البکر اذا سکتت بعد البلوغ او العلم بناء علی انها لم تعلم ان لها الخیار یبطل خیارها فان سکوتها رضاء ولا تُعذر بالجهل والجهل لیس بعذر فی حقها بخلاف المعتقة ای اذا اعتقت الامة و لها زوج ثبت لها الخیار فان لم تعلم ان لها الخیار فجهلها عذر لانها لا تتفرغ للتعلم بخلاف الحرائر فان طلب العلم فریضة علی کلم مسلم ومسلمة و بالتقصیر لا تعذر فان قیل کلامنا فی البکر حال بلوغها و هی قبل البلوغ غیر مکلفة بالشرائع ؟ قلنا اذا راهق الصبی والصبیة فاما ان یجب علیها تعلم الایمان و احکامه او یجب علی ولیهما التعلیم و لا ینبغی ان یترکا سدی قال النبی ﷺ مُرُوا صبیانکم بالصلاة اذا بلغوا سبعا واضربوهم اذا بلغوا عشرا .

ترجمه : او نه اوږدیږی خیار د باکری بنځی تر آخر د مجلس پوری اگر که ناخبره وی پدی خیار باندی څکه باکره کله چه چپ شی پس د بلوغ نه او یا پس د علم نه (په نکاح باندی) او چپ والی په دی بناء ؤ چه دا بنځه پوه نه وه چه دی لره به خیار وی نو خیار د دی باطل شو څکه سکوت د دی رضا دی او معذوره به نشی گنړلی په جهالت سره په ناخبرئ سره، او جهل عذر نه دی په حق د دی کی په خلاف د معتقی سره۔

یعنی کله چه وینزه ازاده کړی شی او دی لره خاوند ؤ نو دی لره خیار ثابت دی نو که دا خبره نه وه چه دی لره خیار شته نو ناخبری د دی یو عذر دی ، ځکه چه وینزه نه فارغیږی د تعلم لپاره (د بادار د خدمتونو نه) په خلاف د اصیلو ښځو ځکه چه طلب د علم فرض دی په هر مسلمان سړی باندی او په هره مسلمانه ښځه باندی او په تقصیر سره په طلب د علم کی معذوره نشی ګڼړلی ، نو که څوک سوال وکړی چه زمونږ خبره په باکره کی وه خو په حالت د بلوغ کی نه بعد البلوغ او دا قبل البلوغ مکلفه په شرائعو نه وی نو باید چه دا هم معذوره وګڼړلی شی نو مونږ جواب کی دا وایو چه کله بلوغ ته نزدی شی هلک او جینئ نو یا واجب دی پدی دواړو تعلیم او د ایمان او د احکامو د دی او یا واجب دی په ولی د دی دواړو تعلیم ورکول او مناسبه نه ده چه دا دی مهمل پریښودلی شی نبی ﷺ فرمائی چه تاسی امر وکړئ ماشومانو ته په مانځه سره کله چه اوه (۷) کلو ته ورسیږی او ووهئ دوی لره کله چه ورسیږی لسو (۱۰) کلو ته .

توفیق البیان فی الخیار من الله العلیم الجبار

غرض : مصنف پدی عبارت سره بیان د وقت د خیار دی چه باکری لره په مجلس کی څومره وقته پوری اختیار دی نو مراد د مجلس نه مجلس د بلوغ د دی دی چه دا حایضه شی پدغه مجلس کی او دیته د نکاح خبر رسیدلی وی او یا مراد د مجلس نه مجلس د رسیدو د خبر د نکاح دی خو چه دا باکره بالغه وی نو که چیرته باکره بالغه شوه او یا بالغه وه خو خبر د نکاح ورته ورسیده او چپ شوه نو د دی دا خیار به تر آخرد مجلس پوری ممتد (باقی) نه وی بلکه خیار به ئی باطل وی اګر که دیته معلومات نه ؤ چه دی لره خیار شته یا امتداد خیار شته نو بیا هم ددی خیار باطل شو ځکه سکوت د دی رضا ده .

سوال : چه کله دیته معلومات د خیار او د امتداد خیار نه ؤ نو بیا ولی خیار باطلیږی باید چه دا معذوره وګڼړل شی ؟نو شارح د دی

په جواب کی اوویل چه ولا تعذر بالجهل الخ چه دا په جهل او ناپوهئ سره معذوره نشی ګڼلی ځکه چه جهل د دی په حق کی عذر نه دی ځکه چه طلب د علم په هر نر سړی مسلمان او ښځه مسلمانه باندی فرض دی بقدر ضرورت نو چه دی په طلب د علم کی تقصیر او کوتاه والی وکړ نو دا د دی جرم دی نو معذوره به نشی ګڼړلی په خلاف د معتقی یعنی هغه وینزه چه بادارئی ازاده کړی وی او د دی وینزی خاوند ؤ نو دی لره خیار ثابت دی نو که دیته دا پته نه وه چه دی لره خیار شته نو دا جهل د دی به عذر ګڼړلی شی اګرچه په دی هم علم د عموم حدیث د وجی نه فرض دی خو بیا هم دا په تقصیر سره معذوره ګڼړلی شی ځکه چه وینزه د بادار د خدمت د وجی نه د تعلیم لپاره نشی فارغ کیدی نو معذوره به ګڼړلی شی خو د خیار بلوغ او د وینزی په خیار کی په شپږو امورو کی فرق دی :

(۱) خیار عتق صرف وینزی لره شته او غلام لره نشته او خیار بلوغ دواړو لره شته یعنی نر سړی او

ښځی لره (۲) خیار عتق په سکوت سره نه باطلیږی او خیار بلوغ باطلیږی (۳) په خیار عتق کی قضاء د قاضی شرط نه ده او په خیار بلوغ کی شرط ده (۴) خیار عتق د مجلس تر آخر پوری ممتد دی نه خیار بلوغ (۵) په خیار عتق کی جهل عذر دی نه په خیار بلوغ کی (٦) خیار عتق باطلیږی په هغه څه سره چه دلالت په اعراض کوی نه خیار بلوغ.

فان قیل : که څوک ووائی چه زمونږ خبره په باکره کی وه خو په حالت د بلوغ د دی کی او دا باکره قبل البلوغ خو غیر مکلفه ده په شرائعو او کله چه غیر مکلفه شی نو باید چه معذوره وګڼلی شی ؟

قلنا : نو مونږ په جواب کی وایو چه کله هلک یا جینۍ بلوغ ته نزدی شی نو یا پدی دوارو تعلیم د ایمان او احکام دایمان د دی واجب دی او یا په ولی د دی باندی چه دوی ته تعلیم ورکړی او باید چه دوی مهمل یعنی عبث پری نښودی شی څکه نبی ﷺ نه روایت دی چه تاسی ماشومانو ته امر په مانځه سره کوی چه دوی اوه (۷) کلو ته ورسیږی او د مانځه په اداء کولوئی بیا وهی. کله چه لسو (۱۰) کلو عمر ته ورسیږی خو د مخ د وهلو نه به څان ساتیٔ.

و خیار الغلام والثیب لا یبطل بلا رضاء صریح او دلالته ، الصریح ان یقول رضیت والدلالة ان یفعل ما یدل علی الرضاء کالقبلة واللمس و اعطاء الغلام المهر و قبول الثیب المهر.

ترجمه : او خیار د غلام او ثیبی نه باطلیږی بغیر د رضاء صریح نه یا د دلالت نه په رضاء. صریح داده چه ووائی چه زه راضی یم پدی نکاح باندی او دلالت دا ده چه هغه کار وکړی چه هغه دلالت کوی په رضا باندی لکه مچو بنګلول لاس وروړل د غلام مهر ورکول د ثیبی مهر قبلول.

ذکر خیار الثیب والغلام بعون ذی الجلال والاکرام

غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د خیار د غلام او د ثیبی دی لکه څرنګه چه مخکی بیان د باکری بالغی ؤ نو د غلام نه مراد ورکوټی ماشوم دی مراد دی او د ثیبی نه مراد دا ده چه هغه په اصل کی ثیبه وی یعنی د مخکی نه او یا اوس باکره وه خو خاوند ئی قبل البلوغ وطی کړه او بیا بالغه شوه نو خیار د ماشوم او د ثیبی په مطلق سکوت سره نه باطلیږی لکه رضا صریح یا دلالت په رضا صریح باندی به وی لکه څرنګه چه په وخت د ابتداء د نکاح کی کله چه د ماشوم نه او د ثیبی نه طلب د اجازی وشی نو سکوت د دوی به رضا نوی بلکه رضا قولی به وی یا داسی فعل چه دلالت کوی په رضا باندی نو دارنګی په خیار بلوغ کی هم سکوت د دوی رضا نه ده.

لکه قولا داسی ووائی چه زه راضی یم پدی نکاح باندی یا داسی یو فعل وکړی چه هغه دلالت په رضا کوی لکه مچه اخستل (بنګلول) خاص اندامو ته لاس وروړل یا وطی ورسره کول او د دغه هلک مهر ورکول دغی جینۍ ته او د دغی جینۍ (ثیبی) مهر قبلول دا ټول دلالت په رضا کوی نو دی سره خیار باطلیږی.

و لا بقيامها عن المجلس و شرط القضاء لفسخ من بلغ لا من عتقت فان في الاول الزام الضرر على الزوج بخلاف فسخ المعتقة فانه منع زيادة الملك للزوج عليها فان اعتبار الطلاق عندنا بالنساء فاذا اعتقت صار الملك عليها بثلاث تطليقات بعد ما كان بتطليقتين و يكون الفسخ امتناعا عن هذا فلا يحتاج الى قضاء القاضي .

ترجمه : نه باطليږي خيار د دې دواړو په قيام د دې دواړو سره د مجلس نه او شرط کړې شوی قضاء لپاره د فسخ کولو د هغه چا چه بالغ شي نه لپاره د هغه چا چه (وينزه) چه ازاده شي ځکه چه اول کې لازمول د ضرر دی په خاوند باندې په خلاف د فسخ د معتقې ځکه دا فسخ منع کړو زياتوالي د ملک لپاره د خاوند پدې ښځه باندې ځکه چه اعتبار د طلاقو زمونږ په نزد ښځو پورې دی کله چه وينزه ازاده شي نو وګرزيده د خاوند ملک پدې باندې په درې طلاقو سره وروسته د هغې نه چه په دوو طلاقو سره ؤ او دا فسخ کيږي منع د دې زيادت د ملک نه نو ضرورت قضاء د قاضي ته نشته ـ

توضيح المسئلة في فسخ البالغ والمعتقة

غرض د مصنف دا دی لکه څرنګه چه د خيار د هلک او ثيبې په سکوت سره نه باطليږي نو دارنګې نه باطليږي په قيام د دې دواړو سره د مجلس نه چه هغه مجلس د بالغ کيدو دی يا د نکاح د خبر رسيدو دی خو خيار د معتقې په قيام سره باطليږي ـ

قوله و شرط القضاء : اوس دغه هلک يا ثيبه بالغه شي او فسخ غوره کړي نو د دې فسخ لپاره شرط قضاء د قاضي ده او په تراضي سره نه فسخ کيږي بلکه حکم د قاضي پکې خامخا ضروري دی پخلاف د معتقې سره نو کله چه هغه فسخه غوره کړي نو بيا دا په فسخه د نکاح کې مستقله ده قضاء د قاضي پکې ضرورت نه لري نو فرق په خيار د من بَلَغ کې او د معتقه کې څه دی ؟ هغه دا دی چه په خيار د من بلغ کې فسخه د دفع د ضرر خفي لپاره دی چه هغه په نکاح کې خلل راوستل دی چه هغه قصور د شفقت د مُنکِح دی چه هغه نر سړی وی او که ښځه چه بيا به د دوی تر منځ کامله مينه او شفقت نوی نو دا يو ضرر خفي دی چه څوک پرې خبر ندی نو دا فسخه يو قسم الزام د ضرر شو په حق د خاوند کې ځکه نو لکه څرنګه چه قصور د شفقت په حق د جارئي کې ممکن دی نو دارنګې په حق د غلام کې ځکه د دې مسئلې صورت په هغه وخت کې دی چه کله خاوند کوږ وی او مهر تام وی نو ډير کرته خاوند هغه بدګنړی نو قضاء ته ضرورت راغي نو کله چه دا ضرر خفي شو نو دا الزام په حق د آخر کې راغي ، ځکه دی راضي دی په حکم ثابت باندې نو قضاء ته ضرورت راغي ـ هذا بعض ما اخذت من البنايه ـ

او په خيار د معتقه کې نو دی لره حق د فسخه شته بغير د قضاء د قاضي نه ځکه چه دا فسخه دخاوند زياتي ملک چه پدې ښځه راځي منعه کوی هغه داسي چه زمونږ په نزد اعتبار د طلاقو ښځو ته

دی یعنی که ښځه اصیله وی نو خاوند به دی د دری طلاقو حق لری هغه خاوند اصیل وی او که غلام وی.
او که ښځه وینزه وه نو خاوند پدی د دوو طلاقو حق لری یعنی پدویم طلاق سره مکمل جدا کیږی چه بیا تحلیل ته ضرورت لری نو خاوند د دی اصیل وی او که غلام وی نو اوس چه کله یوه وینزه ازاده شی او د چا په نکاح کی وه نو دغه خاوند پدی باندی مخکی د عتق نه د دوو طلاقو حق لرلو خو چه کله ازاده شوه نو خاوند بیا پدی باندی د دری طلاقو حق لری نو کله چه دا فسخ ، غوره کړی نو دا فسخه د دریم طلاق نه منع راولی نو دا دفع د ضرر د خپل ځان نه کوی چه هغه زیادت د ملک د خاوند دی نو په خاوند باندی څه الزام راتغلی نو چه الزام راتغلی نو قضاء ته هم ضرورت نشته.

و ان مات احدهما قبل التفریق بلغ او لا ورثه الآخر لصحة النکاح بینهما

ترجمه : او که مړ شو یو د دی دواړونه مخکی د تفریق نه بالغ شوی وی او که نوی بالغ شوی نو هغه بل به د ده نه میراث وړی له وجی د صحیح والی د نکاح د دواړو په مینځ کی.

وضاحت : او که په دغه هلک او ثیبه کی که چیرته یو مړ شی نو دغه مړ بالغ وی او که بالغ نه وی خو دا مرګ مخکی د جداوالی نه راشی نو دا ژوندی به د دی مړی نه میراث وړی ځکه دا مخکی نکاح د دوی صحیح وه نو منشا د وراثت به پری مرتب وی او که بعد التفریق یو مړ شی نو بیا میراث وړلی نشی ځکه چه موجب د میراث چه هغه نکاح ده په وخت د مرګ کی فوت شوه.

والولی العصبة المراد العصبة بنفسه ای ذکرٍ یتصل بالمیت بلا توسط انثی اما العصبة بالغیر کالبنت اذا صارت عصبة بالابن فلا ولایة لها علی امها المجنونة و کذا العصبة مع الغیر کالاخت مع البنت لا ولایة لها علی اختها المجنونة علی ترتیب الارث والحُجب ای قدم الجزء و ان سفل ثم الاصل و ان علا ثم جزء الاصل القریب کالاخ ثم بنوه و ان سفلوا ثم جزء الاصل البعید کالعم ثم بنوه و ان سفلوا ثم عم ابیه ثم بنوه و ان سفلوا ثم عم جده ثم بنوه الاقرب فالاقرب ثم الترجیح بقوة القرابة ای قدم الاعیانی علی العلاتی

ترجمه : او ولی حه دی هغه عصبه دی مراد عصبه بنفسه دی یعنی هغه نر چه نسبت ئی مړی ته کیږی او مینځ کی ئی ښځه نوی هر چه عصبه بالغیر دی لکه لور کله چه عصبه وګرځی په ځوی سره نو دی لره ولایت نشته په خپله مجنونه (لیونئ) مور باندی همدارنګی عصبه مع الغیر لکه خور د لور سره نو دی لره (خور لره) ولایت نشته په هغه خور د دی چه مجنونه وی، او دا ولایت به په ترتیب د میراث سره وی او د حُجَب سره یعنی مقدم کولی به شی جزء اګر که ښکته وی بیا به اصل وی اګر که پورته وی بیا به جزء د اصل قریب وی لکه ورور بیا به ځامن د ده (ورور) وی اګر که ښکته وی بیا به جزء د اصل بعید وی لکه تره بیا به ځامن د ده (تره) وی اګر که ښکته وی بیا به د پلار تره وی بیا به ځامن د ده (د پلار تره) وی

اګر که ښکته وی بیابه د نیکه تره د ده وی بیا به د نیکه د تره ځامن وی نو مقدم کولی به شی نژدی بیا به ترجیح وی په قوت د قرابت سره یعنی اعیانی به مقدم کولی شی په علاتی باندی ۔

تعین الولی ببرکة الحی الولی

د ټولو نه مخکی به اول د بعضی الفاظو تشریح وشی او بیا به د متن غرض انشاء الله بیان شی ۔

والولی : دلته مراد دولی نه ولی په باب د نکاح کی دی هغه چه هغه لره ولایت د نکاح د صغارو وی هغه جبری وی او که غیر جبری وی او هر چه ولی دی په تصرف مالی کی نو هغه پلار دی او د هغه وصی دی او نیکه دی او د هغه وصی دی قاضی دی او د هغه نائب دی فقط ۔

العصبة : دا یو قسم دی د یو د دریوو ورثوونه ځکه وارث په دری قسمه دی (۱) ذوی الفروض دیته وائی چه په شریعت کښی ده ته حصه مقرره شته لکه خاوند ښځه مور و غیره (۲) عصبه دیته وائی چه د ذوی الفروضو نه څه پاتی شی او د دوی سره بل څوک نه وی نو ټول مال وړی لکه څوی لمسی و غیره (۳) ذوی الارحام دیته وائی چه نه ذوی الفروض وی او نه عصبه وی لکه خورَیا و غیره دا چه کله د عصبه نه څه پاتی شی نو دوئی وړی ۔

بیا عصبه په دری قسمه دی (۱) عصبه بنفسه دیته وائی هغه نارینه دی چه نسبت ئی مړی ته کیږی خو مینځ کی ښځه نه وی (۲) عصبه بالغیر دیته وائی چه دا یوه ښځه ده چه خاونده د حصی وی دا عصبه ګرځی په نارینه سره لکه لور چه د ذوی الفروضو نه ده دا عصبه ګرځی په ابن (د میت سره) نو چه کله دا عصبه وګرځی نو بیا دی لره په خپله لیونئ مور ولایت نشته چه هغه په نکاح ورکړی (۳) عصبه مع الغیر دا هره هغه ښځه ده چه خاونده د حصی ده دا عصبه ګرځی سره د بلی ښځی لکه خور د لور (د میت سره) سره ځکه خور هم ذوی الفروض نه ده او لور هم خو چه کله دا دواړه سره یو ځای شی نو دا خور عصبه وګرځیده اوس دی خور لره دا ولایت نشته چه خپله لیونئ خور په نکاح ورکړی۔

فرق په مابین د عصبه بالغیر کی او عصبه مع الغیر کی دادی چه عصبه بالغیر کی غیر چه ابن دی عصبه دی نو بنته ئی هم ځان سره عصبه کړه او په مع الغیر کی دواړه ذوی الفروض دی خو په اجتماع د دی دواړو سره خور عصبه وګرځیده ۔

خو دلته مراد عصبه بنفسه دی برابره خبره ده هغه عصوبت مجرده عن الفرضیت وی لکه ابن او که عصوبت مع الفرضیت وی لکه پلار دا د ذوی الفروضو نه دی د ابن سره او عصبه دی د بنت سره ۔

علی ترتیب الارث والحجب : الارث په معنی د وراثت سره دی میراث ته وائی ، والحَجُب په لغت کی منع ته وائی ، او په اصطلاح کی منع د یو شخص معین د میراث نه کلا یا بعضا د وجی د وجود د شخص آخر نه نو که یو وارث منع راوسته د بل وارث نه د میراث د هغه نه کلا نو دا حجب حرمان دی لکه

د څوی څوی چه دا محروم کیږی په څوی سره او ورور په پلار سره ، او که منعه ئی د بعضی نه راوسته نو دیته حُجب نقصان وائی لکه مور چه مستحقه د ثلث ۳/۱ ده خو په وخت د وجود د ابن کی یا د دوو ورونو یا خویندو کی مستحقه د سدس ده ۶/۱ ۔

د ماتن غرض دا دی چه ولی به عصبه وی خو په ترتیب د ارث او حجب سره یعنی اول به جزء د میت مقدم کولی شی یعنی جزء د هغه چا چه ولیه د ده وی مثلا د زید ولی بکر دی او د بکر وارث عمرو دی نو د بکر وروسته به عمرو ولی وی خو د عمرو په وجود کی د عمرو ځامن وارثان نشی کیدی خو د عمرو په نه وجود کی د عمرو ځامن وارثان کیدی شی همدارنګی ښکته سلسله به روانه وی بیا به اصل د (ولی) وی اګر که پورته وی لکه پلار د پلار پلار و غیره ۔

بیا جزء د اصل قریب وی (چه پلار دی) لکه ورور بیا به ځامن د دی ورور وی اګر که ښکته وی بیا به جزء د اصل بعید وی (چه نیکه دی) لکه تره بیا به ځامن د تره وی اګر ښکته وی بیا به د پلار تره وی بیا به ځامن د ده وی اګر که ښکته وی بیا به د نیکه تره وی بیا به ځامن د ده وی نو مقدم کولی به شی اقرب فالاقرب بیا به وروسته د قرب درجی نه ترجیح وی قوت د قرابت ته کوم وخت کی چه درجات برابر وی نو خاوند د قرابتینو به اولی وی د قرابت واحده نه مثلا اعیانی به مقدم وی په علاتی باندی ۔

اعیانی یا عینی دیته وائی چه پلار او مور ئی سره شریک وی او علاتی دیته وائی چه پلارئی سره شریک وی او مورئی جدا وی او اخیافی دیته وائی چه مورئی سره شریکه وی پلارئی جدا وی خو اخیافی ولی ندی ځکه دا د ذوی الفروضو نه دی ۔

بشرط حریة و تکلیف و اسلام فی ولد مسلم دون کافر ثم الام ثم ذو الرحم الاقرب فالاقرب ثم مولی الموالاة ای من لا وارث له و والٰی غیره علی انه ان جنی فارشه علیه و ان مات فمیراثه له ثم قاض فی منشوره ذلك ای کُتِب فی منشوره ان له ولایة التزویج

ترجمه : په شرط د حریت سره او د مکلف کیدو سره او اسلام سره په ولد مسلمان کی نه په کافر کی بیا (ولایت) د مور دی بیا د ذو الرحم نو (مقدم کولی به شی اقرب بیا اقرب بیا مولی د موالات یعنی هغه کس چه هغه لره وارث نه وی او هغه موالات وکړی د غیر سره پدی خبره که دی جنایت وکړی نو تاوان د ده به په هغه وی او که مړ شی نو میراث د ده به د هغه لپاره وی بیا قاضی دی چه د ده په کتاب کی دا وی یعنی د ده په کتاب کی دا لیکل شوی چه ده لره به ولایت د تزویج د صغارو وی ۔

نخبة الوضاحت فی مولی الموالاة

غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د شروطو د ولی دی نو پدی کی اول شرط حریت دی نو ولی به اصیل وی نه غلام دویم شرط پکی تکلیف دی یعنی دی به عاقل بالغ وی چه په شرعی امورو مکلف وی

نه مشوم وی او نه لیونی وی دا ځکه چه د غلام صغیر مجنون په خپل ځان ولایت نشته نو په بل به څرنګه راشی ځکه چه ولایت متعدیه (چه په بل باندی وی) دا فرع دی د ولایت قاصره (په خپل ځان) چه اصل نه وی فرع نشی راتلای ۔

او بل دا چه دا ولایت نظری دی او دی کسانو ته سپارل څه نظر نه دی ، دریم شرط په ولی کی اسلام دی چه دی به مسلمان وی خو دا شرط د اسلام په ولی کی دا په هغه صورت کی دی چه د ولد مسلم په نکاح ورکولو کی وی هر چه ولد کافر دی نو د هغه لپاره په ولی کی شرط د اسلام ضروری ندی که ولی ئی کافر وی نو هم په نکاح ئی ورکولی شی لقوله تعالی (والذین کفروا بعضهم اولیاء بعض۔ الایه) ۔

ثم الام : کله چه عصبات موجود نوی نو بیا ولایت د تزویج مور ته سپارلی شی بیا د پلار ، مور بیا لور بیا د ځوی لور ....الخ ۔ ثم ذوالرحم : بیا د عصباتو او د مور نه وروسته حق د ذوی الارحامو دی لکه د پلار خور ، بیا ماماګان ، بیا د مور خور بیا تره لور ....الخ خو شومره چه اقرب وی هغه نزدی وی د ابعد نه ۔ ثم مولی الموالاة : دیته وائی چه یو سړی مجهول النسب ؤ او وارث ئی نه وو بل سړی ته ئی وویل چه هغه معلوم النسب ؤ ته به ځما مولی ئی که زه مړ شوم نو زما میراث به ته وړی او که ما نه څه جنایت وشو لکه قتل و غیره نو دیت به ته ورکوی نو هغه ورته وویل چه ما قبوله کړه نو دا عقد صحیح شو او قبلونکی وارث وګرځیده او که قبلونکی هم مجهول النسب ؤ او ده هم اول کس ته داسی خبره وکړه نو بیا هر یو د بل نه میراث وړی نو د ذوی الارحامو نه وروسته دغه کس چه موالات ئی د غیر سره کړی ده لره هم حق د ولایت شته ۔ په غیر باندی۔

د مولی الموالات نه وروسته حق د ولایت د بادشاه دی بیا د بادشاه نه ورسته حق د قاضی دی خو داسی قاضی چه د ده په کتاب کی دا لیکل شوی وی چه ده لره حق د ولایت د تزویج شته یعنی د بادشاه له طرفه دا لیکل شوی وی چه ما فلانی سړی قاضی مقرر کړو د فلانکی ښار لپاره نو دا قاضی معتبر دی نه هغه چه دځانه قضاء کوی لکه دنن زمانی قاضیان اومفتیان ، والله الموفق للسداد و علیه التکلان ۔

و الابعد یزوج بغیبة الاقرب ما لم ینتظر الکفؤ الخاطب الخبر منه و علیه الاکثر و مدة السفر عند جمع من المتاخرین . اعلم ان للابعد ولایة التزویج عند غیبة الاقرب غیبة منقطعة و تفسیرها عند الاکثر ما ذُکر و هو قوله ما لم ینتظر ای مدة لم ینتظر الکفؤ الخاطب ثم عطف علی قوله ما لم ینتظر قوله و مدة السفر عند جمع من المتاخرین و علیه الفتوی .

ترجمه : ولی ابعد ئی په نکاح ورکولی شی په غائب والی د ولی اقرب کی هغه (مده) چه انتظار نه کولو هغه کفؤ چه خطبه کونکی دی د خبر راوړلو د ولی اقرب نه او په دی قول باندی اکثره علماء دی او مده د سفر ده په نزد د یو ټولی د متاخرینو نه ۔

پوه شه چه د ابعد لپاره ولایت د تزویج شته په وخت د غائب والی د ولی اقرب کی په غائب والی منقطع سره او د دی تفسیر په نزد د اکثرو علماء هغه ده چه ذکر شوی چه هغه دا قول دی چه مالم ینتظر دی یعنی دومره مده چه انتظار نه کولو هغه هم مثله چه خطبه کونکی دی بیائی عطف کړ پدی قول باندی چه مالم ینتظِرُ دی دا قول چه و مدة السفر عند جمع من المتاخرین او په هم دی قول فتوی ده ۔

ذکر ولایة الابعد عند غیبوبة الاقرب

کله چه ولی اقرب وی نو د ولی ابعد لپاره حق نشته لکه پلار چه وی نو نیکه لره حق نشته که ولی ابعد په نکاح سره یو تن کس ورکړ سره د حضور د ولی اقرب نه نو دا به د ولی اقرب تر اجازی پوری موقوفه وی که اجازه ئی وکړه نو ډیره ښه او که وئی نه کړه نو صحیح نه ده او که ولی اقرب غائب ؤ په غیبوبت منقطعه سره یعنی دومره مده چه خِطبه کونکی چه کفؤ هم وی ده ته یا د ده نه د خبر رارسیدو پوری انتظار نه کوی نو بیا ولی ابعد لره حق د تزویج شته دا قول اکثره مشائخ غوره کړیدی او د متاخرینو په نزد باندی د غیبوبت تفسیر په مودی د سفر سره کوی چه دری ورځی فاصلی لری والی په اندازه کی وی نو که کم وی بیا حق ولی ابعد ته نشته بل دا چه دا نکاح غوښتونکی کفؤ هم وی نو که غیر کفؤ وی نو بیا به ولی اقرب ته خامخا به انتظار کوی ۔

و ولی المجنونة ابنها و لو مع ابیها بناء علی ما ذکر ان الابن مقدم فی العصوبة علی الاب

ترجمه : د مجنونی (لیونئ ښځی) ولی به د دی ځوی وی نه پلار د دی ځکه مخکی ذکر شو چه ولی به عصبه وی او ځوی په عصوبت کی مقدم دی په پلار باندی ځکه چه ځوی عصبه محضه دی او پلار عصبه محضه نه دی کما مر فی بیان العصبة بنفسه و غیره ۔

و تعبیر الکفاءة فی النکاح نسبا فقریش بعضهم کفؤٌ لبعض و العرب بعضهم کفؤ لبعض ای العرب الذین لم یکونوا من قریش بعضهم اکفاء لبعض ، اعلم ان کل من هو من اولاد نضر بن کنانة قریش و اما اولاد من هو فوق النضر فلا و انما خص الکفاءة فی النسب بالعرب لان العجم ضیعوا انسباهم ۔

ترجمه : او معتبر دی مساوات په نکاح کی په اعتبار د نسب سره نو قریش بعضی مساوی دی د بعضو نورو سره او عرب بعضی د دوی نه مساوی دی د بعضی نورو سره یعنی هغه عرب چه د قریشو نه نه وی نو بعضی د دوی نه مساوی دی د بعضی نورو سره ، پوه شه چه هر هغه څوک چه د اولاد د نضر بن کنانه نه وی نو دا قریش دی او هر چه اولاد د هر هغه چا چه د نضر نه پورته وی نو دا قریش ندی او بیشکه مساوات خاص کړی شو په نسب دعربو سره ځکه عجم چه دی نو دوی خپل نسبونه خراب کړیدی ۔

بیان المساواة بین الزوج والزوجات

غرض د ماتن پدی عبارت سره بیان د مساوات دی په نکاح کی ۔ په نکاح کی مساوات په شپږو شیانو کی شرط دی (۱) نسب کی (۲) اسلام کی (۳) حریت کی (۴) دیانت کی (۵) مال کی (٦) کسب کی ۔ مصنف به هر یو په ترتیب سره ذکر کوی ، وجه په مساوات کی دا ده چه انتظام د مصالحو په ما بین د خاوند او ښځه کی هلته راځی چه کله د دوی تر منځ توافق او الفت وی ، او توافق او الفت په مساوات کی سره راځی ، او دا مساوات په جانبینو کی شرط دی ځکه لکه څرنګه چه شریف سړی د کمزوری نسب والا ښځه نه خوښوی نو دارنګی شریفه ښځه هم دزدیل سړی سره وخت نه تیروی نو د دی وجی نه په نکاح کی مساوات شرط دی :

(۱) مساوات فی النسب : ځکه چه په دنیا کی په نسب سره فخر او تفاضل راځی نو شریف النسب ښځه بدګنړی چه درذیل النسب په نکاح کی راشی اګر که تفاضل اخروی د دنیا د نسب سره تعلق نه لری هغه د تقوی سره تعلق لری نو قریش بعضی د دوی نه د بعضی نورو مساوی دی هغه چه د هر پلار اولاد وی ځکه چه قریش څلور پلاره دی (۱) هاشم (۲) نوفل (۳) تیمی (۴) عدوی ۔ دا څلور واړه سره برابر دی یو په بل فضیلت په نسب کی نه لری نو دوی خپلو کی سره مساوی دی ، او قریش د قرش نه دی او قرش بو لوی حیوان دی چه په دریاب کی اوسیږی او بیړئ نه پریږدی چه نن زمانه کی هغه ته نهنګ وائی چه یو لوئی ماهی (کب) دی بیا د بیړئ والا په بیړئ کی چاړی ولګوی چه د دوی د شر نه محفوظ شی ۔

نو دارنګی قریش هم په نورو غالبه دی او د قریشو نه ماسوا نور عرب یو دبل سره مساوی دی ، او قریشی عرب د غیر قریشی عربو سره مساوی نه دی نو کوم سړی چه د نضر بن کنانه په اولاد کی وی نو دا قریشی دی او کوم سړی چه د نضر بن کنانه په اولاد کی نوی نو هغه قریشی نه دی او د مساوات فی النسب تخصیص د عربو پوری ځکه وکړو چه عجم یعنی د عربو نه ماسوا نورو خلکو خپل نسبونه ګډ وډ کړی ، په هر ځای کی ئی رشته کړی وی نو پدوی کی نسب ته اعتبار نشته بلکه نورو او صافو د زوجینو ته به کتلی شی ۔

و فی العجم اسلاما فذو ابوین فی الاسلام کفؤ لذی آباء فیه و مسلم بنفسه غیر کفؤ لذی اب فیه ولا ذو اب فیه لذی ابوین فیه .

ترجمه : او په عجمو کی مساوات دی په اعتبار د اسلام سره نو خاوند د دوو پلارانو په اسلام کی مساوی دی د خاوند د ډیرو پلارانو سره په اسلام کی ، او په خپله مسلمان مساوی نه دی د خاوند د یو پلار سره په اسلام کی ، او مساوی نه دی خاوند د یو پلار په اسلام کی د خاوند د دوو پلارانو سره په اسلام کی ۔

تفصیل : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د شرط ثانی دی چه مساوات فی الاسلام دی ، خو په عربو کی مساوات فی الاسلا ... دارنګی دیانت او حرفت او کسب هم شرط نه دی ځکه

چه يو عربي مسلم چه د هغه پلار کافر وي دا مساوي دی لپاره د هغی عربي ښځې چه د هغی پلاران مسلمانان وي خو بعضي علماء وائي : چه عربو کي هم ديانت شرط دی دارنګی حرفت هم عربو کي شرط دی او هر چه مساوات بالمال دی بعضي علماء په عربو کي د مساوات قائل دی او بعضي وائي چه په عربو کي شرط ندی ،

او مساواة في الحرية په عربو کي شرط دی ځکه چه د عربو استرقاق (غلام کول) جائز نه دی .

او په عجمو کي مساوات في النکاح په اعتبار د اسلام سره شرط دی نو خاوند د دوو پلارانو يعني چه پلار او نيکه ئي مسلمانان وي مساوي دی د هغه سره چه ډير پلاران يعني پلار نيکه غور نيکه و غيره مسلمانان وي او په خپله چه مسلمان وي او پلار ئي مسلمان نه وي نو دا مساوي ندی د هغه سره چه هغه پخپله هم مسلمان وي او پلار ئي هم مسلمان وي ،

دارنګی مساوي ندی هغه چه پلار ئي مسلمان وي د هغه سره چه د هغه دوه پلاران يعني پلار او نيکه مسلمانان وي ځکه مساوات رانغي .

و حُرِّيةً فليس عبد او معتَقٌ كفؤ لحرة اصليةٍ و لا معتَقٌ ابوه كفؤا لذات ابوين حرَّين

ترجمه : او په اعتبار د حريت (ازاديدو) سره نه دی غلام يا ازاد کړی شوی غلام مساوي د هغی ازادي ښځې سره چه اصيله وي او نه دی مساوي چه پلار ئي ازاد کړی شوی وي د هغه سره چه خاوند د دوو پلارانو اصيلو وي .

وضاحت : دا شرط ثالث دی په عجمو کي مساوات په حريت کي شرط دی نو يو غلام چه هغه رق وي يا مکاتب وي يا مدبر وي يا ازاد کړی شوی غلام وي هغه مکمل ازاد وي او که بعضي حصه ئي ازاده وي دا مساوي نه دی هغی حرې يعني ازادي ښځې سره چه هغه اصليه وي اصليه ديته وائي چه نه دا ښځه چيرته وينزه شوی وي ، او نه ئي پلاران چيرته غلامان شوی وي شجرة نسباً حره اصيله وي ځکه دا ښځه نه خوښوي چه د هغه سړي سره چه يا په خپله غلام تير شوی وي يائي پلاران غلامان تير شوی چه نکاح وکړي دارنګی هغه سړی چه پلار ئي ازاد کړی شوی وي مساوي نه دی د هغه سره چه د هغه دوه پلاران يعني پلار او نيکه اصيل وي لکن هغه سړی چه د هغه دوه پلاران حر اصيل وي مساوي دی د هغه سره چه ډير پلاران ئي ازاد وي .

و ديانةً فليس فاسق كفؤا لبنت الصالح و ان لم يُعْلِنْ في اختيار الفضلي و عند بعض المشائخ الفاسق اذا لم يُعلِنْ يكون كفؤا لبنت الرجل الصالح .

ترجمه : او په اعتبار د ديندارئ سره نو فاسق سړی مساوي نه دی د يو نيک سړي د لور سره اګر که دا فاسق دا فسق او فجور ښکاره نه کوي دا قول د تعميم علامه فضلي غوره کړی . او په نزد د بعضي

مشائخو فاسق سړی چه کله فسق ښکاره نه کوی نو دا مساوی دی د یو نیک سړی د لور سره ۔

تشریح ا وتوضیح : دا شرط رابع دی چه په عجمو کی مساوات په دینداریٔ کی شرط دی لکه تقوی نیک اخلاق پوهه و غیره نو فاسق سړی لکه چرسی ښنګی پوډری یا ګیره خریونکی یا لمونځ نه کوی یا روژه نه نیسی یا زنا کاروی یا غل وی یا په سینما ګرځی یا هلکانو پسی ګرځی یا علماؤ پسی بدرد وائی ، یا د ښځو دلالی د زنا لپاره کوی یا عورت ښکاره کوی یا په خپله لواطت کوی یا چرګان او سپی جنګوی یا د غیر مسلمو سره ناسته پاسته کوی یا د ښځو سره مشابهت کوی یا شرائعو د اسلام پوری لکه اذان ګیره و غیره پوری مسخری اوټوقی کوی ۔

نو دا مساوی نه دی د یوی نیکی صالحی ښځی سره چه د صالح سړی لور وی نو د صالح والی د مور او پلار ته اعتبار دی ځکه چه یو سړی صالح وی نو د هغه لور به خامخا نیک صالح وی ، نو دارنګی صالحیت د لورته هم عبرت دی نو که فاسقه وه نو بیا د دی نکاح د فاسق سره جائز ده او که نیک صالحه وه نو که پلار د دی نیک صالح وی او که نه وی نو د دی نکاح بیا د فاسق سره جائز نه ده ، اګر که دا فاسق فسق ښکاره نه کوی ، او دا قول شیخ الاسلام محمد بن الفضلی غوره کړی دی او بعضی مشائخ وائی چه که دغه فاسق فسق ښکاره نکولو نو بیا د دی نیک صالح سړی د لور سره مساوی دی خو افسوس په نن زمانی خلقو چه خپله حافظه دینداره لور به د دنیا په مقابله کی یو فاسق ته ورکړی بیا د دی ښځی ژوند هم ګران وی او نه ئی قدر او عزت وی ځکه فاسق سړی یا یو بی علمه انسان د یوی حافظی نیک صالحی جینیٔ په قدر څه پوهیږی ،

د دی مثال داسی دی لکه خره ته چه په غاړه کی د سرو زرو هار واچوی دارنګی یو عالم نیک صالح سړی ته یوه بی علمه ښځه یا فاسقه ښځه کول هم د شریعت لخوا ښه نه ښکاری او د دی عالم سړی قدر بیا د دی ښځی سره نه وی نو ژوند ئی ګران شی بیا اکثره اوقات ښځی ته په صحیح توګه نظر نه کوی نو پکار دی چه باید سړی خپله نیک صالحه لور یو د دین عالم طالب ته ورکړی دارنګی یو عالم سړی باید دینداره او عالمی ښځی پسی تلاش وکړی ۔ کما قال الله تعالی : الطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِيْنَ . الآیة ۔

> و مالا فالعاجز عن المهر المعجّل والنفقة لیس کفؤا للفقیرة و انما قال للفقیرة لدفع وهم من توهم ان الفقیر یکون کفؤا للفقیرة و کذا للغنیة بالطریق الاولی لان العجز عن اداء المهر و النفقة الواجبین متحقق فیه مع زیادة التعییر .

ترجمه : او په اعتبار د مال سره نو عاجزه سړی د مهر معجل نه او د نفقیٰ نه مساوی نه دی د فقیری جینیٔ سره او بیشکه مصنف وویل چه للفقیرة دا لپاره د دفع د وهم د هغه چا چه هغه وهم کوی چه فقیر سړی به مساوی وی د فقیری ښځی سره ، او همدارنګی فقیر سړی مساوی نه دی د مالداری ښځی

سره په طريقه اولی سره ، ځکه چه عجز له ادا کولو د مهر او د نفقی نه چه کوم واجب دی ثابت دی په باب د مالداره کی سره د زيات شرم نه ۔

تشريح او توضيح : دا قسم خامس دی د شروطو د مساوات نه چه په عجموکی مساوات فی المال هم شرط دی نو کوم سړی چه عاجزه وی د مهر معجل نه او د نفقی نه نو دی مساوی نه دی د فقيری ښځی سره ۔ مهر معجل ديته وائی چه د هغی تعجيل (جلدی) ئی ښودلی وی يعنی نيته پکی نوی اګر که ټول مال حالا يعنی سمدستی وی ۔

او قدرت علی النفقه بعضی علماء نفقه د يوی مياشتی ښود لی ، بعضی د شپږو مياشتو ، بعضو د يو کال خو ليکن صحيح خبره دا ده چه د هری ورځی نفقه څومره چه دی لره کافی کيږی ۔

و انما قال الخ : غرض د شارحؒ په دی عبارت سره دفع د يو اعتراض ده حاصل د اعتراض دا دی چه تا وويل چه فقير سړی کفؤ نه دی د فقيری ښځی سره نو قيد د للفقيرة ورسره لغوه دی ځکه چه فقير سړی د غنی ښځی هم کفؤ نه دی ، بل دا قيد يو وهم راولی چه کله فقير سړی د فقيری ښځی کفؤ نشو نو د مالداری ښځی به کفؤ وی ؟ او حال دا چه دی د مالداری هم کفؤ نه دی ؟ نو شارحؒ جواب وکړو چه ۔ **لدفع وهم الخ** : يعنی د دی لپاره ما دا قيد د للفقيرة ورسره ولګوه چه چا به دا وهم کوه چه فقير سړی به د فقيری ښځی مساوی وی !

نو معلومه شوه چه فقير سړی د فقيری ښځی مساوی هم نه دی نو د مالداری ښځی خو په طريقه اولی مساوی نه دی ځکه چه يو سړی فقيری ښځی ته د ادا کولو د مهر او نفقی نه چه کوم پده واجب دی عاجزه وی نو مالداری ته خو په طريقه اولی سره نشی اداء کولی او سره د زياتی شرم نه چه د مالداری ښځی تمنی اوزياته وی او خاوند ئی فقير وی نو ......

والقادر عليهما کفؤ لذات اموال عظيمة هو الصحيح لان المال غاد و رائح فلا يعتبر بعدمه الا ان يکون بحيث لا يقدر علی اداء الواجب و هو المهر والنفقة .

ترجمه : او قادره په دی دواړو (مهر او نفقه) باندی مساوی دی د هغه ښځی سره چه خاوند د لوی مال وی دا قول صحيح دی ځکه مال صبا راتلونکی دی او بيګا تلونکی دی نو د مال نشتوالی ته اعتبار نشته مګر که پداسی شان غريب وی چه په اداء کولو د واجبو قادر نو ی چه هغه مهر او نفقه ده بيا ورته اعتبار شته ۔

تشريح او توضيح : مخکی تير شو چه فقير سړی د مالداری ښځی مساوی ندی اوس وائی چه مساوات په مالدارئی کی شرط نه دی د کم مال خاوند د ډير مال د خاوند سره مساوی دی ځکه مال هميشه لپاره سړی سره په يو حال موجود نوی کله وی او کله نه وی کله ډير وی کله کم وی نو د مال

نشتـوالی تـه اعتبار نشته نو که سړی په مهر او نفقی قادر وی دا مساوی دی د یو مالداری ښځی سره او کی
پدی قادره نه وو نو بیا مساوی نه دی ۔

و حرفةً فحائك او حجام او كناس او دباغ ليس بكفؤ العطار او بزاز او صرّاف و به يفتي و ان نكحت باقل من مهرها اى من مهر مثلها فللولي الاعتراض حتي يُتِمَّ اويُفَرّق .

ترجمه : او په اعتبار د کسب سره نو جولا او نائی او جاروکش او دوبی جامو وینځوونکی مساوی نه دی د خوشبوئی خرخونکی سره او د کپړی خرخونکی سره او د پیسو بدلونکی سره او په همدی قول فتوی ده او که ښځی نکاح وکړه په کم د مهر مثل نه نو ولی لره حق د اعتراض شته تر دی پوری چه زوج مهر پوره کړی او یا ولی د دوی تر منځ جدا والی راولی ۔

د بعضی لغاتو وضاحت : قوله حائک : دیته وائی چه کوم جامی کپړی څادرونه و غیره جوړه وی زمونږ په عرف کی ورته جولا وائی ۔ حجام : دیته وائی چه د ښکر لګولو کار کوی خو عام عرف کی ورته نائی وائی ځکه چه اکثر دا کارونه نائی او دم کوی ۔ کناس : دیته وائی چه لاری سرکونه و غیره جارو کوی چه عرف کی ورته چوړی وائی ۔ دباغ : دیته وائی چه جامی او څرمنی و غیره رنګ کوی چه عرف کی ورته دوبی وائی ۔ عطار : دیته وائی چه خشبویانی خرڅوی ۔ بزاز : دیته وائی چه جامی و غیره خرڅوی ۔
صراف : دیته وائی چه روپئ بدلوی مثلا درهم په دنانیرو سره عرف کی ورته هم صراف وائی ۔

تشریح ا وتوضیح : غرض د ماتن ؒ پدی عبارت سره بیان د قسم سادس دی چه په نکاح کی مساوات په اعتبار د کسب سره شرط دی او مبنی د دی په اعتبار د عرف سره ده نو کوم کسب چه عرف کی سپک ګنړلی شی هغه مساوی نه دی د هغی سره چه کوم په عرف کی ښه ګنړلی شی مثلا جولاتوب او ښکر لګول او جاروکشی کول او دوبی توب کول په عرف کی سپک ګنړلی شی د مروت اوسړی توب خلاف دی اګر که شرعا بد اوخراب کار نه دی خو دا مساوی نه دی د هغه سره چه کوم عطر فروشی کوی یا کپړی خرڅوی یا صرافی کوی ځکه دا کارونه عرف کی سپک نشی ګنړلی ، او د عزت کارونه ګنړی خو کوم کارونه چه عرف کی سپک ګنړلی شی نو د هغی خاوندان بیا یو بل سره مساوی دی مثلا جولا مساوی دی د حائک جولا اونداف سره وغیره ۔

دارنګی کوم کارونه چه عرف کی ښه شمیرلی شی نو د هغی خاوندان یو د بل مساوی دی مثلا عطار مساوی دی د بزاز و غیره سره او په همدی قول فتوٰی ده ۔

اوس که ښځی د یو کفؤ سره نکاح وکړه خو د هغه مهر نه کم چه کوم لدی سره مناسب و چه هغه مهر مثل دی نو ولی لره د دی حق شته چه پدی اعتراض وکړی تر دی چه یا مهر پوره کړی او یا د زوج ښځی او د زوجی اوسړی تر منځ تفریق جدا والی راولی ۔

و وُقف نكاح فضولي و فضوليين على الاجازة اى يجوز ان يكون من جانب الزوج فضولي و من جانب المرأة فضولي فيتوقف على اجازتهما .

ترجمه : او موقوفه كړى شوى نكاح د فضولي او د فضوليينو په اجازه باندى يعنى جائز ده چه د جانب د زوج نه فضولي وى او د جانب د ښځى نه فضولي وى نو دا به موقوفه وى په اجازى د دى دواړو (د سړى او ښځى سره) .

تشريح او توضيح : فضولي ديته وائى چه يو سړى د غير لپاره بغير د ولايت او وكالت د هغه نه تصرف كوى مثلا زيد د عمرو د اجازى نه بغير د عمرو لپاره ښځه كوى يا يو سړى د خپل ځان لپاره تصرف كوى خو د دى اهل نه وى لكه غلام بغير د اجازى د مولى نه خو دلته ترى اوله معنى مراد ده چه د غير لپاره تصرف كوى .

نو اوس كه يو سړى چه فضولي دى زوج له طرفه وى او كه د ښځى له طرفه وى او د فضولي سره بل غير فضولي وى او كه نه وى او يا دواړه طرفين فضوليين ؤ د سړى له طرفه او هم د ښځى له طرفه نو پدى صورت كى به دا نكاح موقوفه وى تر اجازى د دغه زوج او زوجى پورى خو په هغه صورت كى چه د دى نكاح لپاره مجيز وى يعنى د محرماتو سره نه وه يا د څلورو بره زياته نه وه او كه د دى لپاره مجيز نه وى بيا دا نكاح باطله ده او تر اجازى پورى موقوفه كيدى نشى لكه نكاح د محرماتو سره يا د څلورو نه بره زياتو سره .

و يتولى طرفي النكاح واحدٌ ليس بفضولي من جانب اى يتولى واحدُ الايجاب و القبول ، و لا يشترط ان يتكلم بهما فان الواحد اذا كان وكيلا منهما فقال زوّجتُها اياه كان كافيا و هو على اقسام إما ان يكون اصيلا و وليا كابن العم يزوّج بنت عمه الصغيرة او اصيلا و وكيلا كما اذا وكلت رجلا بان يزوّجها نفسه فزوجها من نفسه او وليّا من الجانبين كا الجديزوج لابن ابنه بنت ابنه الآخر و ليس لهما ابوان او وكيلا من الجانبين او وليا من جانب و وكيلا من جانب ، و لا يجوز ان يكون الواحد فضوليا كما اذا كان اصيلا و فضوليا و وليا من جانب و فضوليا من جانب او وكيلا من جانب و فضوليا من جانب او فضوليا من الجانبين .

ترجمة العبارة مع الوضاحة

او تصرف كولى شى د دواړو طرفونو د نكاح چه ايجاب او قبول دى يو سړى خو چه يو طرف نه هم فضولي سړى نه وى بلكه دواړه طرفه اصيل وى ، او دا پكى شرط نه ده چه په دواړو الفاظو يعنى ايجاب او قبول باندى تلفظ وكړى ځكه يو سړى چه كله د ښځى او خاوند وكيل مقرر شى او وكيل ووائى چه ما دا ښځه دى سړى ته وركړه نو بس دا كافى ده .

خو دا تولی بیا په څو قسمه ده : (۱) چه متولی اصیل هم وی او ولی هم وی . اصیل دیته وائی چه په دواړو متعاقدینو کی یو وی یعنی د واده والا وی لکه د تره څوی چه د خپل تره وړه لور ځانته په نکاح کوی نو دی اصیل دی ځکه چه ناکح دی او ولی دی ځکه چه منکوحه د ده د تره لور ده اوس چه دومره وائی چه ما د ترور ځانته په نکاح کړه نو بس کافی ده (۲) چه اصیل هم وی او وکیل هم د یو طرف نه وی لکه چه یوه ښځه یو سړی ته وکالت ورکړی چه څما نکاح د خپل ځان سره وتړه نو دی وکیل د دی ښځی نکاح د ځان سره وتړله نو دا سړی وکیل هم دی د ښځی له طرفه او اصیل هم دی چه په خپله ناکح دی (۳) چه د دواړو طرفینو نه ولی وی لکه نیکه چه یو لمسی په نکاح ورکړی بل نوسی لره چه د جدا زوی نه وی اود غه لمسی او لمسیٰ پلاران نه وو نو پدی صورت کی نیکه ولی دی او د دواړو طرف نه نو نیکه به وائی چه ما دا لمسیٰ فلانکی لمسی ته په نکاح ورکړه نو دا کافی ده.

(۴) چه د جانبینو یعنی د ښځی او سړی له طرفه وکیل وی مثلا ښځی زید ته وکالت د نکاح ورکړو او زوج هم زید ته وکالت د نکاح ورکړو نو زید د دواړو وکیل دی نو زید به ووائی چه ما دا فلانی ښځه چه څما موکِله ده په نکاح ورکړه فلانکی سړی ته چه څما موکِل دی نو بس دا کافی دی.

(۵) چه د یو طرف نه ولی وی او د بل طرف نه وکیل وی مثلا یوی ښځی زید ته وکالت ورکړنو دی زید دا ښځه خپل تره څوی ته په نکاح ورکړه نو زید هم ولی دی د جانب د زوج نه او هم وکیل شو د جانب د ښځی نه نو زید به داسی ووائی چه ما دا ښځه دی تره څوی ته په نکاح ورکړه نو بس کافی ده خو یا د دِوی چه د سړی په وکالت باندی او د ښځی په وکالت باندی او په عقد باندی صرف دوه ګواهان کافی دی خو دا جائز نه دی چه یو یکی فضولی وی هر طرف نه چه وی مثلا یو طرف نه اصیل وی بل طرف نه فضولی وی یا یو طرف نه ولی وی او بل طرف نه فضولی وی یا یو جانب نه وکیل وی او بل طرف نه فضولی وی او یا دواړه طرفونو نه فضولیان وی نو اګر که دوی تلفظ په نکاح وکړی خو بیا هم نکاح د دوی صحیح نه ده او دوی مثالونه مکمل په حاشیه کی ذکر دی فعلیک بمطالعتها ولا تغفل عنها.

و صح نکاح امة زَوَّجها مَن اُمِر بنکاح امرأة لآمره ای ان وکّل ان یزوّجه امرأة فزوجه اُمة صحّ ، و انکاحُ الاَبِ والجدّ عند عدم الاب الصغیرَ والصغیرةَ بغبنٍ فاحشٍ فی المهرِ ، او من غیر کفوٌ لا لغیرهما ای لا یصح لغیر الاب والجد انکاح الصغیر والصغیرة بغَبنٍ فاحشٍ فی المَهُرِ او من غیر کفوٌ اتفاقا ، و جواز انکاحهما للاب والجد باالخین الفاحش او من غیر کفؤ مذهب ابی حنیفةؒ خلافا لهما ای لو فعل الاب والجد عند عدم الاب لا یکون للصغیر والصغیرة حق الفسخ بعد البلوغ و ان فعل غیرهما فلهما ان یفسخا بعد البلوغ .

ترجمه : او صحیح ده نکاح د هغی وینزی چه په نکاح ورکړی دی لره هغه څوک چه مامور

دی په نکاح د یو ښځی لپاره د آمر د دی مامور یعنی که وکیل ئی ونیوو چه ده لره یوه ښځه په نکاح کړی نو دی وکیل په نکاح کړه آمر له وینزه نو صحیح ده ، او په نکاح ورکول د پلار یا د نیکه په وخت د غائب والی والی د پلار کی ماشوم هلک لره او ماشومی جینئ لره په زیات نقصان سره په مهر کی یا د غیر کفؤ سره نه لپاره د غیر پلار او نیکه نه یعنی نه صحیح کیږی د پلار او نیکه نه ماسوا بل چا لره په نکاح ورکول د صغیر یا د صغیره په زیات نقصان سره په مهر کی یا د غیر کفؤ سره اتفاقا او جواز د نکاح ورکول د صغیر او صغیری پلار او نیکه لره په زیات نقصان سره یا د غیر کفؤ سره دا مذهب د ابوحنیفہؒ دی خلاف دی صاحبینو لره یعنی که پلار دا کار وکړی یا نیکه خو چه پلار ئی نه وی نو بیا صغیر او صغیری لره حق د فسخ بعد البلوغ نشته او که د پلار او نیکه نه ماسوا بل چا دا کار وکړو نو بیا دی صغیر او صغیری لره حق د فسخ بعد البلوغ شته ۔

الترکیب لبعض الجمل

واو ۔ حرف عاطف ، صح ۔ فعل نکاح امة ۔ مضاف مضاف الیه فاعل د صح لپاره زوّج ۔ فعل ها ۔ مفعول به مَن ۔ سره د صلی نه فاعل د زوّج امر ۔ صیغه د فعل ماضی مجهول په معنی د مامور سره بنکاح امراة ۔ جار مجرور و غیره متعلق تر امِرَ پوری لِامِرِہٖ ۔ لام حرف جاره آمر مجرور مضاف ہٖ ۔ مضاف الیه چه راجع دی مامور ته مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار جار سره د مجرور نه متعلق د زوّج پوری ، انکاح ۔ صیغه د فعل ماضی معلوم د باب افعال نه او متعدی دی ، الاب والجد ۔ معطوف معطوف علیه فاعل د انکاح ، عند عدم الاب ۔ مضاف سره د مضاف الیه نه متعلق دی تر انکاح الجد پوری نه انکاح الاب پوری ، الصغیر والصغیرة معطوف معطوف علیه مفعول به د انکاح لپاره ، بغبن فاحش فی المهر ۔ با حرف جار غبن مجرور موصوف فاحش صفت اول فی المهر متعلق تر کائن پوری متعلَق سره د متعلِق نه صفت ثانی د موصوف موصوف سره د صفتینو نه مجرور کیږی د جار جار سره د مجرور نه متعلِق تر انکاح پوری ، او من غیر لفوءِ هم متعلق تر انکاح پوری ۔ د دی الفاظو مختصرا ترکیب ما وکړو د دی لپاره چه د دی الفاظو معنی لږ گرانه وه نو الله جل جلاله دی وکړی چه صحیح وی ۔

التبیان

غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د توکیل دی چه یو سړی بل ته امر وکړی چه ته زما له طرفه وکیل ئی ما ته یوه ښځه وکړه نو دی مامور یعنی وکیل ورته وینزه په نکاح کړه نو نکاح ئی نافذ کیږی یعنی د ده تر اجازی پوری به موقوفه نوی دا مذهب د امام ابوحنیفه دی دوی وائی ځکه چه آمر مامور ته مطلق ښځه یاده کړی چه وینزی ته هم شامله ده او مطلق په خپل اطلاق جاری کیږی ، او صاحبین وائی چه نه ، دا به تر اجازی پوری موقوفه وی ځکه چه دا مطلق راجع کیږی عرف ته او عرف کی نکاح تزویج بالاکفاء ته وائی او

ویتزه د حر سړی کفؤ نه ده کما مر خو مصنف ترجیح قول د امام صاحب ته ورکړی ۔

قوله و انکاح الاب والجد الخ : غرض ده مصنف د دی عبارت نه دادی چه پلار یا نیکه خو نیکه ۔ په هغه صورت کی چه پلار نه وی چه یو صغیر او صغیره په نکاح ورکړی خو په غبن فاحش سره یعنی په زیات نقصان سره په حق د ښځه کی او په زیادت سره په حق د هلک کی او د غیر کفؤ سره نو دا جائز دی خو دا جواز د امام ابو حنیفهؒ په مذهب دی دوئی وائی چه پلار یا نیکه کامل شفقت والا دی نو دوئی چه کله په مهر کی نقصان راولی یا د غیر کفؤ سره د دوی نکاح کوی نو دی کی به خامخا څه مصلحت وی خو د صاحبینو په نزد جائز نده ، نو کله چه د پلار او نیکه نکاح ورکول صحیح شو نو صغیر او صغیره بعد البلوغ د فسخ حق نه لری ، خو د پلار او نیکه نه ماسوا که څوک صغیر یا صغیره په غبن په نقصان زیات سره په مهر کی یا په غیر کفؤ سره په نکاح ورکړی نو دا صحیح نه ده ځکه د دوی شفقت په صغیر او په صغیره باندی کم وی نو لهذا د دوی په حق کی څه نظر نکوی نو کله چه دوی بالغ شی نو دوی ته د نکاح د فسخ ماته ولو حق شته ۔

و لا نکاح واحدة من اثنتین زوّجها المامور بواحدة للآمر ای اَمَر آخَرَ ان یزَوِّجَهُ امرأةً فزوّجه امرأتین بعقد واحد لا یصح نکاح کل واحدة منهما اما ا ذا زوَّج بعقدین فالاول صحیح دون الثانی .

ترجمه : او صحیح نده نکاح د یو ښځی هم د دوو ښځو نه چه په نکاح ورکړی وی دا دواړه هغه سړی چه مامور په یوی ښځی باندی وی لپاره د آمر یعنی یو سړی امر وکړو بل ته چه په نکاح کړی ده نه (آمر ته) یوه ښځه نو مامور ورته دوه ښځی په نکاح کړی په یو عقد سره نو د دی دواړو نه د یو نکاح هم صحیح نه ده ، امّا که دوه ښځی ئی ورته په نکاح وکړی په دوو عقدو سره نو د اولی نکاح صحیح ده نه دویم ۔

تشریح او توضیح : غرض ده ماتن د دی عبارت نه دا دی چه یو سړی بل ته امر وکړی چه ماته یوه ښځه وکړه او تعین ئی ونه کړو نو مامور ورته دوه ښځی په یو عقد سره وکړی نو د یوی نکاح هم صحیح نه ده یعنی لازمه نه ده ، ځکه چه هغه د یوی ښځی امر ورته کړی ؤ او ده د هغه مخالفت وکړو ، او نه په کی یوه غیر معینه صحیح ده ځکه چه یوه پکی مجهوله نامعلومه ده ، او نه پکی یوه معینه ځکه چه اولویت پکی نشته چه یوه غوره کړی او بل ترک کړی پریدی نو لهذا د دوی تر منځ به تفریق جدا والی راوستلی شی ، او که مامور دوه ښځی آمر ته په نکاح کړی خو په دوه عقدینو سره نو اول عقد صحیح یعنی لازم دی او دویم لازم ندی هغه د آمر د اجازی پوری موقوف دی که اجازه ئی وکړه نو نافذ کیږی او که نه نو نه نافذ کیږی ۔

باب المهر

باب دی په بیان د مهر کی

اقله عشرة دراهم هذا عندنا و اما عند الشافعیؒ کل ما یصلح ثمنا یصلح مهرا سواء کان عشرة دراهم او اقل منها او ما فوقها .

ترجمه : کم د دی مهر لس دراهم دی دا په نزد زمونږه او هر چه په نزد امام شافعیؒ دی نو هر هغه شئ چه صلاحیت د ثمن لری نو هغه صلاحیت د مهر لری برابره خبره ده چه هغه لس دراهم وی او که کم وی د دینه او که زیات وی د دینه ۔

تشریح او توضیح : هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د عقد او د شرطونو د هغی نه نو شروع ئی وکړه په مهر باندی ځکه چه په عقد کی مهر لازم وی نو وئی ویل چه باب المهر الخ ۔

مهر دیته وائی چه د خاوند له طرفه ښځی ته د فرج د منافعو په مقابله کی ورکولی شی زمونږ په نزد دا ضروری ده چه لازمًا به مهر مال وی یا هغه شئ چه حکم د مال کی وی لکه کپړه و غیره داسی نور او امام شافعیؒ په نزد مال پکی شرط نده بلکه غیر مال هم په مهر کی اداء کیږی لکه تعلیم د قرآن تعلیم د کتابت و غیره داسی نور ۔

امام شافعیؒ د آدم علیه السلام په قصه باندی دلیل نیسی هغه قصه داسی ده چه کله الله پاک آدم علیه السلام پیدا کړ بیا د ده د چپی پوښتئ نه الله پاک په قدرت کامله سره بی بی حواءؓ پیدا کړه نو څه وخت چه ده ولیده نو قصد د لاس وروړلو ئی وکړ نو الله پاک ورته وفرمائیل چه ته یو ځل بی بی حواء ته مهر ادا کړه او بیا لاس وروړه نو آدم علیه السلام ورته عرض وکړو چه یا الله ماسره خو څه نشته زه څه ورکړم نو الله پاک ورته وفرمائل چه ستا په اولاده کی ځما یو حبیب محمد ﷺ رسول الله ﷺ چه د عبد الله صاحب ځوی مبارک دی پده باندی شل (۲۰) کرتی۔ ځلی درود ووائی بعضی روایاتو کی اووه (۷) کرتی۔ پیره راغلی او بعضو کی (۱۱) پیره۔ کرتی راغلی او بعضو کی د دینه زیات نو دا درود به ستا لپاره مهر شی ۔

نو دلته یو اعتراض راځی چه کله آدم علیه السلام په نبی علیه السلام درود وویو نو د دی درود فائده خو بی بی حواءؓ ته ونه رسیده نو ځنګه مهر کی اداء شو ؟ د دی جواب دادی چه دلته مهر د درود شریف ثواب دی ځکه کیدای شی چه د الله جل جلاله مقصد به دا ؤ چه ته ځما په حبیب درود ووایه او ثواب ئی بی بی حواءؓ ته وبښه نو دا مهر د درود په صورت کی بی بی حواءؓ ته حواله شو نو شوافعو پدی واقعه باندی دلیل نیولی چه مهر کله کله غیر مال هم وی خو لکن دا دلیل کمزوری دی ځکه چه شرائع مَنْ قبلنا هلته زمونږ لپاره حجت کیدی شی چه کله د قرآن او د حدیث سره د دی تعارض نه وی ، او کله چه

د قرآن او د حدیثونه مخالف وی نو بیا مردود وی یعنی غیر مقبول وی ، او دا واقعه هم د قرآن نه مخالفه
ځکه الله پاک قرآن کریم کی فرمائی چه (و احل لکم ما وراء ذلکم ان تبتغوا باموالکم محصنین ۔ الایه) نو
د دینه معلومه شوه چه مهر به خامخا مال وی ۔

نو د مهر کم اندازه د احنافو په نزد باندی لس دراهم دی چه څه دپاسه (۳۱) ماسی راځی چه دتولو
په حساب سره دوه تولی او اوه نیمی ماسی راځی لکه په اوزان شرعیه کتاب کی منقول دی چه د دینه به
کم نه وی لکه څرنګه چه حدیث مبارک کی راځی چه (لا مهر دون عشرة دراهم) یعنی د لسو درهمو نه
به مهر کم نه وی ، او کومو حدیثونو کی چه د لسو نه کم راغلی هغه محمول دی په مهر معجل سره ځکه
د عربو دا عادت ؤ چه دخول نه مخکی به ئی ښځی ته خامخا څه مهر ورکوه ، او امام شافعیؒ په قول هر
هغه شئ چه په بیعاتو کی صلاحیت د ثمن لری نو هغه به صلاحیت د مهر هم لری هغه لس درهم وی او
که د لسو نه کم وی خو د امام شافعیؒ په نزد د مهر اقل عدد ته څه حد نشته او دا اکثر مهر لپاره بیا اتفاقا
حد نشته ځو مره چه وی جائز دی ۔

و تجب هی ان سُمّیَ دونها و ان سُمی غیرُهُ ای غیر دون عشرة دراهم و هو امّا العشرة او ما فوقها فالمسمی عند الوطی او موت احدهما و نصفه بطلاقٍ قبل وطی و خلوة صحت ای الخلوة الصحیحة و سیجئ تفسیرها فان قلت لِمَ لم یکتفِ بقوله قبل خلوة صحت فانه اذا کان قبل الخلوة الصحیحة کان قبل الوطی ؟ قلت لا نسلم فانه یمکن ان یکون قبل الخلوة الصحیحة ولا یکون قبل الوطی بان وطی بلاخلوة نحو ان وطی مع وجود المانع الشرعی کصوم رمضان و نحوه .

ترجمه :او واجب دی لس درهمه که مسمی کړی شو کم د لسو نه او که مسمی کړی شوی غیر د
کمو نه یعنی غیر د کمو لسو درهمو نه چه هغه غیر د کم یا لس دی یا زیات د لسو نه دی نو کل مسمی به
واجب وی په وخت د وطی کی یا په وخت د مرګ د احد هما کی او نیم د مسمی به وی په طلاق سره مخکی
د وطی نه او د خلوت صحیحه نه او د دی تفسیر به راشی انشاء الله نو که ته یو اعتراض وکړی چه مصنف
ولی اکتفاء پدی قول ونه کړه چه قبل خلوة صحت ځکه چه کله طلاق قبل الخلوة شی نو قبل الوطی په
خپله راغله چه وطی بغیر د خلوت نه نه وی نو چه خلوت نه وی نو وطی هم نشته ؟

نو زه جواب کی وایم چه دا نه منم چه وطی سره خلوت صحیحه لازمه ده ځکه ممکن ده چه
طلاق قبل الخلوة الصحیحة وی او قبل الوطی نه وی هغه داسی چه وطی بغیر د خلوت صحیحه نه وی
لکه وطی سره د وجود مانع شرعی نه لکه روژه و غیره داسی نور ۔ دلته وطی راغله او خلوت صحیحه
نشته ، وفیه ما فیه فلا یخفی علی احد و سأذکر لک انشاء الله ۔

تذکرة وجوب المسمیٰ عند الوطی او موت احدهما

غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره دا دی چه مخکی بیان د کمیت د مهر ؤ اوس بیان د کیفیت د مهر دی چه مهر به په کومو صورتونو کی واجب وی نو وئی ویل و تجب الخ نو کله چه د عقد په وخت کی مهر ذکر شو که دا مسمی کم له لسو نه وی نو په وخت د دخول کی مکمل لس درهمه واجب دی او د دی خپل تحدید یعنی د لسو نه کم مهر مقررول لغوه دی او که مخکی د خول نه ئی طلاق ورکړل نو نیم د لسو چه پنځه دی واجب دی او که لس درهمه ئی د عقد وخت کی مقرر کړی ؤ یا زیات د لسو نه نو بیا کل مسمی واجب دی په وخت د وطی کی یا په وخت د مرګ د یو د مړه او ښځی کی خو یاد لره چه وجوب د مسمی په وطی یا په موت د احدهما باندی نه راځی بلکه وجوب د مهر په عقد کی یا په تسمیه د دوی سره راځی او یا په حکم د شرع سره راځی چه هغه مهر مثل دی په وخت د عدم تسمیه د مهر کی خو مهر بیا چه تقرر او تاکید پیدا کوی نو هغه په یو د دریو شیانو سره وی یا په دخول سره ، یا په خلوت صحیحه سره ، یا په موت د احد هما سره ، ځکه چه دخول سره تسلیم د مبدل چه بضعه ده راځی او کله چه تسلیم د مبدل راغی نو بدل لازم شو چه مهر دی او خلوت قائمقام د دخول دی ځکه خلوت سبب او مفضی دی وطی لره او په مرګ سره نکاح انتهاء ته رسیږی او شئ په انتهاء سره تاکید پیدا کوی او کله چه تاکید پیدا کړی نو سقوط غورځول نه خوری ۔

او نیم د مسمی به واجب وی چه کله طلاق مخکی د وطی نه او مخکی د خلوت صحیحه نه راشی او په صورت د عدم تسمیه د مهر کی که طلاق قبل الدخول راشی نو صرف متعه یعنی جوړه جامی ورکول مستحب دی او که طلاق بعد الدخول ؤ نو بیا کل مهر مثل دی ،

کوم اعتراض چه په ترجمه کی ذکر دی د هغی خلاصه دا ده چه ذکر د لفظ د وطی لغوه دی ځکه طلاق چه کله قبل الخلوة الصحیة راشی نو قبل الوطی په خپله راغی ځکه وطی وی په خلوت کی نه په جلوت کی نو ده جواب وکړه چه وطی سره خلوت صحیحه لازم نه دی ځکه چه وطی سره د وجود د مانع شرعی نه یا حسی نه لکه روژه حیض و غیره شو دا وطی قبل الخلوة الصحیحة راغله نو د مزید وضاحت لپاره ئی د خلوت صحیحه ذکر وکړو خو بنده فقیر الی الله وائی چه دلته غرض د معترض مطلق خلوت دی او غرض د مجیب خلوت مطلقه چه هغه خلوت صحیحه دی مراد دی ، وطی د مطلق خلوت نه مخکی هیڅکله نشی کیدی خو د خلوت مطلقه نه مخکی کله کیدی شی لکه څرنګه چه شارحؒ په جواب کی وویل نو لهذا دا نزاع جګړه د دوی نزاع لفظی ده والله اعلم ۔

و صح النکاح بلا ذکر مهر و مع نفیه و بخمر و خنزیر و بهذا الدَّنّ من الخل فهو خمرٌ و بهـذا العبد فهو حرٌ و بثوب و بدابّةٍ لم یبیّن جنسها و بتعلیم القرآن و بخدمة الزوج الحرّ لها سنةً و انما قید بالحر لانه لو کان عبدا تجب الخدمة و سیجئ .

ترجمه : او صحیح ده نکاح بغیر د ذکر د مهر نه په وخت د عقد کی او سره د نفی د مهر نه او په شرابو سره او په خنزیر سره او پدی چاټی سره د سرکی نه نو هغه شراب ؤ او پدی غلام سره نو هغه آزاد ؤ او په جامی سره او په خاروی سره د دوی جنس ئی بیان نه کړ او په تعلیم د قرآن سره (ښځی ته) او په خدمت د خاوند سره چه حُروی د ښځی لپاره یو کال او مقیدئی کړ زوج په حر سره ځکه چه که چیری خاوند غلام وی نو بیا خدمت واجب دی او دا مسئله به انشاء الله راشی ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چه په نکاح کی مهر شرط نه دی نو که په وخت د عقد کی بالکل ذکر د مهر ونکړی یا نفی د مهر وکړی چه زه تاته مهر نه درکوم نو جائز دی لکه دا ایت کریمه پدی دلالت کوی (لا جناح علیم ان طلقتم النساء ما لم تمسوهن او تفرضوا لهن فریضة ـ الایة)

ترجمه : په تاسی څه ګناه نشته که تاسی خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ ترڅو مو چه لاس وروړی نه وی ـ نو د دی ایت نه معلومیږی چه د مهر مقررولو نه مخکی طلاق ورکول جائز دی او طلاق بغیر د نکاح نه نه صحیح کیږی نو معلومه شوه چه بغیر د ذکر د مهر نه او د تعین د مهر نه نکاح صحیح ده نو کله چه په صورت د عدم ذکر د مهر کی او په صورت د نفی د مهر کی نکاح صحیح شوه نو په هغی صورت کی هم صحیح کیږی چه کله په ذکر د مهر کی غیر متقوم شئ یعنی چه شرعا هغی له قیمت نوی لکه شراب او خنزیر وی ـ

دا رنګی که د عقد په وخت یو حرام شی ته اشاره وکړی مثلا په یوه چاټی کی شراب موجود ؤ او زوج ورته ووائی چه له ماسره نکاح په دی سرکی سره وکړه او هغه حقیقت کی شراب ؤ نو نکاح صحیح ده ، او یا زوج اشاره وکړی یو شخص ته چه پدی غلام سره له ماسره نکاح وکړه او هغه په حقیقت کی حر ؤ نو نکاح صحیح ده او یائی مجهول القیمت شئ په مهر کی ذکر کړ مثلا لکه جامی یا دابه یا یو کور او جنس ئی هم معلوم نوی مثلا خاوند ورته وائی چه ماسره نکاح وکړه په یوی جامی سره جنس ئی بیان نه کړی ـ یا په دابی سره (خاروی) سره جنس ئی بیان نه کړی چه غویا دی خر دی اس دی و غیره ، یا کور چه پوخ کور دی خام کور دی لوی دی ورکوتی وړه کی دی څرنګه دی نو پدی صورت کی نکاح صحیح شوه ، او یائی په مهر کی هغه شی ذکر کړ چه هغه صلاحیت د مهر نه لری لکه تعلیم د قرآن چه زوج ورته ووائی چه زه به د مهر په ځای قران کریم درته وښایم نو دا اګر چه مال نه دی خو صحیح ده ، یا یو حر سری وی او

ښځی تـه ووائـی چـه لـه ماسره نکاح وکړه او زه به ستا یو کال مثلا خدمت کوم نو په خاوند باندی خدمت لازم نـه دی نو خدمت اگر چه مال نه دی خو نکاح صحیح ده خو که یو غلام دا خبره وکړی نو بیا خدمت په خاونـد واجـب دی نو پدی مذکوره ټولو صورتونو کی بلا مهره نکاح صحی شوه خو مهر مثل به په سړی واجب وی کما سیاتی عن قریب انشاء الله ـ

و فی تـزویـج بـنتـه او اختـه مـنـه علی تزویج بنته او اخته منه معاوضة بالعقدین ای صح الـنـکـاح فـی صـورـة تـزویـج بـنـتـه منه و قوله معاوضةً یمکن ان یکون تمیزا او حالا عن التزویج ای حال کون التزویج تعویضا لهذا العقد بذلک العقد و لذلک العقد بهذا .

ترجمه : او پـه نکاح ورکولو د لور خپلی یا د خور خپلی هغه لره په شرط د نکاح ورکولو د لور د هغـه یا خـور د هـغـه ده تـه پـه طریقه عوض سره په دواړو عقدینو کی یعنی صحیح ده نکاح په صورت د نـکاح کولوکی د خپلی لور هغه ته او دا قول د ده چه معاوضةً دی مـمکنه ده چه تمیز وی یا حال وی د تزویج نه یعنی په حال کون د دی تزویج کی چه دا عوض وی د دی عقد لپاره په هغه بل عقد سره او د هغه بل عقد لپاره پدی عقد سره ـ

مسئلة الشغار عند العلماء والاحبار

غـرض د مـصـنفؒ پـدی عبارت سره بیان د مسئلی د شغار دی ، شغار دیته وائی چه یو سړی خپله حریمه لکه لور خور و غیره چالره پدی شرط سره په نکاح ورکړی چه ته به هم ماله خپله حریمه لور یا خور و غیره پـه نـکـاح راکـوی او مهر به پکی نه وی نو یوه ښځه به د بلی ښځی مهر وگرځی شرعا دا ممنوع دی ځـکـه حدیث مبارک کی راځی چه (لا شغار فی الاسلام) یعنی په اسلام کی شغار نشته ، خو که مهر پکی وی لـکـه نـن مـروجـه بدل چه مهرونه پکی شته نو بیا دا شغار ندی دا جائز دی ـ خو د شغار په نفی ټول ائمه حضرات قائله دی صرف اختلاف په دی کی دی چه یو سړی شغار وکړی نو ایا دا نکاح صحیح ده او که نه ؟

نـو زمونږ په نزد نکاح صحیح ده او د امام شافعیؒ په نزد باطله ده هغه د مذکوره حدیث و غیره نه استـدلال کـوی د ده د استدلالاتو نه جوابونه په حاشیه کی مذکور دی علی التفصیل فانظرها ، او زمونږ په نزد دا نکاح صحیح ده ځکه ده هغه شی چه هغه صلاحیت د مهر نه لری مهر ئی وگرځوه چه هغه بضعه د هری یوی ده نـو لهـذا مهـر بـه پـری لازم وی چـه نـکـاح صحیح شی لکه څرنگه چه د شرابو او خنزیر په صورت کی مهر مثل لازم ؤ ـ

و لزم مهر مثلها في الجميع عند وطي او موت اكتفى بذكر الوطي و لم يذكر الخلوة لانه اراد الوطي حقيقة او دلالة ففي الخلوة دلالة الوطي اقامة للداعي مُقام المدعو و قوله او موت اي موت الزوج او الزوجة ، و عبارة المختصر هذا : و صح النكاح بلا ذكر مهر و مع نفيه و بشيء غير مال متقوم و بمجهول جنسه و يجب مهر المثل كما مر او صفته فالوسط او قيمته ، اي صح النكاح بمجهول صفته فيجب الوسط او قيمته .

ترجمه : او لازم دی مهر مثل په ټولو سابقه مخکښې صورتونو کې په وخت د وطی کې یا په وخت د مرګ کې مصنفؒ اکتفاء وکړه په ذکر د وطی سره او خلوت ئې ذکر نه کړو ځکه د ده مراد د وطی نه عام دی حقیقةً وطی وی او که دلالةً وی نو په خلوت کې دلالت د وطی شته د وجې د اقامت د داعی نه (چه خلوت دی) په مقام د مدعو (چه وطی ده) او دا قول د مصنف چه او موت دی یعنی مرګ د خاوند یا د ښځې او عبارت د مختصر دا دی چه او صحیح ده نکاح بغیر د ذکر د مهر نه او سره د نفی د مهر نه او په یو شی سره چه مال متقوم نه وی لکه (خمر خنزیر) او په هغې شی سره چه مجهول وی جنس د هغې لکه جامې دابه و غیره ، او واجب دی مهر مثل (په ټولو صورتونو) کې لکه څرنګه چه مخکې ذکر شو (عند الموت اوالوطی) او یا مجهول وی صفت د هغې نو بیا درمیانه شئ واجب دی یا قیمت د دی شی] یعنی صحیح ده نکاح په هغې شئ سره چه مجهول وی صفت د هغې نو واجب دی بیا درمیانه شئ یا قیمت د دی .

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چه نکاح خو پدی مخکې صورتونو ټولو کې صحیح ده خو لیکن په ټولو کې مهر مثل لازم دی په وخت د وطی کې ځکه چه تسلیم د مبدل په وطی سره راځی نو بدل خامخا لازم دی او یا په وخت د مرګ د احد الزوجین کې ځکه چه په مرګ سره انتهاء د نکاح راځی او شی په انتهاء سره مضبوطیږی اوقوی کیږی نو لهذا مهر مثل لازمیږی . قوله اکتفی الخ : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره دفع د اعتراض ده چه مصنف عند وطی وویل نو څرنګه چه وجوب د مهر مثل عند الوطی یا عند الموت راځی نو دارنګې په وخت د خلوت صحیحه کې هم راځی نو ذکر د خلوت صحیحه ئې ولې ونکړ؟

شارح جواب وکړ چه د ده مقصد د وطی نه وطی عامه ده چه هغه حقیقة وی او که دلالة وی او په خلوت کې دلالت د وطی شته ځکه چه غالبا خلوت بغیر د وطی نه نه وی .

وعبارة المختصر : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د مزید وضاحت دی چه نکاح بغیر د ذکر د مهر نه هم صحیح ده ، او سره د نفی د مهر نه هم صحیح ده ، او په یو داسی شی سره چه هغه مال متقوم نه وی هم صحیح ده او په هغې شئ سره چه جنس مجهول وی هم صحیح ده خو پدی صورتونو کې مهر مثل لازم دی کما مر.

او صفة : یائی مجهول ؤ صفت د دی مثلا خاوند ورته ووائی چه یو اس به درکړم خو رنګ و روغن او ښه والی او بدوالی ئی ورته بیان نه کړی نو پدی صورت کی به یا درمیانه اس ورکوی او یا به قیمت د دی درمیانه ورکوی۔

ومتعة لا تزید علی نصفه ، و لا تنقص عن خمسة ای لا تزید علی نصف مهر المثل و لا تنقص من خمسة دراهم و تعتبر بحاله فی الصحیح لقوله تعالی (علی المُوسِعِ قَدَرُهُ ۔ الایة) و عند الکرخیؒ تعتبر بحالها .

ترجمه : او متعه به لازم وی داسی متعه چه زیاته به نه وی په نیم مهر مثل باندی او نه به کمه وی د پنځو درهمو نه ، او متعه به معتبره وی په حال د خاوند سره په قول صحیح سره د وجی د دی قول دالله تعالی نه چه (و علی الموسع قدره ۔ الایه) یعنی په مالداره په اندازه د طاقت د ده او په غریب باندی په اندازه د طاقت د ده او د امام کرخیؒ په نزد باندی متعه به معتبره وی په حال د ښځی سره ۔

تشریح او توضیح : او مخکښی په سابقه صورتونو کی مهر مثل لازمیده چه کله وطی وشی یا موت راشی خو په مذکوره صورتونو کی که طلاق قبل الوطی او قبل الخلوت راشی نو بیا متعه لازمیږی خو دا متعه به د نیم مهر مثل نه نه زیاتیږی ځکه چه متعه به نیم مهر مسمٰی باندی نه زیاتیږی نو په نیم مهر مثل باندی خو په طریقه اولیٰ سره نه زیاتیږی ځکه چه مهر مسمیٰ قوی دی د مهر مثل نه دارنګی متعه به کمه نه وی د پنځو درهمو نه ځکه چه متعه عوض د بضعی(اندام مخصوصه د ښځی) ده او مکمل عوض د لسو نه کم نه وی ځکه مهر د لسو درهمو نه کم جائز نه دی نو نیم د عوض به د نیم د مهر نه کم نه وی چه هغه پنځه درهمه دی ۔

اوس دا خبره چه متعه به د خاوند د حال سره معتبره وی او که د ښځی د حال سره ؟ نو پدی کی دری قوله دی : (۱) د ماتنؒ په نزد د خاوند د حال سره به معتبره وی که خاوندئی مالداره وی نو اعلی درجه متعه به ورکوی ، او که خاوند ئی غریب وی نو ادنی درجه متعه به ورکوی ، او دا قول د ده په نزد صحیح دی او دلیل کی ئی ایت کریمه راوړی (۲) او د امام کرخیؒ په نزد د ښځی حالت معتبر دی ۔ (۳) دریم قول د خصافؒ دی د ده په نزد باندی د دواړو حالت معتبر دی که دواړه مالداره ؤ نو بیا اعلی درجه متعه به ورکوی او که دواړه غریب ؤ نو ادنی درجه متعه به ورکوی او که یو غریب وی بل مالداره نو بیا درمیانه جوړه به ورکوی او دا قول بعضی علماء غوره کړی ۔

و هی درع و خمار و ملحفة بطلاق قبل الوطی و الخلوة ای فی الصور المذکورة وهو قوله ۔ بلا ذکر المهر الی آخره .

ترجمه : او دا متعه یو قمیص دی او ټیکری (څادر) او لویه چادری خو دا متعه لازمیږی په

طلاق قبل الوطی سره او قبل الخلوت سره پدی سابقه مذکوره صورتونو کی چه هغه دا قول دی چه بغیر د ذکر د مهرنه تر آخر پوری ۔

تشریح او توضیح : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د متعی دی چه هغه یو قمیص دی بل څادر چه زنانه عام طور سر پری پټهوی او بل ملحفه هغه څادر ته وائی چه د سر نه بنپو پوری ځان پری پټهوی ، لیکن زمونږ په مشرقی علاقو کی یواځی دا دری شیان نه کافی کیږی بلکه د دی سره به پرتوګ هم وی پیزار به وی برقعه چادری به هم وی ځکه چه د دی بغیر لباس نه مکمل کیږی ۔

و فی خدمة الزوجِ العبدِ لها هی ای تجب یعنی الخدمة فی النکاح بخدمة الزوج العبد لها .

ترجمه : او په خدمت د خاوند کی چه غلام وی دا خدمت د ښځی لپاره نو دا خدمت واجب دی په نکاح کی چه دا نکاح په خدمت د خاوند کی چه غلام وی شوی د ښځی لپاره ۔

تشریح او توضیح : صورت د مسئلی دا دی چه زید مثلا یو ښځی ته وویل چه ته له ماسره نکاح وکړه نو زه به ستا یو کال خدمت وکړم نو زید به خالی نه وی یا به حر وی او یا به غلام وی که چیری زید حر وی نو تسمیه فاسده شوه او مهر مثل لازم شو ځکه ازاد سړی خادم ګرځول جائز نه دی ځکه شرعا به ښځه خادمه وی نه سړی ۔

او که زید غلام ؤ نو بیا په زید باندی یو کال خدمت مثلا لازم شو خو شرط پکی دا دی چه غلام د بادار له طرفه مأذون وی ولی که بادار اجازه ونکړی نو عقد نه صحیح کیږی او د غلام په صورت کی د زید خادم ګرځول ځکه جائز دی چه مهر به خامخا مال یا د دی په حکم کی وی او غلام مال وی لیکن حر نه حقیقة مال دی او نه حکما مال دی ۔

وللمفوّضة ما فرض لها ان وطئت او مات عنها و المتعة ان طُلِّقَتْ قبل الوطی المفوّضة هی التی نکحت نفسها بلا ذکر المهر او علی ان لا مهر لها ثم ان تراضیا علی مقدار فلها ذلك المفروضِ او وطئها او مات عنها و المتعة ان طلقها قبل الوطی و عند ابی یوسفؒ و هو قول الشافعیؒ لها نصف المفروض .

ترجمه : او د مفوضی لپاره هغه مهر دی چه مقرر شوی وی د دی لپاره که وطی کړی شوه او یا خاوند د دی مړ شو د هغی نه او متعه به ورکوی که طلاقه کړی شوه مخکی له وطی نه ۔ مفوضه هغه ښځه ده چه په نکاح ورکړی ځان خپل بی له ذکر د مهر نه او یا په دی شرط چه دی لره به مهر نه وی نو که بیا دا دواړه په څه اندازه راضی شو نو دی لره هم دغه مقرر شوی شئ وی که خاوند ئی وطی کړه او یا خاوند تری مړ شو ، او متعه به ورکوی که طلاق ئی ورکړ مخکی له وطی نه او د امام ابویوسفؒ په نزد باندی همدا قول د امام شافعیؒ دی چه دی لره به نیم د مقرر شوی شئ نه وی ۔

تشريح او توضيح : غرض د ماتن پدې عبارت سره بيان د مفوضې دی مفوضه يا په وزن د اسم فاعل سره دی د باب تفعيل نه چه تفويض راځي او يا په وزن د اسم مفعول سره نو په صورت د اسم فاعل کې به ئې معنی داسې وی چه هغه ښځه چه دی ځان سپارلي وی زوج خپل ته بلا مهر . او په صورت د اسم مفعول کې به ئې معنی داسې شي چه هغه ښځه چه ولي د دې سپارلي وی زوج د دی ته بلا مهر ليکن د شارح د وروستني عبارت نه صيغه د اسم فاعل معلوميږی فلا يخفی علی احد . يعنی يوی ښځې يو سړی سره د خپل ځان نکاح وکړه او د مهر ذکر ئې پکې ونه کړو او يائې پکې شرط دا ولګوه چه د دی لپاره به مهر نوی بيا د عقد نه وروسته د دواړو رضاء په يو شئ باندی راغله مثلا خاوند ورته ووائی چه زه به تاله دومره شي درکړم او ښځه ورسره خوښه شوه نو اوس که خاوند ورسره خلوت صحيحه يا وطی وکړه يا خاوند تری مړ شو يائې ښځه مړه شوه نو پدې صورت کې به د ښځې مهر هغه مقرر شي وی او که د وطی نه مخکې طلاق ورکړو نو بيا به متعه وی او د امام ابويوسفؒ په نزد باندی چه همدغه د امام شافعيؒ قول دی ، د دې ښځې به نيم د هغه مال کيږی چه کوم بعد العقد مقرر شوی دی د دوی په نزد دا مفروض کالمسمٰی دی او طلاق قبل الوطی په صورت کې نيم د مسمی وی نو دارنګې مفروض به هم نيم ورکول کيږی او مونږ وايو چه داسې صورتونو کې اکثره مهر مثل راځي او مهر مثل نه نيميږی والتفصيل فی الحاشيه .

و ما زيد علی المهر يجب و يسقط بالطلاق قبل الوطی و صح حطها عنه ای حط المرأة عن الزوج و لم يذكر مفعول الحط ليدل علی العموم كما فی قوله فلان يُعطی و يمنع فيدل علی حط كل المهر و بعضه و الزيادة فی صورة الزيادة علی المهر .

ترجمه : او کوم شي چه زياتي شو په مهر باندی نو هغه واجب دی او ساقطيږی (دغه زائد) په طلاق سره چه د وطی نه مخکې وی او صحيح ده کمول د ښځې د خاوند نه او ذکرئې نه کړ مصنفؒ مفعول د حط د دی لپاره چه دلالت وکړی په عموم باندی لکه پدی قول د قائل کې چه فلانکې ورکړه کوی او منع کوی نو د مصنف دا کلام دلالت کوی په کمولو د ټول مهر سره او د بعضې سره او په کمولو د زياتې سره په صورت د زيادت علی المهر کې .

تشريح او توضيح : غرض د دې عبارت نه دا دی چه د عقد په وخت يا د هغې نه وروسته خاوند په مهر مسمی باندی کوم شي زياتي ومنی نو هغه په خاوند باندی لازم دی چه ورئې کړی خو پدې شرط چه ښځه قبول کړی او اندازه د زياتې معلومه کړی او بل بقاء د زوجيت وی خو ليکن که د خلوت صحيحه نه او د وطی نه وروسته ئې طلاق ورکړو نو هغه زياتې مهر تری ساقط دی او نيم د اصلی مهر کيږی نه د زياتې .

دارنګې که ښځه وغواړی چه له خاوند مهر کم واخلی مثلا ديته لس زره افغانئ مقرری شوی خو ښځه خاوند ته ووائی چه پنځه زره راکړه او پنځه زره درنه نه اخلم نو دا کموالی د ښځې بلکل صحيح دی ،

او یا بلکل ټول مهر ورته ښځه وبښي نو دا هم صحیح دی خو شارحؒ فرمائی چه مصنفؒ د فعل حط مفعول ذکر نکړو د دی لپاره چه دلالت په عموم وکړی ، او یو شی پوری لګه روپی خاص نشی بلکه عام شی او هر شی ته چه هغی کی صلاحیت د مهر وی شامل شی لکه یو مثال کی راځی چه فلانکی ورکړه هم کوی او منع هم کوی نو د یُعْطی او یمنع مفعول نه ذکر کوی دا د دی لپاره چه هر شی ته شامل شی یعنی فلانکی هر مفید شیٔ خلکوته ورکوی او هر ضرری شیٔ د خلکو نه منعه کوی او که مفعول ئی ذکر شی نو بیا د هغه مفعول پوری خاص کیږی نو د مصنفؒ د دی خبری نه دری خبری معلومی شوی -

(۱) چه ښځی ته دا جائز دی چه له خاوند ټول مهر ختم کړی (۲) بعضی حصه ئی لری کړی (۳) چه خاوند ورته کوم شی زیاتی کړی نو ښځه ورته ووائی چه هغه زیاتی درنه نه اخلم هغه ورته معاف کړی دا ټول صحیح دی -

و خلوة بلا مانع وطی حسا او شرعا او طبعا کمرض یمنع الوطی هذا نظیرا لمانع الحسی ، و صوم رمضان و احرام بفرض او نفل هذا نظیرا لمانع الشرعی ، و حیض و نفاس هذا نظیر المانع الطبعی ، ولا یضر ان یکون المانع الشرعی موجودا فیهما - تؤکده ای تؤکد المهر فخلوة مبتدأ و تؤکده خبره ، واعلم ان المراد بالخلوة اجتماعهما بحیث لا یکون معهما عاقل فی مکان لا یطلع علیهما احد بغیر اذنهما او لا یطلع علیهما احد للظلمة و یکون الزوج عالما بانها امرأته .

ترجمه : او خلوت بغیر د مانع د وطی نه چه هغه مانع حسا وی او یا شرعًا وی او یا طبعًا وی لکه مرض شو دا وطی منع کوی دا مثال د مانع حسی دی او روژه د رمضان شوه او احرام شو په فرضو سره یا په نفلو سره دا مثال د مانع شرعی دی ، او حیض شو نفاس شو دا مثال د مانع طبعی دی ، او دا هم ضرر نه کوی چه مانع شرعی موجود وی په دی دواړو یعنی حیض او نفاس کی نو دا خلوت مضبوطوی مهر لره - نو خلوت مبتدا ده او تؤکده ئی خبر دی - خو پوه شه چه مراد په خلوت جمعوالی او یو ځائی والی د زوجینو دی په داسی یو ځای کی چه د دوی سره عاقل بالغ څوک نه وی او په داسی مکان کی چه نه خبریږی پدی دواړو هیڅوک بغیر د اجازی د دوی نه او یا پری څوک نه خبریږی د وجی د تیاری نه پدغه ځای کی خو خاوند هم پدی پوه وی چه دا زما سره ناسته ښځه دا زما ښځه ده -

ضوء السراج فی الظلمة لبیان الخلوة

غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره شروع په بیان د هغه څه کی ده چه هغه مهر مضبوطوی بغیر د وطی نه چه خلوت دی مراد د خلوت نه دا دی چه ښځه او خاوند په داسی یو ځای کی سره یو ځای شی چه هلته عاقل انسان نه وی او داسی ځای کی وی چه هغه صلاحیت د خلوت او وطی لری بل دا چه خاوند به

پدی عالم وی چه دا زما بنځه ده نو که یو هم پدیکی نوی نو بیا خلوت صحیح نه دی نو کله چه خلوت وشی او مانع موجود نوی نو په خاوند پوره مهر راغی ځکه چه خلوت غالبا مفضی وی وطی ته او حقیقة وطی یو امر خفی پټ دی هغه بل چاته معلوم نه وی نو خلوت قائمقام د وطی وګرځیده او موانع د خلوت دری قسمه دی :

(۱) حسا لکه مرض خو هغه مرض چه مانع د وطی وی نه هر مرض ځکه بعضی امراض مانع د وطی نه نوی دا مرض په خاوند وی او که په بنځه نو مرض یو مانع حسی دی چه هر سړی ته معلوم وی ۔

(۲) شرعا لکه روژه د رمضان شوه یا فرضی احرام شو یا نفلی احرام شو نو دا مثال د مانع شرعی دی ځکه چه په بنځه خاوند کی چه هر یو روژه دار وی د رمضان او یائی احرام تړلی وی نو بیا وطی شرعا حرامه ده خو لیکن که نفلی مونځ یا روژه وی بیا خلوت صحیحه راځی کما سیاتی ان شاء الله تعالی ۔

(۳) طبعا لکه حیض او نفاس شو نو دا مثال د مانع طبعی دی ځکه هغه انسان چه سلیم الطبع وی نو د ده طبع د حیض په حالت کی یا د نفاس په حالت د وطی کولو نه نفرت کوی ۔

خو لیکن دلته یو اعتراض راځی چه وطی په حالت د حیض کی یا د نفاس کی شرعا ممنوع ده نو باید چه دا مثال د مانع شرعی لپاره شی نه د مانع طبعی لپاره نو شارح د دی اعتراض جواب وکړو چه ولا یضر ان یکون المانع الشرعی موجودا فیهما یعنی کیدای شی چه دا مثال د مانع شرعی لپاره هم شی دیکی څه ممانعت نشته لکه چرنګه چه د صاحب هدایه والا حیض دمانع شرعی اوطبعی څخه ګرځولی دی والحیض مانع طبعا و شرعا۔

کخلوة مجبوب او عنین او خصی او صائم قضاءً فی الاصح و نذرا فی روایةٍ و مع احدی الخمسة المتقدمة لا و الصلاة کالصوم فرضا و نفلا ای لا تکون الخلوة صحیحة مع الصلاة المفروضة کما فی الصوم المفروض و تکون صحیحة مع صلاة النفل کما فی صوم النفل و تجب العدة فی الکل احتیاطا ای فی جمیع ما ذکر من اقسام الخلوة سواء وجد المانع کالمرض و نحوه او لم یوجد

ترجمه : لکه خلوت د مجبوب او عنین او خصی او د روژه دار چه قضاءً وی په صحیح قول سره او نذرًا وی په یو روایت کی او سره د یو د پنځو موانعو نه چه مخکی ذکر شو خلوت نه صحیح کیږی او مونځ پشان د روژی دی فرض وی ، او که نفل وی یعنی خلوت صحیحه د فرض مانځه سره نه راځی لکه د فرضی روژی سره چه نه راځی او خلوت صحیحه راځی د نفلی مانځه سره لکه څنګه چه د نفلی روژی سره راځی او عدت واجب دی په ټولو مذکوره اقسامو کی احتیاطا برابره خبره ده چه مانع موجود وی او که نوی ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه وضاحت د مخکی عبارت دی نو مجبوب هغه ته

ویل کیږی چه ذکر اندام تناسل د ده پریکړی شوی وی او خصیتین د ده برابره خبره ده پریکړی شوی وی او که نوی پریکړی شوی ۔

او عنین دیته وائی چه ذکر اوخصیتین د ده موجود وی خو لیکن په جماع قادر نوی یا د بوډاوالی نه یا د مرض نه یا خلقةً قوت پکی نه وی ، او خصی دیته وائی چه ذکر د ده موجود وی خو خصیتین د ده نه ویستل شوی وی نو خلوت د دی ټولو صحیح دی او مکمل مهر پدوی راځی ځکه چه په ښځه باندی حق د بضع سپارل ؤ او هغه دی وسپارل نور کار د خاوند نه خراب دی نو ښځه مستحقه د کامل اوپوره مهر وګرځیده ۔

دارنګی له احد الزوجین که یو روژه دار وی د قضاء راوړلو نو صحیح دا دی چه دی سره هم خلوت صحیح راځی او په یو روایت کی راځی چه نذری روژی سره هم خلوت صحیحه راځی خو لیکن که پدغه پنځو موانعو کی یو مانع هم موجود وی چه هغه مرض دی روژه د رمضان ده احرام دی حیض دی او نفاس دی نو خلوت نه صحیح کیږی مونږ د روژی پشان دی فرض وی او که نفل وی یعنی لکه څرنګه چه فرضی روژه مانع د خلوت صحیحه ده نو دارنګی فرض مونځ هم مانع د خلوت صحیحه دی اولکه څرنګه چه نفلی روژه مانع د خلوت صحیحه نده نو دارنګی نفلی مونځ هم مانع د خلوت صحیحه نده خو لیکن پدی ټولو مذکوره اقسامو کی چه صحیحه دی او که فاسده دی عدت واجب دی مانع وی او که نوی چه مانع نوی نو هغه ښکاره خبره ده چه کیدی شی رحم د دی ښځی په اوبو دده سره مشغوله وی او چه مانع وی نو بیا هم احتیاطا عدت واجب دی چه رحم د دی په اوبو د ده سره مشغوله نوی ځکه په عدت سره پاک والی د رحم معلومیږی د دی لپاره چه د بل اوبه دبل د فصل سره ګډی وډی نشی ۔

وتـجبُ المُتعَةُ لمطلّقَةٍ لم توطأ و لم يُتَمّ لها مهر و تستحب لمن سواها الا لمن سُمّي لها مهر و طُلّقَتْ قبل وطی۔ المطلقات اربع (۱) مطلقة لم توطأ و لم يسم لها مهر فتجب لها المتعة (۲) و مطلقة لم توطأ و قد سمی لها مهر فهی التی لم تستحب لها المتعة (۳) و مطلقة قد وُطئت و لم يُسم لها مهر (٤) و مطلقة قد وطئت و سُمی لها مهر فهاتان تستحب لهما المتعة فالحاصل انه اذا وطئها تستحب لها المتعة سواء سمی لها مهر او لا لانه او حشها بالطلاق بعد ما سلمت اليه المعقد عليه و هو البُضعُ فيستحب ان يعطيها شيئا زائدا علی الواجب وهو المسمی فی صورة التسمية و مهر المثل فی صورة عدم التسمية و ان لم يطأها ففی صورة التسمية تاخذ نصف المسمی من غير تسليم البضع فلا يستحب لها شیء آخر و فی صورة عدم التسمية تجب المتعة لانها لم تاخذ شيئا و ابتغاء البُضع لا ينفك عن المال .

ترجمه : او متعه واجب ده د هغی مطلقی لپاره چه وطی شوی نوی او نه مهر ورته مقرر وی او د نورو لپاره بغیر د دینه مستحب ده مګر د هغه چا لپاره چه مهر ورته مقرر وی او د وطی نه مخکی طلاقه

کړی شوی وی ۔ شارحؒ وائی چه مطلقی ښځی څلور قسمه دی (۱) اول هغه مطلقه چه نوی وطی ۔ شوی او نه مهر ورته مقرر وی نو د دی لپاره متعه واجب ده (۲) دویمه هغه مطلقه چه وطی شوی نوی خو مهر ورته مقرر وی نو دا هغه ده چه د دی لپاره متعه مستحب نه دد ۔ (۳) دریمه هغه مطلقه چه وطی شوی وی خو مهر ورته مقرر نه وی۔

(۴) او څلورمه هغه مطلقه چه وطی شوی هم وی او مهر ورته هم مقرر وی نو د دی دواړو دلو لپاره متعه مستحب ده نو حاصل د خبری دا دی چه کله خاوند ښځه وطی کړی نو ښځی ته متعه بیا مستحب ده برابره خبره ده چه دیته مهر مقرر شوی وی او که نه ، ځکه چه خاوند ښځه په وحشت کی واچوله په طلاقو سره وروسته د هغی نه چه هغی ورته معقود علیه سپارلی ؤ چه هغه بضع (فرج دی) نو مستحب ده چه ښځی ته زیاتی شئ په هغه واجب باندی چه مسمی وی ورکړی په صورت د تسمیی د مهر کی او مهر مثل به ورکوی په صورت د عدم تسمیی د مهر کی او که چیرته ئی وطی کړی نه وه نو په صورت د تسمیی کی به نیم مهر اخلی بغیر د سپارلو د بضع نه نو دیته بل هیڅ شی ورکول مستحب نه دی ، او په صورت د عدم تسمیی کی متعه واجب ده ځکه ښځی هیڅ شئ ندی اخستی او طلب د بضع په نکاح سره دانه جدا کیږی له مال نه یعنی بغیر د مال نه نه کیږی ۔

تحریر بیان المطلقات فی اللیالی المظلمات

غرض د دی عبارت نه بیان د مطلقو دی مطلقه لکه حرنګه چه شارحؒ ویلی په څلور قسمه دی :
(۱) هغه مطلقه چه نه وطی شوی وی او نه مهر ورته مقرر وی ۔ (۲) هغه مطلقه چه نه وی وطی شوی خو مهر ورته مقرر وی ۔ (۳) هغه مطلقه چه وطی شوی وی خو مهر ورته مقرر نه وی ۔ (۴) هغه مطلقه چه وطی شوی هم وی او مهر هم ورته مقرر وی نو دا څلور قسمه مطلقی شوی ۔
خو لیکن د دوی لپاره حکم هم په دری قسمه دی (۱) وجوب (۲) استحباب (۳) عدم استحباب ۔ نو وجوب د متعی صرف د یو صورت پوری خاص دی چه اول صورت دی او عدم استحباب هم تر یو صورت پوری مختص دی چه هغه دویم صورت دی نو دی صورت کی فقط نیم مهر دی او استحباب مختص دی تر دوه صورتونو پوری چه هغه دریم او څلورم صورت دی دا زمونږ حنفی مذهب دی او د امام شافعیؒ په نزد د ټولو لپاره متعه واجب ده مګر د دریم قسم مطلقی ته واجب نه ده والتفصیل فی الحاشیة و هذه خلاصة العبارة بقدر طاقتی ۔

و ان قبضت الفا سمی ثم وهبته له فطلقت قبل وطی رجع علیها بنصفه لانها قبضت تمام المسمی و لم یجب الا النصف فترده النصف و الالف الذی وهبته له لم یتعین انه الف المهر لان الدراهم و الدنانیر لا یتعین فی العقود و الفسوخ .

ترجمه : او که چیری ښځی قبض کړی زر روپی چه هغه مقرری شوی وی بیائی وبښلی دغه زر روپی خپل خاوند ته نو بیا ښځه طلاقه کړی شوه د وطی نه مخکی نو خاوند به رجوع وکړی په دغه ښځه

بانـدی په نیم مهر سره ځکه چه ښځی تمام مهر چه مقرر ؤ قبض کړ نو بیا د ښځی لپاره نیم واجب ؤ نو ښځی به دی خاوند ته نیم بیرته ورکړی او هغه زر روپۍ چه دی ښځی ښنلی وی خاوند ته نو هغه معلومی نه دی چه هغه هم دغه زر روپۍ د مهر دی ځکه چه دراهم او دنانیر نه متعین کیږی په عقودو او فسوخو کی ۔

تشریح او توضیح : د دی عبارت مقصد دا دی مثلا زید یوه ښځه په زر روپو سره په نکاح واخسته او ټولی زر روپۍ ئی ښځی ته وسپارلی او ښځی قبض کړی بیا ښځی دغه زر روپۍ خپل خاوند ته ور وبښلی خو دی خاوند لا وطی کړی نه وه چه طلاق ئی ورکړ نو اوس به زید د دی ښځی نه نیم مهر چه هغه پنځه سوه کیږی بیرته واخلی ځکه چه د ښځی لپاره په دی صورت کی چه طلاق قبل الوطی وی نیم مهر دی او ښځی مکمل ټول مهر چه زر روپۍ دی قبض کړ نو لهذا نیم مهر به خاوند ته ورکړی ۔ او که نه وائی چه ښځی خو خاوند ته هغه زر روپۍ مکمل بیرته هبه کړی نو خاوند ته د نیم په ځای ټول حق رسیدلی وی نو بیا د ښځی نه ولی نور نیم مهر غواړی ؟

د دی جواب دا دی چه ښځی چه کوم زر روپۍ خاوند ته هبه کړی نو دا معلوم نه دی چه ایا دا هم دغه د مهر زر روپۍ دی او که مطلق روپۍ ورته هبه کړی دی ، نو که مطلق زر روپۍ ورته هبه کړی وی نو بیا خو خبره ښکاره ده او که چیری هم دغه د مهر زر روپۍ ئی ورته هبه کړی وی نو بیا هم خاوند د نیم مهر حقدار دی ځکه چه هبه بیرته نشی واپس کیدی چه دا بیا حساب کړی شی او بل دا چه دراهم او دنانیر په معاملاتو شرعیوو کی لکه بیع شراء و غیره او په فسخ د معاملاتو کی لکه اقاله او غیره کی نشی متعین کیدی د تعین دا مطلب ندی چه مقدارئی نشی معلومیدای بلکه د تعین دا مطلب دی چه کومه روپۍ مثلا زید ورکړیدی نو بعینه هم دغه روپۍ به وی نوری به نه وی نو د روپیو تعین هیڅکله نشی کیدی چه کوم زرګونی خاوند ورکړی ؤ او ښځی همغه بیرته ورکړه کیدی شی چه ښځی بل زرګونی ورکړی وی نو خاوند ته خپل حق چه نیم دی وصول نشو نو لهذا د ښځی نه به دغه نیم مهر وغواړی ۔

و ان لم تقبضه او قبضت نصفه ثم وهبت الكل او ما بقي او وهبت عرض المهر قبل قبضه او بعده لا ، اى لا يرجع عليها بشيء و صُوَرُ المسائل انها ان لم تقبض شيئا ثم وهبت الكل اى حطَّته عن ذمة الزوج ثم طلقها قبل الوطى فلا شيء عليها لان حكم الطلاق قبل الدخول ان يسلم له نصف المهر و قد حصل بل زيادة والمرأة لم تأخذ شيئا لترده اليه بخلا المسألة الاولى و هى التي قبضت الفا سُمى ثم وهبت له و طلقت قبل وطى و ان قبضت نصف المهر ثم وهبت الكلِ له او وهبت الباقي ثم طلقها قبل الوطي فانه لا شيء عليها لما ذكرنا و لو كان المهر عَرَضا فقبضته ثم وهبته له او لم تقبضه فحطَّته عن ذمته ثم طلقها قبل الوطى فلا شيء عليها اما في صورة عدم القبض فلما مر ، و اما في صورة القبض فكذلك لانها وهبت العَرَض له فانتقص قبض المهر لان العروض متعينة بخلاف المسئلة الاولىٰ فان الدراهم غير متعينة .

ترجمه : او كه چيرى قبض نه كړى ښځه دغه زر روپۍ او يائى قبض كړى نيم د دى بيائى ټولى وبښلى يا ما بقى د نصف نه او يائى وبښلى سامان د مهر مخكى د قبض د دى نه يا وروسته د دينه نو بيا رجوع نشى كولى خاوند پدى ښځى باندى په هيڅ شى سره ـ او صورتونه دمسئلو مذكوره ۇ دا دى چه كه چيرى ښځى قبض نه كړ هيڅ شى بيائى ټول وبښل يعنى لرى كړ دغه مهر له ذمى د خاوند نه بيائى طلاق وركړ ديته مخكى د وطى نه نو هيڅ شىء نشته پدى ښځه باندى ځكه حكم د طلاق چه مخكى د دخول نه وى هغه دادى چه باقى پاتى شى خاوند ته نيم مهر او هغه حاصل دى بلكه زياتى او ښځى هيڅ شى ندى اخستى چه بيرته وركړى هغه خاوند ته په خلاف د مخكى مسئلى هغه دا ده چه ښځى قبض كړى وى هغه زر روپۍ چه كومى مقرر وى بيائى وبښلى خاوند ته او طلاق وركړى شو مخكى د وطى نه

او كه قبض كړى ۇ ښځى نيم مهر بيائى ټول خاوند ته وبښه او يائى ورته وبښه هغه باقى چه كوم ئى نه ۇ قبض كړى بيائى طلاق وركړ مخكى له وطى نه نو هيڅ ښى پدى ښځى باندى نشته د وجى د هغى نه چه مخكى مونږ كوم ذكر وكړو او كه چيرى مهر عرض يعنى سامان ۇ او ښځى قبض كړ بيائى وبښه دغه عرض خاوند ته ، يائى نه ۇ قبض كړى خو ساقط ئى كړ د ذمى د خاوند نه بيائى طلاق وركړ مخكى د وطى نه نو هيڅ شى په ښځه باندى نشته هر چه په صورت د عدم قبض كى دى د وجى د هغى نه چه مخكى تير شو ، او هر چه په صورت د قبض كى دى نو بيا هم په ښځه څه نشته ځكه ښځى خو عرض خاوند ته وبابښه نو مات شو هغه قبض د ښځى مهر لره ځكه عروض متعين دى په خلاف د مخكنى مسئلى ځكه دراهم غير متعين دى ـ

تشريح او توضيح : مخكى بيان د قبض د ټول مهر ۇ او اوس بيان د عدم قبض دى و غيره نو پديكى يو څو صورتونه دى هغه دا چه دى ښځى به يا هيڅ نوى قبض كړى او يا به ئى نيم قبض كړى وى ، او يا به مهر عرض وى نو كه چيرى بلكل هيڅ شى قبض كړى نه وۇ او هغه ئى د خاوند د ذمى نه ساقط كړ بيا خاوند ښځى ته د وطى نه مخكى طلاق وركړ نو اوس خاوند د ښځى نه هيڅ شى نشى اخستى ځكه چه كله طلاق قبل الوطى وى نو بيا د دى حكم دا دى چه خاوند ته به نيم مهر سالم پاتى وى او پدى صورت كى خاوند ته هم نيم پاتى دى بلكه زياتى ورته پاتى دى او ښځى خو څه اخستى نه دى چه خاوند ته ئى وركړى او مخكى مسئله چه كومه ذكر شوى ده په هغى كى خو ښځى زر روپۍ قبض كړى وى او بيائى هبه كړى نو ځكه هلته په ښځه باندى نيم مهر راغى او كه چيرى ښځى نيم مهر قبض كړى ۇ او بيائى دغه نيم مهر خاوند ته بيرته وبښه او يائى ورته هغه باقى چه ښځى قبض كړى ندى وبښه بيا خاوند قبل الوطى طلاق وركړ نو بيا هم په ښځه باندى هيڅ شى نشته ځكه چه مخكى مونږ ووېل چه حكم د طلاق قبل الوطى دا دى چه خاوند ته به نيم مهر پاتى وى او پدى صورت كى هم پاتى دى ـ

او که مهر عرض ؤ نو عرض په لغت سامان ته وائی خو مراد تری هغه دی چه دا تعینولی شی په تعین سره په عقودو او فسوخو کی د اعیانو نه مثلا لکه حیوان و غیره نو که ښځی قبض کړی ؤ او بیائی خاوند ته اوبابنه هبه کړ یا ئی نه وو قبض کړی خو د خاوند د ذمی نه ئی ساقط کړ بیا خاوند د وطی نه مخکی طلاق ورکړ نو په ښځه باندی هیڅ شی نشته نو په صورت د عدم قبض کی خو ځکه نشته چه خاوند ته هر څه سالم پاتی دی او په صورت د قبض کی ځکه نشته چه کله ښځی خاوند ته بیرته هبه کړنو هغه قبضیت د مهر ختم شو دا داسی شو لکه چه خاوند ښځی ته بلکل څه ورکړی نه دی ځکه عروض معلوم دی دیکی بدلون راتللای نشی او مخکنۍ مسئله چه وه نو هلته دراهم ؤ او دراهم غیر معلوم دی ځکه چه دیکی بدلون راتللای شی ۔

و ان نکح بالف علی ان لا یخرجها او لا یتزوج علیها او بالف ان اقام بها و بالفین ان اخرجها فان وفی ، ای فیما نکحها علی ان لا یُخرجها او لا یتزوج علیها و اقام ای فیما نکحها بالف ان اقام بها و بالفین ان اخرج فلها الالف و الا فمهر مثلها هذا عند ابی حنیفة فعنده الشرط الاول صحیح دون الثانی و عندهما الشرطان صحیحان و عند زفر کل منهما فاسد لکن فی الثانیة لا یزاد علی الفین ولا یُنقص عن الف ، المراد بالثانیة المسئلة الثانیة و هی قوله او بالف ان اقام بها و بالفین ان اخرجها فانه ان خرجها یجب مهر المثل لکن ان کان مهر المثل اکثر من الفین لا تجب الزیادة و ان کان اقل من الف یجب الالف و لا ینقص منه شیء لا تفاقهما علی ان المهر لا یزید علی الفین و لا ینقص عن الف

ترجمه : اوکه نکاح ئی وکړه په زر روپۍ سره پدی شرط چه نه به وباسی دغه ښځه له کوره څخه او یا به بله ښځه نه کوی پدی باندی او یا په زر روپۍ سره که مقیم شو د دی سره او په دوه زره سره که له کوره څخه ئی ویستله نو که چیری پوره والی وکړ پدغه شروطو چه نه ئی له کوره ویستله نه ئی بل واده وکړ پدی باندی او مقیم شو ورسره نو دښځی لپاره بیا حق زر روپۍ دی ، او که خاوند پدی شروطو پوره والی ونکړو نو بیا د ښځی لپاره مهر مثل دی دا په نزد د امام ابو حنیفة دی نو د امام صاحب په نزد اول شرط صحیح دی۔

او د امام زفر په نزد دواړه شرطونه فاسد دی لکن په دویمه مسئله کی به په دوه زرو به زیاتولی نشی او نه به د زرو نه کمولی شی او مراد په ثانیی سره مسئله ثانیه ده هغه دا قول دی او بالف ان اقام بها و بالفین ان اخرجها ځکه چه که چیری دغه ښځه له کوره وباسی نو بیا مهر مثل واجب دی ځکه که مهر مثل زیات ؤ له دوه زرو نه نو بیا زیادت واجب نه دی او که د زرونه کم وی نو بیا زر واجب دی خو د زرو نه به کمولی نشی د وجی د اتفاق د زوجینو نه پدی خبره چه مهر به نه زیاتیږی په دوه زرو باندی او نه به کمیږی له زرو نه ۔

البحث المبسوط فی بیان النکاح مع الشروط

غرض د دی عبارت نه بیان د هغی نکاح دی چه د عقد په وخت کی د احد الزوجینو له طرفه پکی شروط موجود وی مثلا یو سړی د یوی ښځی سره په زر روپئ نکاح وکړه پدی شرط چه ما به له دی ښاره یا له دی کوره نه وباسی او یا دا شرط چه ځما په ژوند کی به ته بله ښځه نه کوی . او یا دا شرط چه زر روپئ مهر به وی که مقیم شو د ښځی سره او دوه زره به وی که ویستله له کوره څخه یعنی سفر ته ئی له ځانه سره بوتله۔

نو تسمیه د زر روپو خو صحیح ده خو لیکن چه د الفینو شرط ئی کیخود تردد ئی پیدا کړ ځکه چه خاوند ښځی ته مهر زر روپئ مسمٰی کړی ؤ ورسره شرط نی کینبوده چه په هغی کی د ښځی فائده ده نو پدی مکمل راضی وه نو کله چه پدی شروطو باندی وفاء وشی نو د ښځی رضا پوره کیږی ، اوکله چه پدی شروطو عمل ونکړی نو د ښځی رضا فوت کیږی ځکه هغه فقط په زرو روپو راضی نه ده بلکه په زرو روپو سره د شروطو نه راضی ده نو امام صاحب وائی چه دویم شرط صحیح ندی نو که چیری په شروطو وفا وکړه نو زر روپئ لازم دی او که په شروطوئی وفا ونکړه نو تسمیه فاسده شوه او مهر مثل لازم دی خو په شروطو فاسده سره نکاح نه فاسدیږی او د صاحبینو په نزد دواړه شرطونه صحیح دی۔

دوئی وائی دا هر یو شرط چه ذکر دی نو دا د یو قید په حیثیت ذکر دی او پدیکی هیڅ جهالت نشته نو په صورت د وفا کی زر روپئ واجب دی او په صورت د عدم وفا کی دوه زره لازم دی او د امام زفرؒ په نزد دواړه شرطونه فاسد دی نه زر روپئ لازم دی نه دوه زره بلکه په دواړو صورتونو کی مهر مثل لازم دی دا ځکه چه مهر په مقابله د بضع کی ذکر شوی نو بضع یو شی دی نو مهر دوه شیان مختلفین شو علی سبیل التردید نو د جهالت د وجی نه تسمیه فاسده شوه نو مهر مثل لازم دی خو مهر مثل به نه د زرو نه کم وی او نه به د دوو زرو نه زیات وی دارنګی د امام صاحب په نزد هم په دویمه مسئله کی چه هغه دا ده او بالف ان اقام بها و بالفین ان اخرجها به هم نه د زرو نه کمولی شی او نه به د دوه زرو نه زیاتولی شی لکن که مهر مثل د زرو نه کم وی نو بیا به زر ورکوی او د دینه به ئی نه کموی او که د دوه زرو نه زیات وی نو بیا به زیاتی نه ورکوی بلکه همغه دوه زره به ورکوی ۔

> و ان نکح بهذا او بهذا فلها مهر المثل ان کان بینهما و الا خسّ لو دونه و الا عزّ لوفوقه ای ان نکح بهذا العبد او بذلك و احدهما اکثر قیمة من الآخر یجب مهر المثل ان کان بین قیمتی العبدین ، و یجب العبد الاقل قیمة اذا کان مهر المثل دون قیمة هذا العبد و یجب العبد الاکثر قیمة ان کان مهر المثل فوق قیمته فعُلم منه انه اذا کان مهر المثل مساویا لقیمة احدهما یجب هذا العبد و لو طُلقت قبل وطی فنصف الاخس اجماعا .

ترجمه : او که نکاح ئی وکړه پدی غلام سره او پدی سره نو د ښځی لپاره مهر مثل دی که چیری مهر مثل د دواړو شیانو تر منځ وی او کمزوری غلام به ورکوی که چیری مهر مثل کم وی د کمزوری نه او او چت غلام به ورکوی که چیری مهر مثل زیات وی د کمزوری غلام نه یعنی که نکاح ئی وکړه پدی غلام سره او پدی سره او حال دا چه یو پکی قیمته ؤ د بل نه نو مهر مثل واجب دی خو که چیری مهر مثل د دواړو غلامانو د قیمت تر منځ ؤ او د کم قیمت والا غلام لازم دی که چیری مهر مثل کم وی د هغه کم قیمت والا غلام نه او د اوچت قیمت والا غلام واجب دی که مهر مثل زیات ؤ د کمزوری غلام نه نو د دینه معلومه شوه چه که مهر مثل برابر ؤ د قیمت د هر یو غلام سره د دی دوو نه نو همغه غلام به ورکوی او که دا ښځه طلاقه کړی شوه د وطی نه مخکی نو نیم به د هغه کمزوری غلام ورکوی بالاتفاق ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه خاوند ښځی ته د عقد په وخت کی دوه شیان چه قیمتونه ئی سره مختلف وی او جنس متحد وی او که مختلف وی مسمّی کړی مثلا داسی ورته ووائی چه پدی غلام سره او په هغه غلام سره خو یو پکی قیمتی وی نو که مهر مثل د دواړو تر منځ وی نو مهر مثل به ورکړی او که مهر مثل د کم قیمت والا غلام نه هم کم وی نو بیا به هم دغه د کم قیمت والا غلام ورکړی ، او که مهر مثل د دی کم قیمت والا غلام نه زیات وی نو بیا به همدغه اوچت قیمت والا غلام ورکوی او که مهر مثل د هر یو غلام سره برابر وی نو ببا همغه غلام به ورکوی خو پدی صورتونو کی که دی ښځی ته طلاق ورکړی شی د وطی نه مخکی نو بیا به نیم د دغه کم قیمت والا غلام ورکوی پدی د امام صاحب او د ده د شاګردانو اجماع ده دا ځکه چه په طلاق قبل الدخول کی چه مهر مسمی نوی نو متعه ده او مونږ مخکی ویلی دی چه متعه د نیم د کمزوری شی نه نه کمیږی نو لهذا پدی صورت کی هم علماء په نیم د کم قیمت والا غلام باندی فیصله وکړه ۔

> و ان نكح بهذين العبدين و احدهما حر فلها العبد فقط ان ساوى عشرة ، و ان شُرط البكارة و وجدها ثيبا لزمه الكل ، و صح امهار فرس و ثوب هَرَوِيّ بالَغَ في وصفه او لا ، و مكيلٍ او موزون بيَّن جنسه لا صفته و يجب الوسط او قيمته و ان بيَّن جنس المكيل او الموزون و وصفه فَذلك و لا يجب شيء بلا وطى في عقد فاسد و ان خلا فان وطى فمهر المثل و لا يُزادُ على ما سُمّى اى ان كان مهر المثل مساويا للمسمَّى او اقل فمهر المثل واجبٌ و ان كان اكثر لا تجب الزيادة .

ترجمه : او که نکاح ئی وکړه پدی دوو غلامانو سره او حال دا چه یو پکی حر ؤ نو د ښځی لپاره به فقط غلام وی خو که د لسو دراهمو سره برابر وی ، او که بکارت شرط کړی شو او موندلی شوه ثیبه یعنی بکارت زائل شوی وه نو ټول مهر لازم دی او صحیح دی په مهر کی ورکول د اسْ او د جامو چه هراتی

وی مبالغه ئې په وصف د دې کې کړې وی او که نه ، او د یو مکیلې شي یا د یو موزونې داسې چه د جنس بیان ئې شوی وی نه د صفت د دې او درمیانه د دې واجب دې یا قیمت د دې ، او که بیان د جنس د مکیلې یا د موزونې وشو او د صفت د دې.نو همدغه واجب دې او ندې واجب هیڅ شي بې له وطې نه په عقد فاسد کې اګر که خلوت موجود وی نو که وطې ئې کړې وه نو بیا مهر مثل دې او زیاتولې به نشي په مسمی باندې یعنې که مهر مثل برابر ؤ د مسمی سره یا کم د دې نه نو مهر مثل واجب دې او که مهر مثل زیات ؤ نو بیا زیادت واجب نه دې ۔

تنویر الاسحار فی بیان ما یصح به الامهار

غرض د دې عبارت نه دا دې مثلا یو سړې ښځې ته د عقد په وخت کې ووائې چه نکاح درسره کوم پدې دوو غلامانو سره او حال دا چه یو پکې حر وی نو د ښځې لپاره فقط غلام دې خو که چیرې د لسو درهمو سره برابر ؤ او که د لسو نه کم وی نو بیا دغه غلام سره د لسو درهمو دې ځکه چه مهر به د لسو درهمو نه کم نه وی ، او هر چه حر دې هغه نه صحیح کیږي ځکه چه مهر کې مال ورکول کیږي او حر مال نه دې ۔

او که د عقد په وخت کې بکارت شرط کړې مثلا خاوند ورته ووائې چه زر روپۍ به درکړم خو که باکره وی نو هغه ثیبه وه نو ټول مهر به ورکوی ځکه چه د یو وصف د وجې نه مهر کمولې نشي ، کیدې شي چه د ټوپ د وجې نه یا د بلې وجې نه بکارت ختم شوی وی لکن که پدې صورت کې د مهر مثل نه زیاتې مقررې کړې وی نو بیا د ثیبت په وخت هغه زیاتې لازم نه دې ۔

قوله و صح امهار فرس : غرض د مصنفؒ پدې عبارت سره بیان د هغه څه دې چه په هغې سره مهر صحې کیږي ۔ خو مهر مسمی په درې قسمه دې : (۱) چه جنس او وصف ئې د دواړو معلوم وی مثلا یو مکیلې یا موزونې شي چه موصوف فی الذمه وی نو پدې صورت کې تسمیه صحې ده او د دې سپارل لازم دې (۲) چه جنس او وصف ئې دواړه مجهول وی لکه نکاح په جامې سره یا په دابې سره یا په دار سره نو په دې صورت کې د ښځې لپاره مهر مثل دې (۳) چه جنس ئې معلوم وی خو وصف ئې مجهول وی لکه نکاح په یو غلام یا په یو اس باندې و غیره خو چه غیر مضاف وی نو پدې صورت کې درمیانه شي واجب دې که بعینه دغه شي سپارې او که قیمت د دې ورکوی دواړه صحې دې لکن که نکاح ئې په عقد فاسد وکړه نو پدې صورت کې نه مسمی واجب دې او نه مهر مثل اګر چه خلوت هم شوی وی خو چه وطې نوی شوی عقد فاسد دیته وائې چه په هغې کې بعضې شروط د نکاح نه وی لکه ګواهان نوی یا دوه خویندې په یو ځل په نکاح کې اخستل و غیره ۔ او په عقد فاسد کې ځکه څه شي واجب نه دې چه د عقد فاسد ختمول لازم دې نو په صرف عقد سره یا شي هم واجب ندې ، دارنګې نه په خلوت او نه په مس و غیره سره نو که بیائې وطې کړې نو بیا ده لره منافع د وطې حاصل شو او منافع د وطې بغیر د مال نه نه کیږي نو مهر

مثل واجب دی نه مهر مسمی ځکه چه عقد فاسد دی خو لیکن که مهر مثل برابر ؤ د مسمی مذکور سره یا تری کم ؤ نو بیا مهر مثل واجب دی او که مهر مثل زیات ؤ د مسمی نه نو بیا زیادت واجب ندی .

و يثبت النسب ــ و مدته من وقت الدخول عند محمدؒ و به يفتي اى ان كان من وقت الدخول الى وقت الوضع ستة اشهر يثبت النسب و ان كان اقل لا ، و عند ابى حنيفةؒ و ابى يوسفؒ يعتبر من وقت النكاح كما في النكاح الصحيح .

ترجمه : او ثابتيږی نسب ، او مده او وخت د دی له وقت د دخول نه ده په نزد د امام محمدؒ او په همدی قول یعنی ده محمدؒ په قول باندی فتوی ده یعنی که د وقت د دخول نه تر وقت د بچی پیدا کیدو پوری شپږ میاشتی وی نو نسب ثابتیږی ، او که کمی وی نو بیا نه ثابتیږی او په نزد د امام ابو حنیفهؒ او ابو یوسفؒ باندی معتبر ده له وقت د نکاح نه لکه په نکاح صحیحه کی .

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د حکم د عقد فاسد دی نو که چیری نکاح وکړه په عقد فاسد سره او د دینه بچی پیدا شی نو د دی بچی نسب به د دغه خاوند نه ثابت وی او که طلاق ئی ورکړ نو عدت پری واجب دی خو که خاوند ئی مړ شو نو په ښځی بیا عدت نشته او نه ورته د میراث حق شته ځکه چه په عقد فاسد سره وراثت نه ثابتیږی او مده د حمل په نزد د امام محمدؒ دا ده که چیری د وقت د دخول نه تر وقت د بچی پیدا کیدو پوری شپږ میاشتی وی نو نسب د بچی به ثابتیږئ او که د شپږو میاشتو نه کمه وی نو بیا نسب نه ثابتیږی اگر که وخت د عقد نه شپږ میاشتی وی او د شیخینو په نزد د وخت د نکاح نه مده د حمل به معتبره وی لکه څرنګه چه په نکاح صحیحه کی وی .

و مهر مثلها مهرمثلها من قوم ابيها وقت العقد اى يثبت مهر مثلها ثم بينه بقوله مهر مثلها فيُراد بالاول المعنى المصطلح شرعا و بالثانى المعنى اللغوى اى مهر امرأة مماثلة لها و هى من قوم ابيها .

ترجمه : او مهر مثل د دی چه دی نو هغه مهر د هغی ښځی دی چه مماثله او مشابه وی د دی سره او حال دا چه هغه ښځه د قوم د پلار د دی نه وی په وقت د عقد کی یعنی ثابتیږی مهر مثل د دی بیائی بیان وکړ پدی قول سره چه مهر مثلها نو مراد په اول سره معنی اصطلاحی ده شرعا او په دویم سره معنی لغوی ده یعنی مهر د هغی ښځی چه مماثله وی د دی سره او حال دا چه هغه د قوم د پلار د دینه وی .

تشریح او توضیح : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د مهر مثل دی نو مهر مثلها اول ئی مبتدا ده او ثانی ئی خبر دی خو دلته یو اعتراض راځی چه دلته خو مبتدا او خبر یو شول نو دا اخبار عن الشیء لنفسه راغی ؟ نو شارحؒ د دی جواب وکړ چه مراد د اول نه مصطلح شرعی دی او د دویم نه لغوی دی بل شارحؒ په یثبت عبارت سره دی خبری ته اشاره کړی چه مهر مثلها عبارت عطف دی په النسب باندی او

دیثبت لاندی راخی اگر چه مصنفؒ د عقد فاسد په صورت کی دمهر مثل حکم مخکی بیان کړی خو لیکن زه دا وایم چه هغه اجمالی حکم ؤ او اوس د مهر مثل تفصیلی حکم او بیان دی کما لا یخفی علی احد ۔

او وقت العقد عبارت دا ظرف دی د مهر مثل ثانی لپاره نو داسی به شی چه مهر مثل عبارت د مهر د هغی ښځی نه چه مماثله او همشکله وی د دی سره په وقت د نکاح کی په هغه اوصافو مذکوره ؤ کی چه ذکرئی راروان دی خو پدی شرط چه دا د قوم د پلار د دی نه وی لکه د تره لور و غیره ۔

ثم بیَّنَ ما به المماثلة بقوله سنًا و جمالا و مالا و عقلا و دینا و بلدا و عصرا و بکارة و ثیابة فان لم توجد منهم فمن الاجانب لا مهر امها و خالتها الا اذا کانتا من قوم ابیها ای اذا کانت امها بنت عم ابیها .

ترجمه : بیا مصنفؒ بیان کړ هغه اوصاف چه په هغی سره مماثلت راځی پدی قول سره سنا الخ یعنی په اعتبار د عمر سره او ښائست سره مال سره عقل سره دین سره ښار سره زمانی سره بکارت سره ثیبت سره نو که موجوده نشوه له دوی نه نو بیا د پردو نه نه مهر د مور د دی او د خالی د دی مگر که مور د ه او خاله د ده وه د قوم د پلار د دی نه یعنی د دی مور د دی د پلار د تره لور وه ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د هغه اوصافو دی چه په هغی سره مماثلت راځی نو د یو د دی اوصافو نه عُمر دی نو عمر کی د کلونو اعتبار نشته بلکه مراد د دی نه صغر او کبر یعنی چه په ځوانئ او بوډاوالی کی سره برابر وی ، بل ښائست دی بل مال یعنی چه مالدارئ او فقیرئ کی به هم برابر وی ، بل عقل دی چه په عقل کی یعنی په پوهه کی سره برابر وی دارنګی پدیکی علم هم شامل دی او ادب تقوی او پوهه او ښه اخلاق هم شامل دی ، بل په اعتبار د دین سره یعنی په اسلام سره په کفر سره دینداری سره او په اعتبار د ښار سره ځکه د ښهرئ او غیر ښهرئ په مهر کی فرق وی ، دارنګی په زمانه کی به برابره وی ځکه چه د هری زمانی ښځی مهر جدا دی او په بکارت او ثیبت سره باکره دیته وائی چه هغه واده شوی نوی او ثیبه دیته وائی چه هغه واده شوی وی نو د باکری مهر یو شان وی او د ثیبی بل شان وی ، نو په بکارت او ثیبت کی سره به برابره وی نو که د دی د پلار په قوم کی پیدا نه شوه نو بیا به د لری خلکو نه یعنی کوم خلک چه د دی د پلار د قوم سره مماثل وی او د دی د مور یا د خالی یعنی د مور د خور مهر معتبر ندی دارنګی د مور قوم هم معتبر ندی ځکه چه انسان د پلار د قوم نه پیژندلی شی نه د مور د قوم نه مگر که مور د دی د پلار د قوم نه وی نو بیا مهر د دوی معتبر دی مثلا د دی پلار د خپل تره لور په نکاح واخسته نو د دی مور بیا د پلار د قوم نه راځی خو سره د دینه به هغه مذکوره اوصاف هم معتبر وی ، دارنګی حال به د خاوند هم معتبر وی یعنی د دی خاوند به د دی د امثالو برابر وی په ښائست کی په مال کی په نسب کی وغیره ۔

و صح ضمان ولیها مهرَها و لو صغیرة و تطالب ایًّا شاء ت و لو ادی رجع علی الزوج ای ضمن بامره و الا فلا ، انما قال و لو صغیرة لانها اذا کانت صغیرة فمطالبُ المهر لیس الا ولیها فیوهم انه لا یجوز الضمان لانه باعتبار الضمان یکون مطالبا لکن لا اعتبار لهذا الوهم لان حقوق العقد هنا راجعة الی الاصیل فالولی سفیر و معبر بخلاف البیع فانه اذا باع الابُ مالَ الصغیر لا یجوز ان یضمن الثمن لان الحقوق راجعة الی العاقد .

ترجمه : او صحي دی ضمانت د ولي د دی د مهر د دی اګر که دغه ښځه وړه وی او مطالبه به کوی دغه ښځه د کوم یو نه چه د دی خوښه وی او که ولی مهر اداء کړ نو بیابه ولی رجوع وکړی په خاوند د دی خو که ولی ضمانت کړی ؤ په امر د خاوند او که د ده په امر ئی نه ؤ کړی نو بیا رجوع نشی کولی ، او مصنف داسی ووېل و لو صغیرة اګر چه وړوکی وی دا ځکه چه کله ښځه وړه وی نو طلب کوونکی د مهر نه وی مګر ولی د دی نو دا وهم راته چه پدی صورت کی به ضمان جائز نه وی ؟ ځکه چه ولی په اعتبار د ضمانت سره مطالب یعنی د ده نه به غوښتلی شي راځي نو یو کس چه ولی دی هم مطالِب شو او هم مطالَب شو لکن د ی وهم ته هیڅ اعتبار نشته ځکه چه حقوق د عقد په باب د نکاح کی راجع وی اصیل ته نه وکیل او ولی ته ځکه ولی سفیر او معبر دی په خلاف د بیع ځکه چه کله پلار خرڅ کړی مال د ماشوم نو جائز ندی چه پلار ضمانت د پیسو وکړی ځکه حقوق راجع وی عاقد ته ـ

التبیان فی تصحیح الضمان

غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چه که چیری د ښځی ولی د دی د مهر ضمانت د خاوند له طرفه په غاړه واخلی نو دا ضمانت ئی صحیح دی خو شرط پکی دا دی چه ښځه ئی قبول کړی او که ښځه وړه وی چه د دی په ځای ئی بل څوک قبول کړی دارنګی که د زوج ولی دی د مهر ضمانت وکړی نو هم صحیح ده زوجین دواړه واړه وی او که غټ وی خو لیکن که ښځه بیا د مهر مطالبه کوی نو خوښه ئی چه د خاوند نه ئی کوی او که د ولی ضامن نه ئی کوی ، او که ولی ضامن د دی ښځی مهر اداء کړ نو بیا به دغه ولی د دی زوج نه مطالبه وکړی خو که د زوج په امر ولی ضمانت کړی ؤ او که د زوج په امرئی ضمانت نه ؤ کړی نو بیا د خاوند نه د دی مهر مطالبه کولای نشی دارنګی که پلار د ورکوټی ځوی په ځای ضمانت وکړ بیا دغه پلار د دغه ځوئی نه سبا ورځ غوښتنه کولی نشی ځکه عرف کی څوک بیا د ځوی نه مهر نه اخلی خو که پلار د مهر ورکولو په ورځ ګواهان ودرول چه سبا ورځ که زما ځوی راز لمی شی نو زه بیا خپل حق چه د ده په مهر کی می ورکړی اخلم نو ناسی ګواهان او سی نو بیا ئی پلار دا حق لری چه تری وئی غواړی ـ و انما قال و لو صغیرة الخ غرض د شارح پدی عبارت سره دا دی دفعه د یو اعتراض ده هغه دادی چه داسی عبارت راوړل یعنی په واو وصلیه سره په هغه ځای کی راوړلی

شي چه اشتباه وي او دلته په كبيره كي هيڅ اشتباه نشته ځكه چه طلب كونكى ښځه وي او مطالبه د ولي ضامن نه كولى شي ؟

نو شارحؒ د دې اعتراض جواب وكړ چه صحيح ده چه په كبيره كې څه اشتباه نه راځي خو ليكن په صغيره كې يو وهم او اشتباه راځي هغه داسې چه كله ښځه ماشومه وي نو د دې د مهر مطالبه به خامخا ولي كوي او ولي چه ضامن هم شي نو يو كس هم طلب كونكى شو او هم مطالَب چه د ده نه طلب كولى شي نو دا وهم راته چه د ولي ضمانت به صحيح نه وي ؟ نو د دې لپاره مصنفؒ خبره ښكاره وكړه چه اګر چه صغيره هم وي د دې د مهر ضمانت ولي كولى شي يعني د صغيرى او كبيرى حكم يو دى لكن شارحؒ وائي چه دى وهم ته هم څه اعتبار نشته ځكه چه په باب د نكاح كې حقوق د عقد اصيل ته يعني احد الزوجين ته راجع كيږي نه ولي ته راجع كيږي او نه وكيل ته راجع كيږي ، او ولي محض سفير او معبر وي او په باب د بيع كې بيا حقوق عاقد ته راجع كيږي برابره خبره ده چه عاقد اصيل وي اوٚ كه ولي وي او كه وكيل وي نو كه پلار د صغير مال خرڅ كړي نو پلار د دې پيسو اورويو چه كومې په مشترى دى ضمانت نشي كولى ځكه چې پلار دلته عاقد وګرځيده او په بيع كې حقوق مثلاً د مبيعي سپارل د پيسو قبضول و غيره ټول عاقد ته راجع كيږي نو كه ولي چه پلار دى ضامن شي نو يو سړى به هم مطالِب شي او هم مطالَب شي ، وَ ذا لا يجوز فضمانة الولي في باب البيع ايضًا لا يجوز.

> و لها متعة من الوطي و السفر بها و النفقة لو منعت اى لها النفقة على تقدير المنع و لو بعد وطي او خلوة برضاها احتراز عن قولهما فانه اذا وطيها او خلا بها مرّة برضاها لا يبقى لها حق المنع لانها سلّمت اليه المعقود عليه فلا يكون لها حق الاسْتِرْدادِ و لابى حنيفةؒ ان ول وطية معقودٌ عليها فتسليم البعض لا يوجب تسليم الباقى .

ترجمه : او شته دى حق ښځې لره منع كول د خاوند د وطي نه او د سفر كولو نه پدى ښځې سره او شته دى ښځې لره نفقه كه ښځې منعه وكړه (د وطي نه او د سفر) اګر كه پس له وطي نه وي او يا د خلوت نه وي چه په رضا د دې سره وي ، د برضاها په قيد سره مصنف احتراز وكړ د قول د صاحبينو نه ځكه د دوى په نزد باندى كله چه ښځه وطي كړي او يا خلوت ورسره يو ځل په رضا سره وكړي نو بيا ښځې لره حق د منع والى نه پاتې كيږي ځكه ښځې خپل معقود عليه چه بضع ده خاوند ته سپارلى دى نو ښځې لره حق د رد كولو نشته او د ابو حنيفةؒ لپاره دليل دا دى چه هر وطي جدا جدا معقود عليه ده نو تسليم د بعضى نه واجبوى تسليم د باقى ۔

تشريح او توضيح : غرض د دې عبارت نه دا دى چه ښځې ته دا جائز دى چه ترڅو دى مهر معجل قبض كړې نوى چه خاوند د استمتاع يعني د وطي نه او د دواعي د وطي نه منعه كړي ځكه چه

مهر معجل عوض د منافع د بضع دی نو دا پشان د بیع شو او بائع لره حق د منعه کولو د مبیعی شته تر څو چه د مشتری نه ثمن قبض کړی نوی ، خو لیکن که نه ئی وطی ورسره کړی وه او نه خلوت ورسره کړی وو په رضا سره نو بیا خاوند ته دا جائز نه دی بالاتفاق چه په زوره ورسره وطی وکړی او که مخکی په رضا سره خلوت یا وطی کړی وه نو بیا هم د امام ابو حنیفة په نزد باندی په زوره وطی کولی نشی ، او د صاحبینو په نزد ی وطی کولی شی .

دارنګی په صورت د عدم قبض د مهر معجل کی ښځی لره حق د دی هم شته چه خاوند سره سفر ته لاړه نشی خو لیکن د ښځی د منعی په ؟صورت کی ښځی لره حق د نفقی شته اګر که یو ځل ئی په رضا سره خلوت یا وطی ورسره کړی وی او یائی په زوره ورسره وطی کړی وی ځکه د امام ابو حنیفة په نزد هره وطی ځانته معقود علیها ده نو په سپارلو د بعضی سره یعنی چه یو ځل ئی ورسره وکړه نو د باقی سپارل یعنی بیا ورسره وطی کول نه واجبوی

او صاحبین وائی چه که ښځی یو ځل په رضا سره خلوت یا وطی له خاوند سره وکړه نو بیا ورته حق د منع نشته ځکه ښځی معقود علیه چه بضعه ده ورته وسپاره نو اوس که ښځه دوباره منعه کوی نو دا به بیا ناشزه وی او د ناشزی لپاره نفقه نشته خو که د خاوند په کور کی وه نو بیا ورته نفقه شته .

قبل اخذ ما بُیِّنَ تعُجیله کُلًا او بعضا ـ الظرف و هو قبل متعلق بقوله و لها منعه ثم عطَفَ علی قوله ما بُیِّنَ تعجیله قولَه او قدرِ ما یُعَجَّل لمثلها من مثل مهرها عرفا غیر مقدر بالربع و الخمس ان لم یُبَیِّنْ ـ لفظ المختصر هذا : والمعجل والمؤجل ان بُیِّنا فذاك و الا فالمتعارف .

ترجمه : مخکی له اخستو د هغه مهر نه چه بیان شوی وی تعجیل د دی تول وی او که بعضی وی او ظرف چه هغه قبُل دی متعلق د دی قول د مصنف پوری چه ولها منعه ، بیا مصنف عطف کړیدی قول باندی چه ما بُیِن تعجیله دا قول خپل او قدرِ الخ یا په اندازه د هغه مهر چه تعجیل کولی شی لپاره د مثل د داسی ښځی د مثل د داسی مهر نه په عرف کی خو چه مقدر نوی په ربع سره یا په خمس سره که چیری بیان د تعجیل نوی شوی او د مختصر عبارت داسی دی چه مهر معجل یا مؤجل که بیان کړی شو نو همدغه به وی او که بیان نشو نو متعارف به وی .

تشریح او توضیح : پدی عبارت کی قبل ظرف دی او دا متعلق دی تر مخکنی عبارت پوری چه دا دی ـ ولها منعه ـ نو معنی به ئی داسی شی چه شته دی ښځی لره حق د منع کولو مخکی د اخستو د هغه مهر نه چه بیان د تعجیل د هغی شوی وی یعنی کوم مقدار چه د هغی د تعجیل بیان شوی وی چه هغه په وخت د نکاح کی ورکولی شی او تاخیر به پکی نشی کولی هغه تول وی او که بعضی حصه وی نو ښځی لره حق د منع شته چه د دی مهر د اخستو نه مخکی خاوند د وطی نه منع کړ خو د معجل

بیان ئی شوی نه وو نو بیا دی لره حق د منع مخکی د هغی اندازی مهر نه ښته دی چه کوم په عرف کی د دی ښځی په شان نورو ښځو لره مقرر وی ، بغیر د اعتبار د ثلث یا ربع نه یعنی اعتبار پدی باب کی عرف ته دی نه اندازی ته په عرف کی چه څومره مقرر وی هغه به وی خو د مختصر عبارت داسی دی چه د مهر معجل یا د مؤجل بیان که شوی ؤ یعنی د نکاح په وخت داسی ووائی چه مثلا ټول مهر به سمدستی ورکوی نو بیا به سمدستی ټول ورکوی او که ووائی چه بعضی به اوس ورکوی او د بعضی لپاره نیټه وټاکی نو همداسی به کوی چه څومره معجل مقرر وی نو هغه به معجل ورکوی او کوم چه په نیټه دی نو هغه به په نیټه ورکوی او که داسی ووائی چه ټول به د فلانی نیټی نه وروسته ورکوم نو بیا به ټول همغه مقرره نیټه ورکوی خو که نه د معجل بیان شوی وو او نه د مؤجل نه د بعضی بیان شوی ؤ نه د ټولو نو بیا به ګوری چه د دی پشان د بلی ښځی مهر څومره دی او څومره معجل ورکړی او څومره مؤجل ورکړی نو په همغه طریقه چه کومه په عرف کی وی ورکوی به ئی -

والسفر والخروج للحاجة و زيادة اهلها بلا اذنه قبل قبضه اى ولها السفر الى آخره قبل قبض المعجل لا بعده .

ترجمه : او شته دی ښځی لره سفر کول او وتل د کوره څخه د حاجت لپاره او زیارت کول د خپلو خپلوانو بغیر د اجازته د خاوند نه مخکی د قبض کولو د مهر معجل نه یعنی ترڅو ئی چه ښځی ته مهر معجل نوی ورکړی نو هغه یعنی خاوند ښځه منع کولی نشی د سفر نه یا د خارجی کارونو لپاره د ضرورت مطابق یا د خپلو اقاربو د ملاقات لپاره د وتلو نه خو که مهر معجل ئی قبض کړ نو بیا ورته حق د سفر یا د کور نه د وتلو لپاره یا د خپلوانو د ملاقات لپاره بی دا جازته د خاوند نه نشته -

و لا لها المنع لقبض الكل فى المختار اى ان لم يُبَيِّنْ المعجل والمؤجل لا يكون لها ولاية منع النفس لاخذ كل المهر فهذا الحكم قد فهم مما تقدم فانه اذا قال او قدرِ ما يعجل الى قوله ان لم يبين فتقيد ولاية المنع بقدر المعجل يدل بطريق المفهوم على ان ليس لها ا لمنع لقبض الزائد على هذا المعجل و لا خلاف فى ان التخصيص بالذكر فى الروايات يدل على نفى الحكم عما عداه لكن اراد التصريح بهذا ليدل على انه مختلف فيه والمختار هذا فان المتاخرين اختاروا هذا بناء على المتعارف و ان كان اصل المذهب ان لها ولاية المنع لا خذ كل المهر اذا لم يبين مقدار مهر العجل والمؤجل لان المهر عوض البضع فما لم تقبض كل العوض لا يجب عليها تسليم البضع .

ترجمه : او نشته ښځی لره ولایت د منع د پاره د قبض کولو د ټول مهر په قول مختار کی یعنی که بیان ئی نکړ مهر معجل او مؤجل نو نشته دی ښځی لره ولایت د منع د نفس (له وطی نه) لپاره د

اخستو د تول مهر نو دا حکم په تحقیق سره معلوم شوی د مخکنی عبارت نه ځکه مصنف چه کله وویل چه او قدرِ ما یعجل تر دی قول پوری چه ان لم یبین نو مقید کول د ولایت د منع په اندازه د معجل دا دلالت کوی په طریق د مفهوم سره پدی چه نشته دی ښځی لره منع د پاره د قبض کولو د هغه زیاتی په دی مهر معجل باندی ، او هیڅ اختلاف نشته پدیکی چه تخصیص په ذکر سره په روایاتو کی دلالت کوی په نفی د حکم د ماسوا د دینه لکن مصنف اراده د تصریح وکړه پدی باندی د دی لپاره چه دلالت وکړی پدی باندی چه دا حکم مذکور اختلافی دی او غوره پکی دا دی ، ځکه متاخرینو غوره کړی دا حکم مذکور بناء په عرف باندی اگر که اصل مذهب دا دی چه دی لره ولایت د منع شته لپاره د اخستو د تول مهر کله چه بیان نکړی هغه اندازه د مهر معجل او مؤجل ځکه مهر عوض د بضع دی نو ترڅو پوری چه قبض کړی نوی تول عوض نو تسلیم د بضع په ښځه باندی واجب نه دی .

تشریح او توضیح : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چه کله بیان د معجل او مؤجل شوی نه وی نو بیا ښځی ته دا حق نشته چه خاوند د خپل نفس نه د تول مهر د قبض کولو لپاره منع کړی په قول مختار کی لکه څرنگه چه مخکی تیر شو چه کله بیان د معجل او مؤجل شوی نه وی نو بیا به متعارف وی نو پدی صورت کی هم به داسی وی . قوله فهذا الحکم قد فهم الک .

غرض د شارح د دی عبارت نه یو اعتراض کول دی په مصنف باندی هغه داسی چه د مصنف دا حکم چه عدم منع لقبض لکل دی خو د ده د مخکنی عبارت نه په طریقه د مفهوم مخالف سره معلومیږی هغه داسی چه ده مخکی وویل چه او قدر ما یعجل تر دی قول پوری چه ان لم یبین نو پدی کی ولایت د منع حکم شو او قدر ما یعجل پکی مقید شو نو چه قدر معجل قید وی په صورت د عدم بیان د تعجیل کی نو حکم چه ولایت د منع دی خامخا به وی نو په طریقه د مفهوم مخالف سره د دینه دا معلومه شوه چه کله بیان د معجل شوی نه وی نو بیا دیته ولایت د منع نشته د تول مهر د اخستو لپاره یعنی په انتفاء د دی قید سره به انتفاء د حکم راځی نو چه کله دا حکم په طریقه د مفهوم سره د مخکی عبارت نه معلومیده نو بیا راوړل د دی حکم صرحه یو عبث کار شو ؟

د دی اعتراض جواب شارح په لکن اراد سره کوی خو اوس د شارح په دی اعتراض بل یو اعتراض راځی هغه داسی چه شارح پدی ځای کی د مفهوم خبره کوی او مفهوم چه هغه مفهوم المخالف وی یا مفهوم القید وی یا مفهوم الشرط وی او که مفهوم الوصف وی نو دا تول زمونږ د احنافو په نزد غیر معتبر دی دا د امام شافعی په نزد حجت او دلیل دی نو بیا ذکر د مفهوم عبث راځی ؟ نو شارح جواب وکړ په ولا خلاف سره چه صحیح خبره دا ده چه مفهوم زمونږ په نزد غیر معتبر دی خو لیکن دا په نصوص شرعیو کی او په احکامو کی اما په عباراتو او فقهی روایاتو کی خاص طور په مختصر متونو کی د دی په اعتبار

کی هیڅ اختلاف نشته دا بالاتفاق معتبر دی یعنی چه تخصیص د وصف یا د قید په ذکر سره وشی په روایاتو کی نو دا دلالت کوی په انتفاء د دی حکم په انتفاء د دی قید یا وصف سره ۔ قوله لکن اراد : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره جواب د رومبنی اعتراض دی هغه داسی چه دا مذکور حکم صحیح دی چه د ماسبق نه معلومیده خو لیکن پدی حکم کی د علماء تر منځ اختلاف ؤ نو مصنفؒ تصریح پدی اعتبار وکړه چه دا قول چه ما ذکر کړ دا مفتی به دی او دا غوره قول دی د دی وجی نه مصنف وویل چه فی المختار ځکه چه په طریقه د مفهوم سره داخبره نه معلومیده نو متاخرینو علماؤ دا خبره غوره کړه بناء په عرف باندی ځکه په عرف کی چه کله ښځه مهر معجل واخلی نو بیا منع د خاوند نه کولی نشی اګر که په اصل مذهب کی دی لره حق د منع د کل مهر په هغه صورت کی شته چه کله د مهر معجل مقدار بیان نشی یا د مؤجل ځکه مهر عوض د بضع دی نو ترڅو چه مکمل عوض قبض نکړی نو تسلیم د بضع په ښځه باندی واجب نه دی ۔

ولا لو اَجَّل کله فانه لو اجَّل الکل فقد سقط حقها فلا یکون لها منع النفس لاخذہٖ .

ترجمه : او نشته ښځی لره ولایت د منع د زوج که چیری ټول مهر په تاجیل یعنی په نیتی سره مقرر شو ځکه چه کله ټول مهر په نیته مقرر شی نو بیا حق د ښځی د منع کولو د خاوند ساقط شو نو بیا ښځه دا خستو د دی مهر لپاره د نیتی نه مخکی دا حق نه لری چه خاوند د خپل نفس نه منع کړی ۔

و له السفر بها بعد ادائه فی ظاهر الروایة ای بعد اداء ما بین تعجیله او قدر ما یُعجل لمثلها فی ظاهر الروایة و قیل لا و به افتی الفقیه ابو اللیث وله ذلك فیما دون مدته ای له نقلها فیما دون مدة السفر .

ترجمه : او خاوند ته شته حق د سفر کولو د ښځی سره پس له اداء کولو د هغه مهر چه بیان د تعجیل د هغی شوی وی او یا هغه اندازه چه عرف کی تعجیلا ورکولی شی په ظاهر الرویت کی ، او بعضی وائی چه د ښځی د رضاء نه بغیر د دی سره کولی نشی او په همدی قول باندی فقیه ابو اللیث نصر بن محمد الشمرقندی فتوی ورکړیده او خاوند ته شته دی حق د نقل کولو د دی ښځی دومره فاصلی ته چه دمدی د سفر نه کم وی خو دلته سفر شرعی مراد نه دی بلکه لغوی مراد دی چه هغه انتقال د یو ځای نه بل ځای ته دی ۔

فائده : د ظاهر الروایت مطلب څه دی ؟ دا د کتابونو نومونه دی چه مسمی په اصولو سره دی چه دا دی (۱) الجامع الکبیر (۲) الجامع الصغیر (۳) السیر الکبیر (۴) السیر الصغیر (۵) المبسوط (۶) الزیادات دی دا ټول د امام محمدؒ کتابونه دی خو لیکن سیر صغیر او سیر کبیر دا د ده اخری تصنیفات دی چه د عراق نه بیرته راوګرځیده ، او مبسوط هم معبر په اصل سره دی لیکن بعضی علماء د سیر دواړو قسمونه د اصول نه نه شماری او د دی شپږو نه ماسوا نوروته نادر الروایت وائی لکه آمالی د امام ابویوسفؒ

او الرقيات د امام محمدؒ چه پديکي څه مسائل دي چه امام محمدؒ راجمع کړي کوم وخت کي چه دي د الرقة بفتح الراء المهملة و تشديد القاف مقام کي قاضي ؤ چه دا مقام د فرات په طرف کي يو ښار دي او د دي مسائلو روايت د امام محمد نه محمد بن سماعه کړي دي ـ بل کيسانيات دي دا څه مسائل دي چه د دي املاء امام محمدؒ په ابو عمر باندي کړي وه ، دارنګي په سليمان بن شعيب الکيساني باندي ـ

کيساني منسوب دي کيسان ته نو د دي وجي نه د دي نسب هم ده ته وشو بل هارونيات دي دا هغه مسائل دي چه امام محمدؒ د هارون الرشيد په زمانه کي راجمعه کړي ؤ نو نسبت ئي هارون الرشيد ته وشو ، بل جرجانيات دي دا هغه مسائل دي چه امام محمدؒ په جرجان کي راجمعه کړي ؤ ـ هر هغه کتاب ته چه نسبت د کبير کيږي هغه روايت د امام محمدؒ دي د امام ابو حنيفةؒ نه بلا واسطه او هر هغه کتاب ته چه نسبت د صغير کيږي هغه روايات د امام محمدؒ دي د امام ابو حنيفةؒ نه خو په واسطه د امام ابويوسفؒ ـ

يو روايت کي راځي چه امام شافعيؒ د امام محمدؒ مبسوط ډير خوښ کړ او بيائي ياد کړ ، او د کفارو د اهل کتابو نه يو حکيم ؤ چه هغه د امام محمدؒ مبسوط مطالعه کړ او وئي ويل چه د استاسي د ورکوتي محمد کتاب دي نو ستاسو د لوی محمد ﷺ کتاب به څرنګه وي نو بيائي اسلام قبول کړ ـ په نهايه کي راغلي چه امام محمدؒ د اکثره کتابونو قرائت امام ابويوسفؒ ته وکړ ليکن کوم کي چه نوم د کبير راته نو هغه ونکړ لکه مضاربت کبير ، مزارعت کبير ، مأذون کبير ، جامع الکبير ، سير کبير ، خو امام محمدؒ په سير کبير کي د امام ابو يوسفؒ نوم ذکر کړي ندي ځکه د دي تصنيف د امام ابويوسفؒ سره د جدائي نه وروسته شوي دي ، خو ليکن کله به چه د امام ابويوسفؒ روايت ته محتاجه شو نو بيا به ئي داسي ويل چه اخبرني الثقة يعني ماته ثقه او اعتمادي شخص داسي خبر راکړي ، حاشية الطحطاوي علی مراقي الفلاح ص ۱۵ـ ۱۶ طبع قديمي کتب خانه کراچي ـ

و ان اختلف في المهر في اصله يجب مهر المثل اجماعا ای ان اختلفا فقال احدهما لم يسم مهر و قال الآخر قد سُمّي فان اقام البينة لا شك في قبولها و ان لم يُقم فعندهما يُحلّف فان لكل ثبت دعوی التسمية و ان حلف وجب مهر المثل و اما عند ابی حنيفةؒ ينبغي ان لا يُحلّف لانه لا يُحلّف في النكاح عنده فيجب مهر المثل .

ترجمه : او که مختلف شو ښځه او خاوند په مهر کي نو په اصل د مهر کي واجب دی مهر المثل بالاتفاق يعني که مختلف شو د واړه نو يو د دي دواړو نه وويل چه مهر مقرر شوي ندي او بل وويل چه مقرر شوي دي نو که مدعی قائم کړل ګواهان نو هيڅ شک نشته په قبلولو د دي ګواهي کي او که ګواهان ئي قائم نه کړل نو د صاحبينو په نزد به منکر ته قسم ورکولي شي نو که منکر انکار د قسم نه وکړ نو ثابته شوه دعوه د تسميي ، او که منکر قسم وکړ نو مهر مثل واجب دي او د امام ابو حنيفةؒ په نزد باندي مناسب ده چه

منکر ته قسم ورنکړی شی ځکه د ده په نزد په نکاح کی قسم ورکولی نشی نو مهر مثل واجب دی ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنف په دی عبارت سره بیان د اختلاف دی د زوجینو مینځ کی ، کله چه د ښځی او خاوند تر مینځ اختلاف په مهر کی راشی نو دا اختلاف په څو قسمه دی یو دا چه په اصل مهر کی وی بل دا چه په اندازه د مهر کی وی ، دا هر یو به بیا خالی نه وی یا به په حالت د حیات د دی دواړو کی وی او یا به پس له مرګ د دی دواړ نه وی هغه داسی چه د دوئی د ورثوو تر مینځ اختلاف راشی او یا به پس د مرګ د یو د دی دواړو نه وی هغه داسی چه د یوه د ورثوو د بل د ورثو سره اختلاف راشی دا هر یو به یا بعد الدخول وی او یا به قبل الدخول وی د دی هر یو حکم به انشاء الله تعالی په تفصیل سره راځی ۔

(۱) چه اختلاف د زوجینو په اصل مهر کی راشی چه یودعوه د دی کوی چه مهر د نکاح په وخت کی مقرر شوی او بل دعوه د دی وکړی چه مهر مقرر شوی نه دی نو که مدعی د تسمیی ګواهان مقرر کړل نو ګواهان به قبول وی او د ده دعوه به ثابته وی او هم دغه مسمی به واجب وی او که مدعی ګواهان قائم نه کړی نو د صاحبینو په نزد باندی به منکر د تسمیی ته قسم ورکولی شی ځکه حدیث مبارک راځی چه په مدعی ګواهان دی او په منکر باندی قسم دی نو که منکر د قسم نه انکار وکړنو بیا د مدعی دعوه د تسمیی ثابته شوه ځکه انکار د منکر په حکم د اقرار کی دی په هغه څه باندی چه مدعی دعوه کوی ۔
او که منکر قسم وکړنو بیا مهر مثل واجب دی ځکه چه د مدعی دعوه باطله شوه او تسمیه ثابته نشوه او چه کوم ځای کی تسمیه نوی نو هلته مهر مثل واجب وی او د امام ابو حنیفة په نزد باندی به منکر ته قسم ورکولی نشی ځکه په نکاح کی قسم ورکولی نشی د ده په نزد د نو مهر مثل به واجب وی خو دا په هغه وخت کی چه دا اختلاف بعد الدخول وی او که دا اختلاف قبل الدخول وی نو بیا بالاتفاق متعه واجب ده ۔

و فی قدره حال قیام النکاح القول لمن شهد له مهر المثل مع یمینه ای ان کان مهر المثل مساویا لما یدعیه الزوج او اقل منه فالقول له مع الیمین و ان کان مساویا لما تدعیه المرأة او اکثر منه فالقول لها مع الیمین .

ترجمه : او په اندازه د مهر کی په حالت د قیام د نکاح کی نو قول به د هغه چا معتبر وی چه موافق شی د ده سره مهر مثل سره د قسم د ده نه یعنی که مهر مثل برابر ؤ د هغه مقدار سره چه خاوندئی دعوه کوی او یا مهر مثل کم وی د دینه نو قول د خاوند به معتبر وی خو سره د قسم د ده نه او که مهر مثل برابر ؤ د هغه مقدار سره چه د هغی دعوه ښځه کوی او یا مهر مثل زیات ؤ د دینه نو بیا قول د ښځی معتبر دی خو سره د قسم نه ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د هغه اختلاف دی چه په مقدار کی واقع وی یعنی په اصل مهر کی دواړه متفق وی چه هر یو د دی قائله وی چه مهر مقرر شوی خو لیکن

د دوی اختلاف په مقدار کی وی چه خاوند د یو مقدار مثلا زر روپو دعوه کوی او ښځه د بل مقدار دعوه کوی مثلا د وو زرو دعوه کوی خو نکاح د دوئی تر منځ قائمه وی قبل الدخول وی او که بعد الدخول وی او که بعد الطلاق والدخول وی نو قول به د هغه چا معتبر وی چه مهر مثل د ده مساوی وی مثلا مهر مثل زر روپی وی یا د دینه کم وی نو پدی صورت کی به قول د خاوند معتبره وی خو لیکن سره د قسم نه نو یو پکی به منکر ګڼلی شی او بل به مدعی چه هغه منکر خاوند دی د زیات نه نو یمین به هم خوری او که مهر مثل مثلا دوه زره یا زیات ؤ نو بیا قول د ښځی معتبر دی خو سره د قسم نه ځکه پدی صورت کی ښځه منکره جوړه شوه اوسړی مدعی جوړ شو والتفصیل فی البنایه ۔

و ایٌ اقام بينة قبلت شهد مهر المثل له او لها و ذلك لان المرأة تدعى الزيادة فان اقامت بينة قبلت و ان اقام الزوج وحده تقبل ايضا لان البينة تقبل لدفع اليمين كما اذا اقام المودَع بينة على رد الوديعة الى المالك تقبل .

ترجمه : او هر د خاوند او ښځی نه چه قائم کړل ګواهان نو قبلولی به شی برابره خبره ده چه مهر مثل ګواهی د ده لپاره کوی او یا د ښځی لپاره ، دا ځکه چه ښځه دعوه د زیادت کوی نو که ګواهان ئی قائم کړل قبلولی به شی او که خاوند ګواهان قائم کړل یواځی نو هم به قبلولی شی ، ځکه ګواهان قبلولی شی لپاره د دفع کولو د قسم لکه چه قائم کړی مودَع (هغه چه امانت ورسره ایخودلی شوی وی) ګواهان په واپس کولو د امانت سره خپل مالک ته نو قبلولی شی ۔

تشریح او توضیح : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د شهودو د زوجینو دی کله چه ښځی خاوند کی هر یو د خپلی دعوی د ثابتولو لپاره ګواهان قائم کړی برابره خبره چه مهر مثل د خاوند د مدعی سره برابر وی یا کم وی او که ښځی د مدعی سره برابر یا زیات وی ، او که د یو سره هم برابر نه وی مثلا د دواړو تر منځ وی نو پدی دری واړو صورتونو کی به ګواهان قبلولی شی ،

قوله و ذلک الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره دفع د یو اعتراض ده هغه داسی چه ګواهان هلته قبلولی شی چه کله مدعی قائم کړی او د منکر ګواهان خو به قبلولی نشی ځکه ګواهان د اثبات لپاره وی او په دی مسئله کی خاوند منکر د زیادت دی نو باید چه د ښځی ګواهان قبول شی او د خاوند قبول نشی ؟

نو شارحؒ د دی جواب ورکړ چه لان المرأة الخ : ځکه چه ښځه دعوه د زیادت کوی نو که ګواهان ئی قائم کړل نو د دی ګواهان به منظور وی ځکه ګواهان د اثبات لپاره دی نو زیادت د ښځی ثابت شو او که خاوند یواځی ګواهان قائم کړل او ښځی قائم نه کړل نو بیا به د خاوند ګواهان هم قبلولی شی اګر چه خاوند منکر هم دی ځکه چه په خاوند قسم راځی لیکن ګواهان د دفع د دغه قسم لپاره قبلولی شی نو پدی ګواهانو سره د خاوند مدعی ثابته شوه او قسم تری دفع شو لکه د مودَع چه قبلولی شی مثلا حسین

احمد سرہ سهیل احمد څه امانت کیخوده بیا سهیل احمد تری طلب وکړ چه زما امانت راکړه نو حسین احمد ورته ووېل چه ما خو ورکړی او ګواهان ئې قائم کړل نو دغه ګواهان به قبلولی شی اګر که پدی صورت کی حسین احمد من وجه منکر دی خو بیا د دفع د قسم لپاره قبلولی شی نو دارنګی پدی صورت کی د خاوند ګواهان هم قبلولی شی خو دا په هغه صورت کی چه ښځه ګواهان قائم نکړی او که دواړو ګواهان قائم کړل نو هغه صورت وړپسی عبارت کی راځي ۔ و من الله التوفیق ۔

و ان اقاما فبینتها ان شهد له و بینته ان شهد لها ۔ لان البینات شرعت لاثبات ما هو خلاف الظاهر والیمین شرعت لابقاء الاصل علی اصله قال النبی ﷺ البینة علی المدعی والیمین علی من انکر والاصل فی النکاح ان یکون بمهر المثل فالذی یدعی خلاف ذلك فبینته اقوی .

ترجمه : او که دواړو قائم کړه ګواهان نو قبلولی به شی ګواهان د ښځی که مهر مثل ګواهی کوی د خاوند لپاره او د خاوند ګواهان به قبلولی شی که مهر مثل ګواهی کوی د ښځی لپاره ځکه ګواهی شرعا ګرځول شوی ده لپاره د اثبات د هغه څه چه هغه مخالف د ظاهر وی او قسم شرعا ګرځول شوی لپاره د باقی پریښودو د اصل په خپل اصل باندی نبی ﷺ فرمائی چه ګواهان په مدعی دی او قسم په هغه چا چه انکار کوی او اصل په نکاح کی دا ده چه په مهر مثل سره وی نو کوم سړی چه د هغه په مخالف کی دعوه کوی نو ګواهان د ده به قوی وی ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه کله ښځه او خاوند هریو د خپلی مدعی د ثابتولو لپاره ګواهان قائم کړی نو که مهر مثل د هریو سره موافق ؤ نو ګواهان به د هغه بل قبلولی شی مثلا که مهر مثل د خاوند د مدعی سره موافق ؤ نو د ښځی ګواهان به قبلولی شی ، او که مهر مثل د ښځی د مدعی سره موافق ؤ نو د خاوند ګواهان به قبلولی شی دا ځکه چه ګواهی هغه شئ ثابتوی چه کوم د ظاهر مخالف وی او قسم شی په خپل اصل باندی پریږدی دا خبره د دی حدیث شریف نه معلومه شوه چه (البینة علی المدعی والیمین علی من انکر) ځکه منکر د مدعی د مدعیٰ نه انکار کوی نو دی عمل کونکی دی په اصل باندی ځکه اصل په اشیاؤ کی عدم دی او په ذمه کی براء ت دی نو قسم هم منکر د مدعی د دعوی نه بری کوی او منکر په خپل اصل باندی پریږدی چه عدم دی او مدعی دعوه د خپل حق کوی چه د ده د ذمی پوری تعلق لری ، نو مدعی چه کله ګواهان قائم کړی نو ګواهان هغه شی ثابتوی چه کوم مخالف د هغه اصل وی چه کوم منکر ثابتولو نو اصل په نکاح کی مهر مثل دی نو کوم سړی چه د دی په خلاف دعوه کوی مثلا د خاوند دعوه د مهر مثل موافقه وه نو د ښځی ګواهان به قوی وی او قبلولی به شی او که د ښځی دعوه د مهر موافقه وه نو د خاوند ګواهان به قوی وی او قبلولی به شی ۔

و ان کان بینهما تحالفا ای ان کان مهر المثل بین ما یدعیه الزوج والمرأة و لا بینة لاحدهما تحالفا فان حلفا او اقاما قضی به ای بمهر المثل فان حلفا قضی بمهر المثل و کذا ان اقام کل منهما البینة و ان اقام احدهما فقط تقبل بینته و لم یذکر هذا القسم لظهوره .

ترجمه : او که مهر مثل د دواړو تر منځ ؤ نو دواړه به قسم وخوری یعنی که مهر مثل ؤ په ما بین د هغې کې چه خاوند ئې دعوه کوی او ښځه ، او د یو لپاره هم گواهان نه ؤ نو داوړه به قسم خوری ، نو که دواړو قسم وخوړ یعنی قسم ئې وکه یا هر یوه گواهان قائم کړه نو فیصله به وشی په مهر مثل باندی نو که دواړو قسم وخوړ فیصله به په مهر مثل کولی شی همدارنګه که هر یوه گواهان ودرول نو هم فیصله به په مهر مثل کولی شی او که یو د دی دواړو نه گواهان قائم کړه نو د ده گواهان به هم قبلولی شی او دا دریم قسم مصنف ذکر نکړ د وجی د ظهور او ښکاره والی د دینه ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه کله مهر مثل د خاوند او د ښځی د مدعیٰ تر منځ ؤ مثلا د خاوند مدعیٰ زر روپۍ وه او د ښځی مدعیٰ دوه زره روپۍ وه او مهر مثل یو نیم زر روپۍ ؤ او د یو گواهان هم نه ؤ نو په داسی صورت کی به دواړه قسمونه خوری نو که قسم ئې وخوړ او یا دواړو گواهان ودرول نو پدی دواړو صورتونو کی به فیصله په مهر مثل کولی شی او که هر جانب د قسم خوړلو نه انکار وکړ نو د بل جانب لپاره به فیصله کولی شی او که په دی صورت کی یو جانب گواهان قائم کړل نو گواهان به ئې قبلولی شی ، دلته مصنف پدی دریم قسم باندی تصریح ونکړه د دی وجی نه دی قسم ته مخکی نه هم اشاره شوی وه او د دی حکم ښکاره ؤ کما لا یخفی علی احد ۔

و هذا الذی ذکرناه هو فی حال قیام النکاح فاراد ان یبین الاختلاف بعد وقوع الطلاق فقال و فی الطلاق قبل الوطی حُکِّمَ متعة المثل ای ان کان متعة المثل مساویة لنصف ما یدعیه الزوج او اقل منه فالقول له و انکانت مساویة لنصف ما تدعیه المرأة او اکثر منه فالقول لها و ایٌّ اقام بینة قبلت و ان اقاما فبینتها اولی ان شهدت له و بینته ان شهدت لها و ان کانت بینهما تحالفا فان حلفا تجب متعة المثل .

ترجمه : دغه احکام چه کوم مونږ ذکر کړل دا په حال د قیام د نکاح کی ؤ نو مصنف اراده وکړه چه بیان د اختلاف وکړی په اندازه د مهر کی پس له واقع کیدو د طلاقونه نو مصنف وویل چه او په طلاقو کی چه مخکی له وطی نه فیصله به کولی شی په متعه مثل باندی یعنی که متعه مثل برابر ؤ نیم د هغی سره چه خاوند ئې دعوه کوی او یا کم له نیم نه نو بیا قول به د خاوند معتبر وی او که متعه مثل برابر ؤ د نیم د هغی سره چه ښځه ئې دعوه کوی یا زیات له نیم نه نو قول به د ښځی معتبر وی لو که هر یو د دی داوړو نه گواهان ودرول نو قبلولی به شی ، او که دواړو گواهان قائم کړل نو د ښځی گواهان به بهتر وی

که متعه مثل برابر ؤ د خاوند د وینا سره ، او د خاوند ګواهان به معتبر وی که متعه مثل برابر ؤ د ښځی د وینا سره او که متعه مثل د دواړو د قول تر منځ ؤ نو دواړه به قسم خوری او که دواړو قسم وخوړ یعنی قسم وکه نو متعه مثل واجب ده ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه مخکی کوم اختلاف ذکر شو دا په حالت د قیام د نکاح کی ؤ اوس بیان د اختلاف بعد الطلاق دی نو کله چه اختلاف د زوجینو په مقدار د مهر کی راشی نو په طلاق قبل الوطی کی چه کله مهر مسمٰی وی نو نیم مهر دی نو پدی صورت کی به په متعه مثل باندی فیصله کولی شی متعه مثل دیته وائی چه د دی په شان په اوصافو کی د بلی ښځی متعه څومره وی هغه به وی یعنی که متعه مثل د خاوند د مدعیٰ د نیم سره برابر ؤ یا د نیم نه کم ؤ نو د خاوند قول به معتبر وی او که متعه مثل د ښځی د مدعیٰ د نیم سره برابر ؤ او د نیم نه زیات ؤ نو بیا د ښځی قول معتبر دی ۔

خو که پدی کی هر یو ګواهان قائم کړل نو قبول به وی او که دواړو قائم کړل نو د ښځی ګواهان به معتبر وی که متعه مثل موافق ؤ د خاوند د مدعیٰ سره او د سړی ګواهان به معتبر وی که متعه مثل موافق ؤ د ښځی د قول سره او که متعه مثل د دواړو د مدعیٰ تر منځ ؤ نو دواړه به قسم خوری او د قسم په صورت کی متعه مثل وی ۔

و موت احدهما کحیاتهما فی الحکم و بعد موتهما ففی القدر القول لورثته ۔ و فی اصله لم یقضَ بشیء و قالا قُضی بمهر المثل و به یفتٰی و ان بعث الیها شیئا فقالت هو هدیة و قال هو مهرٌ فالقول له الا فیما هُیّءَ للاکل کالخبز بخلاف الحنطة .

ترجمه : او مرګ د یو د زوجینو نه پشان د ژوند د دوی دی په حکم کی او پس له مرګ د دواړو نه نو په اندازه د مهر کی به قول د ورثوو د خاوند معتبر وی ، او په اصل مهر کی به فیصله نشی کولی په هیڅ شی باندی او صاحبین وائی چه فیصله به کولی شی په مهر مثل سره او په همدی باندی فتوی ورکولی شی ، او که خاوند څه شی دی ښځی ته ورولیږه نو ښځی وویل چه دا تحفه ده او خاوند ئی وویل چه دا مهر دی نو وینا به د خاوند معتبره وی مګر معتبره به نه وی په هغه څه کی چه د خوراک لپاره تیار شوی وی لکه ډوډی شوه په خلاف د غنمو سره ۔

تشریح او توضیح : مخکی بیان د اختلاف د زوجینو ؤ په حالت د ژوند د دوئی کی او اوس بیان د اختلاف د ورثوو د زوجینو دی په حالت د مرګ د زوجینو کی ، نو که یو د زوجینو نه مړ شو او اختلاف واقع شو په مینځ د ورثوو د مړی کی او په مینځ د ورثوو د ژوندی کی په اصل مهر کی یا په اندازه د مهر کی نو حکم به هغه شان وی چه کوم مخکی ذکر شو څکه په مرګ د احدهما سره د مهر مثل اعتبار نه ساقطیږی خو لیکن که دواړه مړه شول نو په اندازه د مهر کی که د ورثوو اختلاف راغی نو قول به د

ورثوو د زوج معتبر وی نو کوم اقرار چه دوی کوی هغه به ورکوی خو دوی انکار د زیادت کوی نو په ورثوو د زوج باندی قسم راځی او په مهر مثل باندی به فیصله کولی شی ځکه د مهر مثل اعتبار پس له مرګ د دواړو نه ساقطیږی د امام ابو حنیفهؒ په نزد باندی او د امام محمدؒ په نزد حکم پدیکی لکه حکم په حالت د حیات کی دی۔

او په اصل مهر کی که اختلاف د ورثوو راغی نو قول به د منکر د تسمیی معتبر وی چه هغه ورثه د زوج دی خو فیصله به په هیڅ شی سره کولی نشی تر څو چه په تسمیه باندی دلیل وړاندی نه کړی، اوصاحبین وائی چه فیصله به په مهرمثل کولی شی او د همدوی یعنی ده صاحبینو په قول فتوی ده۔

که خاوند څه شی د نغدو نه او د عروضو نه او یا د هغی شی نه چه د واده نه مخکی خوړلی شی یا وروسته خو د لیږلو په وخت کی ئی څه جهت ورته ښودلی نوو بیا ورسته د دوی تر منځ اختلاف راغی نو ښځی ورته وویل چه تا ماته کوم شی رالیږلی ؤ هغه په حیثیت د تحفی ؤ او خاوند ورته وویل چه هغه مهر ؤ نو پدی صورت کی به قول د خاوند معتبر وی خو سره د قسم او ګواهانو نه نو که خاوند قسم وخوړ او هغه لیږلی شوی شئ موجود ؤ نو خاوند ته به ئی واپس کړی او خاوند نه به مهر وغواړی او که هغه شئ ختم شوی ؤ نو که د مهر برابر ؤ نو سر په سر شو یعنی برابر په برابر شو او که د مهر نه کم ؤ نو باقی مهر به خاوند ورکړی او که د مهر نه زیات ؤ نو ښځه به خاوند ته باقی شی ورکوی ، خو که لیږلی شوی شی خوراکی شی ؤ نو بیا قول د ښځی معتبر دی خو سره د یمین نه ، ځکه عرف کی خلک ښځی ته بعضی خوراکی شیان لیږی لکه غوښه ډوډی، چارماغ و غیره۔

فان نکح ذمیٌ ذمیة او حربی حربیة ثمه ای فی دار الحرب بمیتة او بلا مهر و ذا جائز عندهم ای والحال ان النکاح بلا مهر یجوز عندهم فلا یجب شیء و انما قال هذا لانه ان لم یجز هذا فی دینهم او یجب المهر عندهم لا یکون حکم المسئلة عدمَ وجوب المهر فوطئت او طُلِّقَتْ قبله او مات فلا مهر لها .

ترجمه : که په نکاح کړه یو ذمی سړی ذمیی ښځی لره یا یو حربی کافر حربیی ښځی لره په دار الحرب کی په مرداری سره یا بی له مهر نه او دا روا ؤ د دی کفارو په نزد یعنی حال دا چه نکاح بغیر له مهر نه د دوی په نزد روا وه نو یو شی هم واجب ندی او دائی ځکه وویل چه و ذا جائز عندهم ځکه چه که د دوئی په نزد دا نکاح روا نوی او یا مهر واجب وی د دوی په نزد نو بیا حکم د مسئلی عدم وجوب د مهر نکیږی ، نو دا ښځه وطی کړی شوه یا وطی نه مخکی طلاقه کړی شوه او یائی خاوند مړ شو نو د دی ښځی لپاره هیڅ مهر نشته۔

تنویر المسئلة

ذمی هغه کافر ته ویل کیږی چه په دار الاسلام کی ئی جزیه قبوله کړی وی لکه هندوان و غیرہ خو دا هر کافر ته شامل دی چه جزیه قبوله کړی دارنګی پدیکی مستأمن یعنی هغه کافر چه په فسافوت

او ویزی سره راغلی وی هغه په معنی د ذمی کی داخل دی ، او حربی هغه کافر ته ویل کیږی چه په دار الحرب کی اوسیږی ، یو دار الاسلام دی بل دار الحرب دی د مسلمانانو ملک ته دار الاسلام وائی او د کفارو ملک ته دار الحرب وائی ۔

نو که یو ذمی کافر د ذمی ښځی سره نکاح وکړه یا یو حربی کافر د حربی ښځی سره په دار الحرب کی نکاح وکړه خو په مرداری سره او یا بلا مهره چه باالکل ذکر ئی ونکړو خو دا په مرداری سره نکاح کول یا بغیر له مهره د دوی په دین کی جائز ؤ نو دا ښځه دی خاوند وطی کړه او یائی د وطی نه مخکی طلاق ورکړ او یائی خاوند مړ شو نو د دی ښځی لپاره مهر هیڅ شی نشته ، لیکن که د دوئی په دین کی په مرداری سره یا بغیر له مهره نکاح جائز نه وه یا د دوی په نزد مهر ورته واجب وی نو بیا به مهر ورته واجب وی ځکه مونږ بیا د دوی سره څه کار نه لرو او د دوی د دین سره ۔ او مخکی صورت کی خو چه مونږ حکم د عدم وجوب د مهر وکړ نو هغه په هغه وخت کی چه زمونږ قضاء ته فیصله راوړی ۔

و ان نکحها بخمر او خنزیر عینٍ ثم اسلما او اسلم احدهما فلها ذلك و فی غیر عینٍ فقیمة الخمر فیها و مهر المثل فی الخنزیر لان الخمر عندهم مثلیٌّ کالخل عندنا و لا یحل اخذها فایجاب القیمة یکون اعراضا عن الخمر و اما الخنزیر فمن ذوات القیم عندهم کالشاة عندنا فایجاب القیمة لا یکون اعراضا عنه فیجب مهر المثل اعراضا عن الخنزیر.

ترجمه : او که نکاح وکړه ذمی د ذمیی ښځی سره یا حربی د حربی ښځی سره په شرابو یا خنزیر سره چه معلوم وی بیا دواړو زوجینو اسلام راوړ یا یو د دواړو نه اسلام راوړ نو د دی ښځی لپاره به همدغه معلوم شراب او خنزیر وی ، او چه غیر معلوم وی نو په شرابو کی قیمت د شرابو دی او په خنزیر کی مهر مثل دی ځکه شراب د کفارو په نزد مثلی شی دی لکه سرکه زمونږ په نزد او مسلمان ته حلال نه دی اخستل د شرابو نو واجبول د قیمت په شرابو کی دا اعراض او مخ اړول دی له شرابو نه او خنزیر د قیمت والا څخه دی د کفارو په نزد لکه ګډ زمونږ په نزد نو واجبول د قیمت اعراض نه راځی د خنزیر نه نو مهر مثل واجب دی لپاره د اعراض کولو د خنزیر نه ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه کله یو ذمی د ذمی ښځی سره یا یو حربی د حربی ښځی سره په شرابو یا په خنزیر سره خو چه معلوم وی او مشار الیه وی نکاح وکړه بیا د مهر قبض کولو نه مخکی دواړه اسلام قبول کړی یا یو د زوجینو نه اسلام قبول کړی نو د ښځی لپاره به همدغه شراب یا خنزیر چه کوم د نکاح په وخت کی مقرر شوی ؤ وی ، او که طلاق قبل الدخول ئی ورکړ نو بیا به نیم د دی وی اګر که د شرابو او خنزیر سپارل د مسلمان لپاره حرام دی لکن دا په هغه وخت کی مهر ګرځول شوی ؤ چه دوی ته جائز ؤ چه هغه حالت د کفر دی خو په مسلمان دا لازم دی چه دا شراب یا سرکه کړی او یائی واړوی او خنزیر خوشی

کړی. خو که مهر شراب یا خنزیر مطلقا وی یعنی نا معلومه چه اشاره ورته شوی نوی نو په شرابو کی به قیمت د شرابو اخلی ځکه شراب د کفارو په مذهب کی مثلی شی دی چه د دی نور امثال هم شته لکه زمونږ په مذهب چه سرکه مثلی ده او شراب او خنزیر زمونږ په مذهب مال متقوم نه دی نو مسلمان ته د شرابو اخستل حلال نه دی او د دی نه اعراض کول پکار دی هغه اعراض پدی طریقه راځی چه په مثلیاتو کی د مثل اخستل او په ذوات القیم کی د قیمت اخستل دا بعینه د هغه شی اخستل دی خو د قیمت اخستل په مثلیاتو کی دا بعینه د هغه شی اخستل نه راځی نو شراب هم مثلی دی نو فیصله به په قیمت کولی شی چه د شرابو نه اعراض راشی او د خنزیر په صورت کی به مهر مثل اخلی ځکه خنزیر د کفارو په مذهب کی د ذوات القیم نه دی لکه زمونږ په نزد چه ګډ د ذوات القیم نه دی نو په ذوات القیم کی د قیمت اخستل بعینه د هغه شی اخستل راځی نو که مونږ دلته قیمت واجب کړو نو دا بیا دخنزیرنه اعراض نه راځی نو مونږ حکم په مهر مثل سره وکړ د دی لپاره چه د خنزیر نه اعراض راشی.

بابُ نكاح الرّقيق والكافر

باب دى په بيان د نكاح د غلام كي او د كافر كي

نكاح القِنّ و المكاتَبِ والمدَبَّر والامة و ام الولد بلا اذن السيِّد موقوف ان اجاز له نفذ و ان رد بطل فان نكحوا بالاذن فالمهر عليهم و بيع القن فيه لا الآخرون اى المكاتب والمدبر بل يسعيان .

ترجمه : نكاح دمريي او د مكاتب او د مدبر او د وينځي او د ام الولدى بى له اجازت د بادار نه موقوف دى كه اجازه ئى ورته وكړه نو سابقه نكاح به جاري كيږى او كه ردئى كړه نو نكاح باطله شوه كه نكاح وكړه دى مذكوره كسانو په اجازه د بادار سره نو مهر به په دوى وى او مريه به خرخولي شي پدى مهر كي نه هغه دوه نور كسان چه هغه مكاتب او مدبر دى بلكي دوى به سعى كوى ۔

تشريح ا وتوضيح : مخكي بيان د نكاح د هغه چاؤ چه هغي كي اهليت د نكاح وى اوس بيان د نكاح د هغه چا دى چه هغه كي اهليت د نكاح نه وى لكه غلامان نو قِن هغه مريى ته وائى چه هغه من كل الوجوه مريه وى ، او مكاتب هغى ته وائي چه بادار ورته ووائى چه ماته دومره روپۍ راكړه نو زه به تا ازاد كړم نو كه هغه مقدار ئى وركړ نو ازاديږى ، او مدبر هغى ته وائي چه بادار ورته ووائى چه ته زما له مرګه وروسته ازاد ئى ، او ام ولده هغى ته وائي چه بادار خپله وينزه وطى كړى او بيا د ده نه بچى وزيږدى او بادار د دى بچي دعوه وكړى نو د ام ولدى حكم دا دى چه د بادار د مرګه وروسته ازاديږى ـ نو كه دى مذكوره كسانو د خپل بادار د اجازى نه بغير نكاح وكړه نو دابه د بادار د اجازى پورى موقوفه وى كه بادار ئى اجازه وكړه نو دا نكاح به نافذ كيږى يعني پدى احكام بيا مرتب كيږى او كه بادار ئى اجازه ونكړه نو نكاح صحى نده بلكه باطله ده ، او كه دوى د بادار په اجازه نكاح وكړه نو نكاح صحى ده خو مهر او نفقه بيا په همدى كسانو ده نه په بادار ځكه نكاح دوى پخپله كړى خو د دوى په مرګ سره مهر او نفقه ساقطيږى لكن كه غلام مأذون ؤ نو بيا كه د ده نه څه مال پاتي ؤ نو د هغى نه به ئى وركړى خو كه قن يا مكاتب يا مدبر مهر اداء نكړى شو نو بيا به بادار قن د مهر په قرضه كي خرخ كړى او كه قن د خرخ نه انكار كوه نو بيا به ئى قاضى د بادار په حضور كي خرخ كړى مګر كه بادار د ده قرضه د مهر وركوله نو بيا خرخولى نشى او مكاتب او مدبر خو خرخولى نشى ترځو چه دوى په تدبير او عقد كتابت كي وى ځكه دا دواړه انتقال د يو مِلك نه بل مِلك ته نه قبلوى ترڅو چه په تدبير او عقد كتابت كي وى خو كه مكاتب د عقد كتابت نه عاجز شو چه روپۍ بادار ته پوره كولى نشى نو بيا مهر د مكاتب په غاړه راځى نو خرخولى شى د مهر په قرضه كي او د كتابت په صورت كي به سعى كوى او مهر به پوره كوى ۔

و قوله طَلِّقْهَا رجعيةً اجازة لا طَلِّقْهَا او فارِقْها ای اذا تزوَّج عبْدٌ بغير اذن مولاه فقال المولی طَلِّقْهَا رجعيةً فهو اجازة لان الطلاق الرجعي يقتضی سبق النكاح بخلاف طَلِّقْهَا اذ يمكن ان يكون المراد تركها و هذا المعنی اَلْيَقُ بالعبد المتمرِّد و اما فارقها فهو اظهر فی هذا المعنی .

ترجمه : او دا قول د بادار چه طلاق ورکړه دیته په رجعی سره نو دا اجازه ده نه دا چه طلاق ورکړه یائی جدا کړه یعنی کله چه نکاح وکړی یو غلام بغیر له اجازته د مولی نه نو مولی ورته وویل چه طلاق ورکړه په رجعی سره نو دا قول د مولی اجازه ده ځکه رجعی طلاق تقاضا د وړاندی والی د صحیح نکاح کوی په خلاف د دی چه طلاق ورکړه ځکه ممکنه ده چه د ده مراد پریښودل د دی وی او دا معنی د سرکشه غلام سره مناسب ده او د فارقها لفظ پدی معنی د ترک کی ښکاره دی ۔

تشریح او توضیح : مخکی بیان د اجازی صریحی ؤ او اوس بیان د هغه اجازی دی چه هغه دلالةً وی نو کله چه یو غلام د خپل بادار د اجازی نه بغیر واده وکړی او بادار بیا ورته ووائی چه طلاق رجعی ورکړه نو دا قول د بادار په اجازی سره دلالت کوی ځکه چه طلاق رجعی د ځان نه وړاندی نکاح غواړی نو کله چه بادار رجعی طلاق ورکړه نو د دینه معلومه شوه چه د ده ورته اجازه شوی وه خو که صرف طلقها یا فارقها لفظ ئی ورته وویل نو دا لفظ چه طلقها دی محتمل دی چه په معنی د ترک سره هم راځی او په معنی د طلاقو سره هم راځی چه احتمال د اجازی لری خو کله سرکشه او نافرمانه غلام ته داسی الفاظ ویل کیږی نو دلالت د حال د وجی نه معنی حقیقی ترک کړی شوه او معنی مجازی مراد شوه چه هغه ترک دی او فارقها لفظ کی خو د ترک معنی ظاهره ده او د طلاقو معنی پکی خفي ده نو دا هم حمل په عدم اجازی سره شو ۔

و اذنه لعبده بالنكاح يعُمُّ جائزَه و فاسدَهُ فَيُبَاعُ العبد لمهر من نكحها فاسدا بعد اذنه لو وطئها و ان لم يطإ العبدُ فی النكاح الفاسد لا يجب المهر ، ولو نكحها ثانيا او اخری بعدها صحيحا وُقف علی الاجازة ای لو نكحها نكاحا ثانيا صحيحا او نكح امرأة اخری بعد تلك المرأة نكاحا صحيحا توقف علی الاجازة لان الاجازة قد انتهت بذلك النكاح الفاسد .

ترجمه : او اذن د بادار خپل غلام ته په نکاح سره نو دا عام دی نکاح جائزی ته او نکاح فاسدی ته ، نو دغه غلام به خرڅولی شی د پاره د ادا کولو د مهر د هغی ښځی چه ده په نکاح کړی وه په نکاح فاسدی سره پس له اجازی دمولی نه ، نو غلام دا ښځه وطی کړه او که غلام په نکاح فاسده کی وطی نه کړه نو مهر پری واجب نه دی او که له همدغی ښځی سره بیا نکاح صحیحه وکړه او یائی له بلی ښځی سره نکاح صحیحه وکړه نو دا به موقوف وی تر اجازی پوری ځکه اجازه مخکښی خو ختمه شوه پدغی نکاح فاسدی سره ۔

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه کله مولی خپل غلام ته د نکاح کولو اجازت وکړی بی له څه قید د صحت نه نو دا اجازه د مولی د امام صاحب په نزد نکاح جائزی ته او نکاح

فاسدی ته شامله ده ، او د صاحبینو په نزد که قید د صحیح والی ورسره ذکر وی او که ذکر نه وی نو نکاح فاسدی ته شامله نه ده . نکاح فاسده دیته وائی چه په هغی کی یو شرط د شروطو د نکاح نه وی ، نو که د مولی د اجازی نه وروسته غلام نکاح فاسده وکړی نو دا غلام به بیا د مهر په قرضه کی خرخولی شی د کومی ښځی سره ئی چه نکاح فاسده کړی خو دا هلته چه وطی ئی ورسره کړی وی ، او که وطی ئی ورسره کړی نه وه نو بیا په غلام باندی مهر واجب نه دی ځکه په نکاح فاسده کی ترڅو چه حقیقةً وطی نوی شوی نو مهر پکی نشته .

خو که ده همدغی ښځی سره ئی دوباره بیا نکاح صحیحه وکړه او یائی د بلی ښځی سره نکاح صحیحه وکړه نو دا به بیا د مولی تر اجازی پوری موقوف وی د امام صاحب په نزد ځکه چه سابقه اجازه د مولی مطلقه وه او مطلق په وجود د یو فرد سره انتهاء ته رسیږی ، چه هغه فرد د دی نکاح فاسده وه او هغه موجوده شوه او بلی ته شامله نده چه نکاح صحیحه ده نو اذن جدید ته ضرورت دی همدارنګه د نکاح اولی نه وروسته د بلی ښځی سره نکاح صحیحه وکړی نو دا به د امام صاحب په نزد تر اجازی پوری موقوفه وی ، او د صاحبینو په نزد چونکه دغه مطلق اذن نکاح فاسدی ته شامل نوو نو په نکاح فاسدی سره انتهاء ته هم نه رسیږی ځکه اجازه هلته انتهاء ته رسیږی چه په کوم شی ورته اذن شوی وی او هغه واقع شی او په کوم شی چه ورته اذن شوی نه وی نو د دی په وقوع انتهاء ته نه رسیږی نو پدغه اذن سره نکاح صحیحه صحی کیږی .

> **ولو زوَّج عبدا مدیونا ماذونا له صح و ساوت غرمائه فی مثلها ای ساوت المرأة غرمائه فی مقدار مهر المثل ای ان بیع العبد یُقَسَّمُ ثمنه بین المرأة والغرماء بالحصة فتاخذ بحصة مهرها ان کان المهر اقل من مهر المثل او مساویا ، اما اذا کان زائدا فلا تاخذ بحصة ما زاد بل یؤخر حقها الی استیفاء الغرماء دیونهم .**

ترجمه : که چیری واده وکړ مولی خپل غلام ته چه قرض دارو او په تجارت کی ورته اجازت شوی و نو صحیح ده او ښځه د ده برابره ده د قرض د ده سره په مهر مثل کی یعنی برابره ده ښځه د قرض دارانو د ده سره په مقدار د مهر مثل کی یعنی که غلام خرڅ کړی شی نو د ده روپی به تقسیمولی شی د ښځی او د قرض دارو تر منځ په حصی سره نو ښځه به حصه د مهر اخلی که مهر مسمی کم و د مهر مثل نه یا ورسره برابر و او که مهر مسمی زیات و په مهر مثل نو بیا به ښځه هغه حصه د زیاتی نه اخلی بلکه د دی هغه زیاتی حق به وروسته کړی شی تر پوره کولو د قرض دارانو خپل قرض پوری .

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه مولی خپل بادار ته د تجارت لپاره اجازت ورکړ نو غلام په دی کی قرضدار شو نو مولی ورته نکاح وکړه نو دا نکاح صحی ده ځکه ولایت د نکاح

مبنی دی په ملک رقبی باندی او ملک رقبی پس د قرض نه هم باقی دی لکه څرنګه چه مخکی باقی ؤ نو اوس که دا غلام خرخ شی نو د ده د قیمت روپی به د ښځی او د قرض دارانو تر منځ تقسیمولی شی نو که مهر مسمی د مهر مثل نه کم ؤ یا ورسره برابر وو نو بیا به ئی ښځه ورسره د مهر د حصی په طریقه اخلی مثلا اوه قرضداران ؤ او د غلام قیمت اته زره ؤ نو ښځی ته زر روپی رسیږی او اوه زره قرض دارانو ته او که مهر مسمی د مهر مثل نه زیات ؤ نو په دی صورت کی به ښځه د قرض دارانو په جم کی مساوی روپی اخلی او باقی زیاتی روپی. ترڅو چه قرض دارانو خپلی روپی اخستی نوی نو ښځه به زیاتی روپی نه اخلی.

و من زوّج امته تخدمه و یطأها الزّوج ان ظفر بها و لا تجب التبویت لکن لا نفقة و لا سُکنی الا بها ای لا یجب علی الزوج نفقتها و سکناها الا بالتبویت و هی ان یخلی بینها و بینه ای بین الامة و الزوج فی منزله و لا یستخدمها ای المولی فان بَوَّأَهَا ثم رجع صح ای الرجوع و سقطت ای النفقة عن الزوج برجوع المولی عن التبویت .

ترجمه : او چا چه په نکاح ورکړه وینزه خپله بل لره چه خدمت به د مولی کوی او وطی به ورسره خاوند کوی که کامیاب شو خاوند پدی باندی او په مولی باندی د خاوند لپاره کور تیارول لازم نه دی لکن نفقه او سکنی یعنی کور په خاوند باندی نه راځی مګر په تبویت سره هغه دا چه ځانله والی وکړی مولی په ما بین د وینزه کی او په مینځ د خاوندکی په یو کور کی او مولی ورنه طلب د خدمت نه کوی نو که مولی کور ورکړ وینزی ته او بیائی بیرته رجوع وکړه نو رجوع ئی صحی ده خو د زوج نه نفقه د ده په رجوع سره ساقطیږی.

تشریح او توضیح : غرض د دی عبارت نه دا دی چه مولی خپله وینزه یو سړی ته په نکاح ورکړه چه خدمت به د مولی کوی او وطی به خاوند ورسره کوی کوم وخت کی چه پری کامیاب شو یعنی چه د مولی د خدمت نه ئی فارغه وموندہ وطی دی ورسره کوی او په بادار دا لازم نه دی چه وینزه دی د زوج په کور کی د زوج سره ځانته کړی ځکه هغه به د مولی خدمت کوی خو که پخپله خوښه ورسره ځانته کړه نو بیا څه باک نشته کله چه وینزه د زوج سره د زوج په کور کی ځانته کړی نو بیا د وینزی نفقه او کور په خاوند دی او که ځانته ئی نه کړه بلکه خدمت ئی د مولی کوه نو بیا په خاوند نفقه او سکنی نشته او د تخلی په صورت کی به مولی طلب د خدمت نکوی، او که مولی د تخلی اجازه ورته وکړه او استخدام ئی هم پریښود بیائی وروسته بیا طلب د خدمت تری وکړ نو تبویت باطل شو او استخدام صحی دی ځکه د ده ملک باقی دی نو حق د استخدام ئی هم باقی دی.

و لو خدمته بلا استخدامه لا ای ان خدمة المولی بلا استخدامه مع وجود التبویت لا تسقط النفقة عن الزوج ، والتبویت مصدرُ بَوَّأتُهُ منزلا و بوأت له اذا هیأت له منزلا والمولی و ان لم یُهَیِّءُ المنزل فالتبویت تُسند الیه باعتبار انه یمکّنُ الزوج من ذلك .

ترجمه : او که وینزی خدمت د مولی وکړ بی له طلب د مولی نه سره د وجود د تبویت نه نو نفقه د خاوند نه نه ساقطیږی او تبویت مصدر د بَوَّأتُهُ منزلا او بوأت له دی اذا هیأت له منزلا چه کله ته کور تیار کړی هغه لپاره او مولی اګر چه کور تیار کړی نه دی خو د تبویت نسبت مولی ته کیږی پدی اعتبار سره چه مولی قدرت ورکړی خاوند ته پدی باندی .

تشریح او توضیح : غرض دا چه د تبویت په صورت کی که مولی د وینزی نه طلب د خدمت وکړ نو د زوج نه نفقه ساقطیږی او که د تبویت په صورت کی وینزی بی له طلب د مولی نه خدمت د مولی وکړ نو بیا د زوج نه نفقه د دی نه ساقطیږی ـ او تبویت دا مصدر د بَوَّأتُهُ دی او بوَأت له دی نو شارحؒ په راوړلو د دوو عبارتو سره اشاره دیته وکړه چه تبویت کله په خپله متعدی کیږی او کله په لام سره او بل دا چه که مزید وی او که مجرد وی نو معنی ئی یوه راځی چه کور تیارول دی ـ

قوله والمولی و ان لم یهیءُ المنزل الخ : دا دفع د یو اعتراض ده هغه داسی چه تبویت په اعتبار د معنی لغوی سره کور جوړولو ته وائی او کور جوړول د زوج کار دی نه د مولی نو مصنفؒ ولی نسبت د تبویت مولی ته وکړ ؟ نو شارح جواب وکړ چه صحیح ده چه کور زوج جوړه وی او مولی ئی نه جوړه وی خو نسبت ئی مولی ته ځکه وشو چه دا قدرت د کور جوړولو خاوند ته مولی ورکړی نو دا اسناد سبب ته راغی او هر چه معنی اصطلاحی د تبویت ده چه کومه مصنفؒ په متن کی کړی (وهی ان یخلی الخ) نو د هغی نسبت مولی ته حقیقتا کیږی ځکه فاعل د تخلِی مولی دی ـ

و له انکاح عبده و امته مکرها ای یزوج کل واحد بلا رضاه .

تشریح او توضیح : د مولی لپاره دا حق شته چه خپل غلام یا وینزه په زوره یعنی د دوی د رضا نه بغیر په نکاح ورکړی د زور نه دا مراد ندی چه د وهلو په ذریعه پری ایجاب او قبول وکړی ـ

ولحرةٍ قتلت نفسها قبل الوطی المهر کله لا لمولی امةٍ قتلها قبله ای قبل الوطی لانه عجل بالقتل اخذَ المهر فجُوزِیَ بالحرمان اما فی الصورة الاولی فالقاتلة نفسها لا تاخذ شیئا فکمُل المهرُ بالموت و انما قال قبل الوطی لان بعد الوطی المهر واجب فی الصورتین .

ترجمه : د هغی اصیلی ښځی لپاره چه خپل ځان قتل کړی د وطی نه مخکی نو ټول مهر دی نه د وینزی د مولی لپاره چه دا وینزه قتل کړی مخکی له وطی نه ځکه مولی تلوار وکړ په قتل سره لپاره د

اخستو د مهر نو سزا ورکړی شوه د ه ته په محرومه کیدو سره د مهر نه هر چه په اول صورت کی ؤ نو ښځه قاتله د خپل ځان وه نو هغی هیڅ شی وانه خسته نو مهر په مرګ سره کامل شو او قبل الوطی ئی ځکه وویل چه پس له وطی نه په دواړو صورتونو کی مهر واجب دی ۔

تشریح او توضیح : غرض دا دی چه کومه ښځه مخکی له وطی خپل ځان قتل کړی او حره وی نو دیته به ټول مهر ورکولی شی ځکه چه د مهر د سقوط لپاره دوه شرائط دی (۱) چه قتل د هغه چانه صادر شی چه هغه لره مهر وی (۲) چه حکم دنیوی پری جاری کیږی لکه قصاص نو پدی صورت کی شرط ثانی نشته نو مهر هم ساقط ندی ، او که مولی خپله وینزه قبل الوطی قتل کړه نو پدی صورت کی مهر د زوج د دی وینزی نه ساقط شو او مولی تری محرومه شو ځکه چه مولی تلوار د مهر کوه په قتل د دی سره او قاعده دا ده چه من عجل بالشیء قبل اوانه عوقب بحرمانه ۔ نو مولی هم تری محرومه شو لیکن مخکی صورت کی چه حری ښځی خپل ځان قتل کړ او ورثه د دی د مهر نه محرومه نه شو دا ځکه چه هلته ښځی څه شی وانه خسته نو د تعجیل د مهر خو بلکل تصور کیدای نشو نو په مرګ سره مهر کامل شو دا خو د قبل الوطی مسئله ده او په بعد الوطی مسئله کي په دواړو صورتونو کی مهر واجب دی ۔

و زوج الامة یعزل باذن سیدها ۔ فان العزل منع عن حدوث الولد و هو ملك مولاها .

ترجمه : او خاوند د وینزی به عزل کوی په اجازه د مولی د دی وینزی ځکه عزل منع کیدل دی د پیدا کیدو د ولد نه او دا ولد ملک د مولی دی ۔

القول المدلل فی بیان العزل

عزل دیته وائی چه له ښځی سره وطی وکړی او په وخت د انزال کی منی د فرج نه بهر وغورزوی۔ د خپلی وینزی نه عزل بغیر د اجازته کولی شی او د حری ښځی د اجازی نه بغیر عزل کولی نشی او د بل د وینزی سره عزل به د بادار په اجازه کولی شی ځکه چه د انزال فائده چه حمل دی مولی ته ده نو د ده په اجازی به کولی شی ۔

و خیرت امة او مکاتبة عتقت تحت حر او عبد فان کانت تحت العبد فلها الخیار اتفاقا دفعا للعار و هو ان تکون الحرة فراشا للعبد و ان کانت تحت الحر ففیه خلاف الشافعی و هذا بناء علی مسئلة اعتبار الطلاق فانه عندنا بالنساء فلها الخیار منعا لزیادة الملك علیها و عنده بالرجال فلم توجد علة الفسخ و هو العار او زیادة الملك .

ترجمه : او خیار ورکړی شوی وینزی ته او مکاتبی ته چه ازاده کړی شی لاندی د نکاح د اصیل سړی نه یا دغلام نه که لاندی د غلام نه وه نو بیا دی لره خیار شته بالاتفاق لپاره د دفع کولو د شرم هغه دا چه اصیله ښځه فراش وګرځی د غلام لپاره ، او که وینزه لاندی د نکاح د اصیل سړی وه نو پدی کی

اختلاف د امام شافعیؒ دی او دا اختلاف بناء دی په مسئله د اعتبار د طلاقو ځکه اعتبار د طلاقو زمونږ په نزد ښځو ته دی نو بیا وینزی ته اختیار شته لپاره د منع کولو د زیاتی ملک د خاوند پدی باندی . او د امام شافعیؒ په نزد اعتبار د طلاقو سړو ته دی نو علت د فسخ موجود نشو چه هغه عار دی او یا زیادت د ملک دی ۔

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د خیار عتق دی خیار عتق د وینزی پوری خاص دی مکاتبه وی او که مدبره وی کبیره وی او که صغیره وی او خاوند د دی د عتق په وخت کی حر وی او که عبد وی نو که خاوند ئی غلام وی نو بیا دی وینزی ته اختیار بالاتفاق شته دی ځکه بیا دیته عار شرم دی چه د غلام لپاره فرش وګرځی نو د دفع کولو د دی عارشرم لپاره ښځی ته اختیار دی ، او که خاوند ئی حرؤ نو بیا پدی کی اختلاف دی اصل پدیکی دا دی چه د عائشی رضی الله عنها یوه وینزه چه بریره نومیده او یو غلام چه مغیث نومیده په نکاح کی وه عائشی رضی الله عنها دغه وینزه ازاده کړه بیا نبی ﷺ بریری ته اختیار ورکړ چه ته اوس د خپل مخصوص اندام د عتق په اختیار کی ئی نو بریری خپل ځان غوره کړ او لاړه نو اوس اختلاف دلته دی چه بریری د عتق نه مخکی خو مغیث بالاتفاق غلام ؤ ایا د عتق په وخت کی غلام ؤ او که حرؤ نو د بعضی روایاتو نه دا معلومیږی چه دا غلام ؤ او د بعضی نه دا معلومیږی چه دا حرؤ نو شوافعو هغه روایتونه چه هغی کی د مغیث عبدیت معلومیده غوره کړه نو چه مغیث د دوی په نزد عبد ثابت شو نو اختیار هم ورته ثابت شو او چه کله حر وی نو بیا ورته خیار نشته ۔

او احنافو هغه روایاتو ته ترجیح ورکړه چه کوم نه حریت د مغیث ثابتیده نو چه حر ثابت شو او نبی ﷺ بیا بریری ته خیار ورکړو نو معلومه شوه چه کله وینزه د حر په نکاح کی وی او ازاده شی نو بیا هم ورته خیار عتق شته او دغه خیار عتق د دی به فسخ د نکاح وی او بعضو د دی دواړو قولونو تر منځ جمعه والی راوستی چه خبر د غلامی دا خبر د سابقه حال نه دی او خبر د حریت دا خبر د موجوده حال نه دی چه حریت دی نو وینزی سره به په دواړو حالاتو کی چه غلام حر وی او که عبد وی خیار وی دا اختلاف مبنی دی په مسئله د اعتبار د طلاقو نو زمونږ په نزد اعتبار د طلاقو ښځو ته دی یعنی که ښځه اصیله وه نو د دری طلاقو حق لری او که ښځه وینزه وه نو د دوه طلاقو حق لری خاوند د دی حر وی او که عبد وی خاوند ته څه اعتبار پدیکی نشته نو چه کله ښځه وینزه وی او ازاده کړای شی نو دیته به خیار وی د دی لپاره چه د خاوند ملک چه دریم طلاق دی پدی رانشی ، او د امام شافعیؒ په نزد اعتبار د طلاقو سړو ته دی یعنی که خاوند حر وی نو ښځه حره وی او که امه وی د دری طلاقو حق لری نو کله چه خاوند حر وی نو علت د فسخ چه عار دی هم نشته او زیادت د ملک د خاوند هم نه راځی ځکه چه خاوند خو له مخکی نه حرؤ ، او د امام شافعیؒ په نزد اعتبار د طلاقو هم سړو ته دی ۔

امة نكحت بلا اذن فعتقت نفذ و لم تخير لانها قد رضيت و ما سمى للسيد و ان زاد على مهر مثلها لو وطئت فعتقت فله المهر و ان عتقت اولا فلها

ترجمه : يوې وينځى نكاح وكړه بى له اجازې د مولى نه نو دا وينزه ازاده كړې شوه نو سابقه نكاح جارې كيږې خو وينزې ته خيار نشته ځكه دا وينزه پدې نكاح راضى وه او كوم مهر چه مقرر شوې نو هغه د مولى وې اګر كه زيات وې په مهر مثل باندې خو كه دا وينزه د خاوند له طرفه وطى كړې شوه بيا ازاده كړې شوه نو مهر به د مولى وې او كه د وطى نه مخكې ازاده كړې شوه نو بيا به مهر د ښځې وى نه د مولى -

تشريح او توضيح : غرض د دې عبارت نه دا دې چه غلام يا وينزه د خپل مولى د اجازې نه بغير نكاح وكړې نو دا نكاح به موقوفه وې بيا مولى دا ازاده كړې نو سابقه نكاح به د دوې جارې وې ځكه مانع د دې لرې شو چه هغه حق د مولى ؤ ، خو اختيار د وينزې ختم شو ځكه دې په خپله خوښه دا نكاح كړې نو كه د وطى نه ورسته ازاده كړې شوه نو بيا مهر د دې حق د مولى دې او كه قبل الوطى ازاده كړې شوه نو بيا حق د مهر د دې وينزې دې

و من وطئ امة ابنه او بنته فولدت فادعاه ثبت نسبه و هى ام ولده و وجب على الاب قيمتها فان قوله عليه السلام انت و مالك لابيك اَوْجَبَ ولاية تملُّك الاب مالَ الابن عند الحاجة فقبل الوطى تصير ملكا له لئلا يكون الوطى حراما فيجب قيمتها على الاب لا مهرها لانه وطى مملوكتَهُ و لا قيمة ولدها لانه وُلِدَ فى ملك الاب .

ترجمه : او چا چه وطى كړه وينزه د ځوې خپل يا د لور خپلې بيا دې وينزې بچى راوړ نو دغه سړې دعوه د دې ماشوم وكړه نو ثابت شو نسب د دې ماشوم د دغه سړې نه او دا وينزه د ده ام ولده وګرځيده او واجب شو په پلار د دې ماشوم قيمت د دې وينزې ځكه دې قول د نبى عليه السلام چه ته او ستا مال ستا د پلار دې واجب كړه ولايت د مالك كيدلو د پلار د مال د ځوې په وخت د ضرورت كې نو د وطى نه مخكې وينزه ګرځى ملك د پلار لپاره د دې لپاره چه وطى حرامه نشى نو واجب دى قيمت د دې وينزې په پلار باندې نه مهر د دې ځكه ده خپله مملوكه وطى كړې او نه قيمت د ولد د دې ځكه چه دا پيدا شوې په ملك د پلار كې -

تشريح او توضيح : غرض د دې عبارت نه دا دې كه يو سړې د خپل ځوې يا لور وينزه وطى كړې نو وينزې بچى راوړ او دغه پلار د دې بچى دعوه وكړه چه دا له مانه دې نو نسب ئې ثابتيږې او دا وينزه د دې پلار ام ولده ګرځى ، ځكه ام ولده ديته وائى چه د مولى نه بچى راوړې او مولى د دې د نسب دعوه وكړې نو پدې صورت كې د ضرورت د وجې نه د دغې وينزې ملكيت پلار ته ثابت شو او د ده ام ولده هم وګرځيده خو قيمت د دې وينزې په پلار لازم شو ، چه ځوې يا لور ته به ئې وركوى ځكه حديث مبارک كې راځى چه ته او ستا مال ستا د پلار دې نو دې حديث ﷺ په مال كې پلار لره ولايت د ملكيت د ضرورت

په وخت کې لازم کړی نو د پلار د وطی نه مخکې دغه وینزه مجازا پلار لره ملکیت وګرځیده د دې لپاره چه وطی حرامه نه شی ځکه د غیر مملوکې وطی جائز نه دی نو چه د پلار په ملکیت کې راغله نو قیمت ئې هم په پلار راغی او مهر ئې په پلار نه راځی ځکه چه دا وینزه قبل الوطی د پلار ملکیت وګرځیده دارنګې د بچې قیمت هم په پلار نه راځی ځکه چه دا د پلار په ملک کې زیږیدلی دی۔

والجد كالاب بعدموته فيه اى بعدموت الاب فى الحكم المذكور لا قبله اى لاقبل موت الاب.

ترجمه : او نیکه پشان د پلار دی پس له مرګ د پلار څخه په مذکور حکم کې نه مخکې د مرګ د پلار نه۔

تشریح او توضیح : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره دا دی چه نیکه په ډیرو احکامو کې پشان د پلار دی په هغه صورت کې چه ولایت د پلار ختم وی مثلا پلار مړ شی یا لیونی شی یا کافر شی یا غلام وی او چه کله د پلار ولایت موجود وی نو بیا نیکه لره ولایت نشته ځکه چه د اصل په وجود کې نائب لره حکم نشته مثلا کله چه پلار مړ شی نو بیا نیکه لره دغه مذکور حکم شته مثلا چه نیکه د لمسی وینزه وطی کړی او وینزی بچی راوړ نو نیکه د دغی بچی دعوه وکړه نو پدی صورت کې نسب د دی ثابتیږئ او دا وینزه بیا د نیکه ام ولده وګرځیده او قیمت د دی په نیکه لازم شو۔

و ان نكحها صحَّ اى و ان نكح الاب امة الابن صح و لم تصر ام ولده و يجب مهرها لا قيمتها و ولدها حرٌّ بقرابته اى بقرابة الابن فان الامة ملك الابن فيتبعها الولدُ فيعتق على اخيه لقوله عليه السلام من ملك ذا رحم محرم منه عتق عليه .

ترجمه : او که نکاح وکړه پلار یا نیکه د ځوی یا د لمسی د وینزی سره نو صحی ده خو که دغی وینزی بچی راوړ د دغه ناکح نه نو دغه وینزه ام ولده نه ګرځی ځکه چه د نکاح نه پیدا شوی نو ملکیت ته ئی ضرورت نشته نو چه ملکیت ته ئی ضرورت نشته نو مهر پری لازم شو او قیمت پری نشته خو دغه بچی به ازاد وی د وجې د قرابت د ځوی نه ځکه دغه وینزه ملکیت د ځوی ده نو ولد هم د مور تابع وی نو ولد غلام شو د دغه ورور چه د ده د مور مولی دی نو کله چه ولد غلام د دغه ورور شو نو ازاد شو ځکه نبی ﷺ فرمائی چه څوک مالک شي د یو خپلوان چه پده حرام وی ابدا نو په ده ازادیږی نو دغه ولد هم پری ازاد شو۔

و فسد نكاح حرة قالت لسيد زوجها اعتقه عنى بالف ففعل اى حرة تحت عبد قالت لسيد زوجها اعتقه عنى بالف ففعل صح الامر و يعتق الزوج على امرأته و يفسد النكاح خلافا لزفرؒ فانه لا يعتق على المرأة عنده لعدم الملك و نحن نقول بالاقتضاء يثبت الملك فصار كما لو قالت بعْه منى بكذا ثم اعتقه عنى و قول المولى اعتقت صار كما لو قال بعته منكِ ثم اعتقتُه عنكِ فلما ثبت الملك اقتضاء فسد النكاح .

ترجمه : او فاسده ده نکاح د هغې اصیلې ښځې چه ووائي د خپل خاوند بادار ته دا ازاد کړه زما له طرفه په زر روپو سره نو هغه دغه کار وکړو یعنې اصیله ښځه د غلام په نکاح کې وه او د خپل خاوند بادار ته ئې ووېل چه دا خاوند زما زما له طرفه په زر روپو ازاد کړه نو هغه دا ازاد کړو نو امر صحي دی او خاوند په ښځه باندې ازاد شو او زر روپۍ په ښځه لازمې شوې او نکاح فاسده شوه ځکه ښځه پدې صورت کې مالکه وګرځېده او خاوند مملوک وګرځېده او نکاح د مملوک د مالکې سره جائزه نه ده کما مر خو د امام زفر پدیکې اختلاف دی ځکه د هغه په نزد خاوند په ښځه باندې نه ازادېږي ځکه چه د ښځې ملک په خاوند نشته ۔

او مونږه یعنې امام صاحب او صاحبین د امام زفر په جواب کې وایو چه صحي ده چه عتق په هغې صورت کې چه ملکیت نوې ممکن ندی خو دلته ملک اقتضاء ثابتېږي اقتضاء دیته وائي : هو دلالة اللفظ علی سکوت یتوقف علیه صدق الکلام او صحته ، دا دلالت د لفظ دی په سکوت باندې چه موقوف وي په هغې باندې صدق الکلام یا صحت د کلام ۔ نو پدې صورت کې قول د ښځې چه اعتقه عني داسې ګرځي بِعْهُ مني بکذا ثم اعتقه عني او د مولی قول چه اعتقتُ دی دا به داسې وګرځي بعتُه منكِ ثم اعتقتُه عنكِ نو کله چه اقتضاءً ملک ثابت شو نو نکاح فاسده شوه ځکه چه د مالک او مملوک تر منځ نکاح نه صحي کېږي ۔

و یرد علیه ان غایة ما في الباب انه صار کقوله عبدك مني بالف فقال الاخر بعتُ لا ینعقد البیع لان الواحد لا یتولی طرفي البیع بخلاف النکاح و ایضا الملك الذی یثبت بطریق الاقتضاء ملكٌ ضروری فیثبت بقدر الضرورة و لا ضرورة في ثبوته في حق النکاح حتی یفسد النکاح .

تشریح او توضیح : غرض د شارح پدې عبارت سره راوړل د دوو اعتراضونو دي په قول د امام صاحب او د صاحبینو باندې اول اعتراض داسې دی چه صحیح ده چه پدې مخکنې صورتونو کې چه اعتقه عني بالف دی بیع اقتضاءً ثابتېږي لکن پدې سره ثبوت د ملک دومره نه راځي چه په هغې سره فساد د نکاح راشي دا ځکه چه یو سړی په طرفینو د بیع کې چه ایجاب او قبول دی تصرف کولی نشي او په نکاح کې کولی شي نو پدې صورت کې اګر چه د سید قول چه اعتقتُ دی په منزله د بعتُ منكِ ثم اعتقتُ وګرځولی شي لکن بیا وروسته د ښځې له طرفه قبول موجود شوی ندی او کوم چه موجود دی چه هغه بِعْهُ مني دی دلالت په انشاء د بیع في الحال نکوي بلکه دا امر او توکیل دی نو چه قبول موجود نشو نو بیعه هم موجوده نشوه ځکه چه یو رکن د بیع فوت شو او په فوت کېدو د رکن سره فوتیت د اصل شيئ راځي ۔

وایضا : غرض د شارح پدې سره راوړل د دوهم اعتراض دی هغه داسې چه کوم شی چه ثابت بالاقتضاء وي نو هغه ضروري دی ځکه د هغې ثبوت په غرض د صدق د کلام سره وي یا په صحت د کلام سره او کوم شی چه ضروري وي نو هغه مقدر وي بقدر ضرورت سره غیر ته متعدي نوي چه په هغې کې

اثر وکړی نو پدی صورت کی چه کوم ملک په طریق د بیع سره ثابت دی نو هغه اقتضاءً دی دلته صرف د دغی ښځی قول د تصحیح لپاره معتبر دی چه اعتقه عنی بالف دی ځکه د بل غلام بغیر دخپل ملک نه د عتق امکان نه لری نو دلته ملک ثابت شو په قدر د ضرورت سره لپاره د صحت د کلام خو دومره نه چه فساد د نکاح ورسره راشی د دی جوابونه ئی په راروان عبارت سره کړی ۔

والجواب عن الاول ـ ان البیع الثابت بالاقتضاء مستغن عن القبول فانه قد عُرف فی اصول الفقه ان المقتضی لیس کالملفوظ بل هو امر ضروری فیسقط من الارکان والشروط ما یحتمل السقوطَ ـ و عن الثانی ان الثابت بالاقتضاء و ان کان ضروریا یثبت به لوازمه التی لا یحتمل السقوطَ کما سیأتی فی مسئلة الهبة ان الهبة الاقتضائیة لا بد لها من القبض فبطلان ملك النکاح من لوازم ثبوت ملك الیمین بحیث لا ینفك عنه .

تشریح او توضیح : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د جواباتو دی د مذکوره سوالونو نه ۔

اول جواب : چه پدی مقام کی مقتضی یعنی کوم شی چه ثابت په اقتضاء سره وی هغه بیع ده او مقتضی کالملفوظ نوی نه حقیقتاً او نه حکما بلکه دا یو امر ضروری دی یعنی چه ضرورت سره ثابتیږی نو بعضی ارکان او شروط تری ساقطیږی کوم چه فی الجملة یعنی په بعضی اوقاتو کی ساقطیږی نو پدی ځای کی چه بیع ثابت بالاقتضاء ده مستغنی د یو رکن نه چه قبول ده وګرځیده او هیڅ ضرورت ورته نه لری لکه د بیع ملفوظ پشان ځکه چی په بیع ملفوظ کی ارکان او شرائط لازم وی ۔

دوهم جواب : دا صحیح ده چه کوم شی ثابت په اقتضاء سره وی هغه ضروری وی لکن کوم لوازم چه احتمال د سقوط نه لری هغه ثابتیږی لکه هبه چه ثابت په اقتضاء سره وی نو دی سره قبضیت لازم دی ځکه دا د هبی د لوازمو نه دی نو پدی صورت کی ملک یمینی مقتضی دی او بطلان د ملک نکاحی د دی د لوازمو نه دی چه له دی نه نه جدا کیږی ځکه چه د ملک یمینی سره ملک نکاحی راتلای نشی۔

والولاء لها لانه عُتِقَ علیها و یقع عن کفارتها لو نَوَتْ به ای لو نوت بهذا الاعتاقِ الاعتاقَ عن الکفارة یقع عن الکفارة .

ترجمه : او ولاء به د ښځی لپاره وی ځکه خاوند ازاد شوی په ښځه باندی او واقع کیږی عتق د کفاری د دی نه کچیری نیت ئی کړی ؤ دغی ښځی پدی اعتاق سره د اعتاق ۔

تشریح او توضیح : ښځه معتِقه شوه او خاوند ئی معتَق شو او کوم شی چه له معتَق نه پاتی کیږی هغه ته ولاء ویل کیږی دا د معتِق حق دی نو پدی صورت کی ښځه معتِقه ده نو ولاء د ښځی کیږی اوس که فرضا په ښځه باندی داسی کفاره وه چه غلام ازادول پکی واجب ؤ او دغی ښځی په دی مذکوره صورت کی نیت د کفاری وکړ نو بلکل صحی ده او ازادی ده غلام به له کفاری څخه واقع کیږی ۔

و ان قالت ذلك بلا بدل لم يفسد و الولاء له اى للسيد و هذا عند ابى حنيفةؒ و كذا عند محمدؒ و اما عند ابى يوسفؒ فهذا والاول سواء فيثبت الملك هنا بطريق الهبة و تستغنى الهبة عن القبض وهو شرط كما يستغنى البيع عن القبول و هو ركن ـ فنقول القبول ركن يحتمل السقوط كما فى التعاطى اما القبض فلا يحتمل السقوط فى الهبة بحال .

تشريح او توضيح : او كه اووېل دغې ښځې د خپل زوج سيد ته دغه قول چه اعتقه عنى دى بې له ذكر د بدل نه يعنى عوض چه الف (زر روپۍ دى) او مولى د زوج دغه زوج ازاد كړ نو پدې صورت كې عتق د سيد له طرفه واقع شو نه د ښځې له طرفه نو نكاح فاسده نشوه ځكه ملكيت د ښځې رانغى چه ملك يمينى ورته وائى او ولاء به د سيد وى ځكه معتِق هم دى دى ، دا قول چه عدم فساد د نكاح دى او ولاء د سيد لپاره ده نو دا د امام ابو حنيفةؒ او امام محمدؒ قول دى يعنى ده طرفينو قول دى۔

او د امام ابويوسفؒ په نزد دا مذكوره صورت يعنى چه عوض پكې ذكر نوى او مخكې صورت چه ذكر د عوض پكې دى يو برابر دى يعنى په دواړو كې عتق راځى د ښځې له طرفه او ولاء به هم د ښځې لپاره ثابته وى او نكاح به هم فاسده وى په مخكنى صورت كې د نكاح د فساد وجه بيان شوى خو پدې صورت كې چه ذكر د بدل نوى دلته ملك په طريقه د هبې سره ثابت دى اقتضاءً لكه څرنګه چه مخكې صورت كې ملك په طريقه د بيع سره اقتضاءً ثابت ؤ ـ

و تستغنى الهبة عن القبض الخ : دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسې چه هبه خو بغير د قبض نه نه تماميږى او نه د موهوب له ملك په موهوب راتلاى شى مګر په قبض د موهوب سره نو پدې مقام كې اګر چه د ښځې قول چه اعتقه عنىدى قائم مقام د هب لى ثم اعتقه عنى دى دارنګې د سيد قول چه اعتقه عنكِ قائم مقام د وهبته لكِ ثم اُعتقته عنكِ دى خو پدې سره ملك راتلاى نشى ځكه دلته قبض د موهوب نشته ؟ نو شارحؒ د دى جواب وكړ چه قبض شرط دى په هبه كې او قبول ركن دى په بيع كې نو هركله چه په مخكنى صورت كې سقوط د ركن راغى چه قبول دى او بيع هم بغير له ركن نا تمامه شوه نو سقوط د قبض خو په طريقه اولى سره راتلاى شى ځكه چه ركن قوى دى او شرط ضعيف دى چه سقوط د قوى راتلاى شى نو سقوط د ضعيف په طريقه اولى سره راتلاى شى نو دلته اګر چه قبض منتفى دى خو هبه تماميږى ـ فنقول : دا د امام ابويوسفؒ د استدلالاتو نه جواب او د طرفينو د مذهب د تائيد لپاره وائى چه صحيح ده چه قبول ركن دى ليكن دا احتمال د سقوط لرى په بعضى ځايونو كې قبول نوى لكه په تعاطى كې ـ

تعاطي دېته وائى چه بيعه بغير له تكلمه وشى د دواړو جانبينو نه يا د جانب واحد نه هغه داسې چه مشترى روپۍ بائع ته وركړى او د بائع نه مبيعه واخلى نو پدى صورت كې ايجاب شته خو قبول نشته او هر چه قبض دى هغه احتمال د سقوط نه لرى په يو صورت كې هم ځكه هبه بدون له قبض نه نه تماميږى ـ

فان اسلم المتزوجان بلا شهود او فی عدة کافر معتقدین ذلك أُقِرَّا علیه و ان اسلم الزوجان المحرمان فُرِّق بینهما والطفل مسلم ان کان احد ابویه مسلما او اسلم احدهما و کتابی ان کان بین مجوسی و کتابی لان الطفل یتبع خیر الابوین دینا .

ترجمه : که اسلام راوړو دوه نکاح کونکو چه نکاح ئې بې له ګواهانو څخه کړې وه ، او یا دا ښځه په عدت د بل کافر کې وه او د دوی عقیده د دې د روا والي وه نو دواړه به په همدې نکاح پرېښودلی شي او که اسلام راوړه دوه نکاح کونکو چه دواړه سره محارم ؤ نو د دوی تر منځ به جدا والي راوستلی شي ، او ماشوم مسلمان دی که یو د مور او پلار د ده نه مسلمان ؤ او یا اسلام راوړ یو د دواړو نه ، او ماشوم به کتابي وي که د مجوسي او د کتابي تر منځ ؤ ځکه ماشوم به تابع وي د بهتر د مور او پلار نه په اعتبار د دین سره ـ والکتابی افضل من المجوسی لانه یقربالله با.

تنویر الافکار فی مباحث انکحة الکفار

غرض د ماتن ؒ پدې عبارت سره بیان د مباحثو د نکاح د کافر دی ، حاصل د کلام دا دی چه کله کافر سړي د کافرې ښځې سره بدون د ګواهانو څخه نکاح وکړي او یا دغه ښځه په عدت د بل کافر کې وه چه هغه طلاقه کړې وه ، او یائې خاوند وفات شوی وو او دا قسم نکاح د دوی په دین کې روا وه بیا دغې ښځې او خاوند اسلام راوړ نو دواړه به په دغه نکاح ثابت پرېښودلی شي ځکه هر نکاح چه د مسلمانانو تر منځ د یو شرط د نیشتوالي د وجې حراموي نو د کافرو تر منځ جائز ده کله چه هغوی د دې د جواز عقیده لري او پس له اسلامه به په همغې نکاح پرېښودلی شي ځکه مونږ ته د ترک د هغوی په هغه شي چه کوم دوی د هغه د جواز عقیده لري امر شوی پدیکې راز دا دی چه دوی په حالت کفر کې په حقوق اسلام سره مخاطب ندي نو کله چه د دوی په نزد په جائزه طریقه وشي نو دا نکاح پوره شوه او پس له اسلامه به هم په همدغې نکاح وي همدارنګې که په حالت د کفر کې زمونږه مرافعې ته څه د نکاح مسئله دې متزوجانو راوړه نو بیا به هم په دغه نکاح پرېښودلی شي ـ **قوله او فی عدة کافر** ـ که دغه ښځه په عدت د مسلمان کې وه نو بیائې بالاجماع نکاح باطله ده لیکن امام ابویوسف ؒ او امام محمد ؒ وائي که دغه ښځه د کافر په عدت کې وي نو هم نکاح صحیح نده ځکه چه حرمت د معتدة الغیر اتفاقي ده او حرمت د نکاح چه بلا شهوده وي نو اختلافي ده لیکن امام ابو حنیفة ؒ ورته وائي چه دی فرق ته هیڅ اعتبار نشته ځکه کفار په حالت د کفر کې په یو حکم سره هم مخاطب نه دي ـ

قوله و ان اسلم الزوجان المحرمان الخ : که یو کافر د یوې ښځې کافرې سره نکاح وکړه حال دا چه دواړه سره محارم ؤ لکه خور او ورور و غیره ، بیا دواړو اسلام راوړ نو په قاضي لازم دي چه د دوی تر منځ جداوالي راولي ، دا د دې وجې نه نه چه په کفر حالت کې نکاح باطله ده ځکه د مجوسو په نزد نکاح

دمحارمو رواده بلکه دا د دې وجې نه چه محرميت منافي دی د بقاء د نکاح سره ـ

قوله والطفل مسلم الخ : که چيرته يو مسلمان د يوې کتابيي ښځي سره نکاح وکړه او يا دواړه کافر ؤ نو يو ترې مسلمان شو نو د دوی تر منځ مولود ماشوم به حکما مسلمان وي که مړ شي نو ګور کفن به د مسلمانانو ورکولي شي ، او که يو له مور پلار څخه کتابي ؤ او بل مجوسي ؤ نو ماشوم به کتابي وي ځکه ماشوم تابع د خير الابوين دی په اعتبار د دين سره خو ترڅو چه بالغ شوی نه وي او بل دين غوره نه کړي ـ

و في اسلام زوج المجوسية او امرأة الكافر اى سواء كان مجوسيا او كتابيا يُعرض الاسلام على الآخر فان اسلم فهي له و الا فرق .

ترجمه : او په راوړلو د اسلام د خاوند دمجوسي ښځي او يا په اسلام راوړلو د ښځي د کافر کي يعني برابره خبره ده چه خاوند ئې مجوسي وي او که کتابي وي نو بل ته به اسلام وړاندې کولې شي نو که اسلام ئې راوړ نو دا ښځه به د همدغه سړي وي او که اسلام ئې رانه وړ نو د دوی تر منځ به جداوالي راوستلې شي ـ

تشريح ا وتوضيح : که يوه ښځه چه مجوسيه وي کتابيه نوی او خاوندئې اسلام راوړ برابره خبره ده که خاوند ئې مجوسي وي او که کتابي وي او که مشرک وي ، يا يو ښځه چه خاوند ئې کافر ؤ ايمان ئې راوړ برابره خبره ده چه خاوند ئې مجوسي وي او که کتابي وي نو په دواړو صورتونو کې به هغه بل ته اسلام پيش کولې شي کله چه عاقل بالغ وي او يا ماشوم وي خو په دينونو باندې پو هيږي ځکه د ده مرتد والي معتبر دی دارنګې انکار د ده ، او که ماشوم ليوني ؤ نو مور او پلار ته به ئې اسلام وړاندې کولې شي که يو له مور او پلار څخه ايمان راوړ نو د هغوی تر منځ به نکاح پاتې کولې شي ځکه ولد د خير الابوين تابع وي ـ

په عرض د اسلام کې څه وجه او فائده ده ؟ وجه او فائده پکې دا ده چه داسې يو سبب ضروري دی چه هغې ته د جدائی نسبت وشي ځکه د کفارو او مسلمانانو تر منځ نه ابتداءً او نه بقاءً نکاح روا ده او اسلام صفت عاصمه دی نو هغه ته د فرقت او جدائی نسبت نشي کولې نو عرض د اسلام ته ضرورت شته تر دی چه د فرقت نسبت د ده انکار ته وشي نو که اسلام ئې راوړ نو د دوی تر منځ به نکاح پاتې وي او که اسلام ئې رانه وړ بلکه انکار ئې وکړ نو د دوی تر منځ به قاضي تفريق راولي ـ

و هو اى التفريق طلاق بائن لو أبى لا لو أبت لان الطلاق لا يكون من النساء و لا مهر هنا اى في إبائها إلا للموطوءة اما في صورة إباء الزوج فإن كانت موطوءة فكل المهر و إن لم تكن فنصفه لان التفريق هنا طلاق قبل الدخول .

ترجمه : دا تفريق طلاق بائن دی که خاوند انکار وکړ او طلاق بائن ندی که ښځې انکار وکړ ځکه طلاق د ښځو له طرفه نوی او په صورت د انکار د ښځه کې مهر هم نشته مګر د موطوئې لپاره شته

هر چه صورت د انکار د خاوند کی نو که ښځه موطوءه وه نو بیا په خاوند ټول مهر لازم دی او که موطوءه نه وه نو نیم مهر لازم دی ځکه تفریق پدی صورت کی طلاق قبل الدخول دی ۔

تظهیر المسئلة

کله چه د زوجینو تر منځ تفریق راوستلی شی نو که دغه تفریق په سبب د انکار د خاوند کی ؤ نو بیا دغه تفریق د طرفینو په نزد طلاق بائن دی ځکه طلاق د خاوند له طرفه دی او انکار هم د خاوند له طرفه راغلی ، او که ښځی د اسلام راوړو څخه انکار وکړ نو بیا دغه تفریق طلاق نه حسابیږی ځکه طلاق د ښځو له طرفه نه وی بلکه دا به فسخه حسابیږی ځکه فسخه د ښځی له طرفه وی ۔ قوله ولا مهر هنا : یعنی کله چه انکار د ښځی له طرفه ؤ او قاضی د ښځی د انکار په وجه د دوی تر منځ جداوالی راوست نو که دا ښځه غیر موطوءه وه نو د ښځی لپاره مهر نشته ځکه فرقت د ښځی له طرفه راغلی او مخکی د مهر د مضبوطوالی نه ځکه د مهر مضبوطوالی په وطی سره راځی او کله چه وطی رانغله نو مهر ساقط شو او که ښځه موطوءه وه نو بیا د ښځی لپاره مکمل مهر دی ځکه دخول راغلی او په دخول سره مهر مضبوطیږی او کله چه مهر مضبوط شی نو بیا په یو شی سره هم نه ساقطیږی ، لیکن په صورت د انکار د خاوند کی کوم تفریق چه د خاوند په وجه راغلی نو حکم د دی حکم د طلاق دی که قبل الدخول ؤ نو نیم مهر مسمی به وی او که بعد الدخول ؤ نو ټول مهر به په خاوند لازم وی کما مر سابقا ۔

و لو کان ذلك فی دارهم ای اسلام زوج المجوسیة او امرأة الکافر لم تبن حتی تحیض ثلاثا قبل اسلام الآخر .

ترجمه : او که اسلام راوړ د احد الزوجین نه په دار الحرب کی نو دا ښځه تر هغی نه جدا کیږی چه دری حیضه پری تیر شی مخکی د اسلام راوړلو د هغه بل نه ۔

تشریح او توضیح : مخکی حکم چه عرض اسلام او تفریق دی دا هلته چه زوجین په دار الاسلام کی سره یو ځای شی او که دواړه په دار الحرب کی ؤ یا یو په دار الاسلام کی ؤ او بل په دار الحرب کی ؤ نو بیا به هغه بل ته اسلام نشی پیش کولی برابره خبره ده چه هغه کافر مونږ ته راشی یا نه ، ځکه نه په غائب فیصله کیږی او نه ده غائب لپاره ، نو که اسلام راوړل خاوند د مجوسی ښځی یا د ښځی د کافر په دار الحرب کی ؤ او هغه بل اسلام قبل نکړ نو دا ښځه تر هغی نه جدا کیږی چه دری حیضه پری تیر شی که د ذوات الحیض نه وه ، او که آیسه وه یا صغیره نو بیا پکی معتبر دری میاشتی دی نو که د دی مودی تیریدو نه مخکی هغه بل اسلام راوړ نو بیا نه بینونت شته او نه تفریق ۔

و لو اسلم زوج الکتابیة فهی له ، و تبین بتباین الدارین لا بالسبی فلو خرج احدهما الینا مسلما او اخرج مَسْبِیًّا بانت ، و ان سُبِیَا معا لا ، و من هاجرت الینا بانت بلا عدة الا الحامل و ارتداد کل منهما فسخ عاجل .

ترجمه : او که د کتابیی ښځی خاوند اسلام راوړ نو دا ښځه به د همدغه سړی وی او ښځه جدا کیږی د خاوند خپل نه په تباین د دارینو سره نه په قید سره نو که یو د زوجینو نه زمونږ دار الاسلام ته په حالت د اسلام کی راغی او یا دار الاسلام ته بندی راوستلی شی نو ښځه جدا شوه ، او که دواړه زوجین یو ځای بندی شو نو بیا نه جدا کیږی ، او کومه ښځه چه مونږ ته هجرت وکړی نو ښځه جدا شوه بغیر له عدت ځخه مگر حامله ښځه ځکه په هغې عدت شته چه هغه مده د وضع د حمل ده ، او مرتد کیدل د هر یو د زوجینو نه عاجلا فسخه ده ۔

تشریح او توضیح : که د کتابی ښځی خاوند اسلام راوړ نو دغه ښځه به د همدغه سړی په نکاح کی وی ځکه د کتابیه من حیث الکتابیه نکاح د مسلمان سره حرامه نده ۔

قوله و تبین : ښځه د خاوند نه په تباین د دارینو سره هم جدا کیږی دغه تباین حقیقتا وی او که حکما وی ، حقیقتا تباین لکه چه یو په دار الحرب کی وی او بل په دار الاسلام کی ، او حکما لکه یو بل ملک ته چه داخل شی او نیت ئی د بیرته واپسی نه وی بلکه د همیشه اوسیدو وی ، تر دی پوری که یو حربی زمونږ دار الاسلام ته په امان یعنی په ویزه داخل شی نو د ده ښځه د ده نه نه جدا کیږی ځکه دا حکما په خپل دار کی دی او که ذمه ئی قبوله کړه نو بیا تباین د دارینو راغی ښځه تری جدا شوه لیکن که ښځه یا خاوند د مسلمانانو په لاس کی بندی شو نو بیا ښځه تری نه جدا کیږی فرق دا دی چه په تباین د دارینو سره انتظام د مصالحو نه کیږی نو نکاح قطعه کیږی او په سبی سره صرف ملک رقبی راځی او ملک رقبی د نکاح سره څه منافات نه لری ۔

قوله فلو خرج الخ : غرض د ماتن پدی عبارت سره تفریع په ما سبق باندی ده هغه دا چه زمونږ په نزد تباین فرقت راولی او سبی سره نه راځی او د امام شافعیؒ په نزد سبی سره فرقت راځی نه د تباین سره نو که مونږ ته احد هما مسلمان راغی نو پدی صورت کی تباین راغی او ښځه جدا شوه او که احد هما بندی راوستلی شو نو پدی صورت کی تباین راغی او ښځه جدا شوه ، او که دواړه بندی کړای شو یو ځای نو پدی صورت کی صرف سبی راغله او په سبی سره فرقت نه راځی ۔

قوله و من هاجرت : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د عدم عدت دی په مهاجره ښځه باندی یعنی کومه ښځه چه دار الحرب پریږدی او دار الاسلام ته د اقامت په نیت راشی او د بیرته تگ نیت ئی نوی ، مسلمانه راغلی وی او یا ذمیه نو دغه ښځه د خپل خاوند نه جدا شوه او د امام ابو حنیفةؒ په نزد

عدت پری نشته او د صاحبینو په نزد عدت پری شته دوئی وائی چه دار الاسلام ته د داخلیدو نه وروسته فرقت راغلی نو دار الاسلام احکام پری لازم دی چه یو له هغی حکمونو نه عدت دی ، امام ابوحنیفهؒ وائی : چه عدت د مخکی نکاح اثر دی لپاره د اظهار د عزت د ملک د زوج ولا عزة لملك الحربی فلا عدة نو چه صرف دار اسلام ته داخله شوه نو نکاح کولی شی بی له عدت تیرولو نه لیکن حامله ښځه باندی عدت شته چه هغه موده د وضع د حمل ده نو د وضع د حمل نه مخکی ورته نکاح جائز نده ، او په روایت د حسن کی د امام ابوحنیفهؒ نه دا دی چه د دی نکاح قبل الوضع هم صحیح ده لیکن خاوند به تر وضعی د حمل پوری نزدیکت نه کوی ، ورجحها الاقطع شارح مختصر القدوری ۔

قوله وارتداده آه : که زوجینو کی هر یو مرتد شو نو ارتداد د ده به فسخه عاجله وی یعنی طلاق ندی نو که مرتد شی احد الزوجین خو کرتی او بیا اسلام هر کرتی بیرته راوړی او نکاح تازه کړی نو دغه ښځه ورته بغیر له تحلیل نه روا ده ، د فسخ عاجلی معنی دا ده چه د قاضی د قضاء پوری به موقوفه نوی ، او نه به مدخول بها کی د عدت تیریدو پوری موقوفه وی ۔

ثم للموطوءة کل مهرها و لغیرها نصفه لو ارتد ، و لا شیء علیه لو ارتدت و بقی النکاح ان ارتدا معا ثم اسلما معا و فسد ان اسلم احدهما قبل الآخر .

ترجمه : که زوج مرتد شو نو ښځه که موطوءه وه نو په خاوند باندی کل مهر مسمی دی او یا مهر مثل دی همدارنګه د دی لپاره نفقه د عدت ده او که ښځه غیر موطوءه وه نو بیا که مهر مسمی ؤ نو نیم دی او که نه ؤ نو متعه ده او که ښځه مرتده شوه او غیر مدخول بها وه نو نه مهر شته او نه نفقه د عدت شته ځکه په غیر مدخول بها باندی عدت واجب ندی او مهر ځکه نشته چه فرقت د ښځی له طرفه راغلی مخکی د مهر د مضبوطوالی نه چه د مهر مضبوطوالی په وطی سره راځی او وطی رانغله نو مهر ساقط شو او که ښځه مدخول بها وه په صورت د ارتداد د ښځه کی نو صرف مهر واجب دی او نفقه د عدت نشته لیکن پدیکی عدت واجب دی په حیض سره که د ذوات الحیض نه وه یا په میاشتو سره که آیسه یا صغیره وه ، او یا په وضع د حمل سره که حامله وه او که زوجین دواړه یو ځای مرتد شو العیاذ بالله بیا دواړو په یو ځای سره اسلام راوړ نو په همغه نکاح به پاتی وی ، او که د مرتد کیدو نه وروسته یوه د هغه بل نه اسلام مخکی راوړ نو نکاح فاسده شوه ځکه ردت د احد هما منافی دی د نکاح سره ابتداءً نو همدارنګی منافی دی بقاءً هم ۔ دا باب په همدی ځای آخر ته ورسیده لکه څرنګه چه ماتنؒ ورته په ډیره باریکه نقطه اشاره کړی چه په عنوان کی ویلی باب نکاح الرقیق والکافر او په اخر کی ئی ویلی چه وفسد ان اسلم احدهما قبل الآخر ۔

باب القسم

باب دی په بیان د تقسیم کی

قسم : په فتحی سره مصدر دی لکه عرب وائی قسم المال بینهم ای فرق علیهم و عین انصبائهم ، او په کسره اسم دی همدارنگه په فتحی سره هم کله په حصی او نصبی باندی اطلاق کوی لکه ویلی شی هذا قسمی ای نصیبی ۔

یجب العدل فیه

ترجمه : په تقسیم کی عدل واجب دی ۔

تشریح او توضیح : په شریعت کی د امت محمدی لپاره د هر یو نارینه لپاره الله پاک څلور ښځی روا کړی دی صرف د نبی ﷺ خصوصیت ؤ چه په یو وخت کی نهه (۹) بیبیانی په نکاح اخستی وی او د امتی لپاره په یو وخت کی د څلورو نه زیاتی روا ندی ، که مثلا یوه مړه شی یائی طلاقه کړی او بله په نکاح اخلی نو هیڅ پروا نلری اگر که ۱۰۰ ته ورسیږی خو په هر وخت به په نکاح کی د څلورو نه زیاتی نوی ، د کونډی ښځی کول هم د پیغمبر ﷺ سنت دی ځکه نبی ﷺ اول ښځه کونډه کړی وه چه بی بی خدیجة الکبری رضی الله عنها وه ، او د پیغلی جینۍ نکاح کول بیا د کونډی ښځی د نکاح نه کولو نه بهتر دی ځکه د نبی ﷺ یو قول دی یو صحابی ته چه تا پیغله جینۍ ولی نه کوله هغی به له تاسره مستی کوله او تا به له هغی سره مستی کوله نو د نبی ﷺ دا وینا یو قول دی او د نبی ﷺ په خپله د بی بی خدیجی نکاح کول یو فعل دی او قول د نبی ﷺ د فعل د نبی ﷺ نه قوی وی ځکه فعل د نبی ﷺ کله د هغه سره خصوصیت لری نو که چیرته یو سړی غواړی چه ډیری ښځی مثلا دوه یا دری ښځی یا څلور په نکاح واخلی نو د هغوی تر منځ د عدل او مساوات نه کار اخلی او د هغوی سره دی ښه گذران کوی لکه الله پاک فرمائی چه و عاشروهُنَّ بالمعروف یعنی د ښځو سره ښه گذاره کوی او که یو سړی د ښځو تر منځ عدل او انصاف کولی نشی نو یوه ښځه دی وکړی ، ځکه د ښځو تر منځ عدل او انصاف په تقسیم کی واجب دی او فرض دی خو د دی عدل نه دا مراد نه دی چه په ټولو امورو کی دی تسویه وی تردی چه په کوروالی کی دی هم وی ۔

بلکه تسویه لازم ده په شپه تیرولو کی په جامه کی په خوراکی شیانو کی په ښه معاشره کی او په وطی کی تسویه لازم نه ده ځکه وطی په جذبی او نشاط سره راځی او هغه چه د کومی ښځی خوا ته میلان وشو ، لکن د یو ښځی جماع به بالکلیه نه پریږدی بلکه کله کله په ده لازم ده لکه الله پاک فرمائی :

(و لن تستطیعوا ان تعدلوا بین النساء و لو حرصتم فلا تمیلوا کل المیل فتذروها کالمعلقة ۔ الآیة)

۔ترجمه : او تاسی هیڅکله طاقت نه لرئ چه د ښځو تر منځ عدل او انصاف وکړئ اگر که تاسی

حرص وکړی نو مکمل میلان د یوی خوا ته مه کوی چه هغه بله پشان د زوړندی پریږدی چه نه بل خاوند کولی شی او نه ئی تاسی ښځه کوی، او یوی خوا ته میلان کول لویه گناه ده لکه یو حدیث مبارک کی راغلی دی چه د چا دوه ښځی وی او د یوی خوا ته میلان وکړی نو د قیامت په ورځ به د الله پاک حضور ته به راروان وی اړخ یو طرف به ئی فالج وی او کوږ به وی۔

په تقسیم کی عدل کول په امت لازم دی او په نبی ﷺ باندی لازم نه ؤ خو نبی علیه السلام سره د دینه د بیبیانو تر منځ په تقسیم کی عدل کولو (۱) او دا به ئی فرمائل اللهم هذا قسمی فیما املک فلا تلمنی فیما لا املک ۔ یعنی ای الله دا زما تقسیم دی په هغه څه کی چه زه ئی واک لرم نو ته ما مه ملامته کوی په هغه څه کی چه زه ئی واک نه لرم، مقصد د دینه چه زه ئی واک نلرم د زړه میلان او محبت دی ځکه زړه د انسان په اختیار کی نوی نو د نبی ﷺ زیات محبت د بی بی عائشی رض سره ؤ نو نبی ﷺ چه په تقسیم کی د ومره اندازه احتیاط کولو نو په امتی باندی زیات عدل کول لازم دی، که د یوی ښځی سره د خاوند څه د زړه محبت وی نو هغه د ښځی پوری تعلق لری که ښځه اوښیاره دینداره وه او د خاوند د مال او عزت خیال ساتی او خاوند ته ځان ښائسته کوی نو د خاوند د زړه مینه به خامخا ورسره زیاته وی، او بله ښځه به مثلا خیرنه گرځی د خاوند به خیال نه ساتی نو ښکاره خبره ده چه د خاوند به ورسره مینه کمه وی نو پدی خاوند گناه گار نه دی۔

نو په اطلاق د دی مذکور ایاتونو او احادیثو سره زمونږ احنافو حکم داسی کړی چه د قدیمی ښځی او د نوی ښځی تر منځ او د پیغلی انجلۍ او کونډی تر منځ د مسلمانی او کتابی ښځی تر منځ تسویه واجب ده لکن د دوی تر منځ په فرق سره هم څه روایات راغلی چه هغه دلیل د امام شافعی رح لپاره دی لکه انس رض روایت چه د سنتو نه دا دی چه کله پیغله انجلۍ د ثیبی د پاسه واده شی نو د پیغلی سره به اول اوه (۷) شپی تیروی بیا به د هغی نه وروسته تا تقسیم شروع کوی لو که ثیبه ښځه ئی وکړه نو هغی سره به دری شپی تیره وی بیا به تقسیم شروع کوی، او که ثیبه ښځه ئی وکړه نو هغی سره به دری شپی تیره وی بیا به تقسیم شروع

---

(۱) ((لکه امام غزالی رح په احیاء العلوم ج۲ ص ٦٢ کی لیکلی دی چه د نبی ﷺ د حسن عدل او قوت نه به نبی ﷺ چه کله شوق د کوروالی یوی بی بی ته راغی بغیر د نوبت د هغی نه نو هغی بی بی سره به ئی کوروالی وکړ او په همدغه ورځ یا په همدغه شپه به ئی تولو سره کوروالی کوه، د بی بی عائشی رضی الله عنها نه روایت دی چه نبی ﷺ به په یوه شپه کی په تولو بیبیانو گرځیده یعنی کوروالی به ئی کوه، او انس رضی الله عنه فرمائی: چه نبی علیه السلام به د ورځی ځابنت موده کی د نهو (۹) بیبیانو سره کوروالی کوه، دا حدیث ابن عدی په کامل کی روایت کړی، او مخکی حدیث متفق علیه حدیث دی))

كوى او د انس ؓ نه بل روايت كى راغلى دى چه نبى عليه السلام د پيغلى لپاره اوه شپى مقرر كړى دى او د ثيبى لپاره ئى درى شپى مقرر كړى نو د دى رواياتو نه دا معلوميږى چه نوى ښځه كه پيغله وه نو اوه شپى به ورسره تيره وى ، او كه ثيبه وه نو درى شپى به ورسره تيره وى، لكن تحقيقى خبره دا ده چه عدل صرف په تسويى كى منحصر ندى بلكه د انس ؓ د رواياتو نه حق د هغى ښځى معلوميږى چه نوى واده شى، نو دا هم به هغه عدل كى داخل شو چه كوم مامور به دى نو د دواړو طرفو دلائلو تر منځ څه مخالفت نشته ـ

والبكر والثيب والجديدة والقديمة والمسلمة والكتابية سواء .

ترجمه:پيغله اوكونده وى او زړه مسلمانه اوكتابيه ښځه سره برابرى دى ـ تفصيل مخكى بيان شو

و للامة والمكاتبة و ام الولد والمدبرة نصف ما للحرة

ترجمه : د وينځى او مكاتبى او ام ولدى او مدبرى نيم هغه حق دى كوم چه د اصيلى ښځى لپاره وى

تشريح ا وتوضيح :غرض د ماتن ؒ پدى عبارت سره شروع په بيان د هغه عدل كى دى كوم چه واجب دى په غير حره كى، برابره خبره ده چه مسلمانه وى اوكه كتابيه وى قديمه وى اوكه جديده وى باكره وى اوكه ثيبه وى نو د وينځى او مكاتبى او ام ولدى او مدبرى لپاره په شپه تيرولو كى نيم حق دى يعنى اصيلى ښځى سره به دوه شپى تيره وى اووينزى سره به يوه شپه تيره وى داپه هغه وخت كى چه دبل چا وينزه ئى په نكاح كړى وى ځكه چه دخپلى وينزى سره نكاح نه كيږى او نه د ده د وينځى او د ده د ښځى تر منځ تقسيم شته ، او په نفقه او سكنى كى بيا د وينزى او اصيلى ښځى تر منځ تقسيم نشته ، مكاتبه او مدبره او ام ولده دا د وينځى په حكم كى دى ـ

و لا قَسْمَ فى السفر يُسافر بمن شاء والقرعة اولى ، و ان تركتْ قَسْمَها لضرتها صح ، و ان رجعت جاز .

ترجمه : او په سفركى تقسيم نشته خاوند چه له چاسره خوښه شى سفر د كوى خو پچه اچول بهتر دى او يو ښځى خپل نوبت خپلى بنى ته پريښود نو صحيح ده او كه بيرته ئى رجوع وكړه نو جائز ده ـ

تشريح ا وتوضيح : د ښځو په مينځ كى په سفر كولو كى تقسيم واجب نه دى له كومى سره چه سفر كوى نو ودى كړى ځكه د ټولو سره يو ځاى كله سفر ممكن نه وى ، او كله يوه ښځه په كور كى د اعتماد وړ وى او بله د سفر كولو وړ وى ليكن د دوى تر منځ پچه او (خَلَىٰ) اچول ډير بهتر دى ځكه د دوى زړونه به خوشحاله وى او جنګ جګړه به ختمه وى نبى كريم ﷺ به چه كله اراده د سفر وكړه نو د بيبيانو تر منځ به ئى پچه واچوله د كومى يوى چه به پچه راووتله نو د هغى سره به ئى سفر كولو او كه يوى ښځى خپل د شپى نوبت خپلى بنى ته وبښه نو صحيح ده لكه بى بى سودهؓ چه بى بى عائشىؓ ته ښبلى و ، او كه د ښښنى نه وروسته ئى بيرته رجوع وكړه چه زه خپل تقسيم بيرته غوښتونكى يم نو نو بالكل روا ده ، او غوښتلى ئى شى ځكه دا د دى حق دى او هميشه ساقطول پدى لازم نه دى ـ

کتاب الرضاع

کتاب دی په بیان د رضاع کی

هر کله چه مقصود د نکاح نه غالبا ولد وی او ولد غالبا په ابتدائی مرحله کی بغیر له رضاع نه ژوند نشی کولی او د رضاع بعضی احکام هم د نکاح پوری متعلق دی نو مصنفؒ د رضاع بحث د کتاب النکاح نه وروسته بیان کړ۔

رِضاع په کسری د را سره او په فتحی د را سره عبارت دی د څکلو د شیدو له سینی (غلانزی نه)۔

یثبت بمصة فی حولین و نصف لا بعده ، امومیة المرضعة للرضیع و أبوة زوج مرضعة لبنُها منه لها ای للرضیع فالحولان و نصف قول ابی حنیفةؒ و اما عند غیره فمدته حولان ، و عند الشافعیؒ یثبت بخمس مصّاتٍ .

ترجمه : ثابتیږی په یو ځل شیدو راکش کولو سره په مده د دوه نیم کلو کی ، نو وروسته له دینه موروالی د تی ورکونکی ښځی تی رودونکی ماشوم لره ، او پلار والی د خاوند د دغی تی ورکونکی ښځی چه شیدی د دی ښځی د دغه خاوند نه وی د دی تی رودونکی ماشوم لره نو دوه نیم کاله قول د امام ابو حنیفةؒ دی ، او د امام ابو حنیفةؒ ما سوا د نورو علماء په نزد دمده د رضاع دوه کاله ده او د امام شافعیؒ په نزد رضاع په پنځو ځلو تی راکاږلو سره ثابتیږی ۔

تشریح او توضیح : او د تولو نه مخکی د بعضی لغاتو معنی (مص) په فتح د میم او په تشدید د صاد مهمله سره یقال مصصتها ای شربتها شربا رقیقا والتاء فیه للوحدة خو مقصودی معنی ئی د زنانه تی راکش کولو ته وائی زنانه پیغله وی او که مړه وی او که آیسه وی نو په دری صورتونو کی رضاع ثابتیږی ، د سرې یا د خاروی په تی راکش کولو سره رضاع نه ثابتیږی لیکن په رضاع کی د مص قید شرط نه دی که فرضا د ماشوم ګیډی ته د زنانه شیدی د غوږ د لاری یا د پوزی د لاری یا د مرۍ د لاری ورسیدی نو هم رضاع ثابتیږی ۔ (مرضعة) تی ورکونکی ښځی ته وائی (رضیع) تی رودونکی ماشوم ته وائی ۔ د یثبت لپاره فاعل امومیة المرعة للرضیع و أبوة زوج مرعة دی یعنی معطوف معطوف علیه دواړه فاعل د یثبت لپاره دی او دا قول چه (لبنها منه) دی صفت د زوج دی او کلمه د (له) متعلق دی د امومیت او ابوت پوری یعنی موروالی او پلار والی دغه ماشوم لره ۔

نو د امام ابو حنیفةؒ په نزد په یو ځل مص سره په موده د دوه نیمو کلو کی د دغی مرضعی موروالی د دغه رضیع لپاره ثابتیږی او دارنګی پلار والی د خاوند د دی مرضعی خو هغه خاوند چه شیدی د دی ښځی د همدغه خاوند نه وی ځکه که د ښځی شیدی د یو خاوند نه نه وی او بیا د ارضاع په وخت کی

د بل خاوند په نکاح کی وه نو د رضیع رضاعی پلار به هغه حسابیږی چه د کوم یو نه د دی شیدی وی لیکن د رضاع د مدی نه وروسته که یوه زنانه یو ماشوم ته شیدی ورکړی نو موروالی او پلار والی پری نه ثابتیږی یعنی حرمت پری نه راځی د وجی د یو حدیث شریف نه چه (لا رضاع بعد فصال و لا یتم بعد حلم) چه د تی نه د قطع کولو نه ورسته رضاع نشته او نه دبلوغ نه وروسته یتیم والی شته ، او په موطا او سنن ابی داود کی راغلی چه یو سړی د ابو موسی اشعریؓ نه پوښتنه وکړه چه ما د خپلی ښځی د سینی شیدی راکش کړی او ګیډی ته می لاړی نو ابو موسی اشعریؓ ورته وویل چه دغه ښځه په تا حرامه شوی ده نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ورته وویل چه سوچ وکړه دغه سړی ته تا څرنګه فتوی ورکړه ؟ نو ابو موسی اشعریؓ ورته وویل چه ته څه وائی ؟ نو عبد الله بن مسعودؓ ورته وویل چه رضاع خو په دوه کلنۍ کی وی نو له دی څخه معلومه شوه چه د تی له قطع کولو څخه وروسته رضاع نه ثابتیږی چه د رضاع موده د امام صاحب په نزد دوه نیم کاله ده او د صاحبینو په نزد دوه کاله ده ، او امام زفرؒ په نزد دری کاله ده ، د امام صاحب قول او مذهب ته اګر که متونو ترجیح ورکړی لکن د دلائلو نه کمزوری دی او د امام زفرؒ قول د بطلان په صورت کی دی نو صحیح او قوی او مفتی به قول د امام محمدؒ او امام ابو یوسفؒ دی ۔

او د امام شافعیؒ په نزد په پنځو ځلو مصو سره رضاع ثابتیږی ، او یو مص یا دوه مصو سره رضاع نه ثابتیږی او نه مرضعه حرامیږی دلیل ئی حدیث د بی بی عائشیؓ دی چه د قرآن په نزول کی دا وه چه په لس (۱۰) رضعات معلومو سره حرمت راځی بیا دا منسوخ شو په پنځو (۵) رضعات معلومو سره نو د نبی ﷺ د وفات تر وخته پوری قرآن کی لوستلی شو او زمونږ لپاره دلائل اطلاق د ایاتونو او احادیثو دی لکه (وامهاتکم اللاتی ارضعنکم) او په تاسی حرامی دی هغی میندی ستاسی چه تاسی ته ئی تی درکړی وی ۔ نو په تی ورکولو کی د یوی رضعی او د دوو رضعو قید ونه لګولو نو معلومه شوه چه رضاع لږ وی او که ډیره وی نو حرمت پری ثابتیږی ۔

او دا مام شافعیؒ د استدلال جواب دا دی چه حکم د پنځو رضعو هم منسوخ شوی دی لکه څرنګه چه حکم د لسو رضعو منسوخ شوی او د بی بی عائشیؓ د قول مقصد دا دی چه نسخ د نبی علیه السلام د وفات مودی ته نزدی وه تر دی پوری چه چا ته د نسخ خبر نه ؤ رسیدلی نو هغه ورسته هم د دی تلاوت کولو او که منسوخ نشی نو بیا په قرآن کی څه شو ؟ بیا خو د دی نه معلومیږی چه د قرآن حصه ضائع شو ۔

چه د دی تائید د عبد الله بن عباسؓ قول هم کوی چه یو کس ورته وویل چه خلک وائی چه په یو ځل رضع سره حرمت نه راځی نو عبد الله بن عباسؓ ورته وویل چه هو ! دا خبره مخکی وه خو لیکن بیا منسوخ شوه او عبدالله بن مسعود وائی چه د رضاع حکم دیته راورسیده چه لږ رضاع او ډیر تول حرمت راولی عبد الله بن مسعود ته چا وویل چه عبد الله بن زبیر وائی چه یو ځل رضعی یا دوه ځل سره حرمت

نه راځی نو عبد الله بن مسعودؓ وویل چه د الله جل جلاله فیصله د عبد الله بن زبیرؓ د فیصلې نه بهتره ده الله پاک فرمائی چه (و امهاتکم اللاتی ارضعنکم و اخواتکم من الرضاعی) یعنی الله پاک فرمائی چه په تاسی حرامی دی هغه میندی چه تاسی ته ئی تی درکړی وی او ستاسی رضاعی خویندی ـ نو د لګ او ډیر قید الله جل جلاله ورسره ذکر کړی نه دی بلکه مطلق رضاع ئی ذکر کړی ، د مص معنی مخکی بیان شوه (املاج) دیته وائی چه زنانه خپل تی د ماشوم په خوله کی وروکوشی ـ

فیحرم منه ما یحرم من النسب الا ام اخته و اخیه فان ام الاخت و الاخ من النسب هی الام او موطوءة الاب و کل منهما حرام و لا کذلک من الرضاع و هی شاملة لثلاث صور (۱) الام رضاعا للاخت او للاخ نسبا (۲) والام نسبا للاخت والاخ رضاعا (۳) والام رضاعا للاخت او الاخ رضاعا .

ترجمه : نو حرامیږی په سبب د رضاع هغه چه حرامیږی د نسب نه مګر حرامه نده د ده د خور مور او د ده د ورور مور ، ځکه د خور مور او د ورور مور په داسی حالت کی چه خور او ورور نسبی وی نو همدا مور ده یا د پلار موطوءه ده او دواړه حرامی دی لکن د رضاعی خور او ورور مور حرامه نده او دا مسئله شامله ده دری صورتونو ته :(۱) چه مور رضاعی وی د خور یا ورور نسبی لپاره (۲) مور نسبی وی د خور یا ورور رضاعی لپاره (۳) مور رضاعی د خور یا ورور رضاعی لپاره ـ

تشریح او توضیح : غرض د ماتنؒ پدی عبارت سره بیان د محرماتو دی په نسب د رضاع سره نو د رضاع په سبب هغه حرام دی کوم چه د نسب نه حرام وی د وجی د دی حدیث نه (یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب) د دی حدیث نه خو دا معلومیږی چه کوم ځای کی حرمت نسبی وی نو هلته به په عمومی طور حرمت رضاعی هم موجود وی لیکن د نسبی ورور مور دا د دی وجی نه حرامه نده چه د ده د ورور مور ده بلکه د دی وجی حرامه ده چه د ده مور یا د ده د پلار موطوءه ده ځکه کله ورور نه وی او مور حرامه وی ، همدارنګی د ځوی خور چه ځوی ئی نسبی وی د دی وجی نه حرامه ده چه د ده لور ده یا د ده د ښځی لور ده اګر که د ده ځوی نوی ، همدارنګی د رضاع په صورت کی مور او د پلار ښځه او د ښځی لور چه رضاعی وی هم حرامه ده ـ

لیکن د ده د رضاعی خور یا د رضاعی ورور مور حرامه نده ځکه د نسبی خور او ورور مور خو ستا مور یا ستا د پلار ښځه راځی او مور او دپلار ښځه دواړه حرامی دی خو د رضاعی خور او ورور مور بیا حرامه نده خو دا په هغه صورت کی چه هغه بل ماشوم ستا مور رودلی وی ، نو هغه ماشوم ستا خور یا ورور رضاعی راځی د دغه ماشوم مور ستا هیڅ نه کیږی تا لره د دی نکاح جائز ده ، او که تا د یوی زنانه شیدی ورودلی بیا دغه ښځه ستا مور را ځی او د دی لور ستا خور راځی او د دی ځوی ستا ورور راځی نو بیا

د دی رضاعی خور یا ورور مور تا لره جائز نه ده نو د کوم رضاعی خور یا ورور چه مور حرامه نده د دی دری صورتونه دی :

(۱) ستا نسبی خور (خالده) یا ورور (بکر) رضاعی مور (طیبه) پدی مثال کی مثلا د زید لپاره خالده نسبی خور شوه او بکر نسبی ورور او طیبه رضاعی مور شوه ۔

(۲) ستا د رضاعی خور (خالده) یا ورور (خالد) نسبی مور (خادمه) ۔ په دی مثال کی مثلا خالده د زید رضاعی خور شوه او خالد ئی رضاعی ورور شو او خادمه ئی نسبی مور شوه ۔

(۳) ستا د رضاعی خور (زبیره) یا ورور (زبیر) رضاعی مور (زبیده) پدی مثال کی زبیره د زید رضاعی خور شوه او زبیر ئی رضاعی ورور او زبیده ئی رضاعی مور شوه ۔

په اول صورت کی مثلا ته زید شوی ستا یو ورور یا خور نسبی وی عینی وی (چه د مور او پلار ئی سره شریک وی) که علاتی وی (چه میندی سره جدا وی) او که اخیافی وی (چه پلار ئی سره جدا وی خو مورئی یوه وی) د یوی ښځی شیدی ورودلی ستا نه بغیر نو دغه ښځه ستا د ورور یا خور رضاعی مور راځی خو ستا هیڅ نه کیږی نو تا لره جائز ده چه نکاح ورسره وکړی ۔

په دریم صورت کی مثلا ته زید شوی ستا یو رضاعی ورور یا خور وه چه ستا له مور سره ئی تی رودلی ؤ او دغه خور یا ورور خپله نسبی مور وه نو تا لره د دوی د دی نسبی مور نکاح جائز ده ۔

په دریم صورت کی مثلا ته زید شوی ستا یو رضاعی ورور یا رضاعی خور چه ستا له مور سره ئی تی رودلی ؤ یا تا د دوی له مور سره تی رودلی ؤ او یا تا او دوی له یوی ښځی اجنبی نه تی رودلی ؤ خو بیا دوی له بلی ښځی سره هم تی رودلی ؤ نو دغه بله ښځه ستا هیڅ نه کیږی ستا ور سره نکاح جائز ده ۔

فان قیل قوله إلا ام اخته ان ارید بالام الام رضاعا و بالاخت الاخت رضاعا لا یشمل ما اذا کانت احداهما فقط بطریق الرضاع و ان ارید بالام الام نسبا و بالاخت الاخت رضاعا او بالعکس لا یشمل الصورتین الخریین قلنا المراد ما اذا کانت احداهما بطریق الرضاع اعم من ان یکون احداهما فقط او کل منهما .

ترجمه : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره اعتراض دی په هغه صورت چه کوم متن کی مذکور دی او شامل دی دری صورتونو ته چه هغه (الا ام اخته) دی مثلا نو که هر یو د مضاف او مضاف الیه نه یعنی ام او اخت نسبی واخلی نو دا خو غیر ممکن ده ، ځکه د نسبی خور نسبی مور خپله مور راځی او هغه حلاله نده ، او که د ام او اخت نه هر یو رضاعی واخلی نو هغه دوه نورو صورتونو ته نه شاملیږی چه ام نسبی د اخت، ضاعی لپاره او ام رضاعی د اخت نسبی لپاره لاندی نقشی ته اوګوره ۔

ام رضاعا للاخت رضاعا فلا یشمل الصورتین : (۱) ام نسبا للاخت رضاعا (۲) ام رضاعا للاخت

سبا ۔ او که احد هما رضاعی واخلی او بل نسبی واخلی نو هغه باقی دوه صورتونو ته نه شاملیږی
(۱) ام رضاعی للاخت نسبی [۲] ام رضاعا للاخت رضاعا [۳] ام نسبا للاخت رضاعا ۔

قلنا : غرض د شارح پدی عبارت سره جواب د اعتراض مذکور دی حاصل د جواب دا دی چه احد هما به یکی به طریقه د رضاع وی نو بیا دا عام دی چه صرف یو یکی په طریقه د رضاع وی او که دواړه په طریقه د رضاع وی لاندی نقشی ته وګوره ۔

(۱) ام رضاعا للاخت نسبا (۲) ام نسبا للاخت رضاعا (۳) ام رضاعا للاخت رضاعا

و اخت ابنه لان اخت الابن من البنت اما البنت و اما الربیبة ایتهما کانت و قد وطئت امها و لا کذلك من الرضاع .

تشریح ا وتوضیح : همدارنګی جائز ده د خپل ځوی خور او د خپلی لور خور په طریقه د رضاع سره ځکه د نسبی ځوی نسبی خور یا خپله لور راځی او هغه حرامه ده او یا پرکتی راځی نو که د پرکتی مورئی وطی کړی وه نو بیا دا پرکتی هم حرامه ده لکن د رضاعی ځوی نسبی خور جائزه ده همدارنګه د رضاعی ځوی رضاعی خو هم جائز ده ۔

و جدة ابنه ای جدة الابن نسبا اما امه او ام موطوء ته و لا کذلك من الرضاع

تشریح ا وتوضیح : همدارنګی جائز ده د خپل ځوی نیا په طریقه د رضاع سره ځکه چه د نسبی ځوی نسبی نیا یا د ده مور راځی او یا د ده د موطوئی مور راځی چه د ده د ځوئی اما الام (مور د مور) راځی او دواړه حرامی دی ځکه د موطوئی مور خواښی راځی او خواښی سره هم نکاح حرامه ده ، لکن په طریقه د رضاع حرامه نده چه د نسبی ځوی رضاعی نیا یا د رضاعی ځوی نسبی نیا او یا د رضاعی ځوی نیا راځی دری واړو صورتونو کی نیاګانی اجنبی شوی نو حلالی دی ۔

و ام عمه و عمته و ام خاله و خالته ، اعلم ان ام هؤلاء نسبا اما موطوء ة الجد الصحیح او الجد الفاسد و لا کذلك من الرجاع و لا تنس الصور الثلاث فی جمیع ما ذکرنا للرجل ای هذه النساء المذکورة لا تحرم للرجل اذا کانت من الرضاع .

تشریح ا وتوضیح : همدارنګی جائز ده د تره مور او د ترور چه د پلار له طرفه وی مور او د ماما مور او د مور له طرفه د ترور مور خو چه رضاعی وی ځکه د تره یا د ترور یا ماما یا د خالی مور د نسب له طرفه د جد صحیح یا د جد فاسد مور راځی او دا حرامه ده جد صحیح د پلار پلار ته وائی ، او جد فاسد د مور پلار ته وائی لیکن د رضاع له طرفه جائز ده او دری واړه سابقه صورتونه یکی راځی هغه داسی (۱) ام رضاعا ۔ عم

او عمه او خال او خاله نسبا (۲) ام نسبا عم عمه خال خاله رضاعا (۳) ام رضاعا ۔ عم عمه خال خاله رضاعا ۔

و اخا ابن المرأة لها رضاعا اى لا يحرم اخو ابن المرأة لها اذا كان من الرضاع واعلم ان هذا مكرر لانه ذكر ام الاخ ، و لما كانت المرأة ام اخ الرجل كان الرجل اخا ابن تلك المرأة .

تشريح او توضيح : د ښځې د ځوی ورور ښځې ته روا دی خو چه رضاعی وی يعنی دری واړه صورتونه (۱) الاخ الرضاعی للابن النسبی (۲) الاخ النسبی للابن الرضاعی (۳) الاخ الرضاعی للابن الرضاعی ۔ همدارنګې ښځې ته د رضاع په طريقه د خور پلار او د لمسی پلار او د بچی نيکه او د بچی ماما هم جائز ده ليکن دا ټول بيا په نسبی رشتی سره جائز ندی ۔

قوله واعلمْ الخ : عرض د شارحؒ پدی عبارت سره يو اعتراض کول دی په مصنفؒ باندی هغه داسی چه دا عبارت د مصنفؒ چه و اخا المرأة لها رضاعا دی تکرار دی ځکه دا صورت مخکی بيان کړی ؤ چه عبارت دی د ام اخيه نه ځکه چه کله د وروړ مور سره رضاعا نکاح حرامه نده نو د دی په عکس باندی دښځې د ځوی د وروړ سره رضاعا نکاح هم حرامه نده ځکه دلته حل او حرمت عکسا د طرفينو نه دی لکه پدی شکل کی (اخ ۔ ابن ۔ ام) نو زه بنده فقير وايم چه کيدای شی د دفعی د دی وهم لپاره ئی دا عبارت راوړی وی چه کله د وروړ مور د رضاع په طريقه جائز شوه نو ايا ښځې ته به د ځوی وروړ جائز وی او که ځکه ذهن ديته زر صيرورت نکوی نو ماتنؒ د دغی وهم ازاله هم وکړه ۔

و عبارة المختصر كانت كذلك ، فيحرم منه ما يحرم من النسب الا ام اولاد اصوله واخت ابنه و جدته فاولاد الاصول الاخ والاخت والعم والعمة والخال والخالة فام هؤلاء تحرم من النسب لا من الرضاع ثم غيرت العبارة الى هذا فيحرمان مع قومهما عليه كالنسب و فروعه والزوجان عليهما .

تشريح او توضيح : شارحؒ فرمائی چه قديمی عبارت د مختصر پدی شان ؤ ، چه په رضاع سره حراميږی کوم چه په نسب سره حراميږی ليکن د خپلو اصولو د اولاد مور او د خپل ځوی خور او د خپل ځوی نيا حرامه نده نو اصول پلار او نيکه راځی نو د پلار اولاد وروړ او خور راځی او د نيکه اولاد که د پلار له طرفه وی نو تره او عمه (د پلار خور) راځی او که د مور له طرفه وی نو ماما او خاله (دمور خور) راځی ۔ نو د نسب په طريقه د دی ټولو مور حرامه ده خو د رضاع په طريقه بيا حرامه نده ، نو دا د مختصر سابقه عبارت دی بيا د مختصر عبارت بدل شو ديته چه حراميږی دغه ښځه او خاوند سره د خپل قوم نه پدغه ماشوم باندی پشان د نسب او اولاده د رضيع او دغه رضيع يعنی ښځه او خاوند حرام دی پدغه دواړو يعنی په مرضعی او د دی په زوج باندی ۔ نو مصنفؒ د دی وجی دغه دعبارت بدل کړل چه د هغی نه د

رضیع که فرضا نر وی د ده د ښځی حکم او که فرضا ښځه وی د دی د خاوند حکم نه معلومیده ځکه د دوی حرمت په طریقه د مصاهرت سره دی نه په طریقه د نسب سره بل د دی لپاره چه استثناء ته ضرورت نشته ځکه پدی مذکوره صورتونو کی چه کوم حرمت په نسبی رشته کی نو هغه په رضاع کی بلکل راتلای نشی مثلا د ځوی خور د نسب په طریقه یا لور راځی او یا پرکتی راځی او د دواړو حرامی دی خو په رضاع کی دا صورت نشی راتلای ۔

ای تحرم المرضعة و زوجها علی الرضیع و یحرم قومهما علی الرضیع کما فی النسب و تحرم فروع الرضیع علی المرضعة و زوجها و یحرم زوجا الرضیع علی المرضعة و زوجها ای الرضیع ان کان ذکرا تحرم زوجتهٗ علی زوج المرضعة و ان کان الرضیع انثی یحرم زوجها علی مرضعتها ، و ضابطته : ما فی هذا البیت الفارسی ۔ بیت ۔

از جانب شیرده همه خویش شوند واز جانب شیرخواره زوجان وفروع.

تشریح او توضیح : غرض د شارح پدی عبارت سره بیان د عبارت جدیده ، یعنی مرضعه (تی ورکونکی ښځه) او د دی خاوند حرام دی په رضیع (تی رودونکی ماشوم) باندی یعنی که رضیع نر وی نو دغه مرضعه پری حرامه ده او که رضیع ښځه وی نو بیا د دغی مرضعی خاوند پری حرام دی او د مرضعی او د دی د خاوند خپلوان هم په رضیع باندی حرام دی لکه څرنګه چه په نسب کی حرام دی نو د مرضعی خور ورور اصل او فرعه ټول په رضیع حرام دی د رضاعت نه مخکی وی او که وروسته وی دارنګی د خاوند خور ورور اصل او فرعه په رضیع حرام دی ، دا خو بیان د هغی حرمت دی چه له طرفه د مرضعی نه وی اوس په دی عبارت سره چه (و تحرم فروع الرضیع علی المرضعة) بیان د هغی حرمت کوی چه له طرفه د رضیع نه وی نو د رضیع اولاده اګر که ښکته وی په مرضعی او د دی په خاوند حرام دی خور مور د رضیع بیا په مرضعی او د دی په خاوند حرام ندی دارنګی د مصاهرت په طریقه سره هم حرمت راځی که رضیع نر وی نو د ده ښځه د مرضعی په خاوند حرامه ده او که رضیع ښځه وی نو بیا د دی خاوند د دی په مرضعی حرام دی ۔

او د دغی حرمت اقسام د فارسی په یو بیت کی راجمع کړی چه معنی ئی دا ده ۔ له طرفه د شیدی ورکونکی (مرضعی) نه ټول خپل دی نو د (شیرِدِهٗ) لفظ په فارسی کی صیغه د اسم فاعل ده ، او له طرفه د شیدی خوړونکی (رضیع) نه ښځه او خاوند او د دوی اولاده یعنی خپل دی او حرمت ثابت دی ۔

و تحل اخت اخیه رضاعا کما تحل نسبا کأخ من الاب له اخت من أمه لاخیه من ابیه .

ترجمه : د ورور خور رضاعا حلاله ده مثلا ستا یو نسبی ورور دی د هغه رضاعی خور ده هغه ستا لپاره حلاله ده دارنګی ستا رضاعی ورور وی او د هغی نسبی خور ده نو تاته حلاله ده همدارنګی ستا

رضاعی ورور وی او د هغه رضاعی خور وی تاته حلاله ده لکه خرنګه چه کله کله د خپل ورور خور د نسب په اعتبار سره هم حلاله ده ۔

مثلا ستا یو ورور دی چه ستا او د هغه پلار یو دی خو مورګانی مو جدا دی یعنی ستا پلار دوه ښځی کړیدی یو ستا مور ده او بله ستا د ورور مور ده خو ستا دغه میرنی ورور یوه بله خور ده د خپلی مور نه خو د بل پلار نه یعنی ستا د پلار نه ئی مخکی بل خاوند کړی ؤ او د هغی نه ئی دغه لور شوی وه نو دغه انجلۍ تاته په اتفاق د ټولو علماء جائز ده ۔

و رضیعا ثدی کاخ و اختٍ لا شاربا لبن شاةٍ و حکم خلطِ لبنها بماءٍ او دواءٍ او لبنِ اخری او شاةٍ بالغلبة و بطعامِ الحلّ ای حکم خلط لبنها بطعام الحلّ کما فی لبن رجل ای اذا نزل للرجل لبن فشربه صبیٌّ لا یتعلق به حرمة و احتقان صبیٌّ بلبنها .

تشریح او توضیح : (ورضیعا) مبتدأ (کاخ و اخت) خبر دی (وحکم خلط الخ) مبتدأ (بالغلبة) خبر د دی ، او (بطعام) خبر مقدم (الحِل) مبتدأ مؤخره ۔

بیان : دوه تی رودونکی ماشومان د سینی د زنانه نه پشان د ورور او خور دی نو یو په بل حرام دی د رضاعت وخت ئی وی ، او که جدا جدا وی او د دغی مرضعی شیدی د یو خاوند نه وی او که د زیاتو نه وی نو که شیدی د مرضعی د یو سړی نه وی نو دا به خور او ورور شقیقین راځی او که د یو سړی نه نه وی مثلا د دغی مرضعی د یو سړی نه شیدی وی او یو ماشوم ته ئی شیدی ورکړی بیائی بل خاوند وکړو او د ده د شودو نه ئی بل ماشوم ته شیدی ورکړی نو دغه دواړه ماشومان سره مثلا خور او ورور شو خو اخیافی یعنی لامٌ او که د یو سړی دوه ښځی وی او دواړو د دی سړی نه بچیان راوړه بیا هری یوی ښځی ماشوم ته شیدی ورکړی نو دا دواړه ماشومان سره علاتی یعنی لابِ خور او ورور شول ۔ دا د اخوت مسئله مخکی هم اجمالا ذکر شوی ده خو بیائی د زیات وضاحت لپاره ذکر کړه ، او بل توطیه او تمهید د راروانی مسئلی لپاره ۔

او د رضاعت حرمت چه راځی نو په شیدو د انسان باندی نه په شیدو د حیوان باندی لکه میږه او غوا او داسی نور ، او که د ښځی شیدی د اوبو سره مثلا یو ځای شی یا د دواء سره یا د میږی (ګډی) د شودو سره نو اعتبار به غلبی یعنی ډیر والی ته وی که د ښځی شودی زیاتی وی نو حرمت پری ثابتیږی او که د ښځی شودی کمی وی نو حرمت نه راځی او برابری وی نو بیا هم حرمت راولی ، دا زمونږ د امامانو تر منځ اتفاقی خبره ده ۔

او که د یوی ښځی شودی د بلی ښځی د شیدو سره یو ځای شی نو بیا پدی کی د امامانو اختلاف دی نو د امام ابویوسف په نزد او د امام ابوحنیفة په یو قول کی اعتبار غلبی ته دی که د کومی ښځی شودی چه زیاتی وی نو د همغی پوری تحریم معلق دی نه د هغی بلی پوری او د امام محمد په نزد د دواړو ښځو پوری حرمت معلق دی که شودی سره برابری وی او که زیاتی کمی وی او دا صحیح قول دی ځکه

جنس په جنس نه غالبه کیږي لکن مصنفؒ میلان د شیخینو (امام ابو حنیفه او امام ابویوسفؒ) قوله ته کړی ځکه ده ویلی او لبن اخری۔

قوله بطعام الخ: یعنی که د ښځی شودی د طعام سره ګډی شی او ماشوم ئی وخوری نو حکم د دی مطلقا حل دی یعنی حرمت پدی سره نه راځی شودی غالبه وی او که نه وی ځکه طعام اصل دی په حق د مقصود کی او لبن تابع دی او تابع مغلوب وی نو لهذا لبن هم حکما مغلوب وګرځیده اګر که د طعام سره یو برابر وی یا تری زیاتی وی دا د امام ابو حنیفةؒ قول دی او د صاحبینو په نزد لکه څرنګه چه په مخکی مسئله کی اعتبار غلبی ته ؤ نو همدارنګی دلته هم اعتبار غلبی ته دی خو اختلاف په هغه صورت کی دی چه اختلاط یعنی ګډوالی د شودو د طعام سره بغیر له پخوالی نه وی یعنی شودی د طعام سره یو ځای پخی شوی نوی نو که د طعام سره پخی شوی بیا شودی غالبی وی او که مغلوبه وی په اتفاق د تولو علماء سره حرمت نه راولی، لکه څرنګه چه د سړی په شودی کی حل دی یعنی که د یو سړی په سینو دی شودی راپیدا شوی او بیا ماشوم وڅکلی نو دی سره حرمت د رضاع څه تعلق نه لری ځکه د سړی شودی حقیقی شودی ندی بلکه دا یو رطوبت او نَوْ دی چه د شودو پشان دی لکه د ماهی وینه چه حقیقی وینه نه ده بلکه اوبه مشابه د وینی دی نو د رضاعت احکام د دی پوری تعلق نلری۔

قوله و احتقان صبی بلبنها: دا عطف دی په لبن رجل باندی او د (فی) لاندی دی، او حقنه دیته وائی چه ماشوم ته په دبره کی دوائی واچوی، نو حاصل د خبری دا دی چه احکام د رضاعت د شودو په څکلو سره ثابتیږی صرف ګیډی ته په رسیدو سره نه ثابتیږی نو که په موده د رضاع کی د ماشوم ګیډی ته په حقنی سره شودی ورسیږی نو حرمت نه راولی، همدارنګی که ماشوم ته په غوږ کی واچولی شی یا د ذکر سر کی واچولی شی نو هم حرمت نه راولی۔

بنده عاجز وائی چه د دینه یوه بله خبره هم ثابتیږی چه که د زنانه شودی فرضا د موجوده آلو په ذریعه لکه انجکشن (ستن) یا سیرن سره د ماشوم ګیډی ته ورسیږی نو هم حرمت به رانه ولی انشاء الله تعالی۔

و حرم بلبن البكر و الميت و ان ارضعت ضرتها رضيعة حرمتا اى ان ارضعت امرأةضرتها حال كون الضرة رضيعة حرمتا على الزوج و لا مهر للكبيرة ان لم توطأ و للرضيعة نصفه و رجع به على المرضعة ان قصدت الفساد و الا فلا و حجته رجلان او رجل و امرأتان.

تشریح او توضیح: حرمت د رضاع مطلقه د ښځی شودو پوری معلق دی ښځه باکره وی او که ثیبه وی مړه وی او که ژوندی وی او دلته د باکری نه مراد هغه ښځه ده چه هغی سره نه په نکاح سره او نه زنا سره جماع شوی وی، که د یو سړی دوه ښځی وی یوه غټه او بله وړه تی رودونکی وه دغی مشری ښځی دغی وړی ښځی ته په مده د رضاعت کی تی ورکړ نو دواړه په خاوند حرامی شوی، ځکه که د مشری

شودی دهمدی خاوندنه وی نو دغه وړه ښځه د ده لور وګرځیده، او د ده دمدخولی لورو ګرځیده اودغه مشره ښځه د ده د لور مور وګرځیده او د ده د معقودی (چه کومه د ده په عقد کی راغلی) مور وګرځیده اوس که مشره ښځه وطی شوی نوه نو د دی لپاره بلکل مهر نشته ځکه فرقت او جداوالی دهمدی له طرفه راغلی مخکی د مهر د مضبوطوالی نه ، او دغه کشری ته به خاوند نیم مهر ورکړی ځکه فرقت قبل الدخول راغلی او فرقت د دی له طرفه ندی راغلی خو خاوند به دغه نیم مهر د مشری ښځی نه واخلی خو په هغه صورت کی چه دغه مشری ښځی په تی ورکولو سره نیت او قصد د فساد کړی ؤ مثلا عاقله وه لیونی نه وه چا پری زور نه ؤ کړی وینبه وه ویده نوه او په اصل نکاح پوه وه او پدی هم پوه وه چه په تی ورکولو سره نکاح فاسدیږی او که قصد ئی ولږه ختمول او د هلاکت نه بچ کول ؤ نو بیا په مشره ښځه نیم مهر نشته۔

قوله و حجته الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره دا دی لکه څرنګه چه د مال د ثبوت لپاره شهادت د دوه سړو یا د یو سړی او دوه ښځو شرط دی نو همدارنګی د رضاع لپاره حجت او شرط همدا دی چه شهادت د رجلینو او د رجل واحد او امرأتینو دی په شهادت د یوی ښځی سره رضاع نه ثابتیږی اګر که تی ورکونکی ښځه په خپله ګواهی ورکړی د نکاح نه مخکی وی او که وروسته وی خو بنده عاجز وائی ه دا د قضاء فیصله ده د افتاء نه ده ځکه افتاء کی دیانت طرفته ترجیح وی او دیانةً د یو ی ښځی ګواهی ضاع په صورت کی قبلولی شی۔

كتاب الطلاق

كتاب دی په بیان د طلاق کی

مصنف چه کله بحث د نکاح او د دی د متعلقاتو څخه فارغ شو نو شروع ئی وکړه په بحث د طلاق کی چه رفع د نکاح ورسره راځی ، نو طلاق په لغت کی د قید او کړیو لری کولو ته وائی او په شریعت کی عبارت دی د پورته کولو او ختمولو د قید د نکاح په خاصو الفاظو سره ۔

أحسنه طلقة فقط فی طهر لا وطی فیه و حسنه و هو السنّی طلقة لغیر الموطوءة و لو فی حیض و للموطوءة تفریق الثلاث فی اطهار لا وطی فیها فیمن تحیض و اشهر فی الآیسة والصغیرة والحامل للسنة ثلاثا فی ثلاثة اشهر فقوله واشهر عطف علی اطهار وحل طلاقهن عقب وطئة فیه اوحیض موطوءة، وتجب رجعتها فی الاصح وعند بعض مشائخنا تستحب .

تشریح او توضیح : پدی باب کی بیان د نفس طلاقو دی او بیان د اقسام اولیه د طلاقو ، او بعضی کلیاتو ذکر پکی دی ، دطلاق لغوی او شرعی معنی مخکی بیان شوه اوس د طلاق د اقسامو بیان دی طلاق په دری قسمه دی :

(۱) طلاق احسن (۲) حسن (۳) بدعی ۔ اولنی دواړه قسمونه مسنون دی او معنی د مسنون پدی مقام کی دا ده چه ثابت وی پداسی طریقه چه عتاب او ملامتیا پری نه راځی او دا تری مراد نه ده چه ثواب به پری حاصلیږی ځکه چه طلاق بذاته عبادت نه دی چه پدی ثواب حاصل شی نو طلاق اګر چه فی نفس ابغض المباحات دی خو سره د دینه د حسن او احسن طلاق پری کیدای شی د دی وجی نه چه د طلاقو د واقع کیدلو لاری په اعتبار د عدد سره او د زمان سره مختلف دی نو دغه اوصاف پدغه اعتبار سره اخلی نه په اعتبار د ذات سره او بدعی منسوب دی بدعت ته چه مقابل د سنتو وی او په طلاقو کی د بدعی معنی مشهوره مراد نده چه (ما لا یوجد فی القرون الثلاثه و لم یدل علیه دلیل شرعی) بلکه مراد دا دی چه د دی په واقع کیدلو سره شرعی عتاب او ملامتیا لازمیږی ۔

(۱) طلاق احسن دیته وائی چه یو طلاق رجعی فقط په طهر کی په داسی طهر کی چه وطی پکی نوی ، د احسن طلاق لپاره څلور شرائط دی (۱) چه یو به وی که د یو نه زیات ؤ بیا به خالی نوی نو که په یوی کلمی سره ؤ او په یو وخت کی ؤ نو دا طلاق بدعی دی او جدا جدا ؤ نو بیا دا حسن دی او په فقط لفظ کی دیته اشاره ده چه د یو نه ماسوا نور موجود نشی اګر که په بل طهر کی دی (۲) چه رجعی به وی ځکه یو طلاق بائن بدعی دی (۳) چه په طهر کی به وی (۴) چه په دغی طهر کی به وطی نوی ځکه په حالت د

حیض کی یا په هغه طهر کی چه وطی پکی وی طلاق بدعی دی ـ

(۲) حسن طلاق او همدا مسنون طلاق دی پدی جمله یو اعتراض واردیږی چه احسن طلاق او حسن طلاق دواړه د مسنون طلاقو د اقسامو نه دی نو بیا مصنفؒ ولی اطلاق د مسنون صرف په حسن طلاق وکړ؟

د دی جواب دا دی چه مصنفؒ تخصیص بالذکر د دی وجی نه وکړ چه د امام مالکؒ په قول رد راشی ځکه د امام مالکؒ په نزد زیادت یو طلاق غیر سنی دی نو مصنفؒ تصریح وکړه چه وهو السنیّ یعنی چه همدا هم سنت طلاق دی او د طلاق احسن حکم د دینه په طریقه اولی سره معلومیږی نو د غیر موطوئی لپاره یو طلاق دی اګر که په حیض کی وی ځکه هغه طهر چه خالی د جماع نه وی هغه خاصه د مدخول بها دی او د موطوئی لپاره که د حائضو د ډلی نه وه نو دری طلاقه دی په دری طهرونو کی چه د وطی نه خالی وی ، او که آیسه وه یعنی د حیض حالت د هغی نه بند شوی وی یا صغیره وه چه حیض پری نه راته او یا حامله وه نو د دی لپاره دری طلاقه په دری میاشتو کی په هره میاشت کی یو طلاق سنت طلاق دی ـ

و قوله و حل طلاقهن الخ : د دی مقصد دا دی که آیسی ښځی ته یا صغیری ته یا حاملی ته ئی په هغه طهر کی چه وطی پکی شوی وی طلاق ورکړی نو ایا دا طلاق حلال دی او کنه ؟ نو ماتنؒ وویل چه دا طلاق بالکل بغیر د څه کراهت نه جائز دی ځکه کراهت د طلاق په هغه طهر کی چه وطی پکی شوی وی د ذوات الحیض لپاره دی چه حمل رانشی او دا اشتباه په حامله کی نشته ځکه حمل موجود دی او نه په صغیره او آیسه کی ځکه چه احتمال د حمل پکی نشته ـ

(۳) طلاق بدعی دا دی چه دری طلاقه یا دوه طلاقه په یو کلمی سره ورکړی په یو طهر کی مثلا انت طالق ثلاثا او اثنتین یعنی چه ته په دری طلاقو یا دوه طلاقو طلاقه ئی او یا په یو طهر کی دوه کرتی طلاق ورکړی چه د دواړو طلاقو تر منځ پدغه طهر کی بیرته رجوع ښځی ته نوی نو پدی سره طلاق واقع شو خو پری ګناه ګار شو دا د ټولو جمهورو صحابوو او تابعینو او مجتهدینو مذهب دی او یا دغه ښځه چه نه حامله وی او نه آیسه وی او نه صغیره وی طلاقه کړی شی په هغه طهر کی چه په هغی کی وطی شوی وی او یا په حیض کی طلاق ورکړی شی خو چه دا ښځه موطوءه وی نو دا طلاق هم واقع شو خو پری ګناه ګار دی ـ

و تجب رجعتها : کومی ښځی ته ئی چه په حالت د حیض کی طلاق ورکړی نو په ده لازم دی چه په حالت د حیض کی په قول سره ورته رجوع وکړی او یا د حیض نه وروسته دی ورته په وطی سره رجوع وکړی چه دغه ګناه ختمه شی ځکه نبی ﷺ عبد الله بن عمر رضی الله عنه ته هم په رجعت سره امر ورکړی ؤ کله چه عبد الله بن عمر رضی الله عنه خپلی ښځی ته په حالت د حیض کی طلاق ورکړ (اخرجه البخاری) او بعض علماء زمونږ رجوع مستحب ګرځوی ـ

واعلم أن الطلاق ابغض المباحات فلا بد ان يكون بقدر الضرورة فاحسنه الطلاق الواحدة في طهر لا وطي فيه ، اما الواحدة فلأنها اقل و اما في الطهر فلانه ان كان في الحيض يمكن ان يكون لِنفرةِ الطبع لَا لاجل المصلحة، واماعدم الوطي فلئلا يكون شبهة العلوق .

تشريح او توضيح : غرض د شارح پدې عبارت سره بيان د مزيد وضاحت دى د طلاق احسن او فضيلت د دې دى نو طلاق په ټولو مباحو او حلالو شيانو کې الله جل جلاله ته مبغوض او بد ترين شى دى حديث شريف کې راځي چه (ابغض الحلال الى الله الطلاق ـ رواه ابوداود وابن ماجه والحاكم) يعنى په حلالو شيانو کې مبغوض شى الله جل جلا له ته طلاق دى نو دلته يو سوال پيدا کيږي چه کله يو شى حلال وى او حلال هم د شريعت له طرفه وى نو بيا ولي الله تعالى ته مبغوض کيداى شى ؟ د دې جواب دا دى چه د دې فعل لازم ندى او نه د الله رضا پکې شته نو نبى ﷺ خپل امت ته تعليم ورکوى چه د طلاقو طرفته بغير له ضرورته ډيره توجه مکوئ او کله چه د ضرورت مقام راشى نو بيا طلاق ورکول مستحب کار دى او د طلاقو په نه ورکولو سره سخت وعيد دى چه د طلاقو د ضرورت په وخت کې طلاق ورنه کړى نو الله جل جلا له ورته په غصه کيږي ـ

نو چه طلاق کله ابغض المباحات شو نو بايد چه د ضرورت مطابق شى او د ضرورت مطابق احسن طلاق يو طلاق دى په هغه طهر کې چه وطى پکې نوى نو يو ځکه بهتر دى چه اقل دى او طلاقو کې اکتفاء په اقل باندې احسنه ده او په طهر کې ځکه بهتر دى چه که په حيض طلاق ورکړى نو کيداى شى چه د خاوند د طبيعت د نفرت د وجې نه وى چه په نجاست ککړه وى ، نه د يو مصلحت په بناء او دغه طهر د وطى نه خالي به ځکه وى چه اشتباه دعلوق يعنى دبنځى دبچي دپيدا کيدو رانشى نو عدت ته به خلل ورسيږى ـ

فاذا طهرت طلقها ان شاء فإن قال لموطوئته انتِ طالق ثلاثا للسنة بلا نية يقع عند كل طهر طلقة لان الطلاق السُنّي هذا و ان نوى الكل السَّاعة صحت اى النية حتى يقع الثلاث في الحال خلافا لزفرؒ لانه بدعي و هو ضد السنّي و عندنا الثلاث دفعة سني الوقوع اى وقوعها مذهب اهل السنة ، و عند الروافض تمسكا بقوله تعالى : (الطلاق مرتان) فالثلاث لا يقع الا بثلاث مرات .

تشريح او توضيح : په کوم حيض کې چه طلاق ورکړى او بيرته ئى رجوع وکړه نو بيا چه کله د حيض نه پاکه شى نو که خوښه ئى وى طلاق دى ورکړى ـ که يو سړى مثلا خپلې موطوئې ته وويل چه ته په درې طلاقو طلاقه ئى په سنت طلاقو سره بغير د کوم نيت نه يعنى نيت ئى د يو طلاق يا د دوو مراد نوو نو د هر طهر په وخت کې يو طلاق واقع کيږي ځکه سنت طلاق همدا دى او که د ټولو نيت ئى حالا يعنى سمدستى کړى و نو نيت ئى صحيح دى او درې واړه طلاقه سمدستى في الحال واقع کيږي ، ليکن

د امام زفرؒ په نزد د ده نیت لغوه دی او طلاق جدا جدا واقع کیږی د ده دلیل دا دی چه دا طلاق بدعی دی او خلاف د سنت طلاقو دی او یو حدیث کی راځی چه یو سړی د نبی ﷺ په زمانه کی خپله ښځه په دری طلاقو طلاقه کړه نو نبی ﷺ ورته په غصه شو او وفرمائیل چه ایا د الله په کتاب لوبی کوی او زه ستاسو مینځ کی موجود یم ـ الحدیث نو امام زفرؒ وائی چه ده د طلاقو وخت کی للسنة لفظ هم وویل نو بیا د ده نیت څنګه صحیح شو ؟

و عندنا الخ : شارحؒ پدی عبارت سره جواب کوی د امام زفرؒ د دلیل نه چه طلاق سنی په دوه معنو سره راځی (۱) چه په طریقه مسنونه سره وی چه کومه د نبی ﷺ څخه او د صحابوو څخه نقل شوی وی (۲) چه موافق د مذهب د اهل السنت والجماعت سره وی دا دری طلاقه واقع کیدل اګر که بدعی دی لیکن د اهل السنت والجماعت په نزد واقع کیږی کله چه مُطَلِّق ، للسنة لفظ سره وویل نو د دی احتمال لری چه د ده نیت دا وی چه ته طلاقه ئی په دریو طلاقو سره موافق د مذهب د اهل السنت والجماعت سره نو دا نیت ئی بلکل صحیح دی او دری واړه طلاقه واقع شول په یوه دفعه او کوم خلق چه د مذهب د اهل السنت والجماعت د مذهب مخالف وی نو هغوی ته اعتبار نشته او د روافضو شیعوو په نزد دروی واړه طلاقه نه واقع کیږی د دوی دلیل دا ایت کریمه دی چه (الطلاق مرتان) یعنی دوه طلاقه واقع کیږی په دوه کرتو نه په یو کرت نو همدارنګی دری طلاقه به هم په دری کرتوواقع کیږی نه په یو کرت ـ

مونږ د دوئی په جواب کی وایو چه که د ایت نه دا مراد وی چه هغه طلاق چه د هغی نه وروسته رجوع صحیح کیږی دوه دی او پس له دریم نه تحلیل ته ضرورت دی نو بیا دا خبره د طلاقو په جداوالی باندی هیڅ دلیل ندی او که مقصد د دینه دا وی چه طلاق به مرة بعد مرة یعنی یو بل پسی واقع کیږی نو بیا دا معنی هم دا دلالت کوی چه همدا شرعی طریقه ده کومه چه اهل السنت غوره کړی او د آیت نه دا نه معلومیږی چه طلاق په یو ځل نه واقع کیږی والله المستعان علی ما تصفون ـ

و یقع طلاق کلِ زوج عاقل بالغ حر او عبد و لو سکران ای و ان کان الزوج سکران خلافا للشافعیؒ و اخرس باشارته المعهودة لا طلاق صبی و مجنون و نائم و سیِّدٍ علی زوجة عبده .

تشریح او توضیح : واقع کیږی طلاق د هر خاوند چه عاقل وی لیونی نه وی بالغ وی ماشوم نه وی اصیل وی ، که غلام وی اګر که خاوند د نشیُ په حالت کی وی نو هم طلاق ئی واقع کیږی لیکن د امام شافعیؒ په نزد د سکران یعنی نشی والا طلاق نه صحی کیږی هغه وائی چه په خوب اوده سړی طلاق نه صحیح کیږی نو سکران سړی خو په طریقه اولی سره نه صحی کیږی ، همدارنګی د ګونګی سړی طلاق هم صحی کیږی خو چه د ده اشاری څخه طلاق معلوملی شی همدارنګی د ګونګی په کتابت سره هم طلاق

واقع کيږی خو د ماشوم او ليونی سړی او په خوب اوده سړی طلاق نه واقع کيږی همدارنګی د سيد طلاق نه صحی کيږی د خپل غلام په ښځه يعنی که مولا د غلام ښځه طلاقه کړی نو طلاق نه واقع کيږی ځکه د طلاقو ملکيت په نکاح سره راځی او د نکاح واګی له غلام سره دی نه له مولا سره (عبد الرشيد صافی) .

و طلاق الحرة و الامة ثلاثة و اثنان ای طلاق الحرة ثلاثة و طلاق الامة اثنان و لو زوجها خلافهما فان اعتبار الطلاق عندنا بالنساء و عند الشافعي بالرجال فاذا كان زوج الامة حرا فالطلاق عندنا اثنان و عنده ثلاثة و ان كان زوج الحرة عبدا فالطلاق عندنا ثلاثة و عنده اثنان .

تشريح او توضيح : د اصيلی ښځی لپاره دری طلاقه دی او د وينځی لپاره دوه طلاقه دی اګر که خاوندئی مخالف وی يعنی چه ښځه اصيله وی او خاوند ئی غلام وی يا ښځه وينزه وی او خاوند ئی اصيل وی ځکه د طلاقو د عددو اعتبار زمونږ په نزد د ښځو ته دی که ښځه اصيله وه اګر که خاوندئی غلام وی نو بيا به هم د دی لپاره دری طلاقه وی ، يعنی د دريم طلاق نه وروسته به بغير د تحليل نه نه رواکيږی ، او که ښځه وينزه وه او خاوند ئی اګر که اصيل وی نو د دی لپاره د دوه طلاقه دی يعنی د دويم طلاق نه وروسته بغير د تحليل نه نه روا کيږی ۔

او د امام شافعی په نزد د طلاقو اعتبار سړو ته دی که سړی اصيل وی ښځه ئی اګر چه وينزه وی نو طلاق به دری وی او که خاوند ئی غلام وی ښځه ئی اګر چه اصيله وی نو طلاق به دوه وی ، دا دوه صورتونه اختلافی دی او دوه نور صورتو نه اتفاقی دی هغه دا چه ښځه اصيله وی او خاوند ئی هم اصيل وی نو بالاتفاق دری(٣)طلاقه دی او که ښځه وينزه وی او خاوند ئی هم غلام وی نو بالاتفاق دوه طلاقه دی ۔

باب ایقاع الطلاق

باب دی په بیان د هغه احکامو کی چه هغه تعلق لری د هغه الفاظو سره په کومو چه طلاق واقع کیږی په مخکی باب کی بیان د بعضی کلیاتو أ او اوس پدی باب کی بیان د بعض جزئیاتو د هغی دی او د څه خاصو الفاظو د هغی۔

صریحه ما استعمل فیه دون غیره مثل انت طالق و مطلّقة و طَلّقْتُكِ و یقع بها واحدة رجعیة و ان نوی ضدها ای ضد الواحدة الرجعیة و هو الواحدة البائنة او اکثر من الواحدة و لفظ المختصر هذا ، و یقع به الرجعیة ابدا ، ای سواء لم ینو او نوی واحدة رجعیة او بائنة او اکثر من الواحدة او لم ینو شیئا .

تشریح او توضیح : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د اقسام ثانویه د طلاقو دی مخکی بیان د اقسامو د طلاقو په اعتبار د نفس طلاقو سره ؤ او اوس په اعتبار د ایقاع سره دی نو طلاق په اعتبار د ایقاع سره په دوه قسمه دی (۱) صریح (۲) کنایه۔

(۱) صریح هغه لفظ دی چه د دی استعمال غالبا په طلاقو کی وی نه په نورو کی او نیت ته پکی اعتبار نشته نو صریح په دوه قسمه دی (۱) هغه چه پدی سره طلاق رجعی واقع کیږی چه خاوند پدی سره په عدت کی د بیرته رجوع کولو واک ولری (۲) هغه چه په هغی سره طلاق بائن واقع کیږی چه په هغی کی نوی نکاح ته ضرورت وی د تحلیل نه مخکی یا وروسته ، په کومو سره چه طلاق رجعی واقع کیږی هغه لکه داسی الفاظ چه انت طالق یعنی ته دی طلاقه ئی و مطلّقة یعنی ته طلاقه کړی شوی ئی یا لکه و طلّقْتُكِ یعنی ته ما طلاقه کړی نو پدی الفاظو سره یو طلاق رجعی واقع کیږی اگر چه نیت ئی د دی خلاف وی یعنی اگر که ئی نیت یو طلاق بائن کړی وی او یا د یو نه د زیاتو مثلا دوه یا دری۔

مصنف د دی خبری په تائید باندی د مختصر عبارت رانقلوی چه د مختصر عبارت داسی دی چه پدی صریحو الفاظو سره یو طلاق رجعی د همیشه لپاره واقع کیږی یعنی چه بلکل ئی نیت نوی کړی او یائی نیت د یو طلاق رجعی کړی وی او یا د یو طلاق بائن او یائی نیت د ډیرو کړی وی او یائی د یو شئ نیت هم نوی کړی۔

و فی انت الطلاق او انت طالق الطلاق او انت طالق طلاقا یقع واحدة رجعیة ان لم ینو شیئا او نوی واحدة او اثنتین ، و ان نوی ثلاثا فثلاث : هذا فی الحرة اما فی الامة فثنتان بمنزلة الثلاث فی الحرة و قد ذکر فی اصول الفقه ان الفظ المصدر واحد لا یدل علی العدد فالثلاث واحد اعتباری من حیث انه مجموع فتصح نیته ، و ان لم ینو یقع الواحد الحقیقی اما الاثنان فی الحرة فعدد محض لا دلالة للفظ المفرد علیه .

تشریح اوتوضیح : مخکی بیان د هغه الفاظو ؤ چه خبر د هغی نه په مشتق سره ورکوی چه په هغی سره مطلقا یو طلاق واقع کیده او نیت د ثلاثه ؤ یکی لغوه ؤ او اوس د هغه صورت بیان دی چه خبر د هغی نه په مصدر معرف سره ورکوی لکه انتِ الطلاق یا په مصدر منکر سره ورکوی لکه انتِ طلاق او یا په اسم فاعل سره چه وروسته د هغی نه مصدر معرف وی لکه انت طالق الطلاق او یا مصدر منکر وی لکه انت طلاق طلاقاً نو د دی حکم د مخکی صورت نه مغایر دی ځکه پدی سره یو طلاق رجعی واقع کیږی که د هیڅ نیت ئی نوو کړی او یائی د یو طلاق نیت کړی وی رجعی وی او که بائن وی او یائی د دوو نیت کړی وی ، او که د دریو نیت ئی کړی ؤ نو بیا دری واړه واقع کیږی چه ښځه اصیله وی او که وینزه وه نو بیا دوه واقع کیږی ځکه دا دوه طلاقه د وینزی ښځی په باره کی په شان د دریوو دی ، په باره د اصیله ښځه کی -

و قد ذکر الخ : یعنی په اصول فقه کی په بحث د امر کی دا بیان دی چه لفظ د مصدر واحد یعنی مفرد دی او د مفرد اطلاق په واحد حقیقی سره (۱) کیږی او دا یقینی هم دی ، او د مفرد اطلاق په دریو هم کیږی خو چه من حیث المجموع ئی راواخلی (۳) خو دا متیقن نه دی بلکه محتمل دی نو چه محتمل دی بغیر له نیت نه نه ثابتیږی نو ثلاثه واحد اعتباری شو نو لفظ د طلقی نفسکِ زمونږ په مذهب په واحد حقیقی واقع کیږی خو د دریو یکی هم صحیح کیږی او د دوو نیت یکی نه صحیح کیږی ، ځکه دری مجموعه افراد د طلاقو دی نو دا واحد اعتباری شو او د دوو نیت یکی ځکه نه صحی کیږی چه دا عدد محض دی یعنی نه واحد حقیقی دی او نه واحد اعتباری او د فرد اطلاق عدد باندی نه کیږی -

و باضافة الطلاق الی کلها او الی ما یعبر به عن الکل کانت طالق او راسك او رقبتك او عنقكِ او روحكِ او بدنكِ او جسدكِ او وجهكِ او فرجكِ او الی جزء شائع کنصفكِ او ثُلُثكِ یقع الطلاق و الی یدها او رجلها لا ، و کذا الظهر والبطن هو الاظهر لانه لا یعبر بهما عن الکل و عند البعض یقع .

تشریح اوتوضیح : که د طلاقو نسبت د ښځی ټول وجود ته وکړی یا هغه اندامونو ته چه د هغی نه تعبیر په ټولو اندامونو سره کولی شی لکه ته طلاقه ئی یا ستا سر طلاق دی یا ستا غاړه یا ستا څټ طلاق دی یا ستا روح یا ستا بدن یا ستا جسد طلاق دی یا ستا مخ یا ستا اندام مخصوصه طلاق دی نو طلاق واقع کیږی -

او یا داسی یو حصی ته چه هغه ټول بدن کی خوره وی او معلومه نوی لکه نصف ربع یا ثلث مثلا ستا نیم بدن دی طلاق وی یا دریمه حصه نو هم طلاق واقع کیږی او که نسبت د طلاقو هغه اندامونو ته وکړی چه د هغی نه په عام عرف کی تعبیر په کل اندام سره کولی نشی لکه مثلا ستا لاس دی طلاق وی یا ستا پښه دی طلاقه وی نو بیا طلاق نه واقع کیږی ، او که شا یا ګیډی ته نسبت د طلاقو وکړی مثلا

ستا ګیږه دی طلاقه وی یا ستا شا دی طلاقه وی نو ظاهره او مُفتی به قول دا دی چه طلاق نه واقع کیږی ځکه په ګیډی او شا سره په عام عرف کی تعبیر د کل اندام نه نشی کولی او د بعضی علماؤ په نزد طلاق واقع کیږی ، خو پدی الفاظو هلته طلاق نه واقع کیږی چه نیت ئی د ذات نوی او که پدی الفاظو سره ئی اراده د ذات وه مجازا نو بیا اتفاقا طلاق واقع کیږی۔

و بنصف طلقة او ثُلُثها او من واحدة الی ثنتین او ما بین واحدة الی ثنتین واحدة فقوله واحدةٌ مبتدأ و خبره بنصف طلقة و فی من واحدة الی ثلاث او ما بین واحدة الی ثلاث ثنتان و بثلاثة انصافِ طلقتین ثلاثٌ ، وبثلاثة انصاف طلقةٍ طلقتان و قیل ثلاث وجه الاول ان ثلاثة انصاف طلقة یکون طلقة و نصفا فیتکامل النصف فحصل طلقتان و وجه الثانی أن کل نصف یتکامل فحصل ثلاث .

تشریح او توضیح : اول اجمالی ترکیب زده کړه ، دا قول و بنصف طلقی خبر مقدم او واحدی مبتدأ مؤخره او وفی من واحدی خبر مقدم ثنتان مبتدأ مؤخره او و بثلاثی انصاف طلقتین خبر مقدم او ثلاث مبتدأ مؤخره او بثلاثی خبر مقدم ، او طلقتان مبتدأ مؤخره ۔

نو که یو سړی خپلی ښځی ته وویل چه ته په نیم طلاق یا په دریمی حصی د طلاق سره مثلا طلاقه ئی نو یو طلاق واقع شو ځکه طلاق په اعتبار د وقوع سره تجزیه نه قبلوی نو چه یو جز واقع شو نو نور اجزا به هم واقع کیږی چه د دغه عاقل بالغ سړی کلام لغوه او عبث نشی ، او که یو سړی ښځی ته داسی وویل چه ته دی طلاقه ئی د یو نه تر دوو پوری یا د مینځ د یو نه تر دوو پوری نو د امام ابو حنیفه په نزد یو طلاق واقع دی او که داسی ئی وویل چه د یو نه تر دریوو پوری او یا د مینځ د یو نه تر دریوو پوری نو بیا دوه طلاقه واقع کیږی، او که داسی ئی وویل چه ته د په دری نصفو د دوو طلاقو طلاقه ئی نو دری طلاقه واقع شول ځکه یو نصف د دوو طلاقو یو طلاق دی نو دری نصفه د دوو طلاقو به دری طلاقه وی و هذا هو الاصح ۔

او که داسی ئی وویل چه ته دی په دری نصفو د یو طلاق طلاقه ئی نو پدیکی دوه وجی دی(۱) اوله مفتی به وجه دا ده چه دوه طلاقه واقع کیږی ځکه چه دری نصفو نه د یو طلاق (یو نیم) راځی نو دغه نیم به هم مکمل کیږی نو پوره دوه طلاقه شول ، او (۲) دویم وجه چه دری طلاقه واقع کیږی ځکه چه دری نصفه دی او هر یو نصف ځانته مکمل کیږی نو دری طلاقه مکمل کیږی لیکن دا قول ضعیف دی، ځکه چه هر یو نصف ځانته نه مکمل کیږی بلکه یو د بل سره مکمل کیږی ۔

و فی انت طالق واحدةٌ فی ثنتین واحدةٌ نوی الضرب او لا قالوا لان عمل الضرب فی تکثیر الاجزاء لا فی زیادة المضروب ، و ان نوی واحدة و ثنتین فثلاث فی الموطوءة ،

و فی غیر الموطوءة واحدة مثل واحدة و ثنتین ای اذا قال لغیر الموطوءة انت طالق واحدةفی ثنتین و نوی واحدة و ثنتین تقع واحدة کما اذا قال لغیر الموطوءة انت طالقواحدة و ثنتین تقع واحدة .

تشریح او توضیح : او پدی قول کی چه خاوند ئی خپلی ښځی ته ووائی چه ته دی طلاقه ئی یو په دوو کی (۱×۲) نو یو طلاق واقع کیږی د ضرب نیت ئی کړی وی او که نه پدیکی د امام زفرؒ او د ائمه ثلاثوو اختلاف له امام ابو حنیفةؒ او د ده د صاحبینو سره دی، امام زفرؒ او ائمه ثلاثه وائی : چه پدی سره دوه طلاقه واقع کیږی ځکه په عام عرف د حساب والاؤ کی چه کله ۱×۲ راشی نو ما حاصل د دے ۲ وی لکه ۱×۲=۲ او دا لفظ حقیقت عرفیه دی پدی معنی کی نو خامخا به په همدی سره حمل کولی شی او خاص طور چه بیا کله ورسره نیت د ضرب هم وی نو بیا خو به لازما په همدی معنی سره حمل کولی شی -

او امام ابو حنیفةؒ او صاحبین وائی چه عمل او اثر د ضرب په ډیر والی د اجزاؤ کی وی نه په زیادت د مضروب کی مثلا ۵×۴ نو پنځه مضروب دی او څلور مضروب فیه دی نو کله چه مونږ ۵×۴ راولو او ۲۰ تری جوړ شی نو عین دا ۵ پنځو نه ۲۰ شل نه جوړیږی بلکه په پنځو کی چه کومی اجزاء دی هغه جزء دی د دی څلورو اجزاؤ نه نو مجموعه اجزاء شل ۲۰ دی، نو همدارنګه د دغی طلاق اجزاء چه کومی زیاتی شوی یو طلاق راځی ځکه مضروب یو دی او مضروب فیه دوه دی ۱×۲ نو یو (۱) جزء د دغه دوو ځخه وګرځیده نه دا چه دا یو دوه وګرځیده لیکن شارحؒ په لفظ د قالوا سره ضعف د دی قول ته اشاره وکړه او دا ځکه ضعیف دی چه د عرف نه هم مخالف دی او په باب د طلاقو کی استعمال د عرف ته زیات اعتبار دی او خاص طور چه د نیت سره ئی موافقت راشی، د همدی وجی نه ابن الهمام په فتح القدیر کی چه د اهل الترجیحو نه دی ترجیح د امام زفرؒ قول ته ورکړی ځکه دلیل ئی قوی دی اګر چه متون د دی په خلاف دی لکن اعتبار د دلیل قوی والی ته وی -

قوله و ان نوی الخ : او که پدی قول سره چه واحدة فی ثنتین دی نیت ئی داسی ؤ چه واحدة و ثنتین یعنی ۱+۲ نو که ښځه موطوءه وه نو دری طلاقه واقع شول ځکه لفظ (فی) اګر چه د ظرفیت لپاره راځی کله استعارةً په معنی د واو د جمعی سره هم راځی ځکه ظرف مظروف لره راجمعه کوی نو چه نیت ئی د واو د جمعی ؤ نو دری طلاقه واقع شول -

او که ښځه غیر موطوءه وه نو بیا یو طلاق واقع کیږی ځکه هغه په یو طلاق سره بائنه کیږی او د غیر موطوئی لپاره عدت نشته نو د نورو دواړو طلاقو لپاره محل پاتی نشو، نو غیر موطوئی ته پدی الفاظو سره چه واحدة فی ثنتین که نیت د واحدة و ثنتین وکړی او که صراحةً ورته ووائی چه واحدة و ثنتین نو په دواړو صورتونو کی یو طلاق واقع کیږی، ووجهها قلت آنفا انشاء الله بعون الله تعالی -

و ان نوی مع ثنتین فثلاث و فی ثنتین و نوی الضرب ثنتان و فی من هنا الی الشام واحدة رجعیة و یُنجز الطلاق فی بمکة او فی مکة او فی الدار ای اذا قال انتِ طالق بمکة او فی مکة فهو تنجیزٌ و عُلِّقَ فی اذا دخلتِ مکة او فی دخولكِ الدار .

تشریح او توضیح: او که واحدة فی ثنتین نه مراد ئی مع ثنتین ؤ یعنی (فی) په معنی د (مع) سره نو دری طلاقه واقع کیږی ، او که داسی ئی وویل چه ثنتین فی ثنتین او نیت ئی د ضرب ؤ بنابر اختلاف سابق د امام ابوحنیفهؒ په نزد دوه طلاقه واقع شول ، او که داسی ئی وویل چه ته دی طلاقه ئی د دی ځای نه تر شام پوری نو یو طلاق رجعی واقع شو ، او که داسی ئی وویل چه ته دی طلاقه ئی په مکی سره یا په مکه کی نو فی الحال طلاق واقع شو ـ

(د تنجیز معنی فی الحال ده) دا ځکه واقع شو چه د طلاقو واقع کیدل تر یو ځای پوری یا تر یو وخته پوری خاص ندی نو کله چه طلاق واقع شول نو په ټولو ځایونو او په ټولو زمانو کی واقع شول او دده تخصیص ختم شو ، لیکن که داسی ئی وویل چه ته دی طلاقه ئی کله چه مکی ته داخل شوی او یا په وخت د داخلیدو ستا کی کور ته نو بیا طلاق فی الحال نه واقع کیږی بلکه تر د خوله پوری معلق شو که مکی ته یا کور ته داخله شوه نو طلاقه ده او که داخله نه شوه نو نه طلاقیږی ـ

و یقع عند الفجر فی انت طالق غدا ، او فی غدٍ و تصح نیة العصر فی الثانی فقط فانه اذا قال انت طالق غدا یقتضی ان تکون موصوفة بالطلاق فی کل الغد فیقع عند الفجر و لا تصح نیة العصر کما اذا قال صمت السنة یدل علی انه صام کلها بخلاف صمت فی السنة و فی قوله انتِ طالق فی غدٍ یقتضی وقوع الطلاق فی جزء من الغد و لیس جزء منه اولی من الجزء الآخر فیقع عند الفجر لئلا یلزم الترجیح بلا مرجح اما اذا نوی جزءا معیَّنا تصح نیته .

تشریح او توضیح: او که خاوند ښځی ته داسی ووائی چه ته دی طلاقه ئی صباته او یا په صبا کی نو طلاق په وخت د صبح صادق د صباح کی به واقع وی ځکه چه کله داسی ووائی چه انتِ طالق غدا نو دا تقاضا د دی کوی چه دا ښځه دی په طلاقو موصوفه وی په کل غد کی یعنی په ټولو اجزاؤ کی ، او په ټولو اجزاؤ به هلته موصوفه وی چه کله په اول د صباح کی واقع شی خو نیت د عصر پکی نه صحی کیږی قضاءً ، د دی مثال داسی دی لکه یو سړی ووائی چه صمت السنة یعنی چه ما روژه د کال ونیوله نو دا تقاضا د دی کوی چه ټول کال روژه می ونیوله ، او که داسی ووائی چه صمت فی السنة یعنی چه ما په کال کی روژه ونیوله نو دا په یوه روژه هم صادقیږی او د یو ساعت په روژه نیولو هم صادقیږی او دا قول چه انت طالق فی غد دی تقاضا د دی کوی چه طلاق واقع دی چه یو جزء کی د غد نه خو دا جزء غیر معین دی او

ټول اجزاء سره برابر دی نو که مونږ ئی په یو جزء دون جزء کی واقع کړو نو ترجیح بلا مرجح به راشی نو مونږ حکم وکړو چه په اول جزء کی به واقع وی ځکه د اول جزء نه بهترین جزء بل نشته او که د اول جزء نه ماسوا د بل جزء مثلاً د مازیګر نیت وکړی نو بلکل صحی دی ځکه د دی احتمال هم لری ځکه ظرف کله د مظروف نه اوسع وی۔

و عند اولهما فی الیوم غدا او غدا الیوم ای اذا قال انتِ طالق الیوم غدا یقع فی الیوم ، و ان قال انت طالق غدا الیوم یقع فی الغد و لغا انت طالق قبل ان اتزوجكِ ، و انت طالق امس لمن نكحها الیوم و یقع الآن فیمن نكح قبل امس ای اذا قال انت طالق امس لامرأة نكحها قبل الامس یقع فی الحال اذ لا قدرة له علی الایقا ع فی الزمان الماضی .

تشریح ا وتوضیح : او طلاق واقع کیږی په وخت د اول د دوو وختونو نه چه یوم او غدا یا غدا او یوم دی ، یعنی که یو سړی خپلی ښځی ته ووائی چه ته دی طلاقه ئی نن ورځ صبا نو طلاق واقع کیږی په نن ورځ کی یعنی که د طلاقو لپاره دوه وختونه ذکر کړی چه حال دی او استقبال دی او کوم یو چه مقدم کړی شی نو هغه به واقع وی او ثانی به معلق وی نو که الیوم غدا ئی ذکر کړ نو طلاق به په یوم کی واقع وی او که غدا الیوم ئی ذکر کړ نو طلاق به په غد کی واقع وی خو دا په هغه صورت کی چه بدون د حرف عاطف نه وی او که په حرف عاطف سره ئی ذکر کړ نو که شروع په حال سره وه نو ټول طلاق به متحد وی او حالا به واقع وی او که شروع ئی په استقبال سره وه نو طلاق به متعدد وی نو اول به معلق وی کله چه غد راغی نو طلاق به واقع وی او دویم به منجز وی او حالا به واقع وی۔

و لغا انت طالق الخ : او که یو سړی خپلی ښځی ته وویل چه ته دی طلاقه ئی مخکی له دینه چه ته ما په نکاح کړی نو دا خبره ئی عبثه ده ځکه مخکی له نکاح نه طلاق نشته ، او که ورته ئی وویل چه ته دی پرون طلاقه ئی او همدغه ښځه نن په نکاح کړی وه نو د ده خبره هم عبثه ده او که د پرون نه ئی مخکی په نکاح کړی وه نو بیا فی الحال طلاق واقع شو ځکه د ده قدرت په زمانه ماضی باندی نشته۔

و فی انت كذا ما لم اطلقك او متی لم اطلقك او متی مالم اطلقك و سكت یقع حالا ، و فی ان لم اطلقك یقع فی آخر عمره و اذا ، و اذا ما بلانیة مثل إنْ عند ابی حنیفةؒ و عندهما كمتی و مع نیة الوقت او الشرط فكنیةٍ ، و هذا بناء علی أن إذا عند ابی حنیفةؒ مشترك بین الظرف و الشرط و عندهما حقیقة فی الظرف ، و قد یجیء الشرط بطریق المجاز ، فقوله اذا لم اطلقكِ یكون بمعنی متی لم اطلقك كما اذا قال طلقی نفسكِ اذا شئت فانه بمعنی متی شئت ، و عند ابی حنیفةؒ لما كان مشتركا بین المعنیین ففی قوله اذا لم اطلقك ان كان بمعنی متی یقع فی الحال و ان كان بمعنی إن یقع فی آخر العمر فوقع

الشك في وقوعه في الحال فلا يقع بالشك ، و اما مسئلة المشية فان الطلاق تعلق بمشيتها فان كان اذا بمعنى إن انقطع تعليقه بمشيتها بانقضاء المجلس و ان كان بمعنى متى لم ينقطع فلا ينقطع بالشك .

تشريح او توضيح : او په دی قول د خاوند کی چه انت طالق ما لم اطلقک او متی لم اطلقک او متی مالم اطلقک (ته طلاقه ئی ترڅو چه ته ما نه ئی طلاقه کړی) دی چه خاوند ئی ښځی ته ووائی او بیا د طلاقونه چپ شی نو طلاق فی الحال واقع شو ، او که داسی ئی ورته وویل چه انتِ طالق ان لم اطلقکِ یعنی چه ته دی طلاقه ئی که چیری ما ته طلاقه نکړی ، نو د عمر په اخری حصه کی د خاوند طلاق واقع شو که خاوند ئی د ښځی نه مخکی مړ شو ، او که ښځه مخکی مړه شوه نو بیا د ښځی د عمر په آخری حصه کی طلاق واقع شو د دی طلاق نتیجه به دا وی که خاوند مخکی مړ شو نو ښځه به د ده میراث کی حق نه وړی ، او که ښځه مخکی مړه شوه نو خاوند د ده په مال کی میراث نشی وړی همداسی نوری مسئلی پری عطف دی ۔

او په طلاقو کی اذا او اذا ما لفظ راوړل مثلا انتِ طالق اذا لم اطلقکِ الخ ، او نیت د وقت او یا د شرط هم ورسره نه وی نو د امام ابو حنیفةؒ په نزد د لفظ (ان) حکم لری یعنی لکه مخکی ان الم اطلقک لفظ سره د عمر په اخری حصه کی طلاق واقع کیده نو همدارنگه به د لفظ اذا په صورت کی هم د عمر په آخری حصه کی طلاق واقع کیږی ۔

او د صاحبینو په نزد د لفظ اذا حکم د لفظ متی حکم پشان دی لکه څرنگه چه په لفظ متی لم اطلقکِ سره حالا طلاق واقع کیدل نو همدارنګی په لفظ اذا سره هم حالا واقع وی ، او که نیت د وقت ئی کړی ؤ یعنی د وقت د عدم تطلیق او یا معنی د شرط نو بیا د دی حکم د نیت په شان دی یعنی نیت ئی معتبر دی او د دی مطابق به حکم کولی شی او دا اتفاقی حکم دی ۔

و هذا بناء الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره دا دی چه د صاحبینو او د امام صاحب په نزد د اختلاف وجه څه ده ؟ هغه دا دی چه لفظ اذا د امام صاحب په نزد د ظرف او شرط ترمنځ شریک دی او کله چه د دواړو معنو تر منځ شریک شو نو دا قول چه اذا لم اطلقک دی که په معنی د متی شی نو طلاق به فی الحال واقع شی لکه په لفظ متی چه واقع کیدل او که په معنی د ان سره وی نو د عمر په آخری حصه کی به واقع وی لکه لفظ ان سره چه واقع کیدل نو د دی په فی الحال واقع کیدو کی شک راغی او طلاق په شک سره نه واقع کیږی ۔

او د صاحبینو په نزد لفظ اذا حقیقت دی په ظرف کی خو کله کله د شرط لپاره په طریقه د مجاز سره هم راځی نو دا قول چه اذا لم اطلقکِ دی په معنی د متی لم اطلقکِ سره راځی دا داسی ده لکه چه

وولتی چه ضمنی شک د شئت نو دلته اذا شئت په معنی د متی شئت سره دی بالاتفاق نو هلته هم اذا په معنی د متی سره دی او طلاق فی الحال واقع دی۔

و اما مسئلة المشية الخ : غرض د شارح پدی عبارت سره جواب دی د امام صاحب له طرفه چه صاحبینو ! تاسی خو د اذا شئت مسئله وړاندی وړاندی کوی۔ چه هلته اذا شئت په معنی د متی شئت دی نو هلته خو د طلاقو تعلق د مشیئت سره راغلی نو که اذا په معنی د ان سره واخلو نو بیا خو د مجلس په ختمیدو سره د مشیئت تعلق ختمیږی لکه صراحة نبی چه لفظ ان سره تکلم کړی وی او که په معنی د متی سره نبی واخلو نو بیا تعلق بالمشیت نه ختمیږی نو چه کله پدی کی شک راغلی نو شک سره تعلق نه قطعه کیږی نو هلته ځکه په معنی د متی سره دی او دلته د مشیت د قطع او عدم قطع خبره نشته نو ځکه حالا طلاق نه واقع کیږی۔

و فی انتِ طالقٍ ما لم اطلقكِ انتِ طالق تطلّق بالاخيرة ای ان قال انت طالق ما لم اطلقك انت طالق تطلّق بالاخيرة و هی قوله انت طالق حتی لو قال انت طالق ثلاثا ما لم اطلقكِ انتِ طالق تقع واحدة .

تشریح او توضیح : او که خاوند ښځی خپلی ته وویل چه انت طالق ما لم اطلقکِ انت طالق نو پدی اخیرنی جمله چه هغه انت طالق دی ښځه طلاقیږی او په مخکنی جمله چه معلق دی چه انت طالق ما لم اطلقک دی نه طلاقیږی تر دی که داسی نبی وویل چه انت طالق ثلاثا ما لم اطلقک انت طالق نو پدی سره هم یو طلاق واقع کیږی۔

والیوم للنهار مع فعل ممتد و للوقت المطلق مع فعل لا یمتد فعند وجود الشرط لیلا لا یتخیر فی امرك بیدك یوم یقدم زید و تطلق فی یوم أتزوجك فانت طالق ، اعلم ان الیوم اذا قرن بفعل ممتد یُراد به النهار و اذا قرن بفعل غیر ممتد یراد به الوقت و ذلك لان ظرف الزمان اذا تعلق بالفعل بلا لفظ فی یکون معیارا له کقولنا صمت السنة بخلاف قولنا صمت فی السنة فاذا کان الفعل ممتدا کالامر بالید کان المعیار ممتدا فیراد بالیوم النهار ههنا وان کان الفعل غیر ممتد کوقوع الطلاق کان المعیار غیر ممتد فیراد بالیوم الوقت .

تشریح او توضیح : غرض د ماتن پدی عبارت سره بیان د یوی ضابطی دی چه په هغی باندی د طلاقو په بحث کی ډیر مسائل تفریع کیږی

د یوم لفظ چه کله د فعل ممتد سره یو ځای شی ، فعل ممتد هغی ته وائی چه د هغی لپاره موده بیانولی شی لکه تګ شو سوریدل شو او روژه نیول شو او ښځی ته اختیار ورکول شو و غیره . او فعل غیر ممتد چه د هغی لپاره موده نشی بیانولی لکه طلاق تزوج عتاق دخول و غیرها نو که یوم لفظ د فعل

ممتد سره تعلق ونيسي نو مراد به د يوم نه په دې ځاى كې نهار وي نه مطلق وخت مثلا داسې ئې ورته ووېل چه امرك بيدك يوم يقدم زيد (اختيار ستا لاس كې دې په كومه ورځ چه زيد راځي) نو دلته د يوم تعلق د امر باليد سره دې او امر باليد فعل ممتد دې نو دلته به د يوم نه مراد نهار وي نه مطلق وخت نو كه دغه شرط چه قدوم د زيد دې فرضا په ليل (شپه) كې موجود شي نو ښځې ته به اختيار نوى ځكه د يوم نه مراد په دې ځاى كې نهار دې، اوكه زيد په نهار كې راشي نو ښځې ته بيا د غروب الشمس پورې اختيار دې.

او كه د يوم تعلق د فعل غير ممتد سره راشي نو مراد به ترې مطلق وخت وي.

و ذلك الخ : غرض د شارحؒ پدې عبارت سره بيان د وجه د فرق دې په ما بين د ديكې چه يوم تعلق د فعل ممتد سره ونيسي نو مراد ترې نهار دې او كه تعلق د فعل غير ممتد سره ونيسي نو مراد ترې مطلق وخت دې وجه د فرق ئې دا ده چه ظرف كله د فعل سره بغير د لفظ في نه تعلق ونيسي نو دغه ظرف زمان به د دغه فعل لپاره معيار وي معيار هغه ظرف ته وائي چه د مظروف نه زيات نوى لكه دا قول چه صمت السنة نو سنه (كال) معيار شو د صوم لپاره يعني ما ټول كال روژه ونيوله او كه لفظ د (فِي) ورسره وي نو بيا ظرف زمان د فعل لپاره معيار ندې بلكه ظرف دې لكه دا قول چه صمت في السنة نو سنه د صوم لپاره معيار نه دې ځكه معيار د مظروف نه زيات نه وي او دلته د مظروف نه زيات دې يعني ما په كال كې روژه ونيوله بلكه في السنة ظرف دې د صوم لپاره او ظرف كله كله د مظروف نه زيات وي

نو پدې صورتونو كې كه فعل ممتد ؤ لكه امر باليد نو معيار چه يوم دې هغه به هم ممتد وي نو مراد به د يوم نه نهار وي او كه فعل غير ممتد ؤ لكه وقوع د طلاقو په دې قول كې چه يوم اتزوجكِ فانت طالق نو طلاقي آني دې غير ممتد دې نو معيار به هم غير ممتد وي نو مراد د يوم نه به مطلق وقت وي نه نهار، نو كه په هر وقت كې نكاح وكړه شپه وي او كه ورځ وي نو ښځه به طلاقه وي.

واعلم انه قد وقع خبط و اضطراب في ان المعتبر في الامتداد و عدمه الفعل الذى تعلق به اليوم او الفعل الذى اضيف اليه اليوم فالمذكور في الهداية في هذا الفصل ان اليوم يحمل على الوقت اذا قرن بفعل لا يمتد والطلاق من هذا القبيل فينتظم الليل والنهار فهذا دليل على ان المعتبر الفعل الذى تعلق به اليوم وهو الطلاق في قوله يوم اتزوجك فانت طالق والمذكور في أيمان الهداية انه اذا قال يوم أكلم فلانا فانت طلاق يتناول الليل والنهار لان اليوم اذا قرن بفعل لا يمتد يراد به مطلق الوقت والكلام لا يمتد فهذا يدل على ان المعتبر الفعل الذى اضيف اليه اليوم .

تشريح او توضيح : غرض د شارحؒ پدې عبارت سره بيان د هغې اضطراب او خلط دې چه د مشائخو نه واقع شوى او بل بيان د هغه وهم دې چه د هدايه د دواړو عبارتونو ځنځ‌په ظاهر كې يو تعارض

معلومیږی هغه داسی چه د امتداد فعل نه او د عدم امتداد د فعل نه ایا هغه فعل مراد دی چه د هغی سره د یوم تعلق وی او که هغه فعل مراد دی چه د یوم اضافت ورته شوی ؟او مراد د تعلق د یوم نه هغه فعل ډی چه یوم د هغی د وقوع لپاره ظرف وی که هغه د یوم نه مقدم وی لکه انت طالق یوم اتزوجک ، او که مؤخر وی لکه یوم اتزوجکِ انت طالق ۔

نو یوم ظرف دی او طلاق مظروف دی همدارنګه امرکِ بیدکِ یوم یقدم زیدُ نو یوم ظرف دی او امر بالید مظروف دی نو د هدایه په یو عبارت کی داسی دی چه کله یوم د فعل غیر ممتد سره پیوسته ؤ نو یوم به حمل کولی شی په مطلق وقت باندی او په دی قول کی یوم اتزوجک فانت طالق کی طلاق هم د قبیلی د غیر ممتد نه دی نو شپه او ورځ ته به شامل وی ۔

فهذا دلیل : دا قول د هدایه والا دی چه دا دلالت پدی کوی چه هغه فعل معتبر دی چه د هغی سره یوم تعلق لری چه هغه طلاق دی په دی جمله کی چه یوم اتزوجکِ فانت طالق ، او د هدائی په بل عبارت کی په باب د أیمان کی داسی ذکر دی چه کله یو سړی ووائی خپلی ښځی ته چه په کومه ورځ ما د فلانی سره خبری وکړی نو ته دی طلاقه ئی (یوم أکلم فلانا فانت طالق) نو دا شپه او ورځ ته شاملیږی ځکه یوم سره چه کله تعلق د فعل غیر ممتد راشی نو مراد تری مطلق وخت وی او کلام هم غیر ممتد دی نو د هدائی د اول عبارت نه دا معلومیږی چه هغه فعل معتبر دی چه د کوم لپاره یوم ظرف واقع شوی چه هغه طلاق دی ، او د بل عبارت نه دا معلومیږی چه هغه فعل معتبر دی چه کوم مضاف الیه واقع شوی د یوم لپاره چه هغه کلام دی نو ظاهر کی تعارض معلومیږی ۔

اذا عرفت هذا فان کان کل واحد منهما غیر ممتد کقوله انت طالق یوم یقدم زید یراد بالیوم مطلق الوقت ، و ان کان کل واحد منهما ممتد نحو امرکِ بیدکِ یوم اسکن هذه الدار یراد با الیوم النهار و ان کان الفعل الذی تعلق به الیوم غیر ممتد والفعل الذی اضیف الیه الیوم ممتداً نحو انت طالق یوم اسکن هذه الدار او بالعکس نحو امرکِ بیدکِ یوم یقدم زید ینبغی ان یراد بالیوم النهار ترجیحا لجانب الحقیقة .

تشریح او توضیح : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د خپل مرام دی او د اضطراب ختمول او د ظاهری تعارض دفع کول دی ۔

وائی چه کله تا دا مخکی تفصیل و پیژندو نو اوس ځان پوه کړه چه که هر یو د هغه فعل نه چه تعلق د یوم سره لری او د مضاف الیه د یوم نه غیر ممتد ؤ لکه دا قول چه انت طالق یوم یقدم زید نو طلاق هغه فعل دی چه تعلق د یوم سره لری او قدوم هغه فعل دی چه مضاف الیه د یوم دی او دواړه فعلونه غیر ممتد دی نو پدی صورت کی به د یوم نه مراد مطلق وقت وی او که دواړه فعلونه ممتد ؤ لکه دا قول چه

امرک بیدکِ یوم اسکن هذه الدار نو امر بالید هغه فعل دی چه تعلق د یوم سره لری او ممتد دی او سکونت هغه فعل دی چه مضاف الیه دیوم دی اوفعل ممتد دی نو پدی صورت کی د یوم نه مراد نهار دی۔

او که هغه فعل چه تعلق د یوم سره لری غیر ممتد ؤ او هغه فعل چه مضاف الیه د یوم دی هغه فعل ممتد ؤ لکه پدی قول کی انت طالق یوم اسکن هذا الدار او یا ددی په عکس ؤلکه داقول چه امرکِ بیدکِ یوم یقدم زید نو پدی صورتونو کی بیا به هم د یوم نه باید نهار واخستلی شی څکه یوم حقیقت دی په نهار کی او مجاز دی په مطلق وخت کی نو ترجیح به حقیقت ته ورکولی شی ۔

لکن دا قول د ده د هغه قول سره مخالف دی چه په تنقیح او توضیح کی دی چه اعتبار به هغه فعل ته وی چه کوم د دیوم سره تعلق لری نه د مضاف الیه د یوم ته او بل دا قول د ده مخالف دی د قول د ابن الهمام نه ، او تفتازانی او داسی نور علماؤ سره چه په وخت د اختلاف د فعلینو کی به ترجیح او اعتبار هغه فعل ته وی چه د یوم سره تعلق لری نه د مضاف الیه د یوم ته والله اعلم ۔

تفو انما قلنا ان الطلاق غیر ممتد لان المراد ایقاع الطلاق فلا یقال ان کون المرأة طالقا ممتد لان الطلاق اذا وقع فکون المرأة طالقا امر مستمر فلا فائدة فی تعلق الیوم به فیکون الیوم متعلقا بایقاع الطلاق لا بکون المرأة طالقا ۔ و اعلم ان المراد بالامتداد امتداد یمکن ان یستوعب النهار لا مطلق الامتداد لانهم جعلوا التکلم من قبیل غیر الممتد و لا شك ان التکلم ممتد زمانا طویلا لکن لا یمتد بحیث یستوعب النهار عادة .

بیان الامتداد الخ : و انما قلنا الخ ۔ دا دفع د یو اعتراض مقدر دی هغه اعتراض داسی چه تاسی وائی چه طلاق غیر ممتد دی او کله چه ښځه طلاقه کړی شی نو دا خو ممتده ده څکه ډیره موده د عمر باقی پاتی وی نو طلاق څنګه غیر ممتد شو ؟

نو شارحؒ په قلنا سره جواب وکړ چه زمونږ مراد د طلاق نه مطلق طلاق نه دی بلکه مراد ایقاع د طلاق دی چه واقع کیدل د طلاقو غیر ممتد دی څکه مکمل ورځ نه ګیروی څکه طلاق چه کله واقع شی نو بیا د ښځی طلاقیدل امر مستمر دی ترڅو چه مانع یا یو رافع نوی نو دا به طلاقه وی نو اوس که مونږ د یوم تعلق د نفس طلاقو سره راولو نو پدیکی هیڅ فائده نشته نو چه فائده پکی نشته نو د یوم تعلق به د ایقاع سره راشی نه د دی سره چه دا ښځه به طلاقه وی ۔

قوله واعلم الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د امتداد دی چه د دی امتداد نه څه مراد دی ، د امتداد نه مراد مطلق امتداد نه دی بلکه هغه امتداد چه امکان د دی ولری چه توله ورځ راګیره کړی څکه مشائخو تکلم د قبیلی د غیر ممتد نه ګرځولی او ښکاره خبره ده چه تکلم ډیره زمانه ممتد وی ،

لیکن دومره ممتد نه ده چه تولو ورځو راګیره کړی نو معلومه شوه چه مراد د امتداد نه دا دی چه امکان د تولی ورځی د راګیریدو ولری۔

و راجع فی انت طالق ثنتین مع عتق سیدکِ لکِ لو اعتق۔ رجل تزوج امة غیره فقال لها انت طالق ثنتین مع اعتاق مولاکِ ایاکِ فاعتقها المولی فطلقت ثنتین فالزوج یملک الرجعة لان اعتاق المولی جعل شرطا للتطلیق فیکون مقدما علیه فالعتق یکون مقدما علی وقوع الطلاق فیقع الطلاق و هی حرة فیصیر طلاقها ثلاثا فیملک الزوج الرجعة فان قیل کلمة مع للقِران قلنا جاء ت للتاخیر نحو قوله تعالی : (إن مع العسر یسرا) ۔

تشریح او توضیح : او جائز دی خاوند لره رجوع پدی قول کی چه ته طلاقه ئی په دوو سره سره د عتق بادار ستا لره نو که سید ازاده کړه ، یعنی یو سړی د بل سړی وینزه په نکاح کړه نو ده ورته وویل چه ته طلاقه ئی په دوو طلاقو سره ، سره د ازادولو د بادار ستا تالره نو بادار دغه وینزه ازاده کړه نو دغه ښځه په دوه طلاقو طلاقه شوه ، نو خاوندئی په عدت کی بیرته د رجوع اوطاقت لری ځکه خاوند اعتاق د مولی شرط وګرځوه د طلاقو لپاره او شرط مقدم وی په مشروط باندی نو اعتاق هم مقدم شو په طلاقو باندی نو چه طلاق واقع کیدل نو دغه ښځه ازاده (حره) وه او د حُری لپاره دری طلاقه دی او په دوه طلاقو سره دعدت په وخت کی بیرته درجوع واک لری ځکه حره ښځه په دری طلاقو سره مغلظه نه په دوه سره ګرځی۔

فان قیل الخ : دا یو اعتراض دی چه تاسی وائی چه عتق به په طلاقو مقدم وی نو دا خبره نه منو ځکه کلمه د مع د قِران او معیت لپاره راځی نو معنی دا شوه چه طلاق به د عتق سره مقارن وی نه دا چه عتق به مقدم وی په طلاقو باندی ؟

نو شارحؒ په قلنا سره جواب کوی چه صحیح ده کلمه د مَع د قِران او معیت لپاره راځی خو د تاخیر لپاره هم راځی لکه پدی قول د الله تعالی کی (ان مع العسر یسرا) چه یُسر به د عُسر نه وروسته راځی نه دا چه یُسر د عسر سره یو ځای راشی۔

و عند مجیء غد بعد تعلیق عتقها و تطلیقها بمجیئه لا خلافا لمحمدؒ یعنی قال المولی اذا جاء الغد فانت حرة و قال الزوج اذا جاء الغد فانت طالق ثنتین فجاء الغد وقع العتق والطلاق و لا یملک الزوج الرجعة لان وقوع العتق مقارن لوقوع الطلاق ، فیقع الطلاق وهی امة بخلاف المسئلة الاولی فان وقوع الطلاق متوقف علی وقوع العتق فاعتبر التقدم والتاخر بالرتبة و عند محمدؒ یملک الرجعة لان العتق أسرع وقوعا لانه رجوع الی الحالة الاصلیة و هو امر مستحسن بخلاف الطلاق فانه أبغض المباحات فیکون فی وقوعه بطؤ و تاخیر و تعتد کالحرة بالاتفاق اخذا بالاحتیاط ۔

تشریح او وتوضیح : او په وخت د راتګ د صبا کی پس له معلق کولو د بادار نه عتق د دی وینزی او پس له معلق کولو د خاوند د طلاق ورکولو نه د راتګ د صبا پوری نو رجوع نشی کولی په خلاف د امام محمد یعنی مولی خپلی وینزی ته وویل چه کله صبا راغی نو ته دی حره (اصیله ئی) او د همدغی وینزی خاوند همدغی وینزی ته وویل چه کله صبا راغی نو ته دی په دوه طلاقو طلاقه ئی نو صبا راغی نو عتق او طلاق دواړه واقع شو نو خاوند د دی وینزی واک د بیرته رجوع نلری ، ځکه چه عتق او طلاق دواړه مقارن یعنی پیوسته واقع شو نو طلاق داسی وخت کی واقع شو چه دغه ښځه وینزه وه او د وینزی لپاره دوه طلاق دی په دویم طلاق سره مغلظه ګرځی وینزی ته خاوند د یو طلاق نه وروسته رجوع کولی شی او د دوو نه وروسته ئی نشی کولی په خلاف د مخکنی مسئلی چه هلته د طلاقو واقع کیدل موقوف ؤ د عتق د واقع کیدو پوری نو تقدم او تاخیر ته اعتبار په رتبی سره ؤ یعنی عتق شرط ؤ او شرط مقدم وی په مشروط باندی په اعتبار د رتبی سره او همدغه تقدم او تاخر رتبی د وجی نه تقدم او تاخر زمانی لازم شو ۔

او د امام محمدؒ په نزد خاوند واک د بیرته رجوع کولو لری ځکه چه عتق په واقع کیدو کی زیات چالاکه دی د طلاقو نه ځکه په عتق سره حالت اصلی ته رجوع راځی او حالت اصلی ته رجوع کول یو ښکلی امر دی او طلاق خو ابغض المباحات دی نود طلاقو په واقع کیدو کی سست والی او تأخیر دی، لیکن همدغه وینزه به عدت د حری یعنی اصیلی ښځی په شان تیره وی په اتفاق د تولو امامانو زمونږ د دی وجی نه چه عمل په احتیاط راشی ۔

و يقع بانا منك بائن او عليكِ حرام ان نوى لا بانا منكِ طالق ، و ان نوى و انت طالق واحدة او لا أو مع موتي او مع موتكِ و لا طلاق بعد ما ملكَ احدهما صاحبه او شقصه لانه وقع الفرقة بينهما بملك الرقبة و الطلاق يستدعي قيام النكاح .

تشریح او وتوضیح : که خاوند ښځی ته ووائی چه زه له تا څخه جدا یم یا زه په تا حرام یم نو که نیت ئی د طلاقو ؤ نو طلاق واقع شو او که نیت ئی د طلاقو نه ؤ نو نه واقع کیږی ځکه دا الفاظ چه بائن او حرام دی صراحةً د طلاقو لپاره وضع شوی نه دی بلکه د نورو معنو احتمال هم لری نو پدی وخت کی نیت ته ضرورت دی که نیت ئی د طلاقو ؤ نو واقع کیږی و الا فلا ۔

او که خاوند داسی ورته وویل چه زه له تا څخه طلاق یم نو طلاق نه راځی اګر چه نیت ئی د طلاقو وی ، او که داسی ورته ووائی چه ته دی طلاقه ئی یو وی او که نوی نو پدی صورت کی هم طلاق نه واقع کیږی ، او که داسی ورته ووائی چه ته طلاقه ئی زما له مرګ سره یا ستا له مرګ سره نو بیا هم طلاق نه واقع کیږی ځکه د مرګ له حالت سره طلاق منافی او مخالف دی ۔

ولا طلاق الخ : یعنی که احد الزوجین کی یو د بل مالک شو مثلا ښځه وه د بل سړی غلام سره

ئی نکاح کړی وه بیا دغی ښځی هم دغه غلام یا د دی غلام یو حصه چه چا سره شریکه شوه واخسته یا مثلا یو حر سړی ؤ د بل سړی وینزه ئی واخسته چه د ده په نکاح کی وه یا د دی یوه حصه نو د دوی تر منځ په ملک رقبی سره جداوالی راغی ځکه ملک رقبی مخالف د نکاح دی ځکه نکاح سره څه نا څه د دواړو طرفونو نه امریت او ماموریت موجود وی او په ملک رقبی کی د واړه قوته نشته کما مر ، او په طلاقو سره د دوی تر منځ جداوالی ندی راغلی ځکه طلاق تقاضا د قیام د نکاح کوی که نکاح وی نو طلاق به واقع شي او دلته قیام د نکاح پاتي ندی ۔

و بانت طالق هکذا یشیر بالاصبع یقع بعدده ای بعدد الاصابع و الاصبع یذکر و یؤنث و یعتبر المنشورة ببطونها و لو اشار بظهورها فالمضمومة لانه اذا اشیر بالاصابع المنشورة فالعادة ان یکون بطن الکفّ فی جانب المخاطب و اذا عقد بالاصابع یکون بطن الکف فی جانب العاقد .

تشریح ا وتوضیح : که داسی ورته ووائی چه ته دی طلاقه ئی داسی او اشاره ئی ورته وکړه نو طلاق به ورته د ګوتو په شمار واقع کیږی که یوه ګوته وه نو یو طلاق او که دوه وی نو دوه طلاقه او که دری وی نو دری طلاقه واقع دی ځکه په عام عادت او استعمال کی په ګوتو سره اشاره کول په عدد باندی دلالت کوی خو کومی ګوتی مراد دی ایا خوری ګوتی او که مضمومی ګوتی ؟ نو د شرح الوقایه والا دا فتوی ده که اشاره ئی ورته د ګوتو په خیټو (مخامخ لاس سره) وکړه نو خوری ګوتی به مراد وی ، او که د ګوتو په شا وه نو بیا مضمومی ګوتی مراد دی ځکه کله چه په منشورو(خورو) ګوتو اشاره کولی شی نو عادت دا دی ۔ چه ورغوی په جانب د مخاطب وی او کله چه په ګوتو سره عقد کوی نو بیا ورغوی په طرف د عاقد وی خو دی تفصیل ته د هدائی والا او بعضی نورو علماؤ د ضعف نسبت کړی او ویل ئی دی چه عام عرف او رواج کی اعتبار مطلق خورو ګوتو ته دی خو که نیت ئی د مضمومو ګوتو ؤ نو بیا دیانةً دیته اعتبار شته ۔

قوله والاصبع الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره دفع د یو اعتراض ده چه اصبع لفظ خو د مؤنث سماعیه نه دی نو مصنف ولی ضمیر د مذکر ورته راجع کړ په بعدده لفظ کی ؟ نو شارحؒ جواب وکړ چه اصبع لفظ په مذکر او مؤنث دواړو سره استعمالیږی ۔

و بانت طالق بائن او انت طالق اشد الطلاق او افحشه او اخبثه او طلاق الشیطان او البدعة او کالجبل او کألف و ملأ البیت او تطلیقة شدیدة او طویلة او عریضة بلانیة ثلاثٍ واحدةٌ بائنة و معها ثلاثٌ ، قوله بلانیة ثلاث یشمل ما اذا لم ینو عددا او نوی واحدة او ثنتین و هذا فی الحرة و اما فی الامة فثنتان بمنزلة الثلاث فی الحرة .

تشریح ا وتوضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د قسم ثانی د صریح دی اول قسم د

صریح هغه الفاظ چه په هغی سره طلاق رجعی واقع کیږی او دویم قسم چه هغی سره طلاق بائن واقع کیږی لکه یو سړی خپلی ښځی ته ووائی چه ته دی طلاقه ئی په طلاق بائن سره یا په سختو طلاقو سره یا په خرابو طلاقو سره یا په خبیثو طلاقو سره یا د شیطان په طلاقو سره یا په غیر شرعی طلاقو سره یا لګ غر یا لکه زر ۱۰۰۰ طلاقه، او په ډکوالی د کوټی سره یا په اوږدو طلاقو سره یا په پلنو طلاقو سره، نو که نیت نی د دریو نه ؤ کړی یائی کړی ؤ خو د یو طلاق یا د دوو نو بیا په ټولو صورتونو کی یو طلاق بائن واقع کیږی او که نیت ئی د دریو طلاقو ؤ نو بیا دری طلاقه واقع کیږی دا په حره ښځه کی او په امه کی دوه طلاقه مغلظ طلاقه دی نو که د دوو طلاقو نیت ئی کړی ؤ نو وینزه په دوه طلاقو مغلظو سره طلاقه شوه۔

> و من طلقها ثلاثا قبلِ الوطی وقعْنَ فان فرَّق بانت بالاولی و لم تقع الثانیة و الثالثة ففی انتِ طالق واحدةً و واحدةً تقع واحدةٌ ، و یقع بعددٍ قرنَ بالطلاق لا به فیلغو انت طالق لو ماتت قبل ذکر العدد ، و بانت طالقٌ واحدةً قبل واحدةٍ او بعدها واحدة واحدةٌ لان الواحدة الاولی وُصِفَتُ بالقبلیة فلما وقعت لم یبق للثانیة محلٌ .

تشریح او توضیح : که یو سړی خپله ښځه د وطی نه مخکی طلاقه کړه په دری طلاقو سره نو دری واړه واقع شو ځکه غیر مدخول بها ښځه اګر که په یو طلاق سره بائنه ګرځی ځکه هغه عدت نلری لیکن په یو طلاق سره بینونت مغلظه نه راځی چه د هغی نه وروسته بیا تحلیل ته ضرورت وی، او که په دری طلاقو سره غیر مدخول بها طلاقه کړی نو دری واړه واقع کیږی، او د دینه وروسته که بیا له هم دغه خاوند سره نکاح کوی نو بغیر له تحلیل نه ئی نشی کولی دا فتوی د حضرت عباس[رض] او حضرت ابو هریرة[رض] ده، و ان شئت التفصیل فاطلبها فی فتح القدیر لابن الهمام[رح] ۔ او که دغه دری طلاقه جدا جدا ورکړی نو په اول طلاق سره ښځه جدا شوه، او دویم او دریم طلاق نه واقع کیږی ځکه محلیت پاتی ندی ځکه عدت نشته اوکه داسی ووائی چه ته دی طلاقه ئی یو اویو نو یو طلاق واقع کیږی او نور لغوه دی۔

قوله و یقع بعدد قرن الخ : که د طلاقو سره عدد یو ځای نشی نو بیا په نفس طلاقو سره طلاق واقع کیږی، او که د صیغی د طلاقو سره عدد یو ځای شی لکه انت طالق واحدة نو په عدد سره طلاق واقع کیږی، او په اصل طلاق سره نه واقع کیږی نو که خاوند ئی انت طالق وویل او عدد ئی ویلی نه ؤ چه ښځه ئی مړه شوه نو انت طالق لفظ ویل هم عبث شو یعنی طلاق پری نه واقع کیږی۔

قوله و بانت طالق واحدة قبل واحدة الخ : زده کړه دا خبره چه ظرف لکه قبل او بعد چه کله د دوو شیانو مینځ کی ذکر شی نو که اضافت ئی اسم ظاهر ته وشو نو دغه ظرف به صفت د اول شی لپاره وی لکه جاء نی زید قبل عمرو او بعد عمرو نو قبلیت او بعدیت پدی مقام کی صفت د زید دی او که د ظرف اضافت هغه ضمیر ته وشی چه اول شی ته راجع وی نو دغه ظرف به صفت معنویه د شیء ثانی لپاره وی

لکه جاء نی زید قبله عمرو اوبعده عمرو نوپدی ځای کی موصوف به قبلیت اوبعدیت سره عمرو دی نه زید ۔
نو کله چه دِی داخبره یاده کړه نو اوس که یو سړی غیر موطونی ته ووائی چه انت طالق واحدة قبل واحدة یعنی چه ته دی طلاقه ئی سره د داسی طلاق چه مخکی د یو نه وی . نو قبلیت دلته صفت د واحدة اُولی وګرځیده نو اول واحدة به واقع کیږی او دویم نه واقع کیږی ځکه محلیت پاتی نه دی ځکه عدت نشته ، همدارنګی که داسی ورته وائی چه انت طالق واحدة بعدها واحدة نو بیا هم یو طلاق واقع کیږئی ځکه بعدیت په دی ځای کی صفت د واحدة ثانیه لپاره دی نو اول طلاق واقع شو او دویم لغوه شو ، او که ښځه مدخول بها وه نو بیا په دواړو صورتونو کی دوه طلاقه واقع دی ځکه نور محلیت هم پاتی دی په زمانه د عدت کی ۔

و بانت طالق واحدة قبلها واحدة او بعدها واحدة او مع واحدة و احدة ثنتان اما فی قبلها و بعد واحدة فلان الواحدة الاولی وهی التی یوقعها فی الحال و صفت بالبعدیة فاقتضت وقوع واحدة متقدمة علیها لکن لا قدرة له علی الایقا ع فی الزمان الماضی فیقع فی الحال فتکون الواحدة الاولی و الثانیة متقارنتین و اما فی مع و معها فظاهر و فی الموطوئة ثنتان فی کلها .

تشریح او توضیح : او که داسی ورته ووائی چه انت طالق واحدة قبلها واحدة نو قبلیت دلته صفت د واحدة ثانیه دی د دی تقاضا کوی چه کوم فی الحال واقع شو نو بل دی د دی نه مخکی په زمانه ماضی کی واقع وی او زوج مطلِق په زمانه ماضی کی قادر ندی نو فی الحال واقع کیږی نو واحدة اُولی او ثانیه سره یو ځای شو نو دوه طلاقه واقع شو ، همدارنګه دا الفاظ چه انت طالق واحدة بعد واحدیٍ دی پدی سره هم دوه طلاقه واقع کیږی ځکه بعدیت پدی مقام کی صفت د واحدة اُولی دی چه کوم فی الحال واقع دی او بعدیت دا تقاضا کوی چه کوم طلاق فی الحال واقع دی چه د دینه مخکی کوم طلاق دی هغه دی هم واقع وی لیکن د خاوند قدرت د دی په واقع کولو په زمانه ماضی کی نشته نو دا به فی الحال واقع وی نو اول او ثانی سره یو ځای شو نو دوه طلاقه شو ، او لفظ د مَع او معها خو د اقتران لپاره راځی او د معیت زمانی لپاره نو دا په اقتران د ماقبل د دی او په مابعد د دی دلالت کوی نو پدی صورتونو کی هم دوه طلاقه واقع شول ۔

و فی انت طالق واحدة و واحدة ان دخلت الدار ، و واحدةٌ ان قُدِّمَ الشرط ای قال ان دخلت الدار فانت طالق واحدة و واحدة فعند تقدم الشرط تقع واحدة و هذا فی غیر الموطوءة فان الواحدة الثانیة تعلقت بالشرط بواسطة الاولی فاذا وُجد الشرط یقع بهذا الترتیب و هذا عند ابی حنیفةؒ و اما عندهما یقع ثنتان و تحقیقه فی اصول الفقه فی حروف المعانی .

تشریح او توضیح : او که داسی ورته ووائی چه انتِ طالقٌ واحدةٌ و واحدةٌ ان دخلت الدار یعنی

شرط مؤخر کړی نو پدی صورت کی ښځه داخله شوه نو دوه طلاقه واقع شو ، ښځه مدخول بها وی او که غیر مدخول بها وی ، او که لفظ د واحدة یا د طلاق دری کرتی ذکر کړی نو دری طلاقه واقع کیږی ، او که شرط مقدم کړی یعنی داسی ووائی چه ان دخلتِ الدار فانت طالق واحدةً و واحدةً و واحدةً نو پدی صورت کی یو طلاق واقع کیږی د امام ابو حنیفه په نزد په غیر موطوءه کی او د صاحبینو په نزد دوه طلاقه واقع کیږی د امام صاحب په نزد: د جزاء تعلق د شرط پوری علی سبیل الترتیب والتعاقب دی نو واحدة اولی متعلق دی تر شرط پوری او دویم واحدة متعلق دی تر شرط پوری خو په واسطه د اول واحدة سره نو څرنګه چه تعلیق ئی په ترتیب دی نو همدارنګه وقوع ئی هم په ترتیب ده نو چه اول واقع شو په غیر موطوءه کی نو دویم نه واقع کیږی ځکه محلیت پاتی ندی ځکه عدت نشته ، او د صاحبینو په نزد دوه طلاقه واقع کیږی ځکه چه دا ټول په یوه دفعه د شرط پوری متعلق دی که شرط مقدم وی او که مؤخر وی نو همدارنګه به په یوه دفعه هم واقع کیږی دا اختلاف د دوی په غیر موطوئه کی دی او په موطوءه کی اتفاقا دوه طلاقه واقع کیږی۔

و كنايته ما لم يوضع له و احتمله و غيره فلا تطلق الا بنية او دلالة الحال و منها اعتدِّى واستَبرِئِى رحِمَكِ و انت واحدة و بها تقع واحدة رجعية ، و بباقيها كانتِ بائنٌ بتَّةٌ ، بتْلَةٌ ، حرامٌ ، خَلِيَّةٌ ، برِيَّةٌ ، حبلكِ على غاربِكِ ، الحقِى باهلِكِ ، وهبْتُكِ لاهْلِكِ ، سرَّحْتُكِ ، فارقْتُكِ ، اَمْرُكِ بيدكِ ، انتِ حُرَّةٌ ، تقنَّعِى ، تخمَّرِى ، إِسْتَتِرِى ، اغربِى ، اُخْرُجِى ، اذْهبِى ، قُومِى ، ابْتَغِ الاَزْوَاجَ ، تقع واحدة بائنةٌ ان نواها او ثنتين و ثلاث ان نواه .

بذل السعاية فى بيان طلاق الكناية

غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بیان د قسم ثانی د طلاقو دی چه اول قسم ئی صریح ؤ او دویم قسم ئی کنائی ؤ نو هرکله ئی چه بیان د قسم اول اوکړو نو شروع ئی په قسم ثانی سره وکړه نو وئی ویل چه و كناية الخ ۔

کنائی هغه الفاظو ته وائی چه د طلاقو لپاره وضع شوی نوی خو احتمال د طلاق هم لری او د غیر طلاقو هم ، خو دا تعریف د نفسی کنایه ندی بلکه دا د هغه څه دی چه په هغی کنایه صادقیږی یعنی مصداق د دی ، نو ښځه په کنایوو سره بغیر له نیت څخه نه طلاقیږی او بغیر د دلالت حال څخه یعنی لکه مذاکره د طلاقو وی یا په حالت د غضب کی وی او داسی نور ، نو د کنایه هغه الفاظ چه په هغی سره بغیر له نیت څخه او بغیر له دلالت الحال څخه طلاق نه واقع کیږی هغه په دوه قسمه دی (۱) په بعضی سره طلاق رجعی واقع کیږی (او په بعضی سره طلاق بائن واقع کیږی ۔ په کومو سره چه طلاق رجعی واقع کیږی هغه دری (۳) الفاظ دی ۔

(۱) اعْتدِّی : صیغه د امر ده د اعتداد نه ، په معنی د شمیرلو سره ، احتمال د دی لری چه درهم او

دنانیر وشمیره او احتمال د دی لری چه د الله تعالی نعمتونه چه کوم په تا شوی او شمیره او احتمال د دی هم لری چه د عدت پوره کیدو لپاره دی حیضونه وشمیره نو د دی مقصد پټ شو نو کله چه نیت نی د آخرنی وکړو نو په طریقه د اقتضاء سره طلاق ثابت شو ځکه ضرورة عدت په هغه صورت کی راځی چه طلاق مخکی وی ، او ضرورت په یو طلاق سره پورته کیږی ـ

(۲) استبرئی رحِمَکِ : دا د امر صیغه ده د استبراء نه په معنی د طلب د براء ت سره نو دا هم احتمال د ډیرو معنو لری ، چه ته د عدت لپاره خپل رحم د حمل نه پاک کړه ، او د دی احتمال هم لری چه د وطی لپاره خپل رحم پاک کړه ، چه د ولد لپاره خپل رحم پاک کړه نو چه کله ئی نیت د دی وکړو چه د زوج آخر لپاره خپل رحم پاک کړه نو اقتضاء طلاق ثابت شو ـ

(۳) انتِ واحدة : دا احتمال د دی لری چه ته یواځی ئی په خپل قوم کی یا په ښائست کی یا په کمال کی ، او یا ته له ما نه ځانته ئی ، او دا احتمال هم لری چه ته دی په یو طلاق سره طلاقه ئی ، نو کله نی چه نیت د همدغی محتمل وکړ نو همدغه تعین شو او طلاق رجعی واقع شو ـ

او په کومو الفاظو سره چه طلاق بائن واقع کیږی هغه دا دی (انت بائن) ته جدائی له مانه احتمال د طلاق او غیر طلاقو دواړو لری (بتّةٌ) دا هم په معنی د قطع او جدائی سره راځی (بَتْلَةٌ) همدغه معنی ده (حرام) حرامه ئی (خلیّةٌ) ته خالی ئی له نکاح څخه (بریّةٌ) ته پاکه ئی له نکاح څخه (حبلکِ علی غاربِکِ) رسی ستا ستا په غاړه ده (الحقِی باهلکِ) پیوسته شه د خپل اهل سره (وهَبْتکِ لاهْلِکِ) ما وبخښلی خپل اهل ته (سرَّحْتکِ) ما خوشی کړی (فارقتکِ) ما جدا کړی (امرُکِ بیدکِ) اختیار ستا په لاس کی دی (انتِ حرّةٌ) ته ازاده ئی (تقَنَّعِیُ) لوپټه یعنی ټکری دی واغونده (تخمَّرِیُ) سر دِی پټ کړه (استَتِرِیُ) ستر وکړه له مانه (اغربِی) لری شه له مانه (اخرجِیُ) اوځه له مانه (اذهبِیُ) لاړه شه له مانه (قومِی) پاڅیږه له ما نه (ابتغی الازواج) میړونه ولټوه ، نو دا ټول الفاظ احتمال د طلاقو هم لری د غیر طلاقو هم نو که نیت ئی د یو طلاق یا د دوو طلاقو وکړو نو یو طلاق بائن به واقع کیږی ، او که نیت ئی د دری طلاقو ؤ نو بیا دری طلاقه واقع کیږی ـ

و فی اعتدی ثلاث مرات لو نوی بالاول طلاقا و بغیره حیضا صُدِّقَ و ان لم ینو بغیره شیئاً فثلاث و عبارة المختصر هکذا و نحو اخرجی و اذهبِی و قُومِی یحتَمِلُ ردًّا و نحو خلیةٌ و بریئة ، بتةٌ ، حرامٌ ، بائن یصلح سبًّا و نحو اعتدی واستبرئی رحمکِ ، انتِ واحدة، انتِ حرة ، اختاری امرك بیدكِ ، سرَّحْتُكِ ، فارقْتُكِ ، لا یحتمل الرد والسبَّ ، ففی الرضاء یتوقف الکل علی النیة و فی الغضب الاولان ، و فی مذاکرة الطلاق الاول فقط ، والمراد بحالة الرضاء ان لایکون حالة غضب و لا مذاکرة الطلاق فحینئذٍ تتوقف الاقسام الثلاثة علی النیة و فی حال الغضب یتوقف الاوّلان ای ما یصلح ردا و ما یصلح سبا علی النیة ان نوی الطلاق

یقع به الطلاق ، و ان لم ینو لا یقع و اما ا لقسم الاخیر و هو ما لا یصلح ردا ولا سباً یقع به الطلاق و ان لم ینو ، و فی حال مذاکرة الطلاق یتوقف الاول ای ما یصلح ردا علی النیة اما الاخیران و هما ما یصلح سبًّا و ما لا یحتمل الرد والسب فیقع الطلاق و ان لم ینو .

تشریح اوتوضیح : کـه خاوند ښځی ته د اعتدی لفظ دری واری تکرار کړی چه اعتدی اعتدی اعتـدی . نـو کـه په اول لفظ سره نیت د طلاقو ؤ او په نورو دوو سره ئی نیت د حیض ؤ یعنی چه حیض دی وشماره د عدت د طلاق سابق لپاره ، نو د ده خبره قضاءً تـصدیق کولی شی ځکه ده د خپل کلام د حقیقت نیـت وکړ ـ او کـه پـه اول سـره ئی نیت د طلاقو ؤ او په نورو سره ئی د هیڅ شی نیت نه ؤ نو بیا دری طلاقه واقع شو او که په اول سره ئی هم د یو شی نیت نه ؤ کړی نو بیا هیڅ نه واقع کیږی ـ

و عبـارة المختصر هکذا الخ : شارحؒ د مـختصر عبارت د دی لپاره راوړ چه د مختصر عبارت سره د اختصار نه مفید د زیات تفصیل دی خو مصنفؒ ندی ذکر کړی ، چه د هغی عبارت داسی دی چه دا الفاظ چه اخرجی دی او قـومـی دی احتـمال د رد لری یعنی کیدی شی چه ښځی ورته ویلی وی چه ما ته طلاق راکړه او خاونـد ورتـه ووئـی چـه لـه ما نه ځه ما تاته طلاق درکړی او دا احتمال هم لری چه ځه کنه پریږده طلاق او داسی نور احتمالات او دا الفاظ چه خلیة ، بریة دی او بتّة ، حرام ، بائن دی دا صلاحیت د کنځلو لری یعنی چه ته خالی ئی د خیـر نـه یا د دین نه یا د کمالاتو نه ، ته ځما سره سیاله نه ئی و غیره داسی الفاظو سره اکثره کنځلی کولی شـی او احتـمال د دی هم لری چه هغی تری طلاق غوښتی وی او هغه ورته پدی الفاظو سره جواب ورکړی وی چه ته له نکاح ځخه پاکه او مقطوعه ئی خو احتمال د رد نلری او دا الفاظ چه اعتدی دی او استبرئی رحمک ، او انت واحدة ، انت حرة ، اختـاری ، امـرکِ بیـدکِ ، سرّحتکِ ، فارقتکِ ، دی احتمال د رد او کنځلو نلری ، نو الـفاظ پـه دری قـسمه دی (۱) چه احتمال د رد لری (۲) چه صلاحیت د سب لری (۳) چه نه احتمال د رد او نه د سب ـ او همدارنګه حالات هم په دری قسمه دی (۱) حالت د غضب (۲) حالت د مذاکری د طلاقو (۳) حالت د رضـا ـ نـو پـه حـالـت د رضـاء کـی دری واړه قـسمه الفاظ به تر نیته پوری موقوف وی که نیت د طلاقو وی نو طـلاق بـه واقـع شـی ، او کـه نـوی نـو نـه واقـع کیـږی او پـه حـالـت د غـضـب کی اولنی دواړه قسمه الفاظ چه صلاحیـت د رد او صلاحیت د سب لری موقوف دی تر نیته پوری ځکه قرینه د حال لکه ځرنګه چه مناسب د طلاقو سره ده همدارنګه مناسب د رد او سب سره هم ده نو تعین د دی په نیت سره راځی او دریم قسم الفاظ چه احتـمال د رد او سب نـه لـری نیت تـه پکی ضرورت نشته ، بلکه طلاق پری واقع کیږی ځکه حال پری دلالت کـوی ، او پـه حـالـت د مـذاکری د طلاقو کی صرف اولنی تر نیته پوری موقوف دی او دویم او دریم قسم الفاظو سره طلاق واقع کیږی تر فقط لفظ پوری د مختصر عبارت ذکر ؤ نو شارحؒ والمراد سره بیان د دری واړو حالاتو کوی لکه ځرنګه چه الحمد لله مونږ درته وکړو ، فلله الحمد والمنة ، و تم هذا الباب بعون الله تعالی ـ

باب التفويض

باب دی په بیان د تفویض کی

مصنف چه هرکله بیان د هغه طلاقو وکړ چه خاوند ئی پخپله واقع کوی چه هغه دوه قسمه دی صریح او کنایه نو شروع ئی وکړه په بیان د هغه طلاقو کی چه بل ئی واقع کوی او دا په دری قسمه دی (۱) رسالةً دیته وائی چه یو بل سړی ته ووائی چه ته لاړ شه زما فلانی ښځی ته او ورته ووایه چه ستا خاوند تاته وائی چه ته طلاقه ئی یا ته خپل ځان غوره کړه د طلاقو لپاره ۔ (۲) وکالةً چه بل سړی وکیل کړی چه ته زما ښځه طلاقه کړه ۔ (۳) تفویض دیته وائی چه ښځی ته واک او اختیار د طلاقو ورکړی لکه ورته ووائی چه ته دی خپل ځان طلاق کړه یا اختیار ستا په لاس کی دی ۔

ولمن قیل لهاطلقی نفسَكِ او امرُكِ بیدكِ او اختاری بنیة الطلاق تطلیقهافی مجلس علمتْ به و ان طال قوله تطلیقها مبتدأ ، ولمن قیل خبره ، ثم فسَّر المجلس بقوله ما لم تقم او تعمل ما یقطعه لا بعده ای لایكون لها الاختیار بعد قیامها عن المجلس و لا بعد عمل یقطعه فان المجلس یتبدل باحد الامرین اما بالقیام او بعمل لا یكون من جنس ما مضی .

تنقیح : د تفویض الفاظ ئی دری واړه د دی لپاره راوړه چه تفویض هم په دوه قسمه دی (۱) صریح او کنایه نو اول لفظ د طلقی نفسكِ صریحی دی ځکه ته پکی ضرورت نشته او وروستینی دواړه لفظونه د کنائی دی نیت د طلاقو پکی معتبر دی نو که یو سړی خپلی ښځی ته دا الفاظ وویل مشافهةً وی که خطابا وی او که اختیارا وی نو دا ښځه ځان په هغه مجلس کی طلاقولی شی چه دا ښځه پری پوه وی اگر که دغه مجلس ډیر اوږد وی مثلا یوه ورځ یا زیات خو دا په هغه صورت کی چه د خاوند له طرفه ورته تفویض موقت نوی که ؤ نو بیا د ښځی اختیار د همدغه موقته وخته پوری موقوف دی نو مجلس په دوه قسمه دی (۱) چه په یو ځای کی ناست وی (۲) او دویم چه په یو کار کی مشغول وی بیا تبدل د مجلس هم په دوه قسمه دی (۱) تبدل حقیقی چه د هغه ځای نه بل ځای ته لاړ شی (۲) تبدل حكمی چه په هغه كار كی شروع وکړی چه هغه دلالت په اعراض یعنی مخ گرځولو سره کوی ، کله چه خاوند اختیار ورکړی نو ترڅو چه دغه ځای نه پاځیدلی نوی یائی په داسی کار کی شروع نوی کړی چه هغه دغه مجلس ختموی نو دیته اختیار د طلاقو نشته او که د مجلس نه پاځیدله یائی په داسی کار کی شروع وکړه چه دغه مجلس ئی ختموه نو بیا دیته اختیار پاتی ندی ځکه تبدل د مجلس په احد الامرین سره راځی چه مونږ ذکر کړه ۔

و جلوس القائمة و اتكاء القاعدة و قعود المتكئة و دعاء الاب للشوری و شهود تشهدهم و وقف دابة هی راكبتها لا یقطع ، و فُلكها كبیتها و سیر دابتها كسیرها حتی لا یتبدل

المجلس بجری الفلك و يتبدل بسير الدابة .

بیان : کـه دغـه ښځـه ولاړه وه او کـیـنـاسـتـه یـا نـاسته وه او تکیائی ووهله نو مجلس د اختیار نه ختمیږی لکن که ناسته وه او اړخ ئی وواهه او بالښت ئی د خوب لپاره سم کړ نو بیا اختیار باطل دی (کذا فی البحر) او که تکیه ئی وهلی وی او کیناسته او یائی خپل پلار د مشوری لپاره راوغوښتو یائی ګواهان راوغوښتل چه ګواهان جوړ شی ، یا په سورلیٔ باندی مثلا نن زمانه کی موټر باندی سوره وه او سورلی نی ودروله نو بیا هم مجلس د اختیار نه ختمیږی ، ځکه پدی کارونو کی نه تبدل حقیقی شته او نه حکمی شته ، ځکه دا دلالت په اعراض نکوی او کشتیٔ چه دریاب کی روانه وی یا په غاړه ولاړه وی د کشتیٔ حکم د کور پشان دی یعنی که په کور کی د یو ځای نه بل ځای ته لاړه شی نو مجلس د اختیار نه ختمیږی، هم دارنګی که کشتیٔ کی د یو ځای نه بل ځای ته لاړه شی نو هم ئی اختیار نه ختمیږی ، خو د کشتیٔ حرکت یا د موټر حرکت یا د موټر حرکت معتبر ندی ځکه هغه د سورلیٔ په واک نوی نو اختیار ئی باطل ندی ، او که د دی خپله سورلیٔ روانه شوه دا داسی شوه لکه پخپله چه همدا روانه شوی وی ځکه د دی سورلی د دی په واک او اختیار کی ده نو اختیار ئی باطل شو .

و فی اختیاری لا تصح نیة الثلاث بل تبین ان قالت اخترت نفسی او اَختَارُ نفسی ، وشرِط ذکـر الـنـفـس مـن احـدهـمـا و فـی اِختارِیْ اختیارةً لو قالت اخترتُ تبین ای ان لم یذکر احدهما النفس بل قال الزوج اختاری اختیارة تقِع ان قالت اخترتُ .

تشریح او توضیح : که خاوند ښځی ته د اِختارِیْ لفظ ووائی نو نیت د دریو طلاقو پکی صحی کیږی نـه ـ بـلکه که دغی ښځی په جواب کی اخترتُ نفسی یا اختارُ نفسی ئی وویل نو ښځه په یو طلاق بائن سره جدا کیږی .

اخترتُ ماضی صیغه ده او اختارُ صیغه د فعل مضارع معلوم ده ، صیغه د فعل مضارع اګر که د استقبال لپاره هم راځی لیکن حقیقت دی په حال کی او مجاز دی په استقبال کی او دا راجحه خبره ده د دی مقام سره خو د نفس لفظ په دی مقام کی شرط دی چه احد الزوجین به ئی ذکر کوی یا د دی مرادف لفظ نو که خاوند ورته وویل چه اختاری او ښځی ورته وویل چه اخترتُ نو طلاق نه واقع کیږی ځکه په آثارو د صحابو کی همدغه قسم لفظ د نفس ورسره ذکر دی نو تر آثارو به مقتصره وی ، او که احد الزوجین لفظ د نفس یا مرادف د دی ذکر نه کړی بلکه خاوند ورته وویل چه اختاری اختیارةً او ښځی ورته وویل چه اخترتُ نو یو طلاق بائن واقع شو ځکه اختیار ة کی تاء د مرة لپاره ده او د وحدت لپاره هم راځی او اتحاد په هغه صورت کی راځی چه ښځه خپل ځان غوره کړی ځکه اختیار کله متحد وی او کله متعدد وی لکه ورته ووائی اختاری نفسکِ بما شئتِ او بثلاث نو تفسیر ئی خپله خاوند ورته په تاء د وحدت سره وکړ .

و لو كرّر اختاری ثلاثا فقالت اخترتُ اختیارة او اخترتُ الاولی او الوسطی او الاخیرة یقع ثلاث بلانیة و هذا عند ابی حنیفةؒ لانه اجتمع فی ملکها الطلقات الثلاث بلا ترتیب کالمجتمع فی المکان فاذا بطل الاولیة والاوسطیة والآخریة بقی مطلق الاختیار فصار کما لو قالت اخترت .

تشریح او توضیح : که خاوند خپلی ښځی ته تکرارا وویل چه اختاری اختاری اختاری او ښځی ئی په جواب کی وویل چه اخترت اختیارة نو دری طلاقه واقع شو ځکه تکریر دلالت په تعدد د طلاقو کوی ځکه کوم اختیار کی چه تکرار راځی هغه اختیار د طلاقو دی همدغه وجه ده چه نه نیت ته پکی ضرورت شته او نه ذکر د نفس ته دا صورت اتفاقی دی ـ

او که ښځه ورته په همدی صورت کی ووائی چه ما اولنی غوره کړ یا منځنی یا آخرنی می غوره کړ نو بیا هم بغیر له څه نیت نه دری واړه طلاقه واقع دی د امام ابو حنیفةؒ په نزد ځکه د ښځی په ملکیت کی دری واړه طلاق بغیر له ترتیبه راجمع شو لکه په یو ځای کی چه ډیر خلق (کسان) راجمعه شی نو داسی څوک نه وائی چه دا اولنی دی او دا اخرنی دی بلکه ترتیب په فعل کی راځی چه دا اول راغی او دا دویم راغی او کوم ځای کی چه ترتیب نوی نو هلته د ترتیب خبری عبثی دی نو دلته هم اولیت او اوسطیت او آخریت باطل دی ، او کله چه باطل شو نو مطلق اختیار پاتی شو نو داسی شو لکه ښځی چه وویل اخترتُ نو دری واړه طلاق واقع شول او د صاحبینو په نزد یو طلاق واقع دی ځکه خاوند اگر چه د دری طلاقو اختیار ورکړی لیکن هغی یو طلاق غوره کړ ، خو مصنفؒ د امام ابو حنیفةؒ قول ته ترجیح ورکړی ـ

و لو قالت طلقتُ نفسی او اخترتُ نفسی بتطلیقة بانت بواحدة و ذُکر فی الهدایة انه تقع واحدة و یملك الرجعة و قیل هذا غلط وقع من الکاتب والصواب انه لا یملك الرجعة و قیل فیه روایتان احداهما تقع واحدة رجعیة لان لفظها صریح ، والاخری انها بائنة و هذا اصح .

تشریح او توضیح : او که دغی ښځی د خاوند په جواب کی داسی وویل چه طلقتُ نفسی او اخترتُ نفسی بتطلیقة (چه ما خپل ځان طلاق کړ او یا ما غوره کړ خپل ځان په طلاق سره نو ښځه طلاقه شوه په یو طلاق بائن سره ، او د هدائی په عبارت کی داسی ذکر دی چه پدی سره یو طلاق واقع کیږی خو طلاق رجعی چه رجوع ورته کولی شی او دلیل ئی دا نیولی چه دلته په الفاظ صریحی سره د طلاقو ذکر دی چه بتطلیقة دی ، او په الفاظو صریحی د طلاقو سره چه کوم طلاق واقع شی نو د هغی نه وروسته رجوع کولی شی ، لیکن دا یوه غلطی ده چه د کاتب نه واقع شوی ، ځکه صحیح او حق خبره دا ده چه رجوع نشی کولی اگر چه دلته ذکر د الفاظو صریحیو دی لیکن دا قول د دی ښځی جواب د هغه الفاظو د خاوند واقع شوی چه دلالت په رجوع باندی نکوی چه هغه اختاری دی بلکه دلالت پدی کوی چه وروسته

په له دې څخه رجعت نه وي

او بعضي علماء وائي چه پدې کې دوه روايته دي اول چه پدې سره يو طلاق رجعي واقع کيږي ځکه چه لفظ د دې صريح دې چه تطليقة مذکوره دي يا په ضمن د طلقتُ کې ، او دويم روايت دا دې چه پدې سره يو طلاق بائن واقع کيږي او همدا صحيح ده ـ

و لو قال امركِ بيدكِ في تطليقة او اختاري تطليقة فاختارت نفسها تقع واحدة رجعية و لو قال امركِ بيدكِ و نوى الثلاث فقالت اخترت نفسي بواحدة او بمرة واحدة يقعن و لو قال طلقت نفسي بواحدة او اخترت نفسي بتطليقة فواحدة بائنة و لو قال امركِ بيدكِ اليوم و بعد غد لا يدخل الليل فيه و بطل اليوم ان ردَّتْهُ و بقي الامر بعد غد .

تشريح او توضيح : او که خاوند ښځې ته ووېل چه امر ستا په لاس کې دې په طلاقولو کې يا نه غوره کړه طلاق نو هغې خپل ځان غوره کړه يعني داسې ووېل چه اخترت نفسي و غير ذلک نو پدې سره يو طلاق رجعي واقع کيږي ځکه چه خاوند ښځې ته په صريحو الفاظو د طلاقو سره اختيار ورکړ چه د هغې نه وروسته رجوع کېدې شي نو پس له دې څخه چه ښځې خپل ځان غوره کړ نو پدې سره يو طلاق رجعي واقع کيږي ـ

٠ او که خاوند ورته ووېل چه امرکِ بيدکِ يعني اختيار ستا په لاس کې دې يا ستا په ښي لاس کې دې يا ستا په چپ لاس کې يا ستا په پوزه کې يا ستا په ژبه کې يا ستا په سترګو کې و غير ذلک (کذافي البحر) او نيت ئې د درې طلاقو ؤ او ښځې ئې ووېل چه ما په يو سره ځان غوره کړې يا په يو کرت سره نو درې واړه طلاق واقع شو ، او په همدې صورت کې که ښځې ووېل چه ما په يو سره خپل ځان طلاق کړې او يا ما خپل ځان غوره کړې په يو طلاق سره نو يو طلاق بائن واقع کيږي ، او که خاوند داسې ووېل چه اختيار ستا په لاس کې دې نن ورځ او پس له صبا نه نو شپه په کښې نه داخليږي يعني مثلا ته په نن ورځ د دوشنبې کې ئې او صبا ورځ د سه شنبې ده او بل صبا ورځ د چهار شنبې ده نو اختيار ښځې ته د دوشنبې د ورځې او د چهار شنبې د ورځې شو او د دوشنبې شپه او د سه شنبې شپه او د سه شنبه ورځ پکې داخله نده نو که په دغه غير داخله ورځو کې ځان غوره کړ نو طلاق نه واقع کيږي او که ښځې د يوم اختيار مثلا د دوشنبې د ورځې اختيار رد کړ نو ديوم د دوشنبې اختيار ئې باطل شو خو د بعد غد د (چهار شنبې د ورځې) اختيار ئې پاتې دې ځکه دا دوه تفويضه دي او د بطلان د احد التفويضينو نه بطلان د آخر نه راځي ـ

و في امركِ بيدكِ اليوم و غدا دخل الليل و لا يبقى الامر في غد ان ردَّتْهُ في يومها لان الليل يصير تابعا هنا فيصير المجموع تفويضا واحدا فاذا ردته في البعض بطل المجموع بخلاف الفصل الاول لانه تفويضين فاذا ردَّتْ احدهما بقي الآخر .

تشريح او توضيح :او که داسې الفاظ ئې وويل چه اختيار ستا لاس کې دی نن او صبا نو شپه هم پکې داخله ده نو که ښځې د ورځ اختيار رد کړ نو د صبا (غد) د ورځې اختيار هم پاتې ندی ځکه شپه دلته تابع وګرځيده نو دا مجموع يو تفويض وګرځيده کله چه ښځې بعضې رد کړ نو مجموعه باطل شو ځکه چه رد نه بعضيت قبلوي او نه جزئيت او سابقه مسئله کې دوه تفويضه ګرځيدلي ؤ چه يو باطل شو نو بل پاتې شو ـ

و لو قال طلقي نفسكِ و لم ينو او نوى واحدة فطلقت نفسها تقع رجعية و ان طلقت ثلاثا و نواه صح ، و نية الثنين لا ، الا اذا كانت المنكوحة امة لانه واحد اعتباری في حقها لان قوله طلقي معناه افعلي فعل الطلاق فالطلاق مصدر و هو لفظ فرد يحتمل الواحد الاعتباری و هو الثلاث فلا يدل على العدد .

تشريح او توضيح : مصنفؒ چه کله فارغ شو د بيان د مسائلو د دوه صورتونو د تفويض نه چه تخيير او امر باليد دی نو شروع ئې وکړه په هغه مسائلو کې چه د دوهم صورت سره تعلق لري چه د علماؤ په نزد تعبير د هغې نه په مشيت سره کولی شي لکه طلقي نفسکِ ان شئتِ او يا طلقي نفسکِ پديکې اګر چه مشيت ذکر ندی ليکن يقيني مراد دی که خاوند ئې ورته وويل چه طلقي نفسکِ ، او د هيڅ عددئې نيت ئې نه ؤ کړی يائې کړی ؤ خو د يو طلاق نو ښځې خپل ځان طلاق کړ نو يو طلاق رجعي واقع کيږي او که ښځې خپل ځان په دريوو طلاق طلاق کړ او خاوند هم نيت د دريو کړی ؤ نو طلاق واقع شو ځکه طلقي امر دی د تطليق نه ګويا چه داسې ئې وويل چه افعلي فعل الطلاق نو مصدر پکې مذکور شو او مصدرْ د نورو اسماء اجناس په طور په ادنى باندې واقع کيږي سره د احتمال د کل نه خو نيت د ثلاثه به پکې عمل کوي او که نيت ئې د دوو کړی ؤ نو بيا صحيح نده ځکه چه طلاق لفظ مفرد دی په کثرت دلالت نکوي خو احتمال د واحد اعتباری لري چه هغه دری دی او دوه نه واحد حقيقي دی او نه واحد اعتباری بلکه عدد محض دی نو مصدر پرې دلالت نه کوي مګر که منکوحه وينزه وه نو بيا پرې کوي ځکه چه دوه طلاقه په حق د وينزه کې واحد اعتباری دئ او مصدر احتمال د واحد اعتباری لري ـ

و يقع بابنتُ نفسي رجعية لانها قالت في جواب طلقي نفسكِ فليس لها ايقاع البائن بل مطلق الطلاق ، ففي قولها ابَنْتُ نفسي بطلت صفة الابانة و بقي مطلق الطلاق و هو رجعي و باخترتُ نفسِي لا يقع لانه ليس من الفاظ الطلاق و لا يصح الرجوع عن طلقي نفسكِ و يتقيد بالمجلس .

تشريح او توضيح : او که خاوند ورته وويل چه طلقي نفسکِ او ښځې ئې ورته په جواب کې وويل چه ابنتُ نفسِي (چه ما خپل ځان جدا کړ) نو يو طلاق رجعي واقع شو ځکه ابانت د الفاظو د طلاقو څخه دی نو جواب مطابق د اصل تفويض راغی ، او صفت د بينونت چه کوم زياتې شوی هغه لغوه دی

ځکه په اصل تفویض کی موجود نه ؤ نو مطلق طلاق پاتی شو چه هغه رجعی دی او که ښځی د خاوند په جواب کی وویل چه اخترتُ نفسِی نو پدی سره نه طلاق بائن واقع کیږی او نه طلاق رجعی واقع کیږی ځکه دا د الفاظو د طلاقو ځخه ندی ۔

و لا یصح الرجوع الخ : که خاوند طلقی نفسکِ الفاظ خپلی ښځی ته ووائی همدارنګی د تفویض نور الفاظ نو خاوند د دینه بیا رجوع کولی نشی ځکه تفویض معنی تعلیق دی او تعلیقات لازمه دی عقود لازمو ځخه رجوع صحیح نده ، بل دا چه تفویض معنی تملیک دی او تملیک لازم دی رجوع تری صحیح نده۔

و یتقید بالمجلس الخ : دا دویم حکم دی چه دغه تفویض به د مجلسه پوری مقید وی که مجلس ختم شو نو بیا که ښځه ځان طلاقه هم کړی نو اعتبار ورته نشته د دی وجه دا ده چه تفویض معنی تملیک دی او تملیک مقتصر وی تر مجلسه پوری۔

و فی طلقِی ضرتكِ و طلّقْ امرأتِی خلافهما ای یصح عند الرجوع و لا یتقید بالمجلس لان طلقی نفسكِ لیس بتوكیل بل هو عین لانه تعلیق الطلاق بتطلیقها و الیمین تصرف لازم فلا یقبل الرجوع ثم هو تملیك لانها تعمل لنفسها فیتقید بالمجلس ، و اما طلقی ضرتكِ و طلّق امرأتی فتوكیل فیقبل الرجوع و لا یتقید بالمجلس ، و فی طلقی نفسك متی شئت لا یتقید به ای بالمجلس ، وفی طلقها ان شئتَ یتقید و لا یرجع ای و لو قال لاحد طلّق امرأتی إن شئتَ یتقید بالمجلس لانه علقه بمشیئة فصار تملیكا لا توكیلا فیتقید بالمجلس و لا یرجع عنه كما فی طلقی نفسك .

تشریح او توضیح : که یو سړی خپلی ښځی ته وویل چه خپله بنه (ځما هغه بله ښځه) طلاقه کړه یا یو بل سړی ته ووائی چه طلق امرأتی (چه ځما ښځه طلاقه کړه) نو دا مسئله د مخکنیو دوو حکمونو په خلاف ده یعنی د دینه رجوع هم صحی ده او تر مجلسه پوری هم مقیده نده ځکه دا قول چه طلقی نفسکِ او امركِ بیدكِ او اختیاری دی دا توکیل ندی ځکه وکیل هغه چاته وائی چه بل چاته کار کوی او خپل ځان ته کار نکوی بلکه تعلیق او تملیک دی او تعلیق ته یمین وائی ځکه تعلیق عبارت دی د هغه ربط نه چه حصول د مضمون د یوی جملی راولی د حصول د مضمون د بلی جملی پوری او همدغه ربط ته په عرف د فقهاؤ او نورو کی یمین او حلف وائی ځکه یمین په اصل کی قوت ته وائی لغةً او په تعلیق کی هم قوت دی ، نو دیمین او حلف په طلاقو او عتاق سره مراد تعلیق دی تر یو کاره پوری او یمین تصرف لازمه دی نو رجوع نه قبلوی او طلقی نفسکِ لفظ تملیک ځکه دی چه دغه ښځه عمل د خپل ځان لپاره کوی نه د بل چا لپاره نو د نورو تملیکاتو په مثل به تر مجلسه پوری مقید وی۔

او دا الفاظ چه طلقی ضرتکِ و طلق امرأتی دی دا توکیل دی نو رجوع به قبلوی نو د مجلسه

پوری به مقید نوی نو ښځی ته دا حق شته چه خپله ښه د مجلس د ختمیدو نه وروسته طلاقه کړی او هغه بل سړی ته هم دا حق شته چه دغه مفوضه ښځه د مجلس د ختمیدو نه وروسته طلاقه کړی۔

وفی طلقی نفسکِ متی شئتِ الخ : که خاوند ښځی ته دا الفاظ ووائی چه ته خپل ځان طلاق کړه کله چه ستا خوښه وی نو دا به تر مجلسه پوری مقید نه وی د دی وجه دا ده چه صِیَغ د تفویض سره کله چه هغه کلمه یو ځای شی چه عموم د وقت فائده کوی لکه متی او اذا ما او متی ما ، او کلما ، او حین ما ، او ای وقت ، وغیرها ۔ نو بیا به د مجلسه پوری مقید نوی د وجی د وجود د هغی کلمی نه چه دلالت په عموم د وقت کوی۔

وفی طلقها ان شئتَ الخ : او که خاوند د دی ښځی بل سړی ته وویل چه ته څما ښځه طلاقه کړه که ستا خوښه وی نو دا به تر مجلسه پوری مقیده وی او خاوند رجوع هم نشی کولی ځکه طلقها لفظ اگر چه توکیل بنفسه دی لیکن کله چه د هغه د مشیئت پوری معلقه کړه نو دا په حکم د تملیک کی وگرځیده ځکه مالک هغه دی چه په خپل مشئت کار کوی نو د دی حکم د تملیک د حکم پشان وگرځیده چه هغه تقید بالمجلس دی او عدم صحت د رجوع دی د هغی نه۔

و لو قال لها طلقی نفسکِ ثلاثا فطلقت واحدة فواحدة و لا یقع شیءٌ فی عکسه ای لو قال لها طلقی نفسکِ واحدة فطلقت ثلاثا لا یقع شیءٌ عند ابی حنیفةؒ لانه فوض الیها ایقاع الواحدة قصدا لا فی ضمن الثلاث و عندهما تقع واحدة .

تشریح او توضیح : که خاوند خپلی ښځی ته وویل چه ته خپل ځان طلاق کړه په دری طلاقو سره او ښځی ځان په یو طلاق سره طلاق کړ نو یو طلاق رجعی به واقع کیږی ځکه کله چه ښځه د دری طلاقو مالکه وگرځیده نو د کمو طلاقو مالکه خو په طریقه اولی ده څومره چه د دی خوښه وی همغه به واقع کوی که دری وی او که دوه وی او که یووی نو کله ئی چه په یو طلاق سره ځان طلاق کړ نو همغه یو به وی۔

او که د دی په عکس ئی ورته خبره وکړه نو بیا هیڅ نه واقع کیږی ، یعنی که خاوند ښځی ته وویل چې ته په یو طلاق سره ځان طلاق کړه او هغی ځان په دری طلاقو طلاق کړ نو د امام ابو حنیفةؒ په نزد یو طلاق هم نه واقع کیږی ځکه خاوند ښځی ته د یو طلاق د واقع کولو علیحده واک ورکړ نه په ضمن د دریوو کی ، او د صاحبینوؒ په نزد یو طلاق واقع کیږی ځکه دا ښځه چه د کومو طلاقو مالکه وه په همغه ئی راتګ وکړ خو سره د زیادت ، نو زیادت به لغوه وی او د کوم چه واک ورکړی شوی و همغه به واقع وی۔

و لو اُمِرَتْ بالبائن او الرجعی فعکست و قع ما امر به و لا یقع شیء فی طلقی نفسكِ ثلاثا ان شئت لو طلقت واحدة و عکسه ای لو قال لها طلقی نفسكِ واحدة ان شئتِ فطلقت ثلاثا لا یقع شیء ففی الاول لا یقع شیء لان المراد ان شئت الثلاث و لم توجد مشیة الثلاث و فی الثانیة لا یقع شیء عند ابی حنیفةؒ لان المراد طلقی نفسكِ واحدة قصدیة ان شئتِ و لم توجد مشیة الواحدة قصدا و عندهما تقع واحدة .

التبیان : که ښځی ته د خاوند له طرفه امر وکړی شو په طلاق بائن یا رجعی سره او دغی ښځی عکس د دی وکړو نو هغه طلاق به واقع وی چې د خاوند له طرفه ښځی ته امر په هغی سره شوی ؤ یعنی که خاوند ښځی ته وویل چې ته ځان په یو طلاق رجعی سره طلاقه کړه او ښځی وویل چه ما ځان په یو طلاق بائن سره طلاق کړ ، نو یو طلاق رجعی به واقع کیږی ځکه چې ښځی راتګ په اصل باندی وکړو خو سره د زیادت د وصف نه نو وصف لغوه دی او اصل به باقی وی ، او که خاوند داسی ورته وویل چه طلقی نفسكِ واحدة بائنة او ښځی ورته وویل چه طلقتُ نفسِی واحدة رجعیة نو یو طلاق بائن به واقع وی او د ښځی دا قول چې رجعیة دی لغوه دی ځکه خاوند صفت د مفوض الیها تعین کړی نو ښځی ته صرف اختیار د ایقاع د اصل پاتی دی نه تعین د وصف ۔

و لا یقع شیء الخ : که خاوند ښځی ته وویل چې طلقی نفسكِ ثلاثا ان شئتِ او ښځی ځان په یو طلاق سره طلاق کړ نو یو طلاق هم نه واقع کیږی ځکه مقصد د خاوند د دی قول ځخه ان شئتِ دا دی چې ان شئتِ الثلاث یعنی که ستا خوښ ؤ دری طلاقه او هغی ځان ته دری طلاقه خوښ نه کړل نو یو طلاق هم نه واقع کیږی ۔

و عکسه الخ : او په عکس د دی کښې هم طلاق نه واقع کیږی ، چې شارح بیان د عکس په ولو قال سره کوی یعنی که خاوند ښځی ته وویل چه طلقی نفسكِ واحدة ان شئتِ یعنی ته خپل ځان په یو طلاق سره طلاق کړه که ستا خوښه وی مګر ښځی ځان په دری طلاقو سره طلاق کړ نو بیا هم د امام ابو حنیفةؒ په نزد باندی هیڅ یو طلاق نه واقع کیږی ، ځکه مقصد د خاوند د دی قول نه چې طلقی نفسكِ واحدة ان شئتِ دا دی چې یو طلاق به وی خو چې قصد منفرد وی نه ضمنی او دلته مشیت د واحد قصدیه نشته بلکه په ضمن د ثلاثو کی موجود دی (و هذا غیر مراده فلا یقع الا ما اراده) او د صاحبینؒ په نزد یو طلاق واقع دی ځکه چې دغه ښځه مالکه د یو طلاق ده او د دی له خوښی پوری معلق شوی دی دری طلاقه خوښ کړل نو یو طلاق پکی داخل دی خو سره د زیادت نه نو زیادت به لغوه وی او اصل به پاتی وی چې یو طلاق دی ۔

و لا فی انتِ طالق ان شئتِ فقالت شئتُ ان شئتَ فقال شئتُ لانه علّق الطلاق بمشیتها الموجودة فی الحال و لم یوجد ذلك لانها علقت وجود مشیتها بوجود مشیته و لا علم لها بوجود مشیته و ذلك لان قوله انت طالق انشاءٌ فهو ایقاع فی الحال لکن بشرط مشیتها فمشیتها لا بد من وجودها فی الحال و لم یوجد ذلك ، و ان نوی الطلاق ای نوی الطلاق بقوله ان شئتُ قال فی الهدایة لانه لیس فی کلام المرأة ذکر الطلاق لیصیر الزوج شائیا طلاقها و النیة لا تعمل فی غیر المذکور حتی لو قال شئتُ طلاقكِ یقع اذا نوی لانه ایقاع مبتدأ لأن المشیة تنبئ عن الوجود .

تشریح او توضیح : که خاوند خپل د طلاقو واقع کول د ښځې د رضاء او مشیت پورې معلق کړ یعنې داسې ئې ووېل چې انتِ طالق ان شئتِ او ښځې ورته ووېل چې شئتُ ان شئتَ او خاوند ئې بیا ووېل چې شئتُ نو هیڅ یو طلاق نه واقع کیږي ځکه چې خاوند طلاق د ښځې د هغه مشیت پورې معلق کړ چې کوم فی الحال په وخت د تکلم د ښځې په الفاظو کې موجود وه او د ښځې دغه حالیه مشیت موجود نشو ځکه ښځې د خپل مشیت موجود کېدل د خاوند د مشیت موجود کېدو پورې بیرته معلق کړ که ستا خوښه وه نو زما به هم خوښه شي او د خاوند مشیت موجود کېدل ښځې ته فی الحال نه معلومیږي ، او طلاق د ښځې د مشیت پورې ځکه معلق دی چه دا کېدل د خاوند چه انت طالق دی شرعا انشاء ده اګر چې لغةً خبر دی او د انشاء وضع : انشاء حالي لپاره ده نه دا نشاء استقبالي لپاره ، او خاوند چه کوم طلاق د دی د مشیت پورې معلق کړی نو معلومه شوه چې مراد د دینه مشیت حالي دی نه مطلق مشیت او نه مشیت استقبالي لکن مشیت حالي هم موجود نشو ځکه ښځې بیرته خپل مشیت د خاوند د مشیت پورې معلق کړ چې د خاوند مشیت دیته فی الحال معلوم ندی او وروسته د شئت لفظ چې ذکر دی نو اګر چې پدی سره ئې نیت د طلاقو وی خو طلاق نه واقع کیږي د دی علت په هدایه کې ذکر دی چې د ښځې په قول چې شئتُ ان شئتَ دی طلاق پکې نه صراحةً ذکر دی او نه محذوفا چې د خاوند دا قول چه شئتُ دی چې د هغې لپاره جواب واقع شي ځکه چې طلاقو د ښځې په قول کې څه اثر ونه کړ نو د خاوند په قول کې به څه اثر وکړي ؟

او نیت په غیر مذکور کې معتبر ندی بلکه نیت هغه وخت کې عمل کوي چه دوه احتمالي شیان مذکور وی حکما یا حقیقتا نو نیت به صرف تعین د یو پکې کوي تر دی که خاوند داسې ووېل چې شئتُ طلاقكِ او نیت ئې د طلاقو و نو طلاق واقع شو ځکه دا یو مستقله او سر نوُ ایقاع شو د ما قبل سره تعلق نلري ، ځکه مشیت ا... برداري د وجود د مشیت...ک...

اقول اذا قال الزوج انت طالق ان شئتِ فمعناه ان شئتِ طلاقكِ فقالت شئتُ ان شئتَ ای شئتُ طلاقی ان شئتَ طلاقی فقال الزوج شئتُ ای شئتُ طلاقكِ فلما كان الطلاق مقدرا تعمل النية فيه فيمكن ان يجاب عنه بان المقدر الطلاق الذی هو مفعول المشية و اذا قال الزوج شئتُ قُدِّر له مفعول و هو الطلاق فهذا هو الطلاق الذی جعل مفعولا للمشية لا الطلاق الذی جعل جزء للمشية و تقدير ذلك الطلاقِ لا يوجب الوقوع لانه علق للطلاق بمشيتها الطلاق مشية موجودةً و لم توجد تلك المشيئة بل علقت المرأة وجودها بوجود مشية و هو غير معلوم لها اما اذا قال شئتُ الطلاق و نوى يقع لان هذا انشاء مبتدأ و انما احتاج الى النية لانه يمكن ان يراد بالطلاق ما هو مفعول المشية فان نوى هذا لا يقع و ان نوى طلاقا ابتدائيا يقع فلا بد من النية .

القول المرضية فی بيان المشية

اقول الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره راوړل یو اعتراض دی په تعلیل د هدایه چې پدی قول د خاوند چه شئتُ دی فقط طلاق نه واقع کیږی ځکه طلاق د ښځی په کلام کی مذکور ندی چه د مشیئت تعلق د هغی پوری راشی یعنی طلاق اگر که پدی ځای کی لفظا مذکور ندی لکن تقدیرا او حکما مذکور دی ، نو نیت پکی عمل کوی ځکه معنی د دی قول د خاوند چه انتِ طالق ان شئتِ دی دا ده چې ان شئتِ طلاقکِ ، او معنی د ښځی د دی قول چه شئتُ ان شئتَ دی دا ده چې ای شئتُ طلاقی بیا د خاوند دی قول چې شئتُ معنی دا ده چې ای شئتُ طلاقکِ نو طلاق مقدر شو نو نیت پکی عمل کوی ؟ ۔

فیمکن ان یجاب عنه الخ شارحؒ پدی عبارت سره دفع د اعتراض کوی چې مونږ منو چه شئتُ کی طلاق مقدر دی خو طلاق په دوه قسمه دی (۱) چې مفعول د مشیت وی (۲) چې جزاء د مشیت کی واقع شی نو دلته چې کوم طلاق د خاوند په قول کی یا د ښځی قول کی مقدر دی نو دا مفعول د مشیت دی او د داسی طلاقو مقدرول وقوع نه لازمه وی ځکه خاوند طلاق د دی د مشیت پوری معلق کړ داسی مشیت چه فی الحال موجود وی لکن دغه مشیت فی الحال موجود نشو بلکه ښځی د خپل مشیت وجود د خاوند د مشیت د وجود پوری معلق کړ او د خاوند مشیت دیته غیر معلوم دی ۔

دلته چې کوم طلاق مقدر دی دا هغه ندی چې کوم په جزاء د مشیت کی واقع شوی ځکه هغه طلاق چې کوم په جزاء د مشئت کی واقع شوی پدی قول د خاوند کی ذکر دی چې انتِ طالق ان شئت ځکه تقدیر د دی داسی دی چې ان شئتِ فانتِ طالق نو طلاق جزاء د مشیت شو ، که ښځی د دینه وروسته د دی په جواب کی داسی ویلی وی چه شئتُ طلاقی نو دا به هم جزاء د مشیت وه نو طلاق به واقع و ځکه مشیت حالیه موجود شو خو چې ښځی ونه ویل نو طلاق هم واقع نشو ، او که خاوند داسی ووائی چه شئتُ الطلاق او نیت ئی هم د

طلاقو واقع کول وی نو طلاق واقع کیږی ځکه نوی او مستقله انشاء ده د ما سبق سره تعلق نلری ۔

و انما احتاج الخ : دا دفع د اعتراض ده چه کله شئتُ الطلاق انشاء مبتدأ شوه نو بیا نیت ته پکی ولی ضرورت دی ؟ شارحؒ جواب کوی چې نیت ته پکی ضرورت ځکه راځی چې احتمال د دوو شیانو لری یو د هغه طلاقو چه مفعول د مشیت دی او دویم د طلاقو ابتدائی نو که اراده ئی د هغه طلاقو وی چې مفعول د مشیت لپاره واقع شوی او د دی نیت ئی کړی وی نو بیا طلاق نه واقع کیږی او که نیت ئی د طلاقو ابتدائی وی نو بیا نیت ته پکی ضرورت دی د دی لپاره چې احتمال ثانی تعین شی ۔

و کذا کل تعلیق بمعدوم و یقع لو علقت بموجود کما لو قالت شئتُ ان کانت السماء فوق الارض ، و فی انت طالق اذا شئتِ او إذا ما شئتِ او متی شئتِ او متی ما شئتِ لا یرتد الامر بردها لانه ملّکها الطلاق فی الوقت الذی شاء ت فلم یمکن تملیکا قبل المشیة حتی یرتد بالرد و تطلق متی شاء ت واحدةً لا غیرُ .

تشریح او توضیح : یعنی که خاوند داسی وویل چې انتِ طالق ان شئتِ نو ښځی د ده په جواب کی خپل مشیت د یو معدوم شی پوری معلق کړ نو طلاق نه واقع کیږی ځکه خاوند طلاق د دی د حالی مشیت پوری معلق کړ او حالی مشیت موجود نشو او معدوم په څلور قسمه دی (۱) معدوم الممکن (۲) معدوم المحال (۳) معدوم النفس الامری (۴) معدوم بحسب علمها ۔

و یقع لو علقت الخ : او که ښځی خپل مشیت د یو موجود شی پوری معلق کړ مثلا داسی ئی وویل چې شئت ان کانت السماء فوق الارض (زما خوښه ده که اسمان د ځمکی له پاسه وی) نو پدی وخت کی طلاق واقع کیږی ځکه مشیت منجزه موجود شو ، ځکه تعلیق د هغه شرط پوری چې هغه کیدونکی وی نو دی ته تنجیز وایی ۔

و فی انتِ طالق الخ : یعنی که خاوند ښځی ته دا الفاظ ووائی چې انت طالق اذا شئت او اذا ما شئتِ او متی شئتِ او متی شئتِ او متی ما شئتِ ، نو تفویض به صرف تر مجلسه پوری منحصر نوی که دغه ښځه ئی رد کړی نو نه رد کیږی بلکه درد نه وروسته هم ورته اختیار پاتی دی ځکه دغه ښځه د دی طلاقو مالکه په هر وخت کی ده کوم وخت کی چې د دی خوښه شی نو د دی د خوښی او مشیت نه مخکی رد ته اعتبار نشته دا ځکه چې دا کلمات لکه متی او متی ما و غیر هما اسماء ظروف دی چې د عموم د اوقاتو لپاره استعمالیږی نو ګویا چه داسی ئی وویل چه فی ای وقت شئتِ نو تر مجلسه پوری به منحصر نوی ۔

فلم یمکن الخ : یعنی د تملیک امکان د مشیت نه مخکی نشته تر دی چې رد شی په رد د ښځی سره یعنی : ه رد کیږی ځکه رد بعد التملیک وی نه قبل التملیک ۔

و تطلق الخ : په هر وخت کی چې د ښځی خوښه شی ځان په یو طلاق سره طلاقولی شی نه

زیات ځکه دغه کلمات وضع شوی د عموم د زمان لپاره نه د عموم د افعالو لپاره .

و فی کلما شئتِ لها ایقاع واحدةٍ ثم و ثم لان کلمة کلما تعم الافعال کما تعم الازمان لا الثلاث جمیعا و لا التطلیق بعد زوج آخر فقوله و لا التطلیق بالرفع عطف علی الایقاع المضاف بالثلاث تقدیره لیس ایقاع الثلاث جمیعا و لا التطلیق .

تشریح او توضیح : که خاوند داسی ورته وویل چې انتِ طالق کلما شئتِ نو ښځی ته دا اختیار شته چې ځان په یو طلاق سره طلاقه کړی بیا په بل طلاق سره بیا په بل سره تردی چې ځان په دری طلاقو طلاقه کړی که ښځه حره وی ځکه کلمه د کلما لکه څرنګه چې عموم د زمان فائده کوی همدارنګه عموم د افعالو هم فائده کوی خو عموم د افرادو چې دری طلاقه په جدا جدا زمانو کی غوره کړی فائده کوی نه عموم د اجتماع چې په یو ځل سره ځان په دری طلاقو طلاقه کړی چه داسی ووائی چې طلقتُ نفسِی ثلاثا او یا داسی ووائی چې طلقتُ نفسِی واحدة و واحدة ، نو د اجتماعی طلاقو اختیار پدی صورت کی نلری .

و لا التطلیق الخ : همدارنګه چې د دی نکاح نه وروسته د بل خاوند سره نکاح وکړی او بیائی هغه دویم خاوند هم طلاقه کړی یاې خاوند مړ شی او د عدت تیریدو نه وروسته بیا د اولنی خاوند سره نکاح وکړی نو په اولنی کلمی سره اوس ځان نشی طلاقولی ځکه د تعلیق انصراف او تګ هغه ملک ته کیږی چې کوم په هغه وخت کی موجود و او د هغی نه اخوا تجاوز نشی کولی ، او د زوج اخر نه چې وروسته کوم ملک راغلی ملک دی د ما سبق سره د دی ملک کوم تعلق نشته .

قوله بالرفع عطف الخ : چې تطلیق لفظ مرفوع دی ځکه دا عطف دی په ایقاع او ایقاع هم مرفوع ده هغه ایقاع چه کوم مضاف ده ثلاث لفظ ته تقدیرئی داسی راځی چې لیسَ لها اِیقاع الثلاثِ جمیعا و لا التطلیقُ .

و فی حَیثُ شئتِ و این شئتِ یتقید بالمجلس و فی کیف شئتِ تقع رجعیة و ان لم تشأ فان شاء ت کالزوج بائنة او ثلاثا وقع و ان نوت ثلاثا والزوج واحدةً بائنةً او بالقلب فرجعیة ، و ان لم ینو شیئا فما شاء ت هذا قول ابی حنیفةؒ و حاصله ان الکیفیّة مفوَّضة الیها لا اصل الطلاق فتقع رجعیة ان لم تشأ المرأة اما ان شاء ت فان وافق مشیته مشیتها فی البائن او الثلاث وقع ما اتفقا علیه و ان خالفتها تقع رجعیة لانه لابد من اعتبار مشیتها لان الزوج فوض الیها و لابد ایضا من اعتبار مشیته لامشیتها مستفادة من الزوج فاذا تعارضا تساقطا فبقی الاصل ای الواحدة الرجعیة و ان لم توجد مشیة الزوج تعتبر مشیة المرأة فی الکیفیة و اما عندهما فکما ان الکیفیة مفوضة الیها فاصل الطلاق مفوض الیها ایضا .

الکلام المبین :که خاوند ښځی ته وویل چې انتِ طالق حیث شئتِ او اینَ شئتِ نو دا به د

مجلسه پوری مقید وی ځکه چې حیث او این د مکان لپاره راځی او د طلاقو تعلق د مکان سره نشته خو ځنی وخت دا دواړه د شرط لپاره هم استعمالیږی مجازانو دا دواړه قائمقام د (ان) وګرځیده ځکه ان اصل دی په شرط کی نو تفویض تر مجلسه پوری مقید وی او که داسی ورته ووائی چې انتِ طالق کیفَ شئتِ نو یو طلاق رجعی واقع کیږی دا ځکه چې کیف په اصل کی د استفهام لپاره راځی خو کله د معنی د استفهام نه خالی وی او په معنی د کیفیت او حال سره استعمالیږی لکه پدی قول کی چې انت طالق کیف شئتِ ای علی اية کیفیة و حال شئتِ نو کله چې خاوند ښځی ته دا الفاظ ووائی نو ښځه به خالی نوی یا به کیفیات ځانته غوره نکړی او یا به ئې غوره کړی که کیفیات غوره نه کړی نو یو طلاق رجعی به واقع وی ځکه دا اقل او ادنی دی ، بلکه کوم طلاق چې هغی ته تفویض شوی ؤ هغه اصل طلاق نوو ګویا چې د دی د عدم مشیت په وخت کی به نه واقع کیږی ؟ بلکه مفوض الیها کیفیت د طلاقو ؤ کله چې د دی مشیت معلوم نه شو نو اصل طلاق په ضمن د اقل او ادنی کی موجود شو چې هغه یو طلاق رجعی دی ۔

او که کیفیت ځانته غوره کړی نو بیا به خالی نوی یا به د دی مشیت د خاوند د نیت سره موافق وی یا به مخالف وی که موافق ؤ (فان شاء ت کالزوج) نو هغه به واقع وی دری وی او که یو وی بائن وی او که رجعی وی (چه مصنفؒ تعبیر پدی الفاظو کوی بائنة او ثلاثا) او که مخالف ؤ مثلا ښځی د دری طلاقو نیت وکړ او خاوند ئې یو طلاق بائن او یا بالعکس د دی وکړو نو بیا پدی وخت کی د دواړو نیتونو تعارض راغی او په وخت د تعارض کی دواړه ساقطیږی ، اذا تعارضا تساقطا ، نو کله چې نیتونه ساقط شو نو اصل طلاق پاتی شو چې یو طلاق رجعی دی ۔

و ان لم ینو شیئا الخ : او که خاوند بلکل نیت ونه کړ د هیڅ یو نو بیا اعتبار د ښځی مشیت ته دی ځکه نه ازدحام شته او نه تعارض شته نو د څو طلاقو نیت ئې چې کړی وی همغه به واقع وی دا د امام ابو حنیفةؒ په نزد او د صاحبینو په نزد لکه څرنګه چې کیفیت ورته مفوض دی همدارنګه ورته اصل طلاق هم مفوض دی نو که هغی کیفیت د طلاقو غوره کړ هیڅ طلاق نه واقع کیږی ۔

و فی کم شئتِ او ما شئتِ طَلَّقَتْ ما شاء تْ فی مجلسها لا بعده ، و ان ردت ارتد ، و فی طلقی نفسكِ من ثلاث ما شئتِ لها ان تُطَلِّقَ ما دونها لا ثلاثا هذا عند ابی حنیفةؒ لان من للتبعیض و عندهما لها ان تطلق نفسها ثلاثا فتکون مِنْ للبیان قلنا الکل محتمل و البعض متیقن فیُحْمَل علیه .

تشریح او توضیح : که خاوند خپلی ښځی ته ووئیل چې انت طالق کم شئتِ او ما شئتِ نو څومره چې خوښه شی هغومره طلاقیږی یو وی او که دوه وی او که دری وی ، او که د ښځی یو هم خوښ نه ؤ نو بیا بالاتفاق هیڅ نه واقع کیږی خو د مجلسه پوری به منحصره وی او که ښځی د خاوند خبره رد کړه یا صراحةً لکه

ووائی چه لا اطلق او یا دلالةً ، مثلا داسی کار وکړی چې په اعراض باندی دلالت کوی لکه پاڅیدل یا خوب کول نو د خاوند تفویض رد کیږی او د ښځی خیار باطلیږی ځکه دا تملیک حالی دی وروسته د رد نه پاتی کیږی۔
و فی طلقی الخ :که خاوند ورته ووائی چې ته ځان طلاق کړه د دریوو طلاقو څخه څومره چې ستا خوښ وی نو د امام ابو حنیفهؒ په نزد ښځی ته دا اختیار شته چه د دریو طلاقو څخه په کمو طلاقو سره ځان طلاق کړی لکه یو یا دوه خو په دریوو طلاقو سره ځان طلاقولی نشی ځکه چې کلمه د مِنْ د تبعیض لپاره ده او کلمه د مِنْ حقیقت دی په تبعیض کی او مجاز دی په بیان کی او صیرورت د حقیقت نه بغیرد ضرورت نه کولی نشی ، بل دا چې که د بیان لپاره وی نو بیا به دا قول چې طلقی ما شئتِ دی کافی وُ خو کله ئی چې د مِنْ ثلاث لفظ ورسره زیات کړ نو معلومه شوه چې مقصود دا ندی نو ښځه د بعضی طلاقو اختیار لری نه د دری وارو ، او صاحبین وائی چې مِنْ لپاره د بیان دی نو ښځی ته دا اختیار شته چې ځان په دری طلاقو سره طلاق کړی۔
قلنا الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره جواب دی د امام صاحب له طرفه او د امام صاحب د مذهب تقویت کوی حاصل ئی دا دی چې که مِنْ د بیان لپاره شی نو د دریوو طلاقو واک لری او که د تبعیض لپاره شی نو دریوو څخه د کمو طلاقو واک لری نو وجود د کل محتمل دی او وجود د مادونه متیقن دی نو ترک د محتمل او عمل په یقین اولی دی۔

باب الحلف بالطلاق

لما فرغ عن بيان تنجيز الطلاق صريحا و كناية اعقبه بذكر بيان تعليقه لكونه مركبا من ذكر الطلاق والشرط والمركب مؤخر عن المفرد ، واليمين في الطلاق عبارة عن تعليقه بامر بما يدل على معنى الشرط فهو في الحقيقة شرط وجزاء و سُمي يميناً مجازا لما فيه من معنى السببية اضافة ما يحتمل التعليق في الشرط كالطلاق والعتاق والظهار الى الملك سواء كانت على الخصوص او على العموم(فتح القدير) ۔

شرط صحته الملك او الاضافة اليه فلا تطلق أجنبيةٌ قال لها ان كلمتكِ فانتِ كذا فنكحها فكلمها و تطلق بعد الشرط ان قال لزوجته فكلمها لوجود الملك وقت التعليقِ او قال لاجنبية ان نكحتكِ فانتِ كذا فنكحها لوجود الاضافة الى الملك و عند الشافعيؒ لا يقع والمراد بالاضافة الى الملك تعليق الطلاق بالملك .

طيران الصحف في الآفاق في بيان الحلف بالطلاق

د تعليق د صحت لپاره څه امور شرط دي (۱) چې شرط معدوم وي او د كيدو او نه كيدو تر منځ متردد وي لكه ان دخلتِ الدار فانتِ طالق نو كه دغه شرط محقق ؤ لكه داسې ووائي چې ان كان السماء فوقنا ، نو بيا تنجيز دي يعني في الحال واقع دي ، او كه محال ؤ نو بيا لغوه دي ، لكه داسې ووائي چې كه الله جل جلاله سره شريك پيدا شو نو ته دې طلاقه ئې او د الله شريك خو محال او نا ممكن دي ۔

(۲) شرط به د جزاء سره متصل وي معتد به فاصل به موجود نوي ۔ (۳) شرط به پكې ذكر وي

(۴)ملك به موجود وي د طلاقو په وخت كې يعني په نكاح كې به ئې وي او يا به اضافت ملك ته وي لكه داسې ورته ووائي چې كه ته ما په نكاح كړې نو ته دې طلاقه ئې كما سيأتي انشاء الله عن قريب ۔

نو كه يوې اجنبي ښځې ته مثلا دا خبره وكړې چې كه ما تاسره خبرې وكړې ، يا ته كور ته داخله شوې نو ته دې طلاقه ئې بيائې په نكاح كړه او شرط موجود شو مثلا خبرې ئې وكړې يا كور ته داخله شوه نو په مخكنې تعليق سره طلاق نه واقع كيږي ځكه پدغه وخت كې د ده په ملك كې نه وه ، او نه ئې ملك ته اضافت كړې ؤ ۔

او كه همدغه خبره خپلې ښځې ته وكړې مثلا كه ما تاسره خبرې وكړې نو ته دې طلاقه ئې او بيا ده ورسره خبرې وكړې نو ښځه ئې طلاقه شوه ځكه د تعليق په وخت كې ملك د نكاح موجود ؤ ، او كه اجنبي ښځې ته ئې داسې ووېل چه كه ما ته په نكاح كړې نو ته دې طلاقه ئې ، بيائې په نكاح كړه نو دغه ښځه طلاقه شوه ځكه د تعليق په وخت كې اضافت ملك ته موجود ؤ ، امام شافعيؒ وائي چې پدې صورت كې طلاق نه واقع كيږي ځكه تعليق د تنجيز پشان دی لكه څرنګه چې دعدم ملك په حالت كې

تنجیز ممکن ندی نو همدارنګه تعلیق هم ممکن ندی ـ

د امام شافعیؒ جواب دا دی چې پدی الفاظو سره چې ان نکحتكِ فانت طالق تعلیق اګر چې فی الحال موجود دی لکن طلاق په وخت د وجود شرط کی موجودیږی او د وجود شرط سره ملک راځی کوم چې مجوز د طلاقو دی ـ والمراد الخ : شارحؒ وائی چې د اضافت نه مراد دلته معنی لغوی او عرفی نده بلکه مراد پدی سره ارتباط د طلاقو دی په هغه څې سره چه دلالت په ملک د زوجیت سره کوی لکه ارتباط د جزاء د شرط سره ـ

و الفاظ الشرط ان ، و اذا ، و اذا ما ، و کل ، نحو کل امرأتی لی تدخل الدار فهی طالق و کلما ، و متی ، و متی ما ، ففیها تنحل الیمین اذا وجد الشرط مرة الا فی کلما فانه تنحل بعد الثلاث المراد بانحلال الیمین بطلان الیمین ببطلان التعلیق فلا یقع ان نکحها بعد زوج آخر الا اذا اُدخلت علی التزوج نحو کلما تزوجتكِ فانتِ کذا فانه کلما تزوجها تطلق و ان کان بعد زوج آخر .

تشریح او توضیح : مصنفؒ الفاظ الشرط ووئیلی او حروف الشرط یا اسماء الشرط ئی ونه وئیلی ؟ د دی لپاره چې کلام عام شی چې (اِنْ) پکښې هم داخل شی چې حرف دی او اذا و غیره هم پکی داخل شی چې اسماء دی او شرط ماخوذ دی د شرَط نه په معنی د علامی سره راځی دی حروفو ته څکه شرط وائی چې دا هم علامی دی په وجود د جزاء باندی او دلته مقصود هغه الفاظ دی چې کوم مشهور دی او زیات استعمالیږی او حصر ندی مراد څکه ډیر الفاظ هلته دی چې د شرط لپارهٔ استعمالیږی لکه لَوْ ، ، اَیْنَ ، ایَّانَ ، انّی ، ای ، وما و غیره داسی نور ـ د انحلال معنی ختمیدل دی ـ

که یو سړی پدی الفاظو راوړلو سره طلاق معلق کړ مثلاً ان دخلتِ الدار فانتِ طالق او یو ځل شرط موجود شی مثلاً دخول راشی نو یمین یعنی تعلیق باطلیږی چې بیا وروسته اثر نلری تر دی که بیا پس له دینه شرط موجود شی نوجزاء به پری نه مرتب کیږی ـ

لکن که کلمه د کلما پری داخله وه مثلاً کلما دخلتِ الدار فانتِ طالق ، چې کلما مفید د تکریر دی نو په یو ځل شرط موجود کیدو سره انحلال د یمین نه راځی بلکه انحلال د یمین پدی صورت کی د دریو طلاقو څخه وروسته راځی په هر ځل دخول سره به ښځه طلاقیږی تر دی چې دری پوره شی نو بیا به انحلال د یمین راشی نو که همدغه ښځه پس له بل خاوند نه بیا په نکاح واخلی نو بیا طلاق نه واقع کیږی څکه چې محلوف علیه هغه طلاق د همدغه ملک دی او دغه ملک په دریوو طلاقو ختم شو نو د دغه یمین اثر به په ملک جدید کی نوی لکن که کلمه د کلما په تزوج داخله شوه مثلاً کلما تزوجتكِ فانتِ طالق نو که هروارئی په نکاح اخلی نو طلاق به واقع کیږی اګر که پس له بل خاوند نه وی ـ

و زوال الملك لا يبطل اليمين و تنحل بعد الشرط مطلقا ، و شُرِطَ للطلاق الملك فقوله مطلقا اى سواء وجد الشرط فى الملك او فى غير الملك فان وُجد فى الملك تنحل الى جزاء اى يبطل اليمين و يترتب عليه الجزاء ، و ان وُجد لا فى الملك تنحل لا الى جزاء اى يبطل اليمين و لا يترتب عليه الجزاء لانعدام المحلية ، فان قال ان دخلتِ الدار فانتِ طالق ثلاثا فاراد ان تدخل الدار من غير ان يقع الثلاث فحيلته ان يطلقها واحدة و تنقضى العدة فتدخل الدار حتى يبطل اليمين و لا يقع الثلاث ثم يتزوجها ، فإن دخلَتِ الدار لا يقع شيء لبطلان اليمين .

تشريح او توضيح : وزوال الملک الخ کـه خاوند طلاق تر يو شرط پورى معلق كړى لكه ان دخلتِ الدار فانتِ طالق ، بيائى د شرط د پوره كيدو نه مخكى په طلاق بائن سره طلاقه كړه نو تعليق نه باطليږى بلكه باقى پاتى دى نو كه بيائى په نكاح واخسته او د هغى وروسته شرط موجود شو نو ښځه طلاقيږى او يمين يعنى تعليق د شرط نه وروسته باطليږى كه ملك وى او كه نوى خو د طلاقو د واقع كيدو لپاره ملك شرط دى نو كه دغه شرط په ملک کی موجود شو نو تعليق باطل شو او جزاء چې طلاق دى پرى مرتب كيږى ، او كه شرط په غير ملک کی موجود شو يعنى ښځه د خاوند له ملك څخه وتلى وه بيا مثلا كورته داخله شوه نو يمين باطل دى خو جزاء پرى نه مرتب كيږى ځكه چې محليت نشته يعنى د طلاقو لپاره قابليت نلرى ځكه چې د طلاقو لپاره ملک د نكاح شرط دى او دلته ملک د نكاح نشته .

فان قال الخ : يعنى كه يو سړى خپلى ښځى ته وويل چې كه ته كورته داخله شوى نو ته دى په درى طلاقو طلاقه ئى (ان دخلتِ الدار فانتِ طالق ثلاثا) بيائى غوښتل چې ما ښځه يې طلاقه نشى په درى طلاقو سره اګر كه كورته داخله هم شى نو اوس به څه كوى ؟

د دى حيله او طريقه د خلاصى دا ده چې يو يا دوه طلاقه رجعى دى وركړى بيا دى ورته رجوع نكوى تر دى چه عدت ئى تير شى بيا دى كورته دغه ښځه داخله شى نو شرط چې دخول دى چې حالت د عدم ملک موجود شو او تعليق ختم شو بيا دى په نكاح سره واخلى نو كه بيا هغه كور ته داخله شى نو دوباره نه طلاقيږى ځكه چې يو ځل شرط موجود شى نو تعليق باطليږى لكن كه داسى كلمه ذكروه چې هغه دلالت په دوام كوى لكه كلما نو بيا دا حيله هلته نه چليږى .

و ان اختلفا فى وجود الشرط فالقول له الا مع حجتها و فى شرط لا يعلم الا منها صدقت فى حقها خاصة ففى ان حضتِ فانتِ طالق و فلانة و ان كنتِ تحبّيْنَ عذابَ الله فانتِ كذا و عبده حر لو قالت حضتُ و اُحبُّه طُلِّقَتْ هى فقط .

تشريح او توضيح : كه ښځه او خاوند دواړه د شرط په موجود كيدو سره مختلف شول مثلا

ښځې ویل چه شرط موجود دی او خاوند ویل چې موجود ندی نو د خاوند وینا به معتبره وی خو سره د قسم نه ځکه خاوند منکر دی او په منکر قسم دی، مګر که ښځې د شرط په موجود کیدو باندې ګواهان قائم کړل بیا به د ښځې قول معتبر وی ـ و فی شرط الخ : که داسی شرط ؤ چې د هغې معلومات بغیر نه ښځې نه بل چا ته نکیدو نو بیا به د ښځې قول معتبر وی خو صرف د خپل ځان په حق کی مثلا داسی ورته ووائی انْ حِضْتِ فانتِ طالق و فلانة یعنی ته حائضه شوی نو ته دی هم طلاقه ئی او فلانکې هم نو که ښځې وویل چې زه حائضه شوم نو صرف همدغه ښځه طلاقیږی او فلانکې نه طلاقیږی، او یائی داسی ورته وویل چې ان کنتِ تحبّینَ عذابَ الله فانت طالق و عبده حرٌ یعنی که ته د الله پاک د عذاب سره مینه لرې نو ته دی طلاقه ئی او غلام دی هم ازاد وی نو که ښځې وویل چې زه د الله پاک عذاب سره مینه لرم نو ښځه طلاقه شوه او غلام نه ازادیږی ـ

و فی ان حِضْتِ یحکم بالجزاء بعد رؤیة الدم ثلاثة ایام من اوله ای ان قال ان حِضْتِ فانتِ کذا فبعد ما رأت الدم ثلاثة ایام یحکم بالجزاء من اول الدم لانه تبین برؤیة الدم ثلاثة ایام انه حیض فیحکم بعد الثلاثة بوقوع الجزاء فی اوّلها ، و فی ان حضْتِ حیضة لا یقع حتی تطهر فان الحیضة هی الکاملة .

مسئله : که خاوند ښځې ته داسی ووائی چې که ته حائضه شوی نو ته دی طلاقه ئی نو حکم د طلاق به پدې باندې د درې ورځو څخه وروسته کولی شی خو طلاق به د اولی ورځې نه واقع وی ځکه چې د حیض کمه موده درې ورځې ده نو کله چې وینه درې ورځو ته ورسیده نو معلومه شوه چې دا حیض دی او استحاضه ندی نو د درې ورځو څخه وروسته به حکم کولی شی چې طلاق په اوله ورځ واقع دی خو طلاق به بدعی وی ـ

فرع :د دی فائده دا ده که دغه ښځه غیر مدخول بها وی نو کله ئی چې وینه ولیده او د بل خاوند سره ئی نکاح وکړه او دغه وینه درې ورځې دوام وکړی نو نکاح صحیح شوه ځکه په اول ځل وینه لیدو سره داول خاوند نه ختمه شوه ـ

و فی ان حضتِ حیضة الخ : که خاوند داسی ورته ووائی چې که ته حائضه شوی په یو ځل حیض سره ځکه حیضةً فعلةً وزن دی د مرت لپاره راځی نو طلاق تر هغې نه واقع کیږی چې دغه ښځه مکمل پاکه شوی نه وی چې یا لس ورځې پرې تیرې شی انقطاع د وینې راشی او یا د لسو ورځو نه کمو کی د یو مانځه وخت پرې تیر شی او غسل وکړی ځکه حیضة د مرت نه دی او مرت د حیض نه په کمال سره راځی او کمال ئی په انتهاء سره راځی چې هغه طهر دی نو پدغه وخت کی طلاق واقع دی او طلاق به سنی وی بدعی به نه وی ځکه په طهر کی واقع شو ـ

و في ان صمتِ يوما فانتِ طالق تُطَلَّقُ حين غربت من يوم صامت بخلاف ان صمتِ فانه يقع على صوم ساعة و لو علق طلقةً بولادة ذكرٍ و طلقتين بانثى فولدتهما و لم يدر الاول طلقت واحدة قضاءً و ثنتين تنزُّهًا اى ديانةً يعنى فيما بينه و بين الله تعالى و انقضتِ العدة بوضع الحمل اى بالوضع الثاني .

تشریح او توضیح : که خاوند ورته داسې ووائي چې که تا یوه ورځ روژه ونیوله نو ته دې طلاقه ئې نو ښځه به هلته طلاقیږي چې په کومه ورځ ئې روژه نیولې او پدغه ورځ لمر ډوب شي ځکه مکمل ورځ روژه هلته راځي چه لمر ډوب شي او که یواځې داسې یې ورته وویل چې که تا روژه ونیوله او د ورځې ذکرئې ورسره ونکړ نو که ښځې یو ساعت روژه ونیوله بیائې ماته کړه نو ښځه طلاقه شوه ځکه د صوم اطلاق په یو ساعت هم کیږي او د مکمل کولو شرط ئې هم ورسره ذکر کړې ندی ۔

و لو علق الخ : که خاوند ورته وویل چې که تا نر بچې (ځوی) راوړ نو ته دې په یو طلاق سره طلاقه ئې او که لور دې راوړه نو ته دې په دوه طلاقو سره طلاقه ئې نو که ځوی ئې راوړ په یو طلاق سره طلاقه شوه او که لور ئې راوړه په دوه طلاقو سره طلاقه شوه او که دوه جوړه (غبرګوني) راوړه کوم چې مخکې ؤ د هغه په مطابق به طلاق واقع وي او که معلومات ئې نه کیده چې کوم یو مخکې دی نو قضاءً به قاضي په یو طلاق سره حکم کوي ځکه یو متیقن دی او دوه مشکوک دي اوقاضي په متیقن حکم کوي نه په مشکوک او دیانةً چې د ده او د الله تر منځ شي یعنی احتیاطا دوه طلاقه واقع کیږي که د دینه ئې مخکې یو طلاق ورکړې ؤ بیا مناسب نده چه له دې سره د تحلیل نه مخکې نکاح وکړي ځکه احتمال لري چه په درې طلاقو سره طلاقه شوې وي او عدت به د دویم بچي په پیدا کیدو سره ختمیږي دویم بچی که ځوی وي او یا لور ۔

و انما لا يقع به اطلاقا آخر لان العدة تنقضى بالوضع قال الله تعالى (و أولاتُ الأحمالِ أجلُهنّ أن يضعن حملهن) ثم الوضع شرط لوقوع الطلاق فهو مؤخر عن الوضع فتنقضي العدة بالوضع فلا يقع بعده طلاق .

الاستفسار : غرض د شارحؒ پدې عبارت سره دفع د یو اعتراض ده چې هرکله یو طلاق معلق کړ تر ولادت د ځوی پورې او دوه طلاقه د ولادت د لور پورې او یو بل پسې وزیږوي او په اول بچي سره هغه طلاق واقع شي کوم چې هغې پورې معلق وي نو پکار ده چې کوم طلاق د دویم بچي له ولادت پورې معلق وي چې هغه هم واقع شي نو درې طلاقه به شي لکه په یو ځل چې دواړه وزیږوي نو درې واړه طلاقه واقع کیږي نو دلته به درې واړه طلاقه واقع شي ؟ شارحؒ په انما سره جواب کوي چې هر کله معلق طلاق د اول بچي په پیدا ښت سره واقع شي نو ښځه معتده ګرځیده ځکه عدت د طلاقو د وخت نه وي

او دا حامله ده په دوهم بچی سره ترخوئی چې دویم بچی زیږولی نوی نوعدت ئی نه ختمیږی ځکه عدت د حاملې په وضع د حمل سره دی لکه په مذکور آیت کی د دوهم بچی په پیدا ینبت سره د عدت مرده ختمیږی او د عدت وروسته طلاق نشته او په کوم صورت کی چې دواړه بچی یو ځای راوړی نو هلته بیا دعدت مرده په حیضونو سره دی هکذا فی فتح القدیر(ج۳ص۴۵۵)۔

و لو علق الطلاق بشيئين يقع ان وجد الثاني في الملك و الا فلا فقوله ان وجد الثاني في الملك يشمل ما اذا وجدا في الملك او وجد الثاني فقط في الملك و قوله و الا فلا يشمل ما اذا لم يوجد شيء منهما في الملك او وُجِد الاول في الملك دون الثاني .

ترجمه :که یو سړی طلاق معلق کړ د دوه شیانو پوری نو طلاق واقع کیږی که دویم شرط په ملک کی موجود شو او که موجود نشو طلاق نه واقع کیږی او دا قول د مصنفؒ او وجد الثاني في الملك شامليږی دیته چې دواړه شرطونه په ملک کی موجود شی او یا یواځې دویم موجود شی اول نه، دا قول د مصنفؒ چې و الا فلا شامليږی دیته چې یو هم موجود نشی په ملک یا اول موجود شی په ملک او دویم موجود نشی۔

تشریح ا وتوضیح : که یو سړی د خپلی ښځی طلاق په حالت د ملک کی په دوو شیانو پوری معلق کړ لکه داسی اذا قدم فلان و اذا قدم فلان فانتِ طالق (که فلانی او فلانی راغی نو ته دی طلاقه ئی) یعنی چې شرط مکرر شی چې یو شرط عطف کړی په هغه بل شرط او جزاء وروسته ذکر کړی نو دا به خالی نه وی یا دواړه شرطونه په ملک کی موجود شی نو طلاق واقع کیږی او هلته واقع کیږی کله چه دواړه کسان راشی ځکه چې عطف د شرط محض ئی وکړ په داسی شرط چې حکم هغی لره نشته بیائی جزا ذکر کړه نو جزا به د دواړو شرطو پوری معلق وی که دواړه موجود شو نو طلاق به واقع وی، یا دواړه شرطونه په غیر ملک کی موجود شی نو بیا طلاق نه واقع کیږی، یا اول شرط په ملک کی موجود شی او دویم په غیر ملک کی نو بیا هم طلاق نه واقع کیږی ځکه جزاء په غیر ملک کی نه نازلیږی نو طلاق نه واقع کیږی، یا اول په غیر ملک کی وی او دویم په ملک کی نو بیا هم طلاق عند الاحناف نه واقع کیږی خلافا لزفرؒ هکذا فی الهدایه۔

و التنجيز يُبطل التعليق فلو علق الثلاث بشرط ثم نجّز الثلاث عادت اليه بعد التحليل ثم وجد الشرط لا يقع شيء و من علق الثلاث بوطي زوجته فاولج اي ادخل حشفته حتى التقى الختانان و لبث فلا عقرَ عليه،العقرُ مهر المثل و قيل هو مقدار اجرة الوطي لو كان الزنا حلالا .

البيان الوجيز في بيان ابطال التعليق بالتنجيز

او تنجيز يعني في الحال طلاق واقع كول باطله وي تعليق لره نو كه خاوند ئي درى طلاقه د يو شرط پوري معلق كړه بيائي تنجيز يعني في الحال بغير د تعليق نه ورته درى طلاقه وركړل چې ته په درى طلاقو طلاقه ئي بيا دغى ښځى د عدت د مودې نه وروسته د بل خاوند سره نكاح وكړه بيا هغه د نكاح نه وروسته وطى كولو نه پس طلاق وركړ بيا د عدت د مودې نه وروسته ئي اولنى خاوند سره بيا نكاح وكړه بيا هغه شرط موجود شو كوم چې د مخكى نكاح وخت كى درى طلاقه د هغى پورى معلق شوى ؤ نو يو طلاق هم نه واقع كيږى ځكه ښځه د درى طلاقو په واقع كيدو سره د دينه ووته چې دا دى محل لپاره د طلاقو شى ځكه طلاق چه مشروع شوى نو د حلت د ختميدو لپاره مشروع شوى او حلت په هغه درى طلاقو سره پورته شو او چې كله محل د جزا فوت شى نو تعليق پخپله باطليږى (كذا في الكفايه على فتح القدير) ـ

او كه د تعليق نه وروسته ئي يو يا دوه طلاقه تنجيز كړل نو په ملك جديد كى پس له وجود د شرط څخه هغه معلق طلاق واقع كيږى د امام ابو حنيفة" او امام ابويوسف" په نزد ، په خلاف د امام محمد" او ديته مسئله د هدم وائى دا مشهوره مسئله ده او دا اختلاف مبنى دى پدى خبره چې زوج ثانى كم له دريو طلاقو نه هدمه وى يعنى ختموى د امام ابو حنيفة" او امام ابويوسف" په نزد ، او د امام محمد" په نزد ئي نه ختموى مثلا كه خاوند يو طلاق وركړى بيا بل خاوند وكړى بيا د بل (دويم) خاوند نه وروسته اولنى خاوند ته راشى نو د امام ابو حنيفة" او ابويوسف" په نزد رومبى خاوند د دريو طلاقو مالک دى او مخكنى دوه طلاقه چې پاتى ؤ هغه ئي ختم كړل ، د امام محمد" په نزد اولنى خاوند د دوو طلاقو مالک دى ځكه يو طلاق ئي هلته وركړى او دوه اوس پاتى دى (سيأتى ان شاء الله في موضوعه ايضا) ـ

و من علق الثلاث بوطى الخ : كه يو سړى خپلى ښځى ته ووئيل چې كه ما ته وطى كړى نو ته دى په درى طلاقو سره طلاقه ئي نو د خپل ذكر سرئي پكى داخل كړ تر دى چه مكمل شو او دواړه عورتونه سره مخامخ شول او وخت ئي پكى تير كړ نو پده باندى عقر نشته يعنى په يوائې ذكر داخلولو سره ، ښځه طلاقه شوه او ښځه اجنبى محرمه وګرځيده بيا چې ده خپل ذكر پكى پريښوده او لږ وخت ئي تير كړ نو پده عقر نه راځى ځكه وطى خامخا د مهر يا د عقر نه خالى نه وى خو دومره ده چې لبث جماع نده ځكه جماع داخلول د ذكر دى او عقر چې واجبوى هغه هم جماع ده نو كه ذكر ئي ترى راويسته بيائى پكى ورداخل كړ نو اوس په ده عقر واجب شو او په طلاقى رجعى كى دا وطى رجوع ګرځى او مكث رجعت نشى ګرځولى ، عقر څه ته وائى ؟

بعضي علماء وائي چې مهر مثل ته وائي چې ښځه په شبهې سره وطی کړې شي ، او بعض وائي چې مهر مثل في الجمال ته وائي يعني د دی د حسن جمال په اندازه نورو ښځو ته چې څومره مهر مثل مقررولی شي او بعضي وائي چه د وطی د اجرت په اندازه فرضاً که زنا حلاله وی يعنی که فرضاً زنا حلاله وی نو د داسي ښځی د زنا اجرت چې څومره وی نو همغه ته عقر وائي .

و كذا لو علق عتق امته بوطيها و لم يصر مراجعا به في الرجعي فلو نزع ثم اولج يجب العقر و كان رجعة ، و لو قال انتِ طالق انشاء الله تعالى متصلا او ماتت قبل قوله انشاء الله تعالى لم يقع و لو مات هو يقع اى لو قال انتِ طالق فاخذ في التكلم بان شاء الله تعالى فمات قبل تمامه ، و في انتِ طالق ثلاثا الا ثنتين يقع واحدة و في الا واحدة ثنتان .

تشريح او توضيح : همدارنګه که سيد د خپلې وينزې عتق د وطی پوری معلق کړ يعنی داسې ورته ووائي چې که ما له تا سره جماع وکړه نو ته دې ازاده ئي نو يواځې د ذکر په داخلولو سره عتق راځی او په مکث سره عقر نه راځي ، او په طلاق رجعيو کی په مکث سره رجعت نه راځي بلکه په دوباره ذکر داخلولو سره رجعت راځي او همدغه دوباره وطی په رجعت حسابيږی ، او که خاوند ورته ووئی چې ته طلاقه ئی انشاء الله او د انشاء الله لفظ ورسره متصلا ووائي ځکه په اتصال سره صورة تعليق راځي او د انفصال په وخت کی تعليق نه راځي ، انفصال دا معنی چې د دغه دوه لفظينو تر منځ بغير د ضرورت تنفس نه لکه توخی يا ارګمی يا پرنجی و غيره نه فصل او جداوالی په سکوت سره راشي ، همدارنګه په عبث خبرو سره هم انفصال راځي لکن که د کلام نه تاکيد د طلاقو معلوميده نو بيا انفصال نه راځي لکه انتِ طالق طالق انشاء الله تعالى ، او يا اواز ورته وکړی لکه انتِ طالق يا فلانة انشاء الله تعالى نو بيا انفصال رانغی او اتصال موجود شو .

او ماتت الخ : يا خاوند دا کلمه ووېله چې انتِ طالق د انشاء الله ويلو نه مخکی دغه ښځه مړه شوه په دواړو صورتونو کی طلاق نه واقع کيږی دليل پديکی حديث د نبی ﷺ دی چې چا قسم وخوړ او انشاء الله ئې ورسره ووېل نو پده قسم نه اوری وجه داده چې ده خپل قسم يا طلاق تر هغه شي پوری معلق کړ چې د هغی دوجود معلومات نشی کيدی ځکه د الله د مشيت معلومات بغير دالله جل جلاله نه چاته کيدای شي ؟

و لو مات هو الخ : که خاوند ورته ووېل چې ته طلاقه ئی او د انشاء الله په شروع کولو سره ئی ساه ورکړه او مړ شو او د انشاء الله لفظ ئی پوره نه کړ نو طلاق واقع شو . دلته دا خبره زده کړه چې يو ايجاب دی او بل مبطل د ايجاب لفظ د انتِ طالق دی او مبطل استثناء يعنی انشاء الله ده ځکه تعليق بالمشيئت مبطل د ايجاب دی نو په مخکنی مسئله کی چې ښځه وفات شی طلاق ځکه نه واقع کيږی

چې په استثناء سره کلام د ایجاب نه ووت . کله چې ایجاب باطل شو نو حکم چې طلاق دی هم باطل شو ځکه سرگ مخالف د ایجاب دی چې هغه دا قول دی چې انت طالق نه د مبطل چې هغه استثناء ده ، او پدی مسئله کی چې خاوند د انتِ طالق لفظ ویلو نه وروسته او د انشاء الله ویلو نه مخکی وفات شی او اراده ئی د استثناء ویلو هم وی نو استثناء ورسره پیوسته نه شوه چې هغه مبطله ده نو ایجاب چې انتِ طالق لفظ دی باطل نه شو نو طلاق واقع شو او د ده اراده د استثناء ویلو د دینه معلومیږی چې زه به ښځه طلاقوم او استثناء به کوم (هکذا فی البنایه) .

و فی انتِ طالق ثلاثا الا ثنتین الخ : کـه خاوند ورته وویل چې ته دی طلاقه ئی په دری طلاقو سره مگر دوه نه ، نو پدی صورت کی یو طلاق واقع کیږی ځکه چې استثناء تکلم بالحاصل دی خو بعد الاستثناء مثلا که ووائی چې د زید په ما یوه روپۍ ده ، یا داسی ووائی چه د زید په ما لس روپۍ دی مگر نهه ندی نو دواړه خبری یو شان شوی ځکه په دواړو صورتونو کی دا خبره شوه چه د زید په ما یوه روپۍ ده نو د متن په مسئله کی چې کله د دریو نه دوه مستثنی کړی نو یو (۱) پاتی شو او که د دریو نه یو مستثنی کړی نو دوه پاتی کیږی او که د دریو نه دری مستثنی کړی نو دری واړه طلاق واقع کیږی ځکه دا استثناء د کل نه ده او دا صحیح نده (هکذا فی الهدایه والبنایه) .

باب طلاق المریض

باب دی په بیان د طلاق د مریض کښې

مصنفؒ چې د روغ او صحیح سړی د طلاقو بیان وکړ شروع ئې د دی په اضدادو سره وکړه چې د مریض طلاق دی او ځان ته باب ئې ورته کینښود او د مریض عنوان ئې ورته ولګاوه ځکه چې اصل پدی باب کې همدا دی اګر که د دی په حکم کې هر هغه سړی داخل دی چې غالبا د هغه حالت د هلاکت سره مخامخ وی اګر که مریض نه وی او د علماء په عرف کې په فار سره مشهور دی ځکه پدی حالت کې ښځی ته طلاق ورکول غالبا قصد د انسان داوی چې د ښځې د میراث وړلو نه تیښته وی چې زما ښځه زما میراث یونسی ـ

> المریض الذی یصیر فارًّا بالطلاق و لا یصح تبرّعه الا من الثلث ، مَنْ غالبُ حاله الهلاكُ بمرض او غیره .

ترجمه : المریض مبتدأ و مَن غالبُ الخ خبر دی ، یعنی هغه مریض چې شرعا هغه لره حکم د فار بالطلاق ثابتیږی اګر که قصد ئې د فرار نه وی کړی ، د ده تبرع او احسان په همدغه مال کې بغیر له دریمی حصی څخه نه صحیح کیږی نو هغه څوک دی چې غالب حالت د ده هلاکت ته نزدی وی په مرض سره وی او که په بل شی سره وی ـ شارحؒ دا د هغه مریض بیان وکړ چې فار بالطلاق ګرځی چې د ده غالب ګمان دا وی چې زه هلاکیږم نو اوس که د دی مال نه چاته څه تحفه یا صدقه ورکوی نو یو اځې د دغه مال د دریمی حصی نه ورکولی شی او ده ته د فار بالطلاق حکم ثابت شو او که غالب حالت د ده سلامتیا او روغ صحت وی بیا شرعا فار بالطلاق ندی ـ

> فمن اضناه مرض و عجز عن اقامة مصالحه خارج البیت و قدر فیه ای علی اقامة فی البیت ، و من بارز رجلا او قدّم لیُقتل فی قصاصٍ و رجمٍ مریضٌ ای علی النحو الذی مرَّ فلو ابان زوجته و هو کذلك و مات بذلك السبب او بغیره ترث خلافا للشافعیؒ ، واعلم ان الخلاف فیما اذا طلقها ثلاثا لانه ان طلقها صریحا ترث اتفاقا و کذا ان طلقها بالکنایات ، اما عندنا فلأن امرأة الفار ترث ، و أما عنده فلأن الکنایات رواجع ، و ان خالعها لاترث اتفاقا لانها رضیت بالفرقة فبقی الثلاث فهو محل النزاع .

تحریر الخیار فی بیان طلاق الفار

غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره د تعریف مذکور د بعضی جزئیاتو بیان دی هغه داسی چې څوک مرض ډنګر او خوار کړی د دغه مرض په سبب د کور نه خارج حاجتونو او مصلحتونو کولو څخه عاجز شی اګر چې داخل د کور کې په بعضی حوائجو قادر وی لکه اودس یا بیت الخلاء ته تلل ، او د هدائی

والا بیا د دی تفسیر داسی کړی چې دغه مریض بیا د فرش او بستر والا وګرځی او د روغو خلکو پشان حوائج پوره کولی نشی ، لکن فقیه ابو اللیث وائی چې د بستر والا کیدل شرط ندی ځکه دا مریض دی په مرض موت سره بلکه اعتبار غلبی ته دی او غالب د دی مرض ته مرګ وی اګر که د کور نه وتلی شی ، او فالج وهلی سړی که مرض ئی اوږد شی نو که خاوند د بسترنی نکړ نو دا د روغ پشان دی ، او که مرض ئی زیاتی ده نو بیا د مریض په شان دی ۔

و من بارز الخ : غرض د دی عبارت څخه بیان د هغه ځا دی چې د مرض په حالت کی په فار سره مسمّی کیږی یعنی غالبا ویره د هلاکت ورسره وی بغیر له څه مرض نه اګر که هلاک نشی ، د دی ډیر جزئیات دی کوم سړی چې محاصره کړای شی یا د جنګ په صف کی ولاړ وی مریض نه حسابیږی ، کوم کس چې فی الحال په جنګ کی د دشمن په مقابله کی لګیا وی یا ده په خپله قتل کړی وی او بیا دی هم قصاص ته وړاندی شی قتل کړای شی یائی زنا وکړه او رجم او سنګسار ته وړاندی شی ، یا یو ظالم د ده د قتل اراده وکړه او د هغه حضور ته د قتل لپاره وړاندی کړای شی ، یا کشتی ماته شی او دی په یوه تخته باندی پاتی شی ، یا یو ځناور وتښتوه او د هغه په خوله کی پاتی شو ، یا کشتی کی سپورؤ د اوبو چپی راغلی او د هلاکت ویره وه پدی ټولو صورتونو کی په حکم د مریض کی دی ، یعنی که په دغه صورتونو کی ښځی ته دری طلاقه ورکړل ، او دغه سړی په همدغه سبب مړ شی ، او یا په بل سبب باندی مړ شی ښځه ئی میراث وړلی شی ، د ده تبرع د ثلث نه بغیر په نور مال کی نه صحیح کیږی لکن د امام شافعیؒ په نزد میراث وړلی نشی ، دا اختلاف دامام ابو حنیفةؒ او امام شافعیؒ په هغه صورت کی دی چې کله دری طلاقه ورکړی ځکه د مرض موت په حالت کی که طلاق صریحی ورکړی یو وی او که دوه وی نو بیا په اتفاق دامام ابوحنیفةؒ او امام شافعیؒ سره ښځه میراث وړلی شی همدارنګه بالاتفاق ښځه میراث وړلی شی کله چې طلاق بالکنایه ورکړی یعنی دامام ابو حنیفةؒ په نزد په الفاظ کنایو سره طلاق بائن واقع کیږی او طلاق فار مطلقا میراث نه منع کوی رجعی وی او که بائن وی یو وی او که دوه وی ، او د امام شافعیؒ په نزد کنایات رواجع دی یعنی په دی سره طلاق رجعی واقع کیږی او په رجعی طلاق کی د امام شافعیؒ په نزد هم میراث ثابت دی ځکه من وجه حکما نکاح ثابته ده ۔

که ښځی سره ئی خلع وکړه نو بیا هم بالاتفاق میراث وړلی نشی ځکه ښځه په جدا والی راضی شوه ځکه ښځی د خاوند څخه مطالبه د جداوالی وکړه نو صرف دری طلاقه پاتی شو او همدغه دامام ابوحنیفةؒ او امام شافعیؒ تر منځ د اختلاف محل دی ، امام شافعیؒ وائی چې د ښځی میراث وړل د خاوند د مرګ په صورت کی د زوجیت په ارتباط سره راځی ، زوجیت په ابانت سره ختم شوی نو لهذا میراث هم وړلی نشی ، لیکن د احنافو لپاره دلیل دا دی چې عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه خپله ښځه د مرض

موت په حالت کی طلاقه کړه عثمان بن عفان رضی الله عنه هغه ته د میراث ورلو حکم وکړ د ډیرو صحابوو په حضور باندی دا اجماع یا د اجماع په شان شوه ، په هغه مسئلو کی چې بالرای نه معلومیږی د صحابي فتوی د مرفوع حدیث په حکم ده۔

و كذا طالبة رجعية طلقت ثلاثا اي طلبت من المريض رجعية فطلقها ثلاثا ترث عندنا ، و مُبانة قَبَّلَتْ ابن زوجها و هي في العدة لانه وقعت البينونة بإبانته لا بتقبيلها ابن الزوج .

تشريح او توضيح : همدارنګه دامام ابو حنیفة په نزد ښځه میراث وړی په هغه صورت کی چې د مریض خاوند څخه طلاق رجعی وغواړی ، هغه دری طلاقه ورکړی ځکه دا ښځه اګر که په طلاقو راضی وه لکن په ابانت باندی راضی نه وه ، ځکه هغی مطالبه د طلاق رجعی وکړه کله چې خاوند دری طلاقه ورکړه معلومه شوه چې ده د میراث نه د فرار قصد ؤ نو د خپل مقصود نه محرومه شوه۔

و مبانة الخ : میراث به وړی هغه ښځه چې بائنه کړای شوی وی ، د خپل خاوند ځوی ښکل کړی حال دا چې دا په عدت کی وی ۔ یعنی کچیدی یو سړی خپله ښځه په دری طلاقو سره طلاقه کړی یا په یو طلاق بائن سره او عدت ئی شروع شی بیا دغی ښځی داسی فعل وکړ چې په هغی سره فرقت راځی لکه د دی د خاوند بچی چې د بلی ښځی څخه وی یعنی پرکتی ئی ښکل کړ او په ځان ئی قادره کړ دغه ښځه به بیا هم میراث وړلی شی ځکه اګر چې د دی په دغه فعل سره جداوالی راځی لکن دلته جداولی اوس پدغه فعل سره راغلی ندی بلکه د خاوند په ابانت سره راغلی د دی ښځی دغه فعل کالعدم وګرځیده ۔

که خاوند طلاق رجعی ورکړی ؤ بیا دغی ښځی په عدت کی خپل پرکتی ښکل کړ نو بیا میراث وړلی نشی ځکه دلته جداوالی د ښځی له خوا څخه راغلی او د ښځی په رضاء سره او د عدت څخه وروسته د دی ښکلول په یو شی کی هم اثر نکوی۔

و من لاعنها في مرضه اي قذفها في مرضه فتلاعنا فوقعت الفرقة باللعان ترث فان هذا ملحق بتعليق الطلاق بفعل لا بد للمرأة منه اذ لا بد لها من الخصومة لدفع العار عن نفسها او آلى منها مريضا كذلك اي حلف في مرض موته ان لا يقربها اربعة اشهر فلم يقربها حتى مضت المدة و وقعت البينونة ثم مات ترث .

تشريح او توضيح : لفظ مَنْ مبتدأ او كذلک ئی خبر دی یعنی ځوک چې د ښځی سره په مرض موت حالت کی لعان وکړی یعنی خاوند د خپل مرض موت په حالت کی په ښځه د زنا تهمت ولګوی او څلور ګواهان پری د ګواهی لپاره حاضر نه کړی او بیا دواړه لعان وکړی نو فرقت په لعان سره راغی نو ښځه به میراث وړی ځکه د قذف دا مسئله داسی شوه لکه ګویا چې خاوند طلاق د داسی فعل پوری معلق کړ چې دا ښځه د هغی کولو ته محتاجه شوه نو د لعان په صورت کی ښځی ته هم د

خصومت او د قضاء ته وړاندې کيدو نه خلاصى نشته د دې لپاره چې شرم او پيغور د ځان نه دفع کړي پس خاوند چې په همدغه مرض کې مړ شى ښځه به ميراث وړي .

او آلي منها الخ : يا ښځې سره ايلاء وکړي د خاوند د مرض موت په حالت کې هم ښځه به ميراث وړي ، يعنى خاوند په خپل مرض موت حالت کې ښځې ته قسم وخوړ چې زه به تاته څلور مياشتې نه درنزدې کيږم يعنى جماع به درسره نه کوم که په دغه تاکلې موده کې ښځې ته نزدې شو کفاره د قسم پرې راغله ، که په دغه تاکلې موده کې نزدې نشو موده تيره شوه ښځه بائنه او جدا شوه بيا خاوند مړ شو ښځه به ميراث وړي ځکه سبب د فرقت د خاوند له طرفه په مرض موت حالت کې موجود شو خاوند فار بالطلاق وګرځيده .

و من قام بها خارج البيت مشتكيا او حُمَّ و من هو محصور او فى صف القتال او حُبسَ بقصاص او رجم صحيحٌ ان طلقت اى طلاقا بائنا و هو كذلك لا ترث و كذا المختلعة و مخيرة اختارت نفسها و من طُلِّقَتْ ثلاثا بامرها او لا بامرها ثم صح اى صح من مرضه ثم مات لا ترث .

تشريح او توضيح : غرض د شارح پدې عبارت سره بيان د هغه روغو کسانو دی چې فار بالطلاق نه ګرځي او نه ئې ښځه ميراث وړي ، نو لفظ د مَنْ مبتدأ او صحيحٌ ئې خبر دی ، هغه څوک چې د کور نه بيرون د کور ضرورياتو باندې قادر وي خو د څه درد نه شکايت کوي يا تبه پرې غالبه شوې وي ، او هغه څوک چه په يو ځاى کې بندې کړى شى په ظلم سره وي او که په انصاف سرهَ ، او همدارنګه په صف د جنګ کې وي د جنګ لپاره ئې تيارى نيولې وي خو مقابلې ته وړاندې نشى ، قصاص يا رجم لپاره بندې کړاى شى خو قتل ته وړاندې شوى نوى دا ټول مذکور کسان د صحيح سړي په حکم کې دي ، ځکه چې غالبه ويره د هلاکت پکې نشته که پدې حالاتو کې ښځې ته طلاق بائن ورکړي نو ښځه ميراث وړلې نشي او خاوند فار بالطلاق نه ګرځي .

و كذا المختلعة الخ : همدارنګه هغه ښځه چې خاوند سره د مرض موت په حالت کې خلع وکړي ، يا ورته په خيار بلوغ يا خيار عتق سره اختيار ورکړاى شي او دغې ښځې د خاوند د مرض موت په حالت کې خپل ځان غوره کړ ، يا خاوند ورته ووېل چې اختارى او ښځې د مرض موت په حالت خپل ځان غوره کړ پدې مذکوره صورتونو کې ښځه ميراث وړلې نشي ځکه پدې صورتونو کې فرقت د ښځې له طرفه راغلې او د ښځې په رضا سره ، کله چې فرقت د ښځې له طرفه د ښځې په رضا سره راشي نو هلته خاوند فار بالطلاق نه ګرځي .

و مَنْ طلقتُ الخ : کومه ښځه چې طلاقه کړاى شي په درې طلاقو سره په امر د ښځې سره يعنى ښځې مطالبه د درې طلاقو وکړه او پرې راضي وه خاوند هم درې طلاقه ورکړل دا ښځه به ميراث وړلې نشي که

د دغه مرض نه جوړ شي اوکه جوړنشي ځکه خاوند طلاق ددې په رضاسره ورکړ نو خاوند فاربالطلاق نه ګرځي.

او لا یامرها ثم صح الخ : ثم صح لفظ قید د او لا یامرها لپاره دی یعنی که خاوند ښځې ته طلاق ثلاثه (درې) بغیر د هغې د رضا نه ورکړي نو که پدغه مرض کې مړ شي ښځه به میراث وړي ځکه خاوند فار بالطلاق وګرځیده که د دغه مرض نه صحیح شو بیا په بل سبب سره مړ شو ښځه به میراث نه وړي ځکه حکم د فرار ختم شو ځکه منځ کې صحت منځ ته راغي.

و لو تصادق الزوجان علی ثلاث فی الصحة و مضی العدة ای تصادقا فی مرضه علی وقوع الثلاث فی حال الصحة و مضی العدة ثم اقر لها بدین او اوصی بشیء فلها الاقل منه و من الارث ای ان کان المقر به او الموصی به اقل من الارث فلها ذلک و ان کان الارث اقل فلها الارث .

تشریح او توضیح : که یو سړی مریض ؤ په مرض موت سره له ښځې سره ئې اتفاق پدې راغي چې درې طلاقه په حالت د صحت کې واقع دي او عدت هم تیر شوی یعنی داسې ورته ووائي چې تاته ما درې طلاقه په حالت د صحت زما کې درکړي ؤ او ستا عدت هم تیر شوی ښځې تصدیق د هغه د قول وکړ چې هو ! همداسې دی ، یا ښځه ووائي خاوند ته چې تا ما ته درې طلاقه راکړي ؤ په حالت د صحت ستا کې زما عدت هم تیر شوی خاوند تصدیق وکړ بیائې خاوند ښځې ته د قرض اقرار وکړ چې ستا په ما دومره قرض دی یائې ښځې ته وصیت وکړ چې تاته به زما له مرګ څخه وروسته د ترکې نه دومره مال درکولی شي ، د امام ابو حنیفهؒ په نزد ښځې ته به هغه ورکولی شي چې کوم یو کم وي په دواړو کې په میراث کې یعنی که مقر به کم ؤ د میراث څخه نو مقر به به وي او که موصی به کمه وه د میراث څخه نو موصی به به وي او که حصه د میراث د دې دواړو څخه کمه وه نو میراث به وي دا نښته چې څومره باندې اقرار شوی وي یا ورته وصیت شوی وي چې هغه به تول وي بلکه اقل الامرین به وي کما ذکرنا دا د دې وجې نه اګر چې دا ښځه د دې سړي نه اجنبیه وګرځیده ځکه دواړو تصدیق پدې وکړ چې طلاق واقع شوی او عدت هم تیر شوی نو دې ښځې ته د میراث حق نکیده ، اقرار او وصیت کول د دې ښځې صحیح ؤ چې څومره وي لکن دا ځای د تهمت دی ځکه کله چې ښځه طلاق د دې لپاره غوره کوي چې د اقرار او وصیت لاره ورته خلاصه شي زما حق به زیات شي ، او خاوند هم کله ښځې ته دا غوره کوي چې په نورو ورثوو باندې د دې ښځې حصه زیاته شي نو مونږ دا رد کړه او په میراث کې تهمت نشته نو همغه مو صحیح وګڼه ، دا حکم مو وکړ چې په مقر به یا موصی به کې کوم یو اقل وي د میراث نه همغه به وي او که میراث اقل وي د مقر به یا موصی به څخه میراث به وي .

صاحبین وائي چې د خاوند اقرار او وصیت دواړه صحیح دي په میراث کې حق نلري ځکه چې

کله دوی تصادق على الطلاق وکړ یعنی چې طلاق واقع شوی او عدت هم تیر شوی نو ښځه اجنبيه وګرځیده تهمت ختم شو ، نو اقرار او وصیت ئی صحیح دی ، که د عدت په تیریدو باندی موافق نه و یعنی یو ویل چې عدت تیر دی او بل ویل چې عدت تیر ندی بیا بالاتفاق اقل دی ، تر دی ځای پوری د متن د خلاصی بیان دی چه د زوجینو اتفاق په حالت د مرض موت د خاوند کی پدی راشی چې طلاق واقع کیدل او عدت تیریدل قبل المرض ؤ ۔

اوس دا مسئله که ښځه مریضه وه او خاوند ته ئی وویل چه دری طلاقه راکړه او خاوند ورکړه بیائی همدی ښځی ته اقرار په مال وکړ چې زه به تاته دومره مال درکوم یانی ورته وصیت وکړ د امام ابوحنیفهؒ په نزد بیا هم اقل د مقر به یا موصی به او د میراث ځخه ورکولی شی ، امام زفرؒ وائی چې په دواړو صورتونو کی ښځی ته تمام مقر به او موصی به دی ، صاحبین په اول صورت کی د امام زفرؒ سره ملګری دی او په دویم صورت کی د امام ابوحنیفهؒ سره ، والتفصیل فی فتح القدیر والعنایه فاطلبها هنالک ۔

واعلم أن حرف مِنْ فی قوله فلها الاقل منه و من الارث لیست صلة لافعل التفضیل اذ لو کان یجب ان یکون الواجب اقل من کل واحد منهما و لیس کذلک بل حرف مِنْ للبیان و افعل استعمل بالـلام فیجب ان یقال او من الارث لانه لما قال الاقل عُیِّنَ الاقل باحدهما و صلة الاقل محذوف و هو من الآخر ای فلها احدهما الذی هو اقل من الآخر فیکون الواو بمعنی او ، او یکون الواو علی معناها لکن لا یراد بها المجموع بل یراد الاقل الذی هو الارث تارة والموصی به اخری فیکون الواو للجمع و هو ان الاقلیة ثابتة لکن بحسب زمانین .

تشریح ا وتوضیح : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د دی خبری دی چې ښځه مستحقه د احد الامرین وګرځیده چې دیته که مقر به یا موصی به اقل ؤ ورکولی شی که میراث اقل ؤ نو میراث به ورکولی شی ، دا مقصود د متن د دی عبارت نه نه معلومیږی ځکه په ظاهر کی د لفظ د مِنهُ او مِنْ صله د افعل التفضیل ښکاری چه الاقل دی او حال دا چې داسی نده ځکه چې که لفظ د مِنْ صله د افعل التفضیل شی نو بیا به معنی دا شی چې واجب دی اقل د هر یو د دی دواړو نه او حال دا چې داسی نده بلکه حرف مِنْ د بیان لپاره دی ، او افعل التفضیل په لام سره استعمال شوی او واو په (و من الارث) کی به په معنی د (او) سره وی ځکه کله چې مصنف الاقل وویل نو بیان د اقل په احد هما سره وشو ، او صله د اقل محذوفه ده چه مِنَ الآخرِ دی نو معنی به داسی شی چې ښځی لره شته یو د دی دواړو ځخه هغه چې اقل وی لکن مجموع به پدی سره مراد نوی بلکه مراد به هغه اقل وی چې هغه میراث دی او موصی به ده نو واو د جمعی لپاره شو چې اقلیت ثابت شو دواړو لره لکن په زمانینو مختلفینو کی نه په زمان واحد کی ۔

کمن طُلِّقَتْ ثلاثا بامرها فی مرضه ثم اقرَّ اواوصی فان لها الاقل من ذلک ومن الارث فی قولهم

جمیعا ، و لو علق الثلاث بشرط و وُجد فی مرضه ان علقه بمجیء وقت کرجب اوفعل اجنبی ترث الا اذا علق فی صحته ، و ان علق بفعل نفسه ترث سواء کان التعلیق فی مرضه او لا و الفعل له من بُدِ کالکلام مع الاجنبی او لا بد له منه کأکل الطعام و صلاة الظهر و کلام الابوین.

تشریح او توضیح : غرض د مصنف پدی عبارت سره بیان د تشبیه د اولنی مسئلی دی د دوهمی مسئلی سره په حکم کی هغه دا چې ښځی ته به احد الامرین وی چې هغه اقل د دی دی هر کله چې اولنی مسله اختلافیه وه او دوهمه اتفاقیه وه نو تشبیه د اولنی د دوهمی سره مناسب ده نه برعکس ځکه مشبه اقوی او واضح وی د مشبه نه ، حاصل د مسئلی اتفاقیه دا دی چه ښځه د خاوند څخه په مرض موت کی طلاق ثلاثه وغواړی او خاوند هم طلاق ثلاثه ورکړی بیا دغی ښځی ته په یو شی سره اقرار وکړی او یا ورته څه وصیت وکړی پدغه وخت کی یو مضبوط تهمت موجود دی د دوی فعل ته په حق د باقی ورثوو کی څه اعتبار نشته بلکه اقل به وی که هغه اقل میراث وی او که مقر به یا موصی به وی په اتفاق د امام ابو حنیفة او د ده د صاحبینو.

قوله و لو علق الثلاث الخ : که خاوند دری طلاقه د یو شرط پوری معلق کړل دغه شرط بیا په مرض موت د خاوند کی موجود شو که دغه طلاق ئی د داسی یو فعل پوری معلق کړی و چې هغه د بنده څه صنع نوی لکه د یو وخت د راتګ پوری مثلا کله چې ته داخله شوی په رجب میاشت کی نو ته دی طلاقه ئی یا د دوی یعنی د زوجینو نه بغیر یې د بل کس د فعل پوری معلق کړل مثلا که ستا ورور یا څوی راغی ته دی طلاقه ئی ، پدی صورتونو کی ښځه میراث ورلی شی ، مګر که خاوند دغه شرط په صحت کی د مذکور فعل پوری معلق کړی و اوبیا په مرض موت د خاوند کی موجود شی خاوند نه فارګرځی او نه ښځه میراث ورلی شی.

و ان علق بفعل نفسه الخ : که خاوند د ښځی طلاق د خپل فعل پوری معلق کړی ، دغه شرط په مرض موت د خاوند کی موجود شی ښځه به میراث وړی برابره خبره ده که تعلیق په صحت کی وی او که په مرض کی وی برابره خبره ده چې خاوند لره د دغه فعل نه خلاصی وی لکه د اجنبی سړی سره خبری کول او که خلاصی نه وی لکه د طعام خوړل همدارنګه د ماسپښین مونځ د مور او پلار سره خبری کول و غیره.

و ان علق بفعلهافان کانا ای التعلیق و الشرط فی مرضه و الفعل لها منه بد لا ترث و ان لم یکن لها بد منه ترث ، و ان کان ای التعلیق فی صحته لا ترث الا فیما لا بد لها منه عند ابی حنیفة و ابی یوسف خلافا لمحمد و زفر فانها لا ترث عندهما لانه لم یوجد من الزوج صنع بعد ما تعلق حقها بماله هذا عبارة الهدایة و معناها ان امرأة الفار انما ترث ان وُجد من الزوج فی مرض موته صنع فی ابطال حقها بعد ما تعلق حقها بماله بسبب المرض و لم یوجد ذلک صنع لان التعلیق کان فی صحته بل المرأة أبطلت حقها باتیانها بذلک الفعل فجوابهما ان الفعل لا بد لها منه فهی مضطرة الی الاتیان به فصار فعلها مضافا الی الزوج کما فی الاکراه.

تشریح او توضیح : او که طلاق ئې معلق کړ د ښځې د فعل پورې نو که تعلیق او شرط دواړه په مرض موت د خاوند کې ؤ او ښځې لره هم د دغه فعل نه خلاصی ؤ بیا میراث نشي وړلی ځکه ښځې کولی شو چې دغه فعل ونه کړي کله چې دغه فعل وکړ ګویا چې دغه ښځه د طلاقو په واقع کیدو باندې راضي وه نو خاوند فار بالطلاق و نه ګرځیده ، که ښځې لره د دغه فعل څخه خلاصی نه ؤ بیا میراث وړلی شي ځکه چې ښځه اوس د دغه کار کولو ته محتاجه ده دغه کار کول د دې په رضا څه دلالت نکوي ، که تعلیق په صحت کې ؤ او شرط په مرض کې ؤ بیا ښځه میراث وړلی نشي خو که ښځې لره د دغه فعل څخه خلاصی ؤ ځکه د دې فعل په کولو سره د طلاقو په واقع کیدو باندې راضي وه سره د دې چې ښځې چه دې ځان تری ساتلی شو او که دغه ښځې لره د دغه فعل څخه خلاصی نوی د امام ابو حنیفهؒ او ابو یوسفؒ په نزد میراث وړلی شي ځکه خاوند ښځه د دغه کار کولو ته مجبوره کړه پس نسبت د فعل به خاوند ته کیږي ځکه خاوند ذریعه د دې وګرځیده نو خاوند فار بالطلاق وګرځیده ، امام محمد او زفرؒ وائي چې ښځه میراث نشي وړلی ځکه د خاوند څخه په حالت د مرض موت د ده کې څه صنع او کار موجود شوی ندی ځکه تعلیق په صحت کې ؤ -

بعد تعلق حقها بمالها الخ : د ورثوو حق د مورث د مال پورې په حالت د موت د خاوند کې تعلق نیسی یعنی د دې څخه مخکې د ورثوو حق د مورث د مال پورې هیڅ تعلق نلری کله چې مورث په مرض موت مریض شي د ده په مال کې د ورثوو حق پیدا شو همدغه وجه ده چې مورث په مرض موت حالت کې د دریمې حصې نه زیات د ورثوو د اجازې نه بغیر وصیت او احسان کولی نشي -

هذا عبارة الهدية الخ : په هذا کې اشاره ده دې الفاظو ته (لانه لم یوجد من الزوج صنع بعد ما تعلق حقها بماله) - **و معناها الخ** : غرض د شارحؒ بیان د حاصل د اختلاف دی امام محمدؒ او امام زفرؒ وائي چې دغه ښځه میراث وړلی نشي ځکه ښځه د فار هلته میراث وړي چې د خاوند څخه په حالت د مرض موت د ده کې داسې یو کار موجود شي چې د هغې حق پرې باطل شي وروسته د هغې نه چې د دې حق د هغه مال پورې تعلق په سبب د مرض سره ونیسي لیکن د خاوند څخه داسې یو کار موجود شوی ندی ځکه چې تعلیق په صحت کې ؤ بلکه ښځې خپل حق باطل کړ ځکه ښځې دغه کار باندې راتګ وکړ پس میراث نشي وړلی -

فجوابهما الخ : د شیخینو له طرفه جواب دا دی چې دغې ښځې ته د دغه کار نه خلاصی نه ؤ نو ښځه محتاجه وه : دې کار کولو ته نو د ښځې دغه کار نسبت خاوند ته وشو لکه د اکراه په صورت کې مثلا زید عمرو باندې زور واچوو چې د بکر مال تلف کړي ، که عمرو د بکر مال تلف کړ نو تاوان ئې په زید دې ځکه عمرو د زید لپاره یوه آله وګرځیده لکه چاړه د ذابح لپاره پس نقصان د ذابح دی نه د چاړې پس نسبت د تلف به زید ته کیږي همدارنګه پدې صورت کې نسبت د دغه فعل به خاوند ته کیږي (عبد الرشید صافي) -

و في الرجعي ترث في جميع الأحوال.

ترجمه : د طلاق رجعي په ټولو حالاتو کې يعنې که طلاق د هغې په مطالبه وي او که نوي تعليق د ښځې د فعل پورې وي او که د خاوند د فعل پورې او دغه کار نه خلاصي وي او که نوي، ميراث ورلي شي ځکه طلاق رجعي من کل وجه نکاح نه ختموي تر دې چې په عدت کې وطي روا ده او دغه رجعت ګرځي نو سبب د ميراث باقي دي، کذا في البنايه۔

وخُصَّ ارثها بموته في عدتها، ما اذا انقضت عدتهاثم مات لاترث اجماعا، وعبارة المختصر هكذا : و ان علق بينونتها بشرط و وُجِدَ في مرضه ترث ان علق بفعله او بفعلها و لابد لها منه او بغير هما و قد علق في المرض فالحاصل ان التعليق ان كان بفعله ترث مطلقا، و انْ كان بفعلها ولا بد لها منه فكذلك الا انه ان كان التعليق في الصحة ففيه خلاف محمدؒ و زفرؒ و ان كان لها منه بد لا ترث و ان علق بغير فعلهمافان كان التعليق في المرض ترث و الا فلا .

تشريح او توضيح : خاص کړای شوی ميراث د ښځې د خاوند د مرګ پورې د ښځې په عدت کې يعنې ښځه هلته ميراث ورلي شي چې د دې خاوند د دې په عدت کې مړ شي او که د عدت تيريدو څخه وروسته مړ شي بيا بالاتفاق د امام ابو حنيفهؒ او د امام شافعيؒ په نزد ميراث ورلي شي۔

قوله و عبارة المختصر الخ : شارحؒ د مختصر عبارت د دې لپاره رانقل کړ چې فرار په طلاق بائن کې راځي نه په طلاق رجعي کې او يو دوه او درې طلاقه په حکم کې سره برابر دي بل دا چې سره د اختصار نه پکې همدغه موضوع بيان شوي يعنې که خاوند د ښځې طلاق د يو شرط پورې معلق کړ او دغه شرط په مرض موت د خاوند کې موجود شي ميراث به ورې خو که طلاق ئې د خپل فعله پورې معلق کړې ؤ، يا د ښځې د فعله پورې او ښځې لره د هغه فعل د کولو نه خلاصي نه ؤ يا د زوجينو د فعل نه بغير د بل فعله پورې ئې طلاق معلق کړې ؤ حال دا چه دا تعليق په مرض کې ؤ، حاصل د عبارت د مختصر دا شو چې که تعليق د خاوند له فعله پورې ؤ ښځه مطلقا ميراث ورلي شي يعنې که تعليق په صحت کې وي او که په مرض کې برابره خبره ده چې خاوند لره د دغه فعل څخه خلاصي وي او که نوي۔

که تعليق د ښځې د فعل پورې ؤ او دغې ښځې لره د دغه فعل نه خلاصي نه وو او تعليق هم د مرض په حالت کې ؤ بيا ميراث ورلي شي که تعليق په صحت کې ؤ او ښځې لره د دغه فعل څخه خلاصي نوي د امام ابو حنيفهؒ او امام ابويوسفؒ په مذهب بيا هم ښځه ميراث ورلي شي او د امام محمد او امام زفر په نزد ميراث ورلي نشي و وجهها ايضاً قد مر۔ او که ښځې لره د دغه فعل څخه خلاصي ؤ بيا ميراث ورلي نشي برابره خبره ده که تعليق په صحت کې وي او که په مرض کې، که د زوجينو نه بغير ئې د بل چا د فعل پورې طلاق معلق کړې ؤ اوس که تعليق د مرض په حالت کې ؤ بيا ښځه ميراث ورلي شي او که د مرض په حالت کې تعليق نه ؤ نو ميراث ورلي نشي۔

باب الرجعة

باب دی په بیان د رجعت کی

مصنفؒ باب د رجعت د طلاق څخه وروسته څکه راوړ چې رجعت طبعا د طلاق څخه وروسته وی وضع نی وروسته راوړه د دی لپاره چې وضع د طبعی سره موافق شی او رجعت په فتحی د را سره راځی او په کسری سره هم راځی خو افصح لفظ نی دادی چې په فتحی سره راشی ، رجعت په لغت کی په معنی د رد سره راځی او استعمال نی متعدی هم راځی لکه رَجَعْتہ الی اھلِه ای رددته او لازمی هم راځی لکه رجع الی اهله ۔

فقهاؤ د دی تعریف داسی کړی دی چې : استدامة الملك القائم من وجهٍ ۔ د رجعت لپاره پنځه شرائط دی (۱) لفظ د طلاقو به صراحةً مخکی ذکر وی یا د بعض کنائی الفاظو چې ذکر نی مخکی شوی (۲) د طلاقو په عوض او بدله کی به مال نوی (۳) دری طلاقه واقع نکړی څکه د دری طلاقو څخه وروسته بیا رجعت نه صحیح کیږی (۴) ښځه به مدخول بها وی څکه غیر مدخول بها په یو طلاق سره هم بائنه کرځی (۵) عدت به موجود وی د عدت تیریدو څخه وروسته رجعت نه صحیح کیږی ، دغه ټول شرائط د متن څخه معلومیږی ۔ هذا بعض ما اورته من فتح القدیر والعنایه و حاشیة الچلبی ج۴ص۱۴ ۔ و من العینی شرح الکنز بحوالة تاج الهدایة بلغة البشتو ج۷ ص۱۹۶ ۔

هی فی العدة لا بعدها لمن طُلِّقَتْ دون ثلاث ای فی الحرة اما فی الامة فلا رجعة الا فی الواحدة و ان ابت بنحو راجعتُكِ و بوطيها و مسِّها بشهوة و بنظرة الی فرجها بشهوة هذا عندنا اما عند الشافعیؒ فلا تصح الا بالقول و نُدِبَ اشهاده علی الرجعة و اعلامها بها ای اعلام الزوج ایاها بالرجعة ، و ان لایدخل عليها حتی یستأذنها ان لم یقصد رجعتها .

انجاح الحجة فی بیان الرجعة

رجعت خاوند لره جائز او ثابت دی په زمانه د عدت کی او د عدت تیریدو څخه وروسته ورته جائز ندی او رجعت د خاوند حق دی په نص سره ورته ثابت دی که فرضا خاوند رجعت باطلوی بیا هم نه باطلیږی تر دی پوری که ښځی ته طلاق ورکړی او ورسره ووائی چې زما لپاره به بیا رجعت هم نوی ، یا ما خپل رجعت باطل کړی بیا هم خاوند د رجعت ملکیت لری بل دا چې د عدت څخه مراد عدت د دخول دی نه عدت د خلوت څکه خلوت صحیحه اگر چې په حکم د وطی کی دی په وجوب د عدت کی لکن رجوع په خلوت کی نه صحیح کیږی ، کذا ذکره ابن الصلاح فی الاکمال ، رجعت د هغی ښځی لپاره ثابت دی چې هغه د دری طلاقو څخه په کمو سره طلاقه شوی وی او په طلاق رجعی سره څکه طلاق رجعی دوه دی د دری طلاقو وروسته رجوع شی کیدی ، بل دا چې طلاق بائن به نوی څکه د یو طلاق بائن نه وروسته هم رجعت نه صحیح کیږی ۔

دوه طلاق رجعی د حری ښځې په باره کې دی د وینزې په باره کې طلاق رجعی یو دی یعنی د یو طلاق څخه وروسته رجوع کیدای شي او د دوو څخه وروسته نشي کیدای ځکه دوه طلاقه د وینزې په حق کې طلاق مغلظ دی چې د هغې څخه وروسته تحلیل ته ضرورت دی ، کما مرّ ۔ لکه څرنګه چې په طلاق کې د ښځې رضاء شرط نه ده همدارنګه په رجعت کې هم شرط نده اګر چې ښځه انکار وکړی او په رجعت راضي نوی او خاوند ورته رجوع وکړی نو رجوع ئې بلکل صحیح ده ځکه الله تعالی فرمائی (فأمسکوهن بمعروف ۔ الایه) یعنی د ښځې د رضا او نه رضا څه شرط ئې پکې لګولي ندی کذا فی الکفایه ج۴ ص۱۵۔

قوله بنحو راجعتکِ الخ : مراد د دینه دا دی چې هغه الفاظ چه دلالت په رد او رجعت کوی لکه دا مذکور الفاظ نو پدی سره رجعت ثابتیږی او نیت ته پکې ضرورت نشته ځکه صریح الفاظ دی، لیکن رجعت په دوه قسمه دی (۱) بالقول او (۲) بالفعل ۔ د احنافو په مذهب رجعت بالقول او بالفعل دواړه صحیح دی او د امام شافعیؒ په نزد په بالقول سره صحیح کیږی نه په بالفعل خو هلته چې په قول قادره وی او که ګونګی ؤ نو بیا د هغه رجعت بالاشاره هم صحیح کیږی ، لکن د کفائی والا وائی چې (ذکر فی المحیط اذا اراد الرجل ان یراجع امرأته فالاحسن ان یراجعها بالقول لا بالفعل لان صحة المراجعة بالقول متفق علیها و بالفعل مختلف فیها . الکفایة ج ٤ ص ١٤) مستحب طریقه دا ده چې بالقول وی، د بالقول مثال لکه راجعتکِ یعنی ما تاته رجوع کړی یا داسې نور الفاظ او د رجعت بالفعل مثال چې په کوروالی سره وکړی یا په شهوت سره ورته لاس وروړی ځکه بغیر د شهوت نه لاس وروړلو سره رجعت نه ثابتیږی ، یا د دې فرج داخل ته په شهوت سره نظر وکړی پدی سره د احنافو په نزد رجعت ثابتیږی ۔

قوله و نُدِبَ الخ : مستحب طریقه ده چه خاوند کله رجوع کوی خپلې معتدی ته نو چې دوه ګواهان عادلان مسلمانان نارینه یا یو سړی او دوه زنانه په رجعت باندی ګواه کړی چې له طلاق ورکولو څخه وروسته پده تهمت ونه لګی چې دی له مطلقې ښځې سره بغیر له رجعت نه وخت تیروی نو په ګواهانو نیولو سره به له تهمت څخه محفوظ شي او ګواهانو ته به ووائی چې تاسې ګواه اوسئ چې ما خپلې ښځې ته بیرته رجوع وکړه لیکن د ګواهان اودرول مستحب طریقه ده که فرضا بغیر له ګواهانو قائمولو څخه رجعت وکړی رجعت ئې بلکل صحیح دی ، د امام شافعیؒ په یو قول بغیر له اشهاد نه رجوع نه صحیح کیږی ، دا د امام مالک یو قوم هم دی لیکن د امام مالک نه تعجب دی چې په ابتدا د نکاح کې ئې اشهاد شرط کړی ندی او په رجعت باندی ئې شرط ګرځوی کذا فی العنایه ج ۴ ص۱۷، و تاج الهدایه ج۷ ص۲۰۱ ۔

و اعلامها الخ : خاوند به دغه معتده ښځه په خپل رجعت خبروی چې ما تاته رجوع کړی ، د دی لپاره چې د عدت څخه وروسته بل چا سره نکاح ونکړی چې ښځه به په لویه ګناه کې واقع شي ، ځکه د دی د ناخبری په وجه به د بل سره د نکاح کولو څخه وروسته کیدای شي چې وطی هم وکړی نو معصیت

کی به داخله شی که خاوند ښځه په رجعت هم خبره نکړه نو بیا هم رجعت ته څه نقصان نه رسیږی او رجعت بلکل صحیح دی کذا فی الکفایه ـ

و ان لا یدخل الخ : که چیرته خاوند قصد د رجعت نه وُ نو خاوند به د دغه معتدی ښځی کورته بغیر د هغی د اجازته نه داخلیږی یعنی چې کورته داخلیږی په داسی طریقه به داخل شی چې هغه خبره شی چه خاوند می راغی لکه په بعضی نسخو کی د ایذان یعنی د خبرولو لفظ راغلی چې هغه په غاړه تازه کولو یا په اواز کولو او یا د پیزار په ټکولو سره چې خبره کړی . د دی لپاره چې ګله په صرف نظر سره بغیر له قصد نه هم رجعت راځی نو بیا به خاوند دوباره طلاق ورکولو ته محتاج وی نو په ښځه به عدت اوږد شي او دا لوی جرم دی ـ

و لو ادعی بعد العدة الرجعة فیها و صدقته فهو رجعیة و ان کذبته فلا ، و لا یمین علیها عند ابی حنیفةؒ فان الرجعة من الاشیاء التی لا یمین فیها عند ابی حنیفةؒ ، و ان قال راجعتكِ فقالت مضت مدَّتِی فلا رجعة ای ان کانت المدة مدة تحتمل انقضاء العدة فالمرأة تُصَدَّقُ فی اخبارها بانقضاء العدة و هذا عند ابی حنیفةؒ ، و اما عندهما فتصح الرجعة لانها لم تخبر قبل الرجعة بانقضاء العدة فالظاهر بقاؤها کما فی زوج امة أُخبِرَ بعد العدة بالرجعة فیها لسیدها فصدقه و کذبته ، فان القول قولها عند ابی حنیفةؒ و اما عندهما فالقول قول المولی أو قال راجعتُكِ فقالت مضت عدتی و انکرا ای الزوج والسید بمضی العدة .

تشریح او توضیح : که خاوند دعوه وکړه پس د عدت د تیریدو نه د رجوع کولو ښځی ته په عدت حالت کی چې ما تاته د عدت په حالت کی رجوع کړی او ښځی تصدیق د خاوند د خبری وکړ نو دا رجعت شو او که دواړه په حقیقت کی دروغجن وُ بیا دیانةً رجعت نه ثابتیږی ، که ښځی د خاوند تکذیب وکړ چې ته دروغ وائی نو رجعت نه ثابتیږی مګر که خاوند ګواهان په رجعت قائم کړی بیا ثابتیږی که خاوند ګواهان قائم نه کړل نو په ښځه باندی قسم نشته اګر چې ښځه منکره ده او منکر ته قسم دی لکه په حدیث مبارک کی چې راغلی (والیمین علی من انکر) لکن پدی صورت کی د امام ابو حنیفهؒ په نزد دغی ښځی ته قسم نشی ورکولی ځکه د امام ابو حنیفهؒ په نزد رجعت د هغه اشیاؤ څخه دی چې په هغی کی قسم نشته یعنی که مدعی ګواهان قائم نکړی نو منکر ته پدی اشیاؤ کی قسم نشی ورکولی چې هغه نهه شیان دی دوه پکی اتفاقی دی چې د امام ابو حنیفهؒ او د صاحبینو په اتفاق سره پکی قسم نشی ورکولی چې هغه حدود او لعان دی ـ

مثلا یو سړی بل ته ووائی چې زما په تا حد قذف دی هغه بل انکار وکړی نو بالاجماع به قسم

منكر ته نشي ورکولی ځکه حدود په شبهاتو سره ختمولی شي ، او د لعان مثال لکه ښځه په خاوند دعوه وکړي چې تا په ما داسې تهمت لګولی چې په هغې سره لعان لازم دی او خاوند انکار وکړي نو بالاجماع منکر ته قسم نشي ورکولی ځکه دا هم په معنی د حد کی دی ، او نور اوه (٧) شیانو کی د امام ابو حنیفةؒ په نزد قسم ورکولی نشي او د صاحبينو په نزديې ورکولی شي چې هغه دا دی (١) نکاح چې ښځه یا سړی د نکاح دعوه وکړي او يو يکی منکر وی نو منکر ته به قسم نشي ورکولی (٢) رجعت چې خاوند یا ښځه د رجوع في العدة دعوه وکړي او يو يکی منکر وی نو منکرته هم قسم نشته (٣) والفيء في الايلاء ۔ يعنی رجوع په ايلاء کی په ښځه او خاوند کی يوه دعوه وکړه چې په مده د ايلاء کی رجوع شوی او بل انكار کوی نو منکر ته قسم نشته (٤) په رق کی يعنی يو سړی مجهول النسب وی يعنی نسب ئی معلوم نوی او بل پری دعوه وکړي چې دا زما غلام دی او هغه انکار کوی یا مجهول النسب والا دعوه د غلامی کوی چې زه ستا غلام يم او بل انکار کوی نو منکر ته به قسم نشي ورکولی ۔

(٥) والاستيلاد يعنی ام ولده ګرځول مثلا يوی وينځی په خپل مولی دعوه وکړه چې زما دا بچی له تانه دی او مولی ئی انکار کوی نو په مولی قسم نشته د دی مسئلی عکس ځکه راځی چه مولی دعوه د دی وکړي ځکه استيلاد صرف د مولی په اقرار ثابتيږی نو دعوی ته څه ضرورت دی ۔

(٦) والنسب او په نسب کی قسم نشي ورکولی مثلا پلار په بچی دعوه وکړه چې دا زما بچی دی او د ده نسب له ما څخه ثابت دی او بچی ئی انکار کوی نو منکر ته قسم نشته (٧) والولاء او په میراث کی يو سړی په معروف النسب والا باندی دعوه وکړه چه دا زما مُعتق دی او يا د دی بر عکس وی نو پدی صورت کی منکر ته قسم نشته ، كذا في البنايه ج٩ ص ٣٣٠ ، الصبح النوری شرح پشتو مختصر القدوری ج٢ ص٣٠٣ كتاب الدعوی ۔ قال الچلپی قال الزيلعي قال القاضي فخر الدين الفتوی على انه يستحلف المنكر في الاشياء الستة يعنی في هذه التي عدها سوی الحدود و اللعان انتهی ۔

انما قال في الاشياء الستة نظرا الی اتحاد النسب و الاستيلاد انتهی . فتح القدير مع حاشية الچلپی ج٧ ص ١٦٩ ۔

اقول فلا تخفی عليك دقة ا لعبارة : د سابقه عبارت او تشريح څخه دا يو شک او شبهه زړه ته راځی چې ګويا امام ابو حنيفه حديث مشهور چې (واليمين على من انكر) دی ترک کړ په رای سره نو دا شک کول بی ځايه دی ځکه صاحب الكافي وائی چې د دی حديث مشهور څخه حدود او لعان خاص شوی نو دا هم جائز ده چې تخصيص د دی نورو صورتونو هم د حديث نه په قياس سره وشی ، صاحب العنايه وائی چې امام ابو حنيفةؒ انتفاء د وجوب د يمين نده کړي بلکه هغه وائی چې په حدودو کی کله په يمين سره څه فائده مرتبه نشوه نو پدی نورو صورتونو کی په يمين سره هم څه فائده نه مرتب کيږی ، فتح القدير ج٧ ص١٧٤ ۔

قوله و ان راجعتک، الخ : که خاوند ښځی ته وویل چې ما تاته رجوع وکړه ښځی فورا ورته وویل چې زما د عدت موده خو تیره شوی نو رجعت ثابت نه شو او که ښځی فورا جواب ورنکړ بلکه لګ وخت چپ شوه بیائی وویل چې زما عدت خو تیر شوی دی نو بالاتفاق رجعت صحیح شو ځکه ښځه د سکوت په وجه او فورا د جواب نه ورکولو په وجه متهمه شوه ، که ښځی د خاوند د وینا څخه مخکی ورته وویل چې زما عدت تیر شوی او بیا خاوند ورته وویل چې ما خو تاته رجوع کړی نو بالاتفاق د ښځی قول ته به اعتبار وی او که دواړو یو ځای خبری راویستی نو بیا هم رجعت نه ثابتیږی ، کذا فی الفتح -

او د متن په مسئله کی چې د ښځی قول ته اعتبار دی یعنی که دغه موده دومره وه چې احتمال د عدت د تیریدو پکی ؤ مثلا دری حیض اوبیا دری میاشتی وی یا زیاتی نو بیا د ښځی دا خبره چې زما عدت تیر شوی تصدیق کولی به شی خو سره د قسمه یعنی ښځی ته به قسم ورکولی شی او که د قسم څخه ئی انکار وکړو نو بیا رجعت ثابت شو په مخکی صورت کی د امام صاحب په نزد په رجعت کی قسم نه ؤ او دلته شته دی د دی وجه څه ده ؟ وجه د فرق ئی دا ده چې الزام د یمین د فائدی د نکول یعنی انکار لپاره راځی او دغه نکول د امام صاحب په نزد بذل دی او په رجعت کی بذل نه راځی - و تفصیله فاطلب فی کتاب الدعوی فی باب الیمین - پدی صورت کی ښځی ته بالاتفاق به قسم ورکولی شی دا ځکه چې په عدت کی د تزوج نه امتناع وی او د خاوند په کور کی حصاریدل وی او پدی کی بذل راتلای شی نو د دی وجی نه پدی ځای کی قسم راغی ، کذا حققه الزیلعی وابن الهمام قاله الچلپی فی حاشیته ج۴ ص۱۸، د صاحبینو په نزد د متن پدی صورت کی رجعت صحیح دی ځکه دغی معتدی ښځی خپل خاوند ته مخکی د رجعت څخه خبر نه ؤ ورکړی چه زما عدت تیر شوی نو ظاهره دا ده چې د دی عدت باقی ؤ -

امام ابو حنیفهؒ وائی چې دلته تهمت ته اعتبار نشته ځکه دا ښځه د خپل ځان په حق کی امینه ده نو د دی وینا ته به اعتبار وی لکه د وینزی په صورت کی چې د یو سړی وینځه وه او بل ته ئی په نکاح کړه نو خاوند ئی طلاق ورکړ بیا د دی وینزی خاوند د وینزی بادار ته خبر ورکړ پس د عدت تیریدو نه چې ما د عدت په وخت کی بیرته خپلی ښځی ته رجوع کړی ، نو بادار تصدیق د وینزی د خاوند وکړ چې ته رښتیا وائی او دغی معتدی وینزی تکذیب د خپل خاوند وکړ چې ته دروغ وائی ما ته تا په عدت کی رجوع نده کړی نو د امام ابو حنیفهؒ په نزد د ښځی وینا ته اعتبار دی او د صاحبینو په نزد د بادار وینا ته اعتبار دی صاحبین وائی چې بادار په هغه شی اقرار وکړ کوم چې خالص حق د ده ؤ نو د ده اقرار ته به اعتبار وی لکه څرنګه ئی چې په وینزه باندی اقرار په نکاح سره کړی ؤ ، امام ابو حنیفهؒ وائی چې د رجوع صحی والی او نه صحی والی تر قیام او وجود د عدت پوری او د انقضاء او ختمیدو د عدت پوری مبنی او متعلق دی یعنی که عدت موجود ؤ نو رجوع صحیح ده او که عدت موجود نه ؤ نو رجوع صحیح نده او ښځه به امینه ګرځولی شی ، او کوم

خبرنی چې د عدت د تیریدو ورکړی هغه به منلی شی د مولی وینا ته پدیکی هیڅ اعتبار نشته ۔
که پدی صورت کی مولی د ده تکذیب کوی او وینزه ئی تصدیق کوی نو بیا بالاتفاق د مولی وینا ته اعتبار دی فرق په دواړو مسئلو کی د امام ابو حنیفهؒ په نزد دا دی چې په وروستی صورت کی د ښځی عدت تیر شوی فی الحال او خاوند وینزی ته خبر د عدت تیریدو ځخه وروسته ورکړ نو په ملک متعی کی د مولی حق پیدا شو نو د مولی وینا ته به اعتبار وی او د ښځی وینا ته اعتبار نشته چې د مولی د حق ابطال وکړی او په اول صورت کی چې مولی تصدیق په رجعت باندی وکړ نو ده په خپله اقرار په قیام د عدت سره وکړ په وخت د رجعت کی او دعدت سره د مولی ملک او حق نه ظاهریږی ، کذا فی الهدایه ۔ او قال الخ : یا خاوند دغی وینزی ته ووائی چې ما تاته رجوع وکړه وینزی فورا وویل چې زما عدت خو تیر شوی نو خاوند د دی وینزی او بادار د دی دواړو انکار وکړو چې عدت ندی تیر شوی د امام ابو حنیفهؒ په نزد بیا هم د ښځی قول ته اعتبار دی ۔

و ان انقطع دم آخر العدة لعشرة ایام تمت و لاقل منها لا حتی تغتسل او یمضی علیها وقت فرض او تتیمم فتصلی ، و لو نسیت غسل عضو راجع و فیما دونه لا ، ای نسیت غَسْلَ ما دون العضو فحینئذٍ لا تصح الرجعة لانه لا اعتبار لما دون العضو فکانها اغتسلت و مضت عدتها .

تشریح اوتوضیح : او که د آخر عدت وینه ودریده چې هغه دویم حیض دی په (امه) کی او دریم حیض دی په (حره) کی نو که حیض لس (۱۰) ورځی ؤ او لس ورځی حیض هم مکلمل شو نو عدت ختم شو او رجعت هم ختم شو د عدت تیریدو ځخه وروسته نشی کیدای ، او که د حیض لس ورځی مکملی نه شوی بلکه د لسو نه مخکی حیض و دریده نو عدت پوره ندی او رجعت هم ختم ندی تر دی پوری چې غسل وکړی او یا د یو فرضی لمونځ وخت مکمل تیر شی او که اوبه نوی نو چې تیمم وکړی او بیا فرضی یا نفلی مونځ اداء کړی ځکه چې د لسو ورځونه مخکی بیا احتمال د راګرځیدو د حیض شته ۔
قوله و لو نسیت الخ : او که د حیض ځخه ئی غسل کوه او د یو اندام وینځل ئی لکه لاس مثلا هیر شو نو خاوند ته رجوع کول صحیح دی چې رجوع وکړی ځکه مکمل غسل موجود نشو او که د یو اندام نه ئی کم هیر شو مثلا یوه ګوته نو پدی صورت کی رجعت نه صحیح کیږی ځکه د یو اندام نه کم ته اعتبار نشته ګویا چې دغی ښځی مکمل غسل وکړ او عدت ئی تیر شو ۔

و لو طلق حاملا او من ولدت منکرا وطیها فله الرجعة ای طلق امرأته وهی حامل فانکر وطیها فله الرجعة .

بیان : یو سړی خپله ښځه طلاقه کړه او ښځه ئی حامله وه د طلاق وخت کی ، د وطی کولو نه ئی انکار وکړ چې ما ورسره وطی نده کړی او چې دا حمل ئی له ما ځخه ندی نو خاوندته حق د رجوع شته ۔

او يائي ښځي بچي راوړ او د بچي پيدا کيدو څخه وروسته ئي طلاق ورکړ او خاوند منکر و د دی د وطی کولو نه يعني چه ما ورسره وطی نده کړی يعني دا بچي له مانه ندی نو خاوند ته په موده د عدت کی د دی طلاقو نه وروسته رجوع صحی ده په دواړو صورتونو کی . يعني د حمل او ولادت په صورت کی چې خاوند د وطی نه انکار کوی چې دا حمل اودابچي له ما څخه ندی نوشريعت خاوند دروغجن وګڼه ، او د ده انکارته ئي هيڅ اعتبار ورنکړ ځکه حديث مبارک کی راغلی چې ولد يعني بچي د فراش لپاره وی يعني د صاحب الفراش لپاره وی يعنی چې يو سړی د يو ښځی سره نکاح وکړی او د شپږو مياشتو نه وروسته بچي پيدا شی نو دا به د ده بچي وی اګر که خاوند تری انکار کوی چې دا زما بچي ندی -

اقول في قوله فله الرجعة تساهل لان وجود الحمل وقت الطلاق انما يعرف اذا ولدت لاقل من ستة اشهر من وقت الطلاق فاذا ولدت انقضت العدة فلا يملك الرجعة فيكون المراد بالرجعة الرجعة قبل وضع الحمل فيكون المراد انه ان راجع قبل وضع الحمل فولدت لاقل من ستة اشهر يحكم بصحة الرجعة السابقة و لا يراد انه يحل له الرجعة قبل وضع الحمل لانه لما انكر الوطي والشرع لا يحكم بوجود الحمل وقت الطلاق بل انما يحكم اذا ولدت لاقل من ستة اشهر من وقت الطلاق فلم يوجد تكذيب الشرع قبل وضع الحمل فالصواب ان يقال و من طلق حاملا منكرا وطيها فراجعها فجاء ت بولد لاقل من ستة اشهر صحت الرجعة ، واما مسئلة الولادة فصورتها انه طلق امرأته التي ولدت قبل الطلاق منكرا وطيها فله الرجعة ، و انما تصح الرجعة في مسئلتي الحمل والولادة مع انكاره الوطي لان الشرع كذبه في انكاره الوطي لان الولد للفراش.

تشريح او توضيح : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره راوړل د يو اعتراض دی په عبارت د مصنفؒ باندی هغه داسی چې عبارت د مصنفؒ څخه مقصود صفا نه معلوميږی او مصنف پکی تساهل او چشم پوشی کړی ده هغه داسی چه کله سړی خپله ښځه طلاقه کړه او ښځه ئی حامله وه او خاوند انکار هم د وطی نه وکړی چې ما له دی سره جماع نده کړی ، او دا حمل هم زما څخه ندی نو د خاوند په ګمان رجعت نه صحی کيږی ځکه چې رجعت په عدت کی وی او د غير مدخول بها لپاره عدت نشته دی او د مصنفؒ د دی عبارت څخه دا معلوميږی چې ده لره رجعت شته او د ده زعم لره اعتبار نشته ، او دا خبره صحيح نه ښکاری ځکه شريعت د ده تکذيب ندی کړی ځکه وجود د حمل په وقت د طلاق کی يقيني طور هلته معلومولی شی چې ښځه د وخت د طلاق څخه اخوا د شپږو مياشتو نه مخکی بچي راوړی نو معلومه به شی چې دغه په وخت د طلاقو کی حامله وه نو کله ئی چې بچي راوړ نو عدت په وضع د حمل سره ختم شو او د عدت نه وروسته رجعت نه صحی کيږی نو د مصنف د کلام معنی او توجيه څه شوه ؟

بيا به توجيه د مصنف د کلام دا شي چې مراد د رجعت نه قبل وضع الحمل دی يعنی که خاوند د وضع د حمل نه مخکې ښځې ته رجوع وکړی او بيا ښځه د شپږو مياشتو نه مخکې بچې راوړی نو بيا به حکم او فيصله کولی شی چې دا مخکنی رجعت چې کوم په حالت د حمل کی واقع ؤ نو هغه صحيح دی او دا خبره نه صحيح کيږی چې ده ته مخکې د وضع د حمل څخه رجعت روا دی ځکه چې کله خاوند د وطی نه انکار وکړ او شرع په وخت د طلاق کی په وجود د حمل باندی فيصله نکوی بلکه هلته فيصله کوی چې کله ښځه د وخت د طلاقو نه د شپږو مياشتو نه مخکې بچې راوړی نو شريعت د ده تکذيب ونکړ مخکې د وضع د حمل نه او کله چې شريعت د ده تکذيب ونکړ نو د ده انکار صحی ثابت شو نو بيا رجعت څنګه ورته روا دی ؟

نو بايد چې مصنف داسی ويلی وائی چې چا ښځه طلاقه کړه او حال دا چې ښځه حامله وه او سړی انکار کوه : وطی کولو د دينه او بيا هم دغه خاوند ورته رجوع وکړه او ښځی د شپږو مياشتو څخه مخکې بچې راوړ ، و سابقه رجعت ئی صحيح شو نو مصنف به د اعتراض نه بچ شوی ؤ .

و اما مسئلة الولادة الخ . د دی مسئلی تفصيل د دی مذکور اعتراض نه مخکې بيان شوی فلانعيده ثانيا والله الموفق .

و ان خلا بها فانكر فلا ای لا تصح رجعتها لانه انكر الوطی و لم يوجد تكذيب الشرع نكاره فيكون انكاره حجة عليه ، و انما يتأكد المهر بالخلوة لانها سلمت المعقود عليه لا لأنه قبض المعقود عليه بان وطيها ، فإن طلقها فراجعها فجاء ت بولد لاقل من سنتين صحت ، هذه المسئلة متعلقة بمسئلة الخلوة صورتها انه خلا بامرأته و انكر وطيها ثم طلقها فراجعها الی آخره فانها اذا ولدت لاقل من سنتين من وقت الطلاق يثبت نسب هذا الولد منه اذ هی لم تقرّ بانقضاء العدة والولد يبقی فی البطن فی هذه المدة فلا بُدَّ من ان يُجعل الزوج واطيا قبل الطلاق لا بعده لانه لو لم يطأ قبل الطلاق يزول الملك بنفس الطلاق فيكون الوطی بعد الطلاق حراما فيجب صيانة فعل المسلم عنه فاذا جعل واطيا قبل الطلاق تصح الرجعة .

وضاحت : او که د ښځی سره ئی خلوت يعنی ځانته والی وکړ بيائی طلاق ورکړ او د ښځی د وطی کولو څخه منکر ؤ يعنی چې ما ورسره جماع نده کړی نو اوس که خاوند رجوع کوی نو رجوع ئی صحی نده ځکه چې سړی په خپل اقرار نيولی شی او شرعی هم د ده د انکار تکذيب ندی کړی او ده په خپل ځان اقرار وکړ چې ما وطی نده کړی له دی سره ، او رجعت په هغه عدت کی صحی کيږی چې هلته جماع شوی وی او په عدت الخلوت کی رجعت نه صحی کيږی او په مخکنی دوه مسئلو د حمل او ولادت

کی هم خاوند اقرار کړی ؤ لکن هلته حمل او ولادت اقرار لره باطل وګرځوه او په دی مسئله کی دا نشته ـ

قوله و انما یتأکد الخ : دا دفع د یو اعتراض ده هغه داسی چې د مهر وجوب چې راځی نو په خلوت سره راځی همدارنګه کمال د مهر هم په خلوت سره راځی دا دلالت پدی کوی چې خلوت قائمقام د وطی دی؟ نو شارح جواب وکړ چه دا د دی وجی ځخه نه ده چې خلوت مستلزم دی وطی لره او یا خلوت من کل وجه په حکم د وطی کی دی بلکه دا د دی وجی ځخه چې ښځی معقود علیه یعنی منافع د خپلی بضع خاوند ته سپارلی ؤ او منع کړی ئی تری نه وو ، او د دی وجی ځخه نه چې خاوند معقود علیه قبضه کړی ؤ یعنی وطی ورسره کړی وه ـ

فان طلقها الخ : دا مسئله هم د مخکنیې مسئلې پوری تعلق لری یعنی هغه ښځه چې خاوند ورسره خلوت کړی ؤ او بیائی د وطی نه انکار کړی ؤ بیائی طلاق ورکړ بیائی رجوع ورته وکړه بیا دغی ښځی د طلاقو ځخه وروسته د دوو کلو ځخه په کمه موده کی بچی راوړ نو سابقه رجعت ئی صحی شو ځکه معلومه شوه چې ښځه مدخول بها وه او رجعت په عدت کی ؤ ، او د دغه بچی نسبت د دغه خاوند ځخه ثابت شو ځکه ښځی اقرار ندی کړی چې زما عدت تیر شوی او بچی خو د مور په ګیډه کی تر دی مودی پاتی کیدای شی نو معلومه شوه چې خاوند له دغی سره وطی قبل الطلاق کړی وه نه بعد الطلاق ځکه چې که خاوند قبل الطلاق ورسره وطی نوی کړی نو بیا خو خاوند که بعد الطلاق ورسره وطی وکړی نو دا خو بیا زنا شوه ځکه چې غیر مدخول بها په نفس طلاق سره بائنه ګرځی ، او د خاوند ملک تری ختمیږی او د ملک د ختمیدو ځخه وروسته وطی کول حرام دی نو پکار ده چې د مسلمان فعل د حرامو ځخه وساتلی شی یعنی په مسلمان بنه ګمان پکار دی نو چې کله خاوند قبل الطلاق وطی کونکی وګرځیده نو رجعت به صحی شي ـ

و لو قال اذا ولدتِ فانتِ طالقٌ فولدت ثم آخر ببطنین فهو رجعة المراد ببطنین ان یکون بین الولادة الاولی والثانیة ستة اشهر او اکثر اما اذا کان اقل یکون ببطن واحد ، و انما تثبت الرجعة لانها طلقت بالولادة الاولی ثم الولادة الثانیة دلت علی انه راجعها بعد الولادة الاولی لیکون الوطی حلالا ، اما اذا کانت الولادتان ببطن واحد لا تثبت الرجعة لان علوق الولد الثانی کان قبل الولادة الاولی .

تشریح او توضیح : که یو سړی خپلی ښځی ته ووېل چې که تا بچی راوړ نو ته دی طلاقه ئی نو که هغی ښځی بچی وزیږوه بیا ئی بل وزیږوه په دوه ګیډو سره نو دا دویم بچی به رجعت حسابیږی ، مراد د بطنینو دا دی چې د اول ولادت او دویم ولادت تر منځ شپږ میاشتی یا زیاتی وی او که د شپږو میاشتو نه کم وی نو دا به بطن واحد وی ، نو په دویم بچی سره رجعت ځکه ثابتیږی چې ښځه په اول ولادت سره

طلاقه شوه او کله ئی چې دويم بچی راوړ نو معلومه شوه چې خاوند ښځی ته د اول ولادت نه وروسته رجعت کړی او علوق د ولد ثانی په وطی حادثی سره راغلی پس له طلاقه او وطی په زمانه د عدت کی رجعت حسابيږی او رجوع پس له ولادت اولی ځخه ځکه ثابته شوه چې وطی حلاله راشی ځکه د مطلقی ښځی وطی کول بی له قصد د رجعت ځخه حرامه ده و هو بعيد عن شأن المسلم ۔

او که دوه بچی ئی په يوه ګيډی سره راوړ يعنی د دواړو بچو تر منځ د شپږ مياشتو نه کمه موده وه نو بيا رجعت نه ثابتيږی ځکه چې علوق د ولد ثانی د اولنی بچی د ولادت نه مخکی ؤ ځکه چې ماشوم د شپږو مياشتو ځخه مخکی نه پيدا کيږی نو معلومه شوه چې علوق د ولد ثانی د ولادت د اول بچی ځخه مخکی ؤ فلا يدل ذلك علی وطی حادث بعد الولادة الاولی ليكون رجعة ۔

> و فی كلما ولدتِ فولدت ثلاثة ببطون يقع الثلاث والولد الثانی رجعة كالثالث و عليها العدة بالحيض ای عدة الطلاق الثالث الذی وقع بالولادة الثالثة ،و مطلقة الرجعی تتزين ليرغب الزوج فی رجعتها و لا يسافر بها حتی يُشهِد علی رجعتها وله وطيها هذا عندنا و اما عند الشافعیؒ لا يحل وطی مطلقة الرجعی حتی يراجع بالقول و عندنا الوطی يصير رجعة .

تشريح او توضيح : يو سړی خپلی ښځی ته وويل چې هر کله تا بچی راوړ نو ته دی طلاقه ئی نو دغی ښځی دری بچی راوړه په مختلفو ګيډو سره يعنی د هر يو بچی تر منځ شپږ مياشتی يا زياته موده وه نو دری واړه طلاقه واقع شول خو کله چې ښځی اول بچی راوړ نو يو طلاق واقع شو او ښځه معتده وګرځيده او په دويم بچی سره خاوند بيا رجوع کونکی وګرځيد ځکه دا علوق د ولد ثانی په وطی حادثی سره په عدت کی وګرځولی شو نو کله ئی چې دا دويم وزيږوه نو دويم طلاق واقع شو ځکه د کلمی د کلما سره چې د تکرار لپاره راځی يمين ترلی شوی ، او په دريم ولد سره بيا رجوع کونکی شو او کله ئی چې دريم بچی وزيږوه نو دريم طلاق هم واقع شو نو اوس ښځه د دی دريم طلاق عدت په حيض سره تيروی که ذوات الحيض وه او که آيسه وه نو بالاشهر به عدت تيروی ، و سائر فروعاتها فاطلب من فتح القدير والهدايه ۔

و مطلقة الرجعی الخ : کومه ښځه چې په طلاق رجعی سره طلاقه کړل شی او عدت تيروی نو مستحبه ده دغی ښځی لره چې خپل لباس او خپل هيئت او شکل و شباهت ښائسته کړی چې خاوند بيرته ميلان او رجوع ورته وکړی ۔

و لا يسافر الخ : او خاوند ته حلال ندی چې دغی ښځی سره سفر د رجعت نه مخکی وکړی او که سفر ورسره کوی نو چې کله ورته رجوع کوی نو مستحب طريقه دا ده چې په خپل رجعت باندی ګواهان قائم کړی چې د خلکو د تهمت نه بچ شی ، او خاوند ته دا حق هم شته چې د دغی معتدی ښځی سره وطی وکړی د امام ابو حنيفهؒ په نزد ځکه د امام صاحب په نزد وطی سره رجعت راځی چه ديته رجعت بالفعل

وائي ، و تفصيله مرّ ۔ او د امام شافعیؒ په نزد کومی ښځی ته چې طلاق رجعی ورکړل شی نو د هغی وطی کول جائز ندی تر دی پوری چې خاوند ورته رجوع بالقول وکړی ۔

و نكاح مبانةٍ بلا ثلاث في عدتها و بعدها و لا تحل حرة بعد ثلاث و لا امة بعد ثنتين حتى يطأها غيره بنكاح صحيح ، و تمضي عدة طلاقه او موته هذا عند الجمهور و عند سعيد بن المسيبؒ لا يشترط وطي الزوج الثاني بل يكفي مجرد النكاح استدلالا بقوله تعالى (حتى تنكح زوجا غيره) و لنا حديث العسيلة و هو حديث مشهور تجوز الزيادة به على الكتاب فيكون التحليل بدون الوطي مخالفا للحديث المشهور حتى لو قضى القاضي به لا ينفذ .

تشريح او توضيح : د نکاح لفظ يا عطف دی په وطيها لفظ باندی او في عدتها لفظ د نکاح پوری متعلق دی نو معنی دا شوه چې خاوند لره جائز دی نکاح د هغی مبانی چې بلا ثلاث وی په عدت د دی کی او پس له عدت د دینه ، او یا نکاح لفظ مبتدأ دی او خبرئی في عدتها دی نو معنی دا شوه چې و نکاح مبانة بلا ثلاث او ثابتة في عدتها و بعد العدة ۔ نو خلاصه د عبارت دا ده چې کومه ښځه د دری طلاقو څخه په کمو طلاقو یعنی یو یا دوو طلاقو سره بائنه شی نو خاوند له دغی ښځی سره د عدت په حالت کی هم نکاح کولی شی او د عدت څخه وروسته هم ورسره نکاح بغیر د تحلیل څخه کولی شی ځکه د دری طلاقو څخه په کمو طلاقو سره محلیت مطلقا نه منعدم کیږی او کله چې حری ښځی ته دری طلاقه ورکړی او وینزی ته دوه طلاقه ورکړی نو اول خاوند ته حلاله نده چې وطی ورسره وکړی ، ځکه حره ښځه په دری طلاقو سره او وینزه په دوو طلاقو سره مکمل د خاوند له نکاح څخه اوځی چې د خاوند ورسره کوروالی کول هم روا ندی تر دی چې کله د اول خاوند نه عدت پوره شی او بیائی بل کس په نکاح صحیح سره په نکاح کړی نه په نکاح فاسدی سره ۔

نکاح فاسده دیته وائی چې د نکاح د صحت یو شرط لکه گواهان و غیره پکی نوی ، همدارنگه په زنا سره هم تحلیل نه راځی ، او د نکاح صحیح څخه وروسته چې دویم خاوند ورسره وطی وکړی او بیائی هغه پخپله خوښه طلاقه کړی او عدت ئی تیر شی او یائی دویم خاوند مړ شی او عدت ئی تیر شی نو د هغه څخه وروسته اول خاوند ته دا ښځه حلاله ده چې نکاح ورسره وکړی او د دویم خاوند وطی کول پکی شرط په باب د تحلیل کی د جمهورو علماء مذهب دی نزدی که دویم خاوند قبل الدخول ورته طلاق ورکړی او یا قبل الدخول مړ شی نو تحلیل نه راځی او د اول خاوند لپاره حلاله نده ، او د سعید بن المسیبؒ په نزد د زوج ثانی وطی پکی شرط نده بلکه صرف نکاح هم کافی ده په دی ایت کریمه دلیل نیسی (حتی تنکح زوجا غیره) معنی : تر دی پوری چې د بل خاوند سره نکاح وکړی ، نو الله پاک غایه د حرمت د مطلقی

ثلاثـه په زوج اول باندی هغه نکاح د دغی ښځی ده د زوج ثانی سره او وطی ئی پکی ذکر نکړه نو معلومه شوه چه وطی پکی شرط نده ـ

او جمهور علماء چه وطی پکی شرط کوی دوئی هم دوه ډلی دی (۱) یوه ډله وائی چې مراد د نکاح نـه پـدی ايت کی وطی وی ځکه نکاح په لغت کی ضم ته وائی او ضم په وطی سره حقيقتا راځی او د نکاح استعمال په وطی کی په قرآن کريم کی هم راغلی چې (وابتلوا اليتامى حتى اذا بلغوا النكاح ـ الايه) نو د نـكـاح نـه مراد دلتـه وطی دی نو بنا پدی کتاب الله هم دلالت کوی په اشتراط د وطی سره، او بله دا چې که لفظ د نکاح په معنی د عقد سره شی نو بيا خو لفظ د زوج چې کوم په ايت کی ذکر دی کافی ؤ، او که لفظ د نکاح په معنی د عقد واخلی نو تکرار لازميږی ځکه چې د نکاح لفظ هم په معنی د عقد سره شو او لفظ د زوج هـم دلالت پـه عـقـد سره کوی نو تکرار راغی او که لفظ د نکاح په وطی حمل کړای شی نو دی سره تاسيس راځی او تاسيس اولی دی د تاکيد او تکرار دواړو نه ـ

او دويـمـه ډلـه د جـمـهـورو وائی چې نکاح اګر چې حقيقت دی په عقد کی لکن مجاز دی په وطی کـی چـې دغـه ښـځـه خپـل خاوند پـه وطی سره په ځان قادره کړی او قرينه پری هغه احاديث دی چې کوم دلالت کوی په اشتراط د وطی باندی ـ

او دا احـاديـث د دواړو ډلـو د جـمـهـورو لپاره دليـل دی پـه اشتراط د وطی باندی چې يو له هغی نه حديث د عسيله دی هغه داسی دی چې بی بی عائشهؓ فرمائی چې د رفاعه القرظی ښځه نبی کريم ﷺ ته راغله او ورته ئی ووېل چې يا رسول الله ﷺ چې زه د رفاعه په نکاح کی وم او رفاعه ماته طلاق راکړ بيا زه عبـد الـرحـمـن بـن الـزبيـر پـه نکاح واخستم او د عبد الرحمن بن الزبير داسی شی ؤ لکه زما د ټيکری څنډه يـعـنـی انـدام مـخـصـوصـه ئـی د کـار نـه ؤ مړ پړ ؤ نو نبی ﷺ ورته وخندل او ورته ئی وفرمائيل چې ته دا غواړی چې بيرته رفاعه ته لاړه شی او د هغه سره نکاح وکړی ؟

نو دغی ښځی ورته ووېل چې هو ! نو نبی کريم ﷺ ورته وفرمائيل چې داسی نشی کيدای تر دی چې تـه د عبـد الـرحـمـن ګبيـن ګوتی وڅکی او هغه ستا ګبين ګوتی وڅکی يعنی هغه له تاسره کوروالی وکړی او دواړه خـونـد حاصل کړی ـ عُسَيْلَه تصغير د عسل دی او عسل شهدو ته ويل کيږی نو پدی لفظ کی هم يو قسم لطافت موجود دی، نو دا مشهور حديث دی، او په مشهور حديث سره په کتاب الله باندی زيادت جائز دی نـو کـه تـحليل بغير له وطی نه راشی نو دا به مخالف شی د حديث مشهور سره قال صدر الشهيد و من افتى بهذا القول فعليه لعنة الله و الملائكة و الناس اجمعين. فتح القدير ج ٤ ص ٣٣ ـ تر دی که قاضی په تـحـليـل بـدون الـوطـی بـانـدی يـعـنـی په قول د سعيد بن المسيب باندی فيصله وکړی نو فيصله به ئی نه جاری کيږی ځکه د ده فيصله د حديث مشهور او د اجماع الامت څخه مخالفه ده ـ

والمراهق یحلل لا سیدها المراهق هو صبی قارب البلوغ و یُجامع مثله و لا بد من ان یتحرك آلته و یشتهي و کره النکاح بشرط التحلیل و تحل للاول والزوج الثاني یهدم ما دون الثلاث فمن طلقت دونها و عادت الیه بعد آخر عادت الیه بثلاث خلافا لمحمد. والمبانة بثلاث لو قالت حُلِّلْتُ في مدة تحتمله و غلب علی ظنه صدقها حلت للاول قیل اقل تلك المدة تسعة و ثلاثون یوما لانه لا بد من ثلاث حیض و طهرین فاقل مدة الحیض ثلاثة ایام و اقل الطهر خمسة عشر یوما .

تشریح ا وتوضیح : او مراهق هلک تحلیل راوستلې شي له وجې د اطلاق د حدیث د عُسیلی ، ځکه دا تقاضا د دی کوی چې تحلیل وطی د زوج ثانی ده په داسی شان چې لذت حاصل شی او همدغه معنی په هغه معصوم کی موجوده ده چې مکمل بلوغ ته رسیدلی نوی خو ورنزدی وی او د ده (هم مثله) وطی کولی شی او اندام مخصوصه د ده کی حرکت په شهوت سره راځی نو په ده سره تحلیل راځی خو په تحلیل کی مکمل بلوغ شرط ندی ۔

او دا هم معلومه شوه چې د مراهق نه په کم عمره سره تحلیل نه راځی بعضی علماؤ یوه حیله د تحلیل لپاره ذکر کړی چې کومه ښځه غواړی چې اول خاوند ته بیرته راشی او د دویم خاوند د وطی کولو نه شرمیږی نو داسی یو ماشوم سره به نکاح وکړی چې د کور والی په مسئلو نه پو هیږی او د هغه ماشوم اندام مخصوصه به په خپل فرج یعنی اندام مخصوصه کی داخل کړی او پکی وبه ئی خوزوی نو د اول خاوند لپاره حلاله شوه ، نو دا حیله ناروا او باطله ده ځکه شرط په تحلیل کی خوند ځکل د جماع دی د دواړو طرفینو ښځه په بیان د حدیث سره صرف ذکر داخلول ندی لکه سلائی په رنجومه کی ، او د بادار وطی د تحلیل لپاره کافی نده یعنی که د وینزی خاوند خپله ښځه طلاقه کړه بیا د دی وینزی بادار دغه وینزه په ملک یمینی سره بعد العدت وطی کړه نو د زوج اول لپاره حلاله نشوه ځکه غایه د حرمت لپاره نکاح د زوج ثانی ده او سید ته زوج نشي ویلی کذا فی العنایه ج۴ ص ۳۴ ۔

قوله وکره النکاح : او مکروه ده نکاح په شرط د تحلیل سره یعنی که یو سړی د یوی ښځی سره نکاح په دی شرط وکړی چه دی به ئی وطی کوی او بیا به ئی بیرته طلاقوی چې اول خاوند ته ورشی نو دغه نکاح مکروه تحریمی ده ځکه حدیث کی راغلی ۔

(لعن الله المحلل والمحلل له (الحدیث) الله پاک لعنت کړی په تحلیل کونکی او په هغه کس چې د هغه لپاره تحلیل کولی شی ، لکن که په شرط د تحلیل سره نی نکاح وکړه او وطی نی ورسره وکړه او بیائی طلاق ورکړ نو د عدت نه وروسته د اول خاوند لپاره حلاله ده اگر چې په داسی نکاح او تحلیل سره گنهگار شو ، لکن که د دواړو نیت د تحلیل و خو په ژبه ئی وینا د تحلیل ونکړه نو بیا گنهگار ندی او نکاح هم صحی شوه

او دغه سړی ته به الله پاک اجر او ثواب ورکړی ځکه د ده قصد د اصلاح دی او د عامو علماؤ په نزد اول خاوند روا دی ۔ و عبارة الفتح اما لو نوياه و لم يقولاه فلاعبرة به و يكون الرجل مأجورا لقصده الاصلاح انتهى ۔

و قال الچلپي في حاشيته اما لو اضمرا ذلك في قلبها فانه يصح العقد و تحل للاول عند عامة العلماء ، فتح القدير و حاشية الچلپي ج۴ ص۳۴ ۔

والزوج الثاني الخ : که يو سړی خپله حره په يو طلاق يا دوو طلاقو سره طلاق کړی او عدت ئې تير شي او د بل خاوند سره نکاح وکړی او بيا بيرته اولني خاوند ته راوګرځي نو په درې طلاقو سره به راګرځي يعنې اولني خاوند به بيا هم د درې طلاقو مالک وی لکه څرنګه چې مخکی د درې طلاقو مالک ؤ ، او دويم خاوند لکه څرنګه چې درې طلاقه ختموی نو همدارنګه د امام ابو حنيفهؒ او ابويوسف په نزد د دريوو نه کم طلاق هم ختموی خو دا هدم په هغه صورت کی راولی چې دخول وکړی ، او که دخول ونکړی نو بيا بالاتفاق هدم نه راولی ، فتح القدير ج۴ ص۳۵ ۔ او امام محمدؒ وائی چې زوج ثاني کم د دريو طلاقو نه نه هدم کوی نو که زوج اول مثلا دوه طلاقه ورکړی ؤ او بيا د دويمې نکاح نه وروسته ئې يو طلاق ورکړی نو امام محمدؒ وائی چه دغه ښځه په بائنه شوه په بينونت مغلظه سره لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره ۔

و المبانة الخ : کومه ښځه چې په درې طلاقو سره طلاقه کړای شي او خپل خاوند ته ووائی چې زه حلاله شوی يم يعنې ما د بل خاوند سره نکاح وکړه او بيا هغه زه طلاقه کړم او کومه موده چې ښځې ښودلې وه په هغه موده کی احتمال د تحليل ؤ او غالب ګمان د خاوند دا ؤ چې ښځه رشتيا وائی نو د اول خاوند لپاره حلاله ده چې نکاح ورسره وکړی او د ښځې په قول اعتبار وکړی ځکه چې نکاح من وجه معامله ده نو قول د واحد پکی هم معتبر دی او ګواهانو ته پکی ضرورت نشته ۔

او ائمه حضرات پدی موده کی اختلاف دی د امام ابو حنيفهؒ په نزد ادنی موده يې دوه مياشتی ده خو که ښځې اقرار وکړ چې زما عدت په حيضونو سره تير شوی نو چې ښځې ته په اول طهر کی طلاق ورکړی او طلاق هم د جماع نه وروسته وی نو اقل د طهر پنځلس (۱۵) ورځې دی او حيض به ئې پنځه ورځې حساب شي ځکه اقل د حيض درې او اکثر ئې لس (۱۰) ورځې دی او اقل او اکثر دواړه نادر وی نو اعتبار به وسط ته وی چې پنځه ورځې دی نو درې طهره پنځه څلويښت (۴۵) ورځې او درې حيضه پنځلس (۱۵) ورځې راځی نو مجموعه شپيته (۶۰) ورځې شوی او د صاحبينو په قول اقل د دی مودې نهه ديرش ورځې راځی ځکه چې عدت کی خامخا درې حيضه او دوه طهره وی او اقل موده د حيض درې ورځې ده او اقل موده د طهر پنځلس ورځې ده نو ګويا چې دغه سړی په اول طهر کی طلاق ورکړ نو دوه طهره (۳۰) ورځې شوی او درې (۳) حيضه نهه (۹) ورځې شوی نو مجموعه نهه ديرش (۳۹) ورځې راغلی ، كذا في فتح القدير ج۴ ص۳۹ ۔

باب الایلاء

باب دی په بیان د ایلاء کی

فائده : د ښځو حرمت په خلورو طریقو سره راځی (۱) طلاق (۲) ایلاء (۳) لعان (۴) ظهار - نو مصنفؒ رحمه الله اول شروع په طلاق سره وکړه ځکه طلاق اصل دی او مباح دی په خپل وخت بیا په اباحت کی طلاق ته نزدی ایلاء ده ځکه ایلاء هم قسم مشروع دی لکن په ایلاء کی د ظلم معنی پرته ده ، ځکه د ښځی حق په وطی کی منع کوی او ظهار او لعان دواړه هم د ګناه نه خالی ندی -

او ایلاء په لغت کی قسم ته وائی د آلی یُولی ایلاء نه او په شریعت کی عبارت دی نفس منع کولو نه د نزدیکت د خپلی منکوحی نه څلورمیاشتی یا زیات ، په داسی منع کولو سره چې مؤکد وی په قسم سره -

سبب د ایلاء عدم موافقت د زوجینو دی ، او شرط د ایلاء دا دی چې ایلاء به صادره وی د هغه کس نه چې هغه اهل د طلاقو وی یعنی چا نه چې طلاق واقع کیږی نو د هغه نه ایلاء هم واقع کیدای شی د امام ابو حنیفهؒ په نزد ، رکن د ایلاء دادی چې ښځی ته ووائی چې والله لا اقْرَبُكِ اربعة اشهر یعنی قسم په خدائی چې زه به تاته څلور میاشتی نزدی نشم ، نو که د څلورو میاشتو نه مخکی ورنزدی شو نو د قسم کفاره به ورکړی او ایلاء ختمه شوه ، او که څلور میاشتی تیری شوی نو ښځه په طلاق بائن سره طلاقه شوه بیا که نکاح غواړی نو نوی نکاح به کوی ، فتح القدیر ج۴ ص۴۰ - او که خاوند خپلی ښځی ته څلور میاشتی د سستوب د وجی او یا د غصی له وجی بغیر له قسمه ورنزدی نشو نو دا شرعا ایلاء نده -

و هو حلف یمنع وطی الزوجة مدته ای مدة الایلاء فلا ایلاء لو حلف علی اقل منها و هی للحرة اربعة اشهر و للامة شهران ، و حکمه طلقه بائنة ان برَّ والکفارة او الجزاء ان حنث فلو قال والله لا اقربكِ او لا اقربكِ اربعة اشهر الاول مؤبد والثانی موقت باربعة اشهر او ان قربتكِ فعلی حج او صوم او صدقة او فانتِ طالق او عبده حر فقد آلٰی ان قربها فی المدة حنث و تجب الکفارة فی الحلف بالله تعالی و فی غیره الجزاء و سقط الایلاء و إلا بانت بواحدة ای ان لم یقربها بانتُ بطلقة واحدة .

الدرة البیضاء فی بیان الایلاء

ایلاء یو داسی قسَمُ دی،چې منع کوی وطی کول د خپلی ښځی په موده د ایلاء کی یعنی د دی قسم په وجه په موده د ایلاء کی د خپلی ښځی سره وطی نشی کولی او که ښځی ته ئی قسم وخوړ د څلورو میاشتو نه په کمه موده مثلا ورته ووائی چې زه به تاته دوه میاشتی یا دری میاشتی نه نزدی کیږم تر دی چې د څلورو میاشتو ځخه یوه ورځ هم کمه وی نو دا شرعی ایلاء نده او نه پری حکم مرتب کیږی ، بیا د دی

حکم دا دی چې که په دغه معین موده کی ورنزدی نشو هیڅ شی پری نشته او که ورنزدی شو نو یواځې پری دقسم کفاره ده اوکه موده د ایلاء د حری ښځی لپاره څلور میاشتی او د وینزی لپاره دوه میاشتی دی او د زیاتی مودی د ایلاء حد نشته ، او که خاوند په خپل قسم کی بری شو یعنی په څلورو میاشتو کی ښځی ته نزدی نشو نو حکم ئی دا دی چې ښځه ئی په یو طلاق بائن سره طلاقه شوه ۔

و الكفارة : او که په داخل د څلورو میاشتو کی نزدی شو نو کفاره د قسم به ورکوی که چیرته ئی قسم په الله خوړلی ؤ ۔ او الجزاء : او که نزدیکت د خپلی ښځی د بل څه پوری معلق کړی ؤ مثلا ورته ووائی که زه تاته نزدی شوم نو زما غلام دی ازاد وی نو د څلورو میاشتو په داخل کی که ورنزدی شو نو جزاء به پری مرتب وی یعنی غلام به ئی ازاد وی ۔

ایلاء په دوه قسمه دی : (۱) مؤبده دیته وائی چې قید د څلورو میاشتو ورسره ذکر نه وی مثلا داسی ورته ووائی چې والله لا اقربکِ یعنی مطلقا ورته ووائی چې زه به تاته نه نزدی کیږم او (۲) مؤقته دیته وائی چې قید د څلورو میاشتو ورسره ذکر وی لکه ورته ووائی والله لا اقرّبكِ اربعة اشهر ، نو په دواړو صورتونو کی شرعی ایلاء ده ، او که قسم د الله نه بغیر په بل څه وخوری مثلا ان قربتُكِ فعلی حج او صوم او صدقة یعنی که زه تاته نزدی شوم نو په ما حج لازم دی یا روژه او یا صدقه، او یا داسی ورته ووائی چې ان قربتکِ فانتِ طالق او عبدی حرّ یعنی که زه تاته نزدی شوم نو ته دی طلاقه ئی او یا دی زما غلام ازاد وی نو دا شرعی ایلاء ده نو که په داخل د څلورو میاشتو کی نزدی شو نو که قسم ئی په الله پاک خوړلی ؤ نو کفاره د قسم پری لازم شوه او که په غیر د الله نه لکه ان قربتکِ فعلی حج نو بیا جزاء واجب ده چې هغه حج دی یا روژه و غیره دی خو ایلاء مکمل باطله شوه یعنی که څلور میاشتی تیری هم شی نو طلاق بیا نه واقع کیږی او که په داخل د څلورو میاشتو کی نزدی نشو یو طلاق بائن واقع شو والله الموفق ۔

و سقط الحلف الموقت لا المؤبد حتى لو كان الحلف موقتا باربعة اشهر و لم يقربها بانت بواحدة و سقط الحلف حتى لو نكحها فلم يقربها بعد ذلك لا تبين اما في الحلف المؤبد ان نكحها و لم يقربها اربعة اشهر تبين ثالثا و هذا معنى قوله فتبين باخرى ان مضت مدة اخرى بعد نكاح ثان بلا فيء ثم اخرى كذلك بعد ثالث فقوله بلا فيء اى بلا قربان .

تشریح او توضیح : او که خاوند د ایلاء په موده کی د ښځی سره وطی وکړی نو ایلاء ختمه شوه لکن کفاره د قسم پری واجبه شوه او که په دغه موده کی ئی وطی ونکړه نو طلاق بائن واقع شو ، او هغه ایلاء چې موقته تر څلورو میاشتو پوری وی نو هغه هم ساقطه شوه ، که په څلورو میاشتو کی ورنزدی نشو پس ښځه طلاقه شوه په طلاق بائن سره ، او قسم هم ساقط شو نو که بیائی په نکاح کړه او د نکاح نه وروسته ورنزدی نشو نو بیا دوباره نه طلاقیږی ۔لکن په ایلاء مؤبده کی یعنی چې صراحة ورسره

لفظ د د ابد ووائی او یا مطلق داسی ووائی لا أقربكِ فتح القدیر ج۴ ص۴۵ ۔

که په ځلورو میاشتو کی نزدی نشو نو ښځه طلاقه شوه په طلاق بائن سره نو که دوباره ورسره نکاح وکړی او بیا هم ورته ځلور میاشتی نزدی نشی نو بیا په دویم وار هم طلاقه شوه ، په دریم ځل که ئی بیا په نکاح واخلی او په ځلورو میاشتو کی ورنزدی نشی نودریم ځل بیا هم په طلاق بائن سره طلاقه شوه ۔

د دی وجه دا ده چې یمین په حنث سره ختمیږی مؤقت وی او که مؤبد وی او د مؤقت وخت په تیریدو سره باطلیږی ، نو د مؤقت وخت د بطلان لپاره دوه صورته دی اول حنث دی او دویم تیریدل د دغه وخت دی لکن د مؤبد ارتفاع یواځې په حنث سره راځی ځکه مؤبد کی وخت مقرر نوی چې د هغی په تیریدو سره هغه باطل شی نو پدی مذکور صورت کی چې په دریم ځل هم طلاق واقع کیږی د دی وجی نه چې یمین ختم شوی ندی ۔

و هذا معنی قوله الخ : شارح وائی چې ما کوم تفصیل وکړ دا د مصنفؒ د دی قول معنی او مقصد دی چې فتبین اخری الی آخره فتبین باخری الخ ، یعنی دا ښځه په دویم طلاق سره جدا کیږی که تیره شی موده د هغه بل یعنی ځلور میاشتی پس له دویمی نکاح ځخه بغیر د خاوند د رجوع کولو نه ۔ ثم اخری الخ : بیا دریم طلاق واقع کیږی همدارنګه پس له دریمی نکاح نه نو دا قول د مصنفؒ چې بلا فیء دی معنی دا چې بی له نزدیکت یعنی بغیر له وطی کولو نه ۔

دا د شارحؒ خپله رایه ده لکن فیء مطلقی په معنی د رجوع سره راځی او رجوع که بالقول وی چې ورته ووائی فئتُ یعنی چې ما تاته رجوع کړی ، او که رجوع بالفعل وی یعنی وطی ورسره وکړی نو ښځه بیا نه جدا کیږی ۔

و بقی الحلف بعد ثالث لا الایلاء ، فلو قرَّبها کفَّر و لا تبین بالایلاء ای فی الحلف المؤبد اذا وقع ثلاث تطلیقات من غیر قربان بقی الحلف لانه لم یقربها فلم ینحل الیمین لکن لم یبقَ الایلاء فلو نکحها بعد الزوج الثانی و قربها تجب الکفارة لبقاء الیمین و لو لم یقربها لا تبین بالایلاء لانه لم یبق الایلاء ، و قوله و بقی الحلف بعد ثلاث فیه تفصیل ان کان الحلف بالله تعالی یبقی الیمین حتی تجب الکفارة و ان کان الحلف بغیر طلاقها بقی الحلف ایضا ، و ان کان بطلاقها لا یبقی لان التنجیز یبطل التعلیق .

تشریح او توضیح : کله چې دری واره طلاق په حلف مؤبد کی واقع شی په تیریدو د مودی سره دری واره بغیر د نزدیکت نه نو قسم د دریم طلاق ځخه وروسته هم باقی وی خو ایلاء به باطله وی ، ځکه د ایلاء کونکی ملک د دری طلاقو په واقع کیدو سره انتهاء ته ورسید ، او حلف ځکه باقی پاتی دی چې حنث موجود ندی ۔

فلو قربها کفر الخ : یعنی که ځلورم ځل د دغی ښځی سره بعد التحلیل یعنی د دویم خاوند نه

ورسته ورسره نكاح وكړي ، او بيا ورسره نزديكت وكړي ، نو كفاره د قسم پرې واجبه شوه ځكه يمين باقي پاتې دى .

ولاتبين بالايلاء : يعني كه وطى ورسره ونكړي تر دې چې څلور مياشتې تيرې شوى نو په سابقه ايلاء سره دغه ښځه نه طلاقيږي ځكه چې سابقه ايلاء باطله شوى ده د دې وجې نه چې هغه ملك كوم چې ايلاء پكې شوى وه هغه ختم شوى او نوئ ملك پيدا شو دى . و قوله و بقى الحلف الخ : شارحؒ وائي چې د مصنفؒ دا قول چې و بقى الحلف بعد ثالث دى نو ددې تفصيل داسې دى كه حلف په الله پاك ؤ نو قسم به بيا هم باقي پاتې وى تر دې كه د تحليل نه وروسته ورنزدې شى نو د قسم كفاره پرې واجبه ده ، او كه حلف د ښځې د طلاقو نه بغير په بل څه سره ؤ مثلا داسې ورته ووائي چې ان قربتكِ فعلَيّ حج نو بيا قسم باقي پاتې دى ، او كه حلف د ښځې په طلاقو سره ؤ نو بيا قسم پاتې ندى تر دې كه د تحليل نه وروسته ورنزدې شو نو د قسم كفاره پرې واجب نده ځكه دا مسئله مخكې بيان شوه چې تنجيز تعليق ختمه وى .

و قوله والله لا اقربكِ شهرين و شهرين بعد هذين الشهرين ايلاء بخلاف قوله بعد يوم والله لا اقربك شهرين بعد الشهرين الاوليين اى لو قال والله لا اقربك شهرين و مكث يوما ثم قال والله لا اقربك الشهرين بعد الشهرين الاوليين لم يكن موليا لان فى اليوم الاول كان حلفه علي شهرين و فى اليوم الثانى حلفه على اربعة اشهر الا يوما واحدا ، و قوله والله لا اقربكِ سنةً الا يوما ، و قوله بالبصرة والله لا ادخلُ الكوفة وامرأته بها .

تشريح او توضيح : قوله لفظ مبتدأ او ايلاء ئې خبر دى نو كه خاوند خپلې ښځې ته داسې ووائي چې زه به تاته نه نزدې كيږم دوه مياشتې او دوه مياشتې پس له دې دوه مياشتو نه نو دا هم ايلاء ده ځكه چې موده د ايلاء پكې ثابته ده ځكه ده د دواړو جملو تر منځ حرف جمع راوړ نو دوه مياشتې او دوه مياشتې څلور مياشتې راځي ، او موده د ايلاء هم څلور مياشتې ده .

بخلاف قوله الخ : په خلاف د دې قول چې داسې الفاظ ورته ووائي چې والله لا اقربكِ شهرين او يوه ورځ وروسته بيا ووائي چې والله لا اقربكِ شهرين بعد شهرين الاوليين نو دا ايلاء نه شوه ځكه د ده قسم په اوله ورځ په دوه مياشتو ؤ او په دويمه ورځ ئې هم قسم په دوه مياشتو ؤ وروسته د هغې دوه مياشتو نه لكن د دواړو حلفونو تر منځ فاصل موجود دى چې هغه ورځ ده چې ده پكې قسم نه ؤ خوړلى نو تول حلف د ده يوه ورځ كم څلور مياشتې راغې نو دا ايلاء نه شوه ځكه موده د ايلاء مكمل څلور مياشتې ده .

و قوله والله الخ : دا عطف دى په قوله بعد يوم جمله باندې نو تقدير داسې راځي اى بخلاف قوله والله الخ يعني كه داسې ورته ووائي چې والله زه به تاته يو كال نه نزدې كيږم مگر يوه ورځ به درته نزدې كيږم نو دا هم ايلاء نده ځكه چې ده استثناء د يوى نا معلومى ورځې وكړه چې دغه ورځ د كال په

هری ورځی باندی حقیقتا صادقیږی نو امکان لری چې دی نزدیکت ورته د خلورو میاشتو تیریدو نه مخکی وکړی او هیڅ شی به په ده لازم نشی ځکه ده له مخکې استثناء د یوی ورځی کړی وه او په ایلاء کی چې نزدیکت راځی نو لازما به په ده څه لازم وی نو دا ایلاء نه شوه ۔

و قوله بالبصرة الخ : دا هم عطف دی په قوله لفظ باندی ای بخلاف قوله بالبصرة حاصل ئی دا دی که یو سړی په بصره کی وی او ښځه ئی په کوفه کی او دا سړی ووائی چې والله زه به کوفی ته داخل نشم نو دا هم ایلاء نشوه امکان لری چې دا ښځه د کوفی څخه ورته راووځی ، او په داخل د دغه موده کی ورسره وطی وکړی نو نه د قسم کفاره پری راځی او نه ایلاء شوه او که د ښځی خاوند تر منځ فاصله د څلورو میاشتو د مزل په اندازه وه یا د دینه زیاته وی دواړه یو د بل سره ملاقات نشی کولی نو بیا د خاوند رجوع باللسان هم صحیح ده یعنی چې په خوله ووائی ما رجوع ورته کړی او په بعضی کتابونو کی دغه فاصله تقریبا تر اتو میاشتو پوری ذکر کړی فتح القدیر ۵۱/۴ ۔ خو صحیح خبره دا ده که د دوی تر منځ ومره فاصله وه چې د څلورو میاشتو په موده کی د دوی ملاقات نه کیده نو دا ایلاء ده نو دی به بیا رجوع بالقول کوی ، او که د څلورو میاشتو څخه کمه موده وی نو بیا ایلاء نده ځکه چې امکان لری چې دوی د دی مودی نه مخکی نزدی شی ۔

او که د یو سړی څلور ښځی وی او ده وویل قسم په الله چې زه به دی ټولو ته نه نزدی کیږم نو دا له ټولو ښځو سره ایلاء شوه که ټولو ښځو ته په څلورو میاشتو کی نزدی نشو نو ټولی تری جدا شوی اګر که په دغه څلورو کی دریو ته هم نزدی شوی وی ، او که په داخل د څلورو میاشتو کی ورنزدی شو نو هغی کفاره د قسم پری واجب نه ده چې ټولو ته نزدی شی کله چې څلور واړو ته نزدی شو نو کفاره پری لازمه شوه کذا فی العنایه ۵۰/۴ ۔

و لا ایلاء من مبانة و اجنبیة نکحها بعد ذلك فاما مطلقة الرجعی فکانت الزوجة و لو عجز عن الفیء بالوطی لمرض باحدهما او صغرها او رتقها او لمسیرة اربعة اشهر بینهما ففیؤه قوله فئتُ الیها فلا تُطَلَّقُ بعده لو مضت مدته و هو عاجز ، فان صح قبل مدته ففیؤه بوطیه ، و انت علیّ حرام ان نوی به الطلاق فبائنة ، و ان نوی الظهار او الثلاث او الکذب فما نوی ، و ان نوی التحریم او لم ینو شیئا فایلاء ، و قیل هو و کل حلّ علیّ حرام وهرچه بدست راست گیرم بروی حرام طلاق بلانیة للعرف و به یفتی ۔

توضیح المسئلة فی عدم صحة الایلاء من مبانة

او د هغی ښځی سره چې طلاقه شوی وی په طلاق بائن سره ایلاء نه کیږی ځکه چې ایلاء د ښځی سره کیږی او مبانه ښځه د ښځیتوب نه وتلی ده همدانګه د اجنبیه ښځی سره ایلاء نه کیږی یعنی

چې يو څل ورسره ايلاء وکړي او بيا د ايلاء څخه وروسته ورسره نکاح وکړي نو دا ايلاء صحي نده لکن که اضافت د ايلاء ملک ته وکړي مثلا ورته ووائي که ته ما په نکاح کړې نو والله که زه تاته نزدې شم څلور مياشتو پورې نو دا بيا ايلاء ده ـ

او که د ښځې سره ئې ايلاء وکړه بيا څه موده وروسته ئې طلاق بائن ورکړ او عدت د طلاقو لا ختم نه ؤ چې د ايلاء څلور مياشتې پوره شوې نو دا ښځه په دويم طلاق سره هم طلاقه شوه او که عدت تير ؤ بيا د ايلاء موده پوره شوه نو بيا په ايلاء سره بل طلاق نه واقع کيږي څکه ملک د زوج ختم شوی، كذافي الفتاوى الخانية و غيرها ـ

فاما مطلقة الرجعي الخ : او کومه ښځه چې په طلاق رجعي سره طلاقه شوې وي نو هغه داسې ده لکه د ده ښځه يعني دلته زوجيت موجود دی نو ايلاء صحي ده ـ او که خاوند د ايلاء په صورت کې د رجوع بالوطي څخه عاجزه شو د مرض د وجې نه چې مرض په خاوند او يا په ښځه وي، او يا ښځه داسې کوچنۍ وي چې جماع ورسره کولی نشي، او يا دا ښځه رتقاء وه يعني د دې په فرج کې د ذکر د ننوتو لاره نه وه چې جماع ورسره وشي، او يا د ښځې او خاوند تر منځ د څلورو مياشتو په اندازه فاصله وه چې وصولی نشي کيدای نو پدې صورت کې که خاوند ورته رجوع کوي نو رجوع بالقول به کوي چې ورته وبه وائي چې ما تاته رجوع کړې ده نو د رجوع قولي څخه وروسته دغه ښځه نه طلاقيږي خو چې د مودې د تيريدو پورې د ده عجز موجود وي، او که د مودې تيريدو نه مخکې قادر شو نو بيا به رجوع بالوطي وکړي، څکه چې رجوع قولي د ضرورت د وجې نه وه او د صحت نه وروسته ضرورت ختم شو پس رجوع بالوطي به کوي ـ

همدارنگه د عجز څه نور اسباب لکه په جيل کې ؤ او يا ذکر د ده انتشار نه کوي، او يائې ذکر غوڅ شوی وی او داسې نور اسباب نو پدې ټولو حالاتو کې يو اځې رجوع قولي کافي ده او که خاوند کم عمره ؤ چې جماع ئې نشوه کولی نو بيا بلکل ايلاء صحي نده ـ

وانتِ علىَّ حرام الخ : او که يو سړي خپلې ښځې ته ووائي چې ته په ما حرامه ئې نو دا قول احتمال د ډيرو وجوهو لري نو د ده نه به پوښتنه وکړای شي چې ستا پدې سره نيت څه دی ؟ نو که هغه ووېل چې زما نيت د طلاقو دی نو که يو يا دوه طلاقه ئې مراد ؤ او يائې نيت د عدد نوو کړی نو پدې صورت کې يو طلاق بائن واقع کيږي او که نيت ئې د درې طلاقو ؤ نو بيا درې طلاقه واقع دي څکه دا لفظ د کناياتو څخه دی، كذا في العنايه ۵۵/۴ ، او درې د واحد اعتباري څخه دی او د دوو نيت پکې صحي ندی څکه دوه نه واحد حقيقي دی او نه واحد اعتباري بلکه عدد محضه دی، او که نيت ئې د ظهار ؤ نو د امام

ابو حنيفهؒ او امام ابو يوسفؒ په نزد ظهار دی او د امام محمدؒ په نزد ظهار ندی ، امام محمدؒ وائی چې ظهار کی تشبيه د محرمی سره وی او دا رکن دی په ظهار کی او دلته تشبيه نشته نو لهذا دا ظهار نشو ، او امام ابو حنيفهؒ او امام ابو يوسفؒ وائی چې ده مطلق حرمت ذکر کړ او دا احتمال د ډيرو انواعو لری او ظهار هم يو نوع د دی ځکه ده نو دا د محتملاتو د مطلق حرمت ځکه شو او څوک چې د خپل محتمل کلام نيت وکړی نو تصديق به ئی کولی شی عنايه ۵۶/۴ ـ او که نيت ئی تحريم ؤ او يا د هيڅ شی نيت ئی نوو نو دا يمين دی پدی سره خاوند ايلاء کونکی گرځی که په داخل د موده کی ورنزدی شو نو کفاره د قسم پری واجب ده ، او که موده د څلورو مياشتو تيره شوه نو طلاق بائن واقع شو ځکه چې نيت د تحريم وکړی نو تحريم د حلالو دامام ابو حنيفهؒ په نزد يمين دی او کله ئی چې د هيڅ شی نيت نوی کړی نو ايلاء شوه ـ

و قيل الخ : پديکی د بعضی مشائخو قول ته اشاره ده چې دوی لفظ د تحريم د طلاقو طرف ته راوړی بغير د نيت د طلاقو ځکه د عرف په حکم باندی ـ

هُوَ يعنی دغه لفظ د انتِ علی حرام او دا قول چې کل حِل علیَ حرام هر حلال په ما حرام دی او يا په فارسی ژبه کی ووائی هر څه چې زه په ښی لاس ونيسم نو هغه په ما حرام دی نو دا طلاق دی اگر که نيت ئی د طلاقو نوی ځکه عرف کی داسی الفاظ د طلاقو لپاره استعماليږی و الله الموفق و هو المستعان و اليه انيب ـ

باب الخلع

باب دی په بیان د خلع کی

د خلع لغوی او اصطلاحی تحقیق او وجه د تقدیم د ایلاء په خلع : خلع سره د دینه چه طلاق دی او ایلاء طلاق نده بیا ایلاء ولی مقدمه کړای شوه په خلع باندی ؟ نو دا د دوه وجهونه (۱) په ایلاء کی مال نوی نو طلاق ته نزدی شوه ځکه چې طلاق کی هم مال نوی او د دی په خلاف خلع ده چې په خلع د ښځی له طرفه معنی د معاوضی موجود ده نو د دی وجی خلع د ایلاء نه وروسته شوه (۲) د ایلاء مبنی او بنیاد د خاوند له طرفه د نشوز وجه وی او د خلع مبنی او بنیاد د ښځی له طرفه د نشوز او نافرمانۍ وجه وی ، نو د کوم شی تعلق چې د سړی سره دی چې ایلاء ده نو هغه مقدم شو په هغی چې د کوم شی تعلق د ښځی سره دی چې هغه خلع ده ځکه سړی طبعا په ښځه مقدم وی (عنایه ۵۷/۴) ۔

او د خلع لغوی بیان : خلع په فتح سره په معنی د ویستلو سره راځی لکه عرب وائی خلع ثوبه عن بدنه ای نزع ، او په ایت کریمه کی الله پاک موسی علیه السلام ته خطاب کوی(فاخلع نعلیک) یعنی وباسه پنړی خپلی دی ، او په ضمی سره خُلع دا اسم د عربو د دی قول دی چه خالعتِ المرأة زوجها واختلعت منه بمالها یعنی خلع وکړه ښځی له خاوندسره او ځان ئی ویسته د خاوند نه په خپل مال سره (کذا فی الکفایه والعنایه) ۔

لکه څرنګه چې مونږ په دعاء قنوت کی وایو چه ونخلع نو هغه هم په معنی د ویستلو سره راځی یعنی مونږ وباسو هغه کړی د کفر د خپلو غاړو نه ، او صاحب د بنائی وائی چې خلع په فتحی سره او خلع په ضمی سره دواړه مصدر دی یعنی په یوه معنی راځی چې نزع ده ، یو اځې فرق ئی دا دی چې خلع په فتحی سره په نزع حقیقی کی استعمالیږی او په ضمی سره خلع په نزع مجازی کی استعمالیږی نو هر یو د زوجینو نه یو د بل لپاره د لباس په شان دی لکه الله فرمائی (هن لباس لکم و انتم لباس لهن ۔ الایه) نو کله چې زوجین خپل منځ کی خلع وکړی نو ګویا چې دوی خپل لباس ویسته نو پدی کی استعاره ترشیحیه راغله (بنایه ۵۰۶/۵) مع الزیادة ۔

د خلع شرعی بیان : خلع په شریعت کی بعض علماء داسی تعریف کوی چې اخذ المال بازاء ملک النکاح خو صحیح او غوره تعریف ئی دا دی چې هو عبارة عن ازالة ملک النکاح المتوقفة علی قبولها بلفظ الخلع او ما فی معناه نو که ښځی ته ووائی چې ما له تاسره خلع وکړه او پدی سره ئی نیت د طلاقو وی نو یو طلاق بائن واقع شو خو خلع نه شوه ، ځکه طلاق د ښځی د قبلیدو پوری موقوف ندی همدارنګه که طلاق بالمال ورکړی نو دا خلع نشی کیدای چې مهر ورسره ساقط شی ، او د خلعی لپاره شرط هغه دی کوم چې د طلاق شرط دی ، او حکم د خلعی داامام ابو حنیفهؒ په نزد طلاق بائن واقع کیدل دی ، او صفت د

خلعی د امام ابو حنیفهؒ په نزد دا دی چې د خاوند له طرفه خلع یمین ده او د ښځې له طرفه معاوضه ده نو لهذا د امام ابو حنیفهؒ په نزد به د خاوند له طرفه د یمین د احکامو رعایت کولی شي او د ښځې له جانبه به د معاوضې د احکامو رعایت کولی شي او د صاحبینو په نزد خلع د دواړو طرفونه یمین دی، کذا فی فتح القدیر ۵۸/۴ تاج الهدایه ۲۶۵/۷۔

لا بأس به عند الحاجة بما یصلح مهرا و هو طلاق بائن و یلزم بدله و کره اخذه ان نشز، و اخذ الفضل ان نشزت ای اخذ الفضل ما دُفع الیها من المهر و لو طلقها بمال و علی مال وقع بائن ان قبلت و لزمها المال.

التبیان: په خلعي کولو سره هیڅ باک یعني ګناه نشته په وخت د ضرورت کې (د وجې د دې قول د الله تعالی نه (فلا جناح علیهما فیما افتدت به) ای فلا جناح علی الرجل فیما اخذ و علی المرأة فیما اعطت (الکفایه) یعنی سړي چې څه واخلي په هغې سره په سړي ګناه نشته او ښځه چې څه ورکړي په ښځه ګناه نشته۔) هغه ضرورت دا دی چې د ښځې او خاوند تر منځ داسې مخالفت پیدا شي چې بیا امید د جوړې او موافقت نلري، او بغیر د ضرورت نه خلع کول روا ندي ځکه حدیث مبارک کې راځي چې په ټولو حلالو شیانو کې الله ته بد شي طلاق دی او په بل حدیث شریف کې راځي چې خلع کونکې منافقان دي، او یو بل حدیث مبارک راځي چې کومه ښځه د خاوند څخه بغیر د ضرورت نه طلاق وغواړي نو پدغه ښځه د جنت بوی حرام دی او د ضرورت په وخت کې روا ده، لکن د ضرورت په وخت کې هم ځان ساتل ترې بهتر دی، او خلع په هغه مال سره صحي کیږي چې هغه مال صلاحیت د ګرځولو د مهر لري او کوم شي چې مهر نوي نو هغه نه صحي کیږي، همدارنګه هغه مال چې هغه غیر متقوم یعني نشي قیمت کیدی هغه هم صحي ندي۔

او دا خلع طلاق بائن دی، صورت ئې داسې راځي چې یوه ښځه خپل خاوند ته ووائي زه به تاته خپل مهر بیرته درکړم یا مثلا په دومره روپۍ ما خوشې کړه نو خاوند ورته ووائي چه صحي ده نو دا ښځه په طلاق بائن سره طلاقه شوه او په ښځه باندې د خلع بدل لازم دی، د مهر په اندازه وي او که د مهر کم وي او که زیات وي نو که موجب د خلع یعني نافرماني د سړي لخوا وه نو بیا سړي ته د خلع بدل اخستل مکروه تحریمي دي ځکه چې یو ځل ئې په خلع باندې متنفره کړه او بیائې په مال اخستو سره نوره هم متنفره کوي لکه ایت کریمه کې هم راغلي (فلا تاخذوا منه شیئا ۔ الایه) بیا تاسې هیڅ شي د دوی د مهر نه مه اخلي، او که چیرته موجب د خلع یعني د نافرمانۍ وجه د ښځې له طرفه وه نو بیا د ښځې نه د مهر نه زیات اخستل مکروه دی د وجې د دې قول د نبي ﷺ نه ښځې د ثابت بن قیس بن شماس ته چې دغې ښځې له خپل خاوند ثابت سره خلع وکړه نو نبي ﷺ دغې ښځې ته وویل چې ته به باغچه د ونو چې کومه ئې تاته درکړې ثابت ته بیرته ورکړې؟ نو دغې ښځې وویل چې هو هغه باغچه به هم ورکړم او زیاتي شي به نور

هم ورکړم نو نبي ﷺ ورته ووېل چه اما الزيادة فلا يعني زياتي به نه ورکوی نو د دی حديث نه دا معلوميږي چې زياتي خيز اخستل روا ندی او د مقتضی د ايت (فيما افتدت به) ته چې گوری نو دوه شيان تري معلوميږي (۱) جواز اخذالزيادة في القضاء (۲) واباحة اخذالزيادة نو ظاهر کی تعارض معلوميږي خو تعارض نشته ، اصلي فيصله داسی ده چې ديانةً د زياتي شی اخستل جائز ندی او قضاءً جائز دی او بل دا چې په حديث کی منع د نبي ﷺ به حمل کړای شي په اولي او طريق القرب الی الله تعالی يعني غوره او اولي طريقه او الله تعالی ته د نزديکت لاره دا ده چې زياتي شي وانخلي او اخستل ئې خلاف اولي دی ۔ فتح القدير ۶۳/۴ کفايه ۶۲/۴ ۔

و لو طلقها الخ : او که طلاق ئې په مال سره ورکړ يعني ورته ووائي انتِ طالق بالف درهم او علی الف درهم يعني که په لفظ د با سره وی او که په لفظ د علی سره وی نو که ښځي قبول کړ نو طلاق بائن واقع شو او په ښځه باندی دغه مال لازم شو کوم چې خاوند عوض د طلاقو گرځولي ۔

> **و لو خلع او طلق بخمر او خنزير لم يجب شيء و وقع بائن في الخلع و رجعي في الطلاق ، و ان قالت خالعني علی ما في يدی او علی ما في يدی من مال او من دراهم ففعل و لا شيء في يدها لم يجب شيء في الاولی وترد ماقبضت في الثانية و ثلاثة دراهم في الثالثة .**

وضاحت : ولو خلع که يو سړی د خپلی ښځي سره خلع په هغه شي وکړه چې هغه صلاحيت د دی نه لري چې عوض د خلع وگرځي لکه شراب، خنزير او مرداره و غيره سره نو طلاق بائن پری واقع شو خو په ښځه باندی هيڅ شي واجب او لازم ندی ځکه چې خاوند د خلعی کوم شي عوض گرځولي هغه باطل دی او ښځه په بل شي راضي نده چې خاوند ته ئې ورکړي ، همدارنگه که طلاق ئې په شرابو يا په خنزير سره ورکړ مثلا ښځه ورته وائي چې زه به تاته شراب درکړم ماته طلاق راکړه او يا خاوند ورته ووائي چه ماته شراب راکړه زه به طلاق درکړم او ښځه پری راضي شوه نو يو طلاق رجعي واقع شو او په ښځه هيڅ شي لازم ندی ځکه شراب صلاحيت د دی نلري چې عوض د طلاقو وگرځي ، او په دواړو صورتونو کی طلاق ځکه واقع شو چې دا معنًی د ښځی د قبليدو پوری معلق ؤ او په خلع کی هم قبول د ښځی شرط دی او په صورت د خلع کی طلاق بائن ځکه واقع شو چې لفظ د خلع پکی ذکر دی او لفظ د خلع د کناياتو ځخه دی او په کناياتو سره طلاق بائن راځي او په صورت د طلاقو کي رجعي ځکه واقع شو چې لفظ د طلاقو ذکر دی او دا صريحي لفظ دی او صريحي لفظ سره طلاق رجعي واقع کيږي او کله چې د طلاقو په مقابل کی عوض وی بيا طلاق بائن واقع کيږي لکه دلته عوض باطل شوی دی نو ځکه طلاق رجعيٰ واقع شو ۔

و ان قالت الخ : او که ښځي خاوند ته ووېل چې ماسره خلع وکړه په هغه څه چې زما په لاس کی دی مثلا که کور دی که صندوق دی او که نور اسباب د کور دی خو مسمی ئې نکړه چې فلاني شي دی دا

اول صورت شو ۔ او علی ما الخ : او یا له ماسره خلع په هغه څه وکړ. چې زما په لاس کی دی چې مال دی یا د کور نوړ سامان و غیره خو مال ئی ذکر کړ دا دویم صورت دی ۔ او من دراهم الخ : یا په هغه چې زما په لاس کی دی چې هغه دراهم دی نو دا دریم صورت دی ۔

ففعل الخ : نو خاوند ورسره خلع وکړه خو د ښځی په لاس کی یو شی هم نوو نو په اول صورت کی په ښځه یو شی هم واجب ندئ ځکه چې شی مسمی شوی ندی چې مثلا فلانکی شی دی او طلاق مفت واقع شو ځکه خاوند قبول کړ او پری راضی ؤ ، او په دویم صورت کی چې ښځی مال یاد کړ نو خاوند په مفت طلاقو راضی ندی او دغه مال یا د دی قیمت هم په ښځه لازم ندی ځکه چې د مال تعین ندی شوی نو ښځی که مهر د خاوند نه قبض کړی ؤ نو همغه به خاوند ته بیرته واپس کړی ، او که مهر ئی قبض کړی نوو نو بیا په ښځه هیڅ نشته (کذا فی البحر) ۔

او په دریم صورت کی ښځی دراهم په لفظ د جمع سره ذکر کړه او د جمع اکثریت ته حد نشته نو اقل د جمع لازم دی چې هغه دری دی او متیقن دی نو ځکه مصنف وویل و ثلاثة دراهم فی الثالثة ای فی الصورة الثالثة ۔

و ان اختلعت علی عبد لها آبق علی براء تها من ضمانه تسلمه ان قدِرت و قیمته ان عجزت و ان طلبت ثلاثا بالف او علی الف درهم فطلقها واحدة تقع فی الاولی بائنة بثُلُث الالف ، و فی الثانیة رجعیة بلا شیء عند ابی حنیفةؒ ، اما عندهما فیقع بائنٌ بثُلُثِ الالف فانها اذا قالت طلقنی ثلاثا بالف جعلت الالف عوضا للثلاث فاذا طلقها واحدة یجب ثُلُثُ الالف لان اجزاء العوض منقسمة علی اجزاء المعوض ، أما اذا قالت طلقنی ثلاثا علی الف فکلمة علی للشرط و الطلاق یصح تعلیقه بالشرط فابو حنیفةؒ یحملها علیه و اجزاء الشرط لا تنقسم علی اجزاء المشروط و ابویوسفؒ و محمدؒ حملاه علی العوض بمعنی الباء کما فی بعت عبدا بالف او علی الف فالجواب ان البیع لا یصح تعلیقه بالشرط فیحمل علی العوض ضرورة و لا ضرورة فی الطلاق لصحة تعلیقه بالشرط .

تشریح او توضیح : او که ښځی له خاوند سره په خپل غلام باندی خلع وکړه او داسی غلام ؤ چې تښتیدونکی ؤ خو پدی شرط چې د غلام د ضمانت څخه به زه خلاصه یم یعنی ښځی ورته وویل چه له مانه به نی مطالبه نشی کولی چې ماته ئی تسلیم کړه بلکه که ما وموندہ نو درته به ئی وسپارم او که ومی نه موندہ نو په ما به څه نوی نو پدی صورت کی په ښځه باندې لازم دی چې خاوند ته غلام وسپاری خو که پری قادره شوه او که تری عاجزه شوه نو بیا به د دغه غلام قیمت ورکوی او ښځی چې کوم شرط د برائت لګولی ؤ هغه فاسد دی مغه ته هیڅ اعتبار نشته ځکه چې شرط د برائت په معاوضاتو کی فاسد دی او خلع ځکه صحیح کیږی چه خلع په شروط فاسده سره نه باطلیږی بلکه شرط د برائت فاسد دی (هکذا فی العنایه) ۔

و ان طلقت الخ : کہ یوی ښځی د خاوند نه د طلاقو مطالبه وکړه چې ماته طلاق راکړه نو زه به زر روپۍ درکړم مثلا طلقنی بالف او علی الف یعنی په لفظ د با سره یا په لفظ د علی سره ، او خاوند ئی طلاق ورکړ نو په صورت د با کی یعنی بالف ئی ویلی وی یو طلاق بائن واقع شو په دریمه حصه د زر روپو سره یعنی ښځه به خاوند ته د زرو دریمه حصه ورکوی ، طلاق بائن خو ځکه واقع شو چې دا په مقابله د مال کی دی او کوم طلاق چې بالعوض وی نو هغه بائن وی لکه خلع ، او په ښځه دریمه حصه د زرو روپو ځکه لازمه شوه چې ښځی دغه زر روپۍ په مقابله د دری طلاقو کی گرځولی وی یعنی که ما ته ئی دری طلاقه راکړه نو زر روپۍ به ورکړم نو کله چې خاوند یو طلاق ورکړ نو یو په دریوو کی دریمه حصه دی نو همدارنگه په ښځه هم د زرو دریمه حصه واجب شوه ځکه اجزاء د عوض چې زر روپۍ دی تقسیم شوی په اجزاء د معوّض باندی چې طلاق دی ، او په دویم صورت کی چې علی الف ئی ویلی ؤ یو طلاق رجعی واقع کیږی بلا شیء یعنی په دی طلاق کی په ښځه هیڅ شی واجب ندی د امام ابو حنیفةؒ په نزد ، امام صاحب وائی چه دا علی لپاره شرط دی او اجزاء د شرط په اجزاء د مشروط باندی نه تقسیمیږی نو په ښځه هیڅ شی لازم نشو او کله چې هیڅ شی لازم نه شو نو طلاق بلا عوضه پاتی شو او طلاق بلا عوضه رجعی وی ، او د صاحبینو په نزد په دویم صورت کی یعنی په صورت د علی الف کی هم یو طلاق بائن واقع کیږی په دریمه حصه د زرو سره ځکه ښځی زر روپۍ عوض د دری طلاقو گرځولی پس کله چې خاوند یو طلاق ورکړ نو په ښځه باندې هم د زرو دریمه حصه لازمه شوه ځکه چه اجزاء د عوض په اجزاء د معوض باندی تقسیم شوی نو صاحبینؒ لفظ د علی حمل کوی په عوض باندی په معنی د با سره لکه څرنگه چې په دی صورت کی په بعت عبدا بالف اوعلی الف کی کلمه دعلی بالاتفاق په معنی د با سره ده۔

فالجواب الخ : دا د امام ابو حنیفةؒ له طرفه د صاحبینو جواب دی هغه داسی چې په صورت د بیع کی چې مونږ کلمه د علی په لفظ د با سره حمل کوو نو هغه د ضرورت د وجی نه ، هغه ضرورت دا دی چې بیع د معاوضات محضوو څخه ده چې خالی وی د معنی د اسقاط نه لکه اجاره نکاح وغیره شوه، او بیع تعلیق بالشرط نه قبلوی نو لازما کلمه د علی په معنی د با سره حمل کولی شی چې معاوضه ده د دی لپاره چې عقد صحی شی ، ځکه معاوضات په تعلیق بالشرط سره فاسدیږی او طلاق د اسقاطاتو څخه دی نو تعلیق بالشرط قبلوی پس لفظ د علی چې حقیقتا د شرط لپاره راځی نو د دی حمل کول په غیر معنی حقیقی باندی پکار ندی ۔

و ان قال طلقی نفسکِ ثلاثا بالف او علی الف فطلقت واحدة لم یقع شیء لان الزوج لم یرض بالبینونة الا ان تسلم له الالف کلها ، و لم تسلم بخلاف قولها طلقنی ثلاثا بالف لانها لما رضیت بالبینونة بالف فهی ارضٰی بالبینونة ببعضها .

تشريح او توضيح : او كه خاوند ښځې ته ووېل ته دې ځان په درې طلاقو سره طلاق كړه په عوض د زرو روپو سره لفظ د على ئې راوړې وي او يا د با يعني بالف يا على الف ووائي او ښځې ځان په يو طلاق سره طلاق كړ نو يو طلاق هم نه واقع كيږي ځكه خاوند ښځې ته د درې طلاقو اختيار وركړې ؤ پدې شرط چې ماته به زر روپۍ سپارې نو خاوند د ښځې په جدا كيدو هلته راضي دې چې ښځه ورته زر روپۍ مكمل وسپارې لكن ښځې ورته ونه سپارلې ځكه ښځې ځان په يو طلاق سره طلاق كړې چې د يو طلاق اختيار خاوند نوو وركړې نو يو طلاق هم نه واقع كيږي ، او په مخكنې صورت كې چې ښځې ورته ووېل طلقني بالف نو هلته يو طلاق ځكه واقع شو چې كله ښځه د زر روپو په عوض كې په بينونت يعنې جدائې باندې راضي وه نو معلومه شوه چې د زر روپو په دريمه حصه سره په بينونت خو بلكل راضي وه -

و لو قال انتِ طالق و عليكِ الف او انتِ حرة و عليكِ الف فقبلتها او لا طُلِّقَتْ و عُتِقَتْ بلا شيء هذا عند ابى حنيفة و اما عندهما ان قبلت المرأة طلقت بالف و ان قبلت الامة عتقت بالف ، و ان لم تقبل لا يقع شيء فانهما جعلا الواو فى قوله و عليكِ للحال والحال بمنزلة الشرط و ابو حنيفة جعل الواو للعطف و تناسب الجملتين فى كونهما اسميتين يدل على العطف فيكون اخبارا بانَّ عليهما الالف فيقع بلا شيء .

وضاحت : كه يو سړي خپلې حرې ښځې ته ووېل چې ته طلاقه ئې او په تا زر روپۍ لازمي شوې او يائې خپلې وينزې ته ووېل چې ته ازاده ئې او په تا زر روپۍ لازمي شوې نو دا ښځه يا وينزه كه دغه خبره قبوله كړې او يا ئې قبوله نكړي پس هره ښځه طلاقه شوه او هيڅ شې پرې لازم ندې او دغه وينزه هم ازاده شوه او هيڅ شې پرې لازم ندې دا د امام ابو حنيفة مذهب دې او صاحبين وائي چې كه حرې ښځې د خاوند قول او خبره قبوله كړه نو طلاقه شوه او زر روپۍ پرې لازم شوې او كه وينزې د بادار دغه خبره قبوله كړه نو ازاده شوه خو زر روپۍ پرې لازمي شوې ، او كه هرې ښځې د خاوند خبره او وينزې د بادار خبره قبوله نكړه نو يو طلاق هم نه واقع كيږي امام ابويوسف او امام محمد دواړه دغه واو په و عليكِ لفظ كې د حال لپاره گرځولې او كه حال په منزله د شرط وي نو معنى داسې شوه اى انتِ طالق حال كونِ الالفِ لازما عليكِ - همدارنگه دا قول انتِ حرة و عليكِ الف اى انتِ حرة حال كون الالف لازما عليكِ نو كه دائې قبوله كړه نو طلاق يا عتاق واقع شو او مال لازم شو او كه قبول ئې نكړ نو نه طلاق او نه عتاق راځي او نه مال لازميږي -

دويمه وجه د صاحبينو دا ده چې داسې كلام اكثريت په معاوضاتو كې استعماليږي لكه دا قول چې احمل هذا المتاع و لک درهم اى بدرهم نو دا واو به پدې ځاى كې په معنى د با سره وي ځكه حال د معاوضې پدې دلالت كوي نو داسې شو چې انتِ طالق او انتِ حرة بالف .

و ابو حنيفة جعل الخ : دليل د امام ابو حنيفة بيانوي چې امام صاحب دغه واو د عطف لپاره

ګرځولی نو وعلیک الف جمله نی ځانته مستقله ګرځولی او عطف ده په انتِ طالق جمله باندی، همدارنګه انتِ حرة ځانته مستقله جمله ده او وعلیک الف ځانته جمله ده عطف ده په انتِ حرة باندی نو اوس کلام د طلاقو یا عتاقو معلق کول تر الف پوری هیڅ فائده نه ورکوی او نه د هغی عوض ګرزیدای شی بلکه طلاق او عتاق مفت واقع شو او د صاحبینو دا قول چې دا د احمل هذا المتاع و لک درهم پشان دی او ولک درهم کی واو په معنی د باسره دی نو دا خبره صحیح نه ده ځکه په ولک درهم کی واو په معنی د باسره ځکه وګرځیده چې هلته مخکی جمله انشائیه ده او ولک درهم جمله خبریه ده او د جملی خبریه عطف په جمله انشائیه باندی صحیح نه دی نو مونږه دغه و و په معنی د باسره وګرځوه چې جمله مفیده وګرځی او انتِ طالق و علیکِ صورت کی دواړه جملی خبریی دی هیڅ ممانعت د عطف نشته۔

و تناسب الجملتین الخ : غرض د شارح د دی عبارت نه تائید د امام ابو حنیفهؒ د مذهب دی هغه داسی چې تناسب د دواړو جملو چې دواړه جملی اسمیی دی دلالت په عطف کوی یعنی عطف معنی اصلی د واو ده ، او د معنی اصلی نه عدول بلا ضرورته نشی کیدای مثلا چې کوم ځای کی تناسب د جملو نوی نو هلته عطف نه صحیح کیږی او دلته خو تناسب موجود دی چې دواړه جملی اسمیی دی نو عطف ته ترجیح ورکولی شی نو دا قول چې و علیکِ الف دی اخبار پدی شو چې دغه زر روپۍ په دواړو لازمی دی او په اخبار باندی هیڅ نه لازمیږی نو طلاق او عتاق واقع شو او په ښځه او وینزه باندی هیڅ لازم نشو۔

و الخلع معاوضة فی حقها حتی یصح رجوعها ای اذا کان الایجاب منها فقَبلَ قُبُولِ الزوج یصح رجوعها ، و شرط الخیار لها هذا عند ابی حنیفةؒ اما عندهما فلا یصح شرط الخیار لاحدٍ فالطلاق واقع و البدل واجبٌ و یقتصر علی المجلس ای اذا کان الایجاب من قِبلِها لا بد من قبول الزوج فی المجلس .

تشریح او توضیح : او خلع د ښځی له طرفه معاوضه او یو قسم بدل دی ځکه ښځه خاوند سره په عوض د طلاقو کی د مال مالک ګرځوی همدا وجه ده چې الله پاک په قرآن کریم کی د خلع نسبت ښځی ته کړی فرمائی (فیما افتدت به) نو کله چې ابتداء د خلع د ښځی له طرفه شوه چې ښځه ورته ووائی چې اختلعتُ نفسِی بکذا ، نو ښځی ته دا حق هم شته چې بیرته تری رجوع وکړی چې زه خلع نه کوم خو هلته چې خاوند ئی قبوله نکړی ، اوکه خاوند ئی قبوله کړی نو بیا ښځه رجوع نشی کولی ۔

اذا کان الایجاب الخ : د ایجاب معنی همدا شوه چې ابتداء د خلع د ښځی له طرفه وی ځکه چې ایجاب قول اول ته ویل کیږی ۔

و شرط الخیار الخ : همدارنګی ښځی ته خیار شرط هم صحی دی یعنی چې خاوند ورته ووئی چې ما تا سره خلع وکړه خو پدی شرط چې تاته دری ورځی اختیار دی او ښځی قبول کړ نو شرط صحی

دی نو که پدغه دری ورځو کی ځان غوره کړ نو طلاق واقع شو او په ښځه مال لازم شو او که ښځی رد کړ نو طلاق نه واقع کیږی او نه مال لازم دی دا د امام ابو حنیفهؒ مذهب دی ۔

او صاحبین وائی چی دغه شرط خیار باطل دی او طلاق واقع دی او مال لازم دی ، د صاحبینو دلیل دا دی چی خیار د فسخ لپاره راځی بعد الانعقاد او د منع من الانعقاد لپاره نه راځی یعنی خیار زوجینو لره د خلع د منعقد کولو نه نه منع کوی بلکه کله چی خلع منعقد شی نو د هغی نه وروسته ئی فسخه کوی ، او ایجاب د زوج او قبول د ښځی احتمال د فسخ د جانبینو نه نه لری د جانب د خاوند نه ځکه احتمال د فسخ نه لری چه خلع یمین ده ځکه چی معنٰی شرط او جزاء ده او یمین فسخ نه قبلوی او د ښځی له طرفه احتمال د فسخ ځکه نه لری چی د ښځی په قبلولو سره د یمین تمام والی راځی ځکه چی د خاوند یمین د ښځی په قبلولو تمامیږی نو د ښځی قبول حکم د یمین واخسته والیمین لا یقبل الفسخ او امام ابو حنیفهؒ وائی چی خلع په جانب د ښځه کی په منزله د بیع ده یعنی چی معاوضه پکی شته نو څرنګه چی په بیع کی خیار شرط صحی دی نو همدارنګه په خلع کی صحی دی ۔

و یقتصر الخ : یعنی کله چی ایجاب د ښځی له طرفه شو نو د خاوند قبول به تر مجلس پوری منحصر وی که په دغه مجلس دعلم خپل کی قبوله کړه نو صحی ده او که قبوله یې نکړه نو خلع باطله شوه۔

و یمینٌ فی حقه حتی انعکس الاحکام ای اذا کان الایجاب من جهته لا یصح رجوعه قبل قبول المرأة و لا یصح شرط الخیار له و لا یقتصر علی المجلس ای یصح ان قَبِلَتِ المرأة بعد المجلس و انما کان الخلع کذلک لان فیه معنی المعاوضة فان المرأة تبذل مالا لِتُسلم لها نفسها و فیه معنی الیمین فان الیمین بغیر الله ذکر الشرط والجزاء فالخلع تعلیق الطلاق بقبول المرأة و هذا من طرف الزوج فَجُعِلَ من جانبه یمینا و من جانب المرأة معاوضةً .

تشریح او توضیح : و یمین الخ : دا عطف دی په معاوضه باندی یعنی خلع یمین دی په حق د خاوند کی ځکه خاوند طلاق معلق کړی تر قبول د ښځی پوری تر دی چی احکام به د مخکنی احکامو بر عکس وی یعنی کله چی ایجاب د خاوند له طرفه وی یعنی ابتداء د خلع خاوند وکړی مثلا ښځی ته ووائی چی خالعْتکِ علی الف درهم نو د ښځی د قبول والی نه مخکی خاوند رجوع نشی کولی او نه خاوند ته خیار شرط صحی کیږی چی خاوند ووائی چی خالعتُکِ علی کذا علی انی بالخیار ثلاثة ایام ځکه خیار شرط په معاوضاتو کی صحیح کیږی نه په اسقاطاتو کی او نه په تعلیقاتو کی ، او نه به دغه خلع تر مجلس د خاونده پوری منحصره وی بلکه وروسته د مجلس د ایجاب د زوج نه هم که ښځی قبوله کړه صحی ده تر دی که د ښځی د قبلولو نه مخکی پاځیږی نو مجلس نه باطلیږی ۔

و انما کان الخ : یعنی خلع په حق د ښځه کی معنی د معاوضه او په حق د خاوند کی یمین ولی

وګرځېدہ ؟ نو شرح وائی چې دا ځکه چې خلع کې معنی د معاوضی هم شته او معنی د یمین هم شته معنی د معاوضی پکی ځکه شته چې ښځه خپل مال مصرفوی او خاوند ته ئی ورکوی چې ښځی ته خپل ځان سلامت پاتی شی نو دا د ښځی په حق کې معاوضه شوه او د خاوند په حق کې یمین ځکه وګرځیده چې خاوند طلاق د ښځی د قبوله پوری معلق کړی نو دا د خاوند له طرفه تعلیق وګرځیده چې دغه تعلیق نه تعبیر په یمین سره کولی شی ځکه یمین بغیر د الله جل جلاله د نوم نه د شرط او جزاء ذکر کول دی او په خلع کې هم معنی د شرط او جزا ذکر دی ۔

و طرف العبد فی العتاق کطرفها فی الطلاق فیکون من طرف العبد معاوضةً و من جانب المولی یمینا و هی تعلیق العتق بشرط قبول العبد فیترتب احکام المعاوضة فی جانب العبد لا فی جاب المولی .

تشریح اوتوضیح : طرف د غلام په عتاق کی پشان د طرف د ښځی دی په طلاقو کی یعنی لکه څرنګه چې خلع د ښځی له جانبه معاوضه وه نو همدارنګه عتاق د غلام له طرفه معاوضه ده ځکه غلام هم خپل مال خرچ کوی او بادار ته ئی سپاری چې ما ته خپل نفس وسپاری چې د بادار د ملکیت نه خلاص شی او مولی هم عتق د غلام د قبول پوری معلق کړی نو همدا وجه ده چې په غلام مال لازم دی او لکه څرنګه چې خلع د جانب د خاوند نه یمین ؤ نو همدارنګه عتاق هم د جانب د بادار نه یمین دی او یمین تعلیق د عتق دی په شرط د قبول د غلام کی نو په دی صورت کی به احکام د معاوضی په جانب د غلام کی مرتب کیږی چې هغه صحت د رجوع دی او صحت د شرط خیار دی او اقتصار علی المجلس دی او احکام د معاوضی به په جانب د بادار کی نه مرتب کیږی ځکه د بادار جانب جانب د یمین دی ۔

و لو قال طلقتكِ امسِ علی الف فلم تقبلی و قالت قبلتُ فالقول له و لو قال البائع کذلك فالقول للمشتری ای اذا قال البائع بعت هذا العبد منك بالف فلم تقبل و قال المشتری قبلتُ فالقول للمشتری و وجه الفرق ان قول البائع بعتُ اقرارٌ بقبول المشتری لان البیع لا یصح الا بالایجاب و القبول فقوله فلم تقبل یکون رجوعا عن اقراره بخلاف الخلع فانه یمین فی حقه فیمکن انفکاکه عن البدل فلا یکون اقرار بقبول المراۃ فیکون القول قوله لانه منکر للخلع و المراۃ تدعیه .

تشریح اوتوضیح : یو سړی خپلی ښځی ته وویل چې ته ما مخکی یعنی پرون طلاقه کړی وی په زر روپو سره او تا دا طلاق قبول نکړ او ښځی وویل چې ما قبول کړی ؤ نو اوس ښځه مدعیه وګرځیده اوخاوند منکر وګرځیده او اصل دا دی چې (البینة علی المدعی والیمن علی من انکر(الحدیث) نو که ښځی ګواهان قائم کړه نو د ښځی قول ته به اعتبار وی او که ښځی ګواهان قائم نه کړل نو بیا به د خاوند

قول ته اعتبار وی خو قسم به خوری او که د قسم نه ئی انکار وکړ نو د ښځی دعوی به ثابته شی او که دواړو ګواهان قائم کړه نو د ښځی ګواهانو ته به ترجیح ورکولی شی ځکه ګواهان د اثبات د خلاف الظاهر لپاره راځی او د ښځی قول هم خلاف الظاهر دی نو عند التعارض به د ښځی ګواهانو ته ترجیح ورکولی شی۔

و لو قال البائع الخ : او که همداسی اختلاف په باب د بیع کی د بائع او مشتری تر منځ واقع شی یعنی بائع مشتری ته ووائی ما په تا دا غلام په زر روپی درخرڅ کړی ؤ نو تا قبول نکړ او مشتری وویل چې ما قبول کړی ؤ نو که بائع ګواهان ودرول نو د ده خبری ته به ترجیح وی او که ګواهان ئی ونه درول نو د مشتری خبره به معتبره وی خو سره د قسمه۔ د دی وجه څه ده چې مخکنی مسئله کی زوج منکر وګرځولی شو او د زوج خبری ته اعتبار ؤ او په دویمه مسئله کی مشتری منکر وګرځولی شو او د ده قول ته اعتبار هم دی ؟

الجواب : ووجه الفرق الخ : وجه د فرق ئی دا ده بیع بغیر له ایجابه او قبول نه ثابتیږی ځکه ایجاب او قبول د بیع لپاره رکنونه دی نو په صرف ایجاب سره نه راځی نو بائع چې دا خبره وکړه چې بعتُ دی نو د دی لفظ نه دا معلومه شوه چې بائع دمشتری په قبول باندی اقرار وکړ نو د دینه وروسته چې بائع فلم تقبل وائی نو دا د خپل اقرار نه رجوع کوی نو رجوع ته به ئی اعتبار نوی نو قول د مشتری غوره شو۔

او خلع په جانب د خاوند کی یمین دی کما مرّ او دا عقد تام دی د ښځی تر قبول پوری موقوف نه دی نو د خاوند دا قول چې طلقتکِ امس علی الف دی دا د ښځی په قبول باندی څه اقرار نه دی چه فلم تقبلی د هغی څخه رجوع حساب شی چې دده قول ته به بیا اعتبار نوی؟ بلکه د ده قول ته اعتبار دی۔

و یسقط الخلع و المباراة کل حق لکل منهما علی الآخر مما یتعلق بالنکاح فلا یسقط ما لا یتعلق بالنکاح کثمن ما اشترت من الزوج و یسقط ما یتعلق بالنکاح کالمهر و النفقة الماضیة ، اما نفقة العدة فلا تسقط إلا بالذکر کذا فی الذخیرة و المهر یسقط من غیر ذکره و ان خلع الاب صبیة بمالها لم یجب علیها بشیء و بقی مهرها و تطلق فی الاصح فان خالعها علی انه ضامن صح و علیه المال و ان شرط المال علیها تطلق بلا شیء و ان قبلتْ .

وضاحت : د بعضی لغاتو تشریح۔ یسقط فعلما مضرع معلوم ده د اسقاط نه او الحع ر مبارا ه ئی فاعل دی او کل حق ئی مفعول دی ، او مباراة په وزن د مفاعل دی د بارا یُبارِأُ مُبارَأةً نه حاصل د کلام دا دی چې لفظ د مباراة قائمیږی په مقام د خلع کی لکه خاوند ورته ووائی چې بارأتکِ بالف یعنی چې ته ما له نکاح څخه خلاصه کړی په زر روپو سره او ښځه ئی قبوله کړی ، او یا داسی ورته ووائی چې برأتُ من نکاحکِ بالف چې زه خلاص شوم له نکاح څخه په زر روپو سره۔

فلا یسقِط صیغه د فعل مضارع معلوم ده که په ضمی د قاف سره شی نو بیا لازمی راځی د سقوط نه نو ما بعد به ئی فاعل شی او که په کسری د قاف سره شی نو بیا متعدی راځی د اسقاط نه نو

ما بعد به ئی مفعول شی۔

تشریح او توضیح: یعنی خلع او مبارات هر حق د هر یو د زوجینو چې په بل باندی وی ساقطه وی خو چې دا حق د هغه حقوقو څخه وی چې تعلق د نکاح سره لری لکه مهر شو خو چې ښځې قبض کړی نه وی او که ښځې قبض کړی وو نو بیا په ښځه باندی واپس کول لازم دی همدارنګه د دینه مخکې چې کومه نفقه د خاوند په ذمه پاتې وه هغه هم ساقطه شوه او د عدت نفقه ئی که مبارات کې ذکر کړی وه نو ساقطیږی او که ذکر ئی نه وُ کړی نو نه ساقطیږی او سکنی د عدت که ذکر وکړی او که ونکړی نو نه ساقطیږی او مهر بغیرله ذکره هم ساقطیږی اوکه مهرئی بدل دخلع ګرځولی وُ نو بیابه نه ساقطیږی۔

بلکه که ښځې قبض کړی وُ نو په ښځه لازم دی چې خاوند ته ئی وسپاری او کوم شی چې تعلق د نکاح پوری نه لری نو هغه نه ساقطیږی مثلا ښځې یو شی د خاوند نه په څه قیمت واخسته او بیائی خلع او مبارات ورسره وکړه نو د دغه شی قیمت نه ساقطیږی څکه د دی تعلق د نکاح د حقوقو سره نشته۔

و ان خلع الاب الخ: که یو پلار د خپلی معصومی لور خلع د معصومی د خاوند سره وکړه او د دغه معصومی په مال سره اګر که مهر د دی وی نو پدی صورت کی په معصومی هیڅ لازم نه دی که پلارئی ضمانت نوو کړی او د دی مهر باقی پاتی دی او دغه معصومه طلاقه شوه په صحیح روایت کی، او که پلارئی خلع وکړه پدی شرط چې زه ضامن یم نو خلع اوضمان صحیح شو خو د خلع په بدل کی په پلار باندی مال لازم دی لکن مهر نه ساقطیږی څکه پلار د مهر د ساقطولو واک نه لری او که خاوند په دغه معصومه باندی شرط کړ چې مثلا زر روپۍ به راکوی نو معصومه ښځه ئی اګر چې قبول کړی لکن بیا هم بلا شی طلاقیږی څکه چې دغی معصومی کی صلاحیت د دی نشته چې په ځان تاوان راولی۔

باب الظهار

باب دی په بیان د ظهار کی

بیان الظهار : زده کړه دا خبره چې په ظهار کی بیان د اوه خبرو نه لا بدی ده (۱) مناسبت د ماقبل سره (۲) معنی لغوی د ظهار (۳) معنی اصطلاحی د ظهار (۴) رکن د ظهار (۵) شرط د ظهار (٦) حکم د ظهار (۷) اصل او ثبوت د ظهار۔

(۱) اول خبره مناسبت د ظهار د خلع سره دا دی چې خلع او ظهار دواړه غالبا د نشوز نه راځی او خلع هر کله چې په باب د تحریم اکمله وه د دی وجی نه چې خلعی سره نکاح ختميږی نو خلع ئی په ظهار مقدمه کړه۔

(۲) او دویمه خبره معنی لغوی د ظهار دا ده چې ظهار په کسری د ظا معجمی سره په لغت کی مصدر د ظاهر دی د باب د مفاعلی نه د ظهر نه دی په معنی د شا سره خو مطابق د مختلفو اغراضو سره لکه ویل شی چې ظاهرتُ ای قابلتُ ظهرک بظهره ، او په معنی د امداد او نصرت سره ای ظاهرته اذا نصرته وفی التنزیل (و ظاهروهم علی اخراجه) ای و عاونوهم علی اخراج النبی ﷺ من مکة . و ظاهر من امرأته ای اذا قال لامرأته انتِ علی کظهر امی (فتح القدیر مع الزیادة ۔

(۳) دریمه خبره معنی اصطلاحی د ظهار چې مصنف خپله بیان په دی الفاظو کوی چې هو تشبیه زوجته الخ ۔

(۴) څلورمه خبره چه رکن د ظهار دی چې مصنفؒ هم ورته اشاره کړی پدی الفاظو چې انتِ علیّ کظهر امّی (الکفایه ۴/۸۵) ۔

(۵) پنځمه خبره چې شرط د ظهار دی هغه دا چه مشبه منکوحه وی ځکه چې د وینزی نه ظهار نه صحی کیږی او په سړی کی شرط دا دی چې دا به اهل د کفاری نه وی ځکه چې د ذمی او صبی نه کفاره نه صحی کیږی لکه دی خبری ته مصنفؒ پدی الفاظو اشاره کړی و خص الظهار بزوجته فلم یصح من امته الخ ۔

(٦) شپږمه خبره چې حکم د ظهار دی هغه دا دی چې حرمت د وطی او د دواعی د دی تر کفاری ورکولو پوری او سره د بقاء د اصل ملک لکه په حالت د حیض کی او مصنفؒ پدی الفاظو تعبیر کړی و یحرم وطیها و دواعیه حتی یکفر الخ ۔

(۷) اومه خبره چې اصل او ثبوت د ظهار د سورت مجادلی د دی ایت کریمه نه چې (والذین یظاهرون من نسائهم الی قوله تعالی فتحریر رقبة من قبل ان یتماسا . الایة .) چې خولهؓ چې د اوس بن الصامتؓ ښځه وه د هغی په باره کی نازل شوی ثابت دی ۔

هو تشبيه زوجته او ما يعبر به عنها او جزء شائع منها بعضو يحرم نظره اليه من اعضاء محارمه نسبا او رضاعا كانتِ عليَّ كظهر امي او رأسكِ و نحوه او نصفكِ كظهر

امي او كبطنها او كفخذها او كفرجها او كظهر اختي او عمتي و يصير به مظاهرا .

تشریح او توضیح : غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره چې هو تشبيه الخ دی بیان اصطلاحی تعریف دی چې ظهار په اصطلاح کی تشبیه ورکول د خپلی ښځی او یا د دی د هغه اندام چې هغی نه تعبیر په کل اندام سره کولی شی او یا یو جزء چې هغه د هغی په ټول بدن کی خور وی تشبیه د هغه اندام سره چې هغه ته نظر کول حرام وی د اندامونو د محرماتو څخه چې دغه محرمه نسبا وی او که رضاعا وی لکه پدی الفاظو سره چې ته په ماباندی په شان د شا د مور زما ئی یا ستا سر پشان د شا د مور زما دی ، او راسکِ دا د ما یعبر به عنها مثال دی ، او نصفکِ دا د جزء شائع مثال دی و غیره یعنی چې ستا نیم بدن پشان د شا د مور زما دی یا په شان د خیټی د مور زما دی یا په شان د ورانه د هغی یا پشان د فرج د هغی ، یا پشان د شا د خور زما یا د ترور زما نو پدی الفاظو سره اگر چې نیت ئی د ظهار نوی خو ظهار واقع کیږی او که صرف ښځی ته داسی ووائی چې ته زما مورئی نو پدی سره ظهار نه راځی څکه ظهار کی تشبیه شرط ده او که داسی ووائی چې ستا لاس یا ستا خپه زما د مور د لاس یا پښی په شان ده نو دا ظهار نه دی ، کذا فی الفتح .

و يحرم وطيها و دواعيه حتى يكفّر فان وطئ قبله اى قبل التكفير استغفر و كفّر للظهار فقط اى تجب كفارة الظهار و لايجب شيء آخر للوطى الحرام و لا يعود حتى يكفّر اى لا يطأها ثانيا حتى يكفر والعود الموجب للكفارة هو عزمه على وطيها و ليس هذا الا ظهارا اى ما ذكر ليس الا ظهارا سواء نوى او لم ينو شيئا و لا يكون طلاقا او ايلاءً .

بیان حکم الظهار : مصنف پدی الفاظو سره بیان د حکم د ظهار کوی چې د کفاری ورکولو څخه مخکی کوروالی یا لاس وروړل یا ښکلول و غیره حرام دی ، او که د کفاری ورکولو څخه مخکی ئی وطی کړی نو لویه گناه ئی وکړه نو د دینه به توبه اوباسی او صرف د ظهار کفاره به ادا کړی او د دغی حرامی وطی کفاره پری نشته خو توبه به وباسی او تر څوئی چې کفاره ورکړی نوی نو بیا به کوروالی نه کوی .

والعود الخ : یعنی په ایت کی چې کوم عود ذکر دی چې (والذين يظاهرون من نسائهم ثم يعودون لما قالوا) الایه . یعنی هغه عود چې هغی سره کفاره ظهار واجبیږی د دی عود نه مراد عزم دی حی عزم مصمم سره وطی وکړی نو پده لازم دی چې اول کفاره اداء کړی او بیا وطی ورسره وکړی او د دی عو: نه مراد وطی نه ده څکه : کفاری ورکولو څکه مخکی وطی کول حرام دی . وليس هذا الخ : یعنی دغه مخکنی صورت چې په هغی کی تشبیه د ښځی د یو اندام د محارمی سره وی نو دا ظهار دی که ظهار نیت ئی وی او که نوی نه طلاق دی او نه ایلاء ده .

و فى انتِ علىّ مثل امى او كامي ان نوى الكرامة او الظهار صحت اى نيته و ان نوى الطلاق بَانَت و ان لم ينو شيئا لَغَا و بانتِ علىَّ حرام كامي صح ما نوى من طلاق او ظهار و

انت علی حرام کظهر امی ظهار لا غیر ، و ان نوی طلاقا او ایلاءً و خص الظهار بزوجته فلم یصح من امته و لا ممن نکحها بلا امرها ثم ظاهر منها ثم اجازت .

وضاحت : او کـه داسـی ورتـه ووائی چې ته په ما پښان د مور زمائی یعنی په لفظ د مثل سره یا د کاف تشبیه سره ، که نیت ئی د کرامت ؤ نو هم ئی نیت صحی دی او که نیت ئی د ظهار ؤ هم صحی دی او کـه نیت ئـی د طلاقو ؤ نو ښځه جدا شوه ځکه داسی الفاظ د کنایاتو څخه دی او په کنایاتو سره طلاق بائن واقع کیږی او که د هیڅ شی نیت ئی نوو نو دغه خبره ئی عبثه ده ۔

و بانتِ الخ : او کـه داسی ورتـه ووائی چې ته په ما باندی حرامه ئی پښان د مور زما نو که د طلاقو یا د ظهار نیت ئی کړی ؤ نو نیت ئی صحیح دی او که داسی ورته ووائی چې ته په ما باندی حرامه ئی پښان د شا د مور زما نو دا ظهار دی او نور هیڅ ندی یعنی نه طلاق دی او نه ایلاء دی اګر چې نیت ئی د طلاقو یا دایلاء کړی وی او یائی نیت د هیڅ شی نوی کړی ۔

و خص الظهار بزوجته الخ : او ظهـار خاص کړای شوی د زوجی پوری دغه زوجه وینزه وی او که حره وی او د هـغـی ویـنـزی نـه ظهار نه صحی کیږی چې په نکاح نوی او نه د هغی ښځی سره ظهار صحی کیږی چې د هغی سره ئی نکاح د هغی د اجازی نه بغیر کړی وی یعنی چې یوه ښځه بغیر د ښځی له اجازی نه په نکاح کړی بیا ورسره ظهار وکړی بیا د ظهار نه وروسته ښځه د نکاح اجازه وکړی نو دا ظهار صحی ندی ځکه دا ښځه د ظهار په وخت کی د ده ښځه نوه ځکه چې نکاح د هغی د اجازی پوری موقوفه وه ۔

و بانتنَّ علی کظهر امی لنسائه تجب لکل کفارةٌ و هی عتق رقبة ، و جاز فیها المسلم والکافر و فیه خلاف للشافعی و تحقیقه فی اصول الفقه فی حمل المطلق علی المقید .

تشریح او توضیح : او کـه چیـری یـو سړی خپلو ډیرو ښځو یعنی دوه یا دری یا څلورو ته په یوه کـلـمـه داسـی ووائی چې تـاسـی ټـولـی پـه مـا باندی پښان د شا د مور ځما یاستی نو دا په اعتبار د تعدد د مـخـاطبینـو سـره مـتـعـدد ظهار شو او د هر یو ظهار لپاره ځانته کفاره لازم ده او تر هغی پوری د یوی وطی کـول هـم جـائـز نـه دی چې تر څو ټولی کفاری ادا نکړی ، او دا کفاره ازادول د رقبی دی یعنی د مملوک چې غـلام یـا وینزه وی او په رقبه ازادولو کی مسلمان غلام ازادول یا کافر غلام ازادول دواړه روا دی دلیل د دی دا ایت کریمه دی (فتحریر رقبة من قبل ان یتماسا ، الایه) زمـونـږ د احنافو په نزد دی ایت کریمه کی رقبه مطلقه ذکر شـوی غیـر مـقیـده ده پـه قیـد د اسلام سره او په قید د ذکورت یا انوثت سره ، او زمونږ په نزد مطلق په خپـل اطـلاق سـره جاری کیږی او مقید په خپل تقید سره نو په کفاری د ظهار کی رقبه مطلقه ذکر شوی او مطلقـه رقبـه مسـلـمان غلام یا وینزی او کافر غلام یا وینزی ته شامل دی نو د هر یو غلام یا وینزی ازادول پـکـی روا دی لکن د امام شافعیؒ په نزد مطلق به په مقید باندی حمل کولی شی اګر که حادثه مختلفه وی

او دلائل د طرفينو سره د مالها او ما عليها د اصولو په كتابونو كى ذكر دى په باب د حمل د مطلق على المقيد كى فاطلب هناك .

و الذكر و الانثى و الصغير و الكبير و الاصم اى من يكون فى اذنيه وقرٌ أمَّا من لا يسمع اصلا ينبغي ان لا يجوز لانه فائت جنس المنفعة و الاعور و مقطوع احدىٰ يديه و احدى رجليه من خلاف و مكاتب لم يؤد شيئا و شراء قريبه بنية كفارته و اعتاق نصف عبده ثم باقيه .

تشريح او توضيح : قوله الذكر الخ : دا سره د ما سبق او ما لحق عطف دى پدى قول چې المسلم دى يعني تر غلام او وينزه او ماشوم غلام او لوى او كونړ غلام هر يو په كفاره د ظهار كى زمونږ په نزد جائز دى د اصم نه مراد دا دى چې په غوږوكى صرف دروندوالى موجود وى نوره خبره اورى ، او كوم كس چې بلكل خبره نه اورى هغه په كفاره كى وركول صحيح ندى ځكه چې د ده نه هغه جنس چې منفعتى جنس دى فوت دى او د كوم كس چې منفعتى جنس فوت وى د هغه په كفاره كى وركول جائز نه دى كما سيأتى عنقريب انشاء الله تعالى .

همدارنګى په كفاره د ظهار كى اعور يعنى چې يوه سترګه ئى وتلى وى او هغه چې يو لاس او يوه خپه ئى غوځه شوى وى ردو بدل ، او هغه مكاتب چې د مال كتابت نه ئى هيڅ شى نه وى ادا كړى نو هر يو په كفاره كى وركول جائز دى مكاتب ځكه پدى صورت كى جائز دى چې مكاتب تر څو د مال كتابت نه هيڅ شى نوى ادا كړى نو دا غلام دى او د غلام وركول په كفاره كى صحيح ده .

همدارنګه هغه خپلوان چې ذى رحم محرم وى او په نيت د كفارى ئى چې واخلى نو بالكل صحى دى ، همدارنګه د كفارى لپاره نيم غلام ازادول هم صحيح دى ځكه د ټول غلام ازادول په يو وقت شرط نه دى بيا چې هغه نور باقى وروسته ازاد كړى خو پدى شرط دغه نيم وروستنى ازادولى شى چې د جماع نه مخكى وى .

لا فائت جنس المنفعة كالاعمى و مجنون لا يعقل احتراز عمن يُجنّ و يُفيقُ و المقطوع يداه او ابهاما ماه او رجلاه او يدٌ و رجلٌ من جانب و لا مدبر و لا مكاتب ادى بعض بدله .

وضاحت : او همدارنګه هغه غلام او وينزه نه صحيح كيږى چې منفعتى جنس ئى فوت شوى وى لكه هغه ړوند چې دواړه سترګى نوى او هغه ليونى چې بلكل عقل پكى نوى لكن كوم غلام چه كله ليونى كيږى او كله روغيږى نو دا په كفاره كى صحى دى ځكه د ده منفعتى جنس فوت شوى نه دى، همدارنګه هم هغه غلام هم نه صحى كيږى چې دواړه لاسونه ئى غوڅ شوى وى او يائى دواړه غتى ګوتى د لاسو غوڅى شوى وى ځكه چې منفعتى جنس پديكى هم فوت شوى ځكه د نيولو لپاره مكلمل قوت په ابهامينو سره وى ، او يا ئى دواړه پښى غوڅى شوى وى او يا ئى يو لاس او يوه خپه د يو طرف نه غوڅ شوى ځكه چې دى سره هم منفعت فوت دى ، او چې ردو بدل غوڅ وى نو بيا تګ كولى شى او چې د يو

طرف نه غوخ وی نو بیا خو بلکل تک نشی کولی ، همدارنګه مدبر غلام یا هغه مکاتب غلام چې بعضي بدل د عقد کتابت ئې اداء کړی وی نو دا مذکور تول کسان په کفاره کې ورکول صحی ندی۔

و اعتاق نصف عبد مشترك ثم باقیه بعد ضمانه لانه انتقص نصیب صاحبه فی ملکه ثم یتحول الی ملك المعتِقِ بالضمان و عندهما یجوز اذا کان المعتِقُ موسرا لانه یملك نصیب صاحبه بالضمان فکانه اعتق کله عن الکفارة بخلاف ما اذا کان معسرا فان عندهما الواجب السعایة فی نصیب الشریك فیکون اعتاقا بعوض .

تشریح او توضیح : یعنی که چیرته یو سړی خپله حصه د مشترک غلام نه چې د ده او د بل کس تر منځ شریک وی ازاده کړی نو که دغه ازادونکی سړی مالدارۀ نو دی به د خپل شریک د حصی ضامن وی یعنی تاوان به ورکوی نو دی په ضمان سره د دغه غلام مالک مکمل وګرځیده نو کومه حصه چې د کفاری نه ازاده کړی هغه صحیح نه ده ځکه چې ده د خپل شریک په حصه کې نقصان راوست په هغه صورت کې چې د شریک په ملک کې وه بیا د شریک دغه حصه خو په ضمان سره د ازادونکی ملک ته منتقله شوه ۔ او صاحبین وائی چې د خپلی حصی ازادول د کفاری لپاره صحی دی خو په هغه صورت کې چې ازاده ونکی سړی مالداره وی ځکه دغه مالداره د خپل شریک د هغه حصی په اندازه ازاده شوی په ضمان سره مالک ګرځی اوس چې دغه حصه هم ازاده کړی نو ګویا چه ده تول غلام د کفاری ځخه ازاد کړی لکن کله چې معتِق غریب وی نو بیا بالاتفاق روانده ځکه د صاحبینو په نزد غلام باندی د شریک په حصه کې سعی لازم ده نو دا بیا اعتاق بالعوض راځي چې هغه مال دی او اعتاق بالعوض کې نه صحیح کیږی ۔

و نصف عبده عن تکفیره ثم باقیه بعد وطی من ظاهر منها لان الاعتاق یجب ان یکون قبل المسیس و عندهما یجوز لان اعتاق البعض اعتاق الکل عندهما ، و ان عجز عن العتقِ صام شهرین ولاءً لیس فیهما شهر رمضان و لا خمسة نهی صومها .

تنقیح : قوله و نصف عبده الخ یعنی که یو سړی د خپل غلام نیمه حصه په نیت د کفاری ازاده کړی او بیا له هغی ښځی سره چې ده ورسره ظهار کړی وطی وکړی او بیا هغه نیمه باقی حصه ازاده کړی نو دا روانه ده ځکه چې په اعتاق کې دا لازم ده چې مخکې له وطی او د دواعی د وطی نه به وی دا د امام صاحب مذهب دی او د صاحبینو په نزد صحی ده ځکه چې د دوی په نزد اعتاق د نصف اعتاق د کل دی نو داسی شو لکه چې تول ئې د جماع نه مخکې ازاد کړی ۔

قوله و ان عجز الخ : یعنی که ظهار کونکی سړی د رقبې د ازادولو ځخه عاجزه شی یعنی چې نه رقبه پیدا کړی او نه د هغی قیمت ورسره وی نو پدی صورت کې به پرله پسی دوه میاشتی روژی نیسی او چې په مینځ کې به یوه روژه هم نه ماتوی نو که د قمری میاشتی په لیدو سره روژه ونیسی نو دا هم روا ده اګر

که میاشت نهه ویشت (۲۹) ورځی راشی ، او که په نورو تاریخو سره لکه شمسی یا میلادی سره روژه نیسی نو بیا به مکمل شپیته ورځی برابروی نو که نهه پنځوس ورځی روژه ونیسی او یوه یعنی شپیتمه وخوری نو بیا به غونډی روژی دوباره له سره نیسی او بل دا چې د دغه دوه میاشتو تر منځ به د رمضان میاشت نوی ځکه د رمضان روژه پده فرض ده او په رمضان کی بله روژه نه ځائیږی او نه د رمضان روژه د بل په ځای کار کوی۔

و لا خمسة الخ : او نه به د دغه دوه میاشتو تر منځ پنځه هغه روژی وی چې د هغی د نیولو نه منع راغلی چې هغه یوه د واړه اختر ورځ ده او بله ده لوی اختر ورځ ده او دری ورځی د ایام تشریق چې د لوی اختر د ورځی نه وروسته یعنی د لوی اختر دویمه دریمه او څلورمه ورځ ده ۔لانه ینقطع التتابع بتخلل هذه الایام (الکفایه ۱۰۲/۴) ۔ اما التتابع فلانه منصوص علیه و شهر رمضان لا یقع عن الظهار لما فیه من ابطال ما اوجبه الله تعالی والصوم فی هذه الایام منهی عنه فلا ینوب من الواجب الکامل (الهدایه)۔

و ان افطر بعذر او بغیره او وطیها فی الشهرین لیلا عمدا او نهارا سهوا استانف الصوم لا الاطعام ان وطیها فی خلاله هذا عند ابی حنیفةؒ و محمدؒ و عند ابی یوسفؒ لا یستانف الصوم لانه یجب ان یکون متتابعا مقدما علی المسیس فالتتابع حاصل بمعنی ان التقدم علی المسیس غیر حاصل لکنه ان استأنف یکون الکل مؤخرا عن المسیس و لو لم یستأنف فبعضه مقدم علی المسیس فهذا اولی و لابی حنیفةؒ و محمدؒ انه یجب ان یکون مقدما علی المسیس خالیا عنه فالتقدم علی المسیس قد فات لکن خلوه عن المسیس ممکن فتجب رعایته .

تشریح او توضیح: او که روژه ئی ماته کړه یعنی قصدا په سبب د یو عذر لکه سفر یا مرض او یا بغیر د عذر نه نو بیا به ئی له سره راګرځوی ځکه چې تتابع فوت شو حال دا چې دی پری عادةً قادر ؤ او که په هیره سره ئی خوراک وکړ نو پروا نکوی ، همدارنګه که د دغه دوه میاشتو تر منځ په ښځه نفاس راشی یعنی اولاد ئی پیدا شی نو بیا به هم روژی له سره راګرځوی ځکه نفاس یو داسی امر دی چې کله کله واقع کیږی نو تتابع ختموی و عبارة البحر بخلاف النفاس فانه امر یقع احیانا فیقطع التتابع فی صوم کل کفارة انتهی ، او که د حیض د عذر نه ئی روژه ماته کړه نو بیا پدی باندی د سره روژه نیول لازم ندی ځکه دا عادةً معذوره ده ځکه داسی دوه میاشتی پرله پسی نشته چې هغه د حیض نه خالی وی خو دا پری لازم دی چې د حیض نه مخکی ورځ او وروسته ورځ به سره پیوسته کړی نو که د حیض نه ئی وروسته یوه ورځ هم روژه وخوړه نو تتابع ختمه شو او بیا به ئی له سره راګرځوی۔

او وطیها الخ : او که همدغی ښځی سره یعنی کومی سره ئی چې ظهار کړی وطی وکړه په مینځ د دوه میاشتو کی نو که د شپی قصدا وه او یا د ورځی سهوا سره وه نو روژی به له سره راګرځوی قید د عمدا قید اتفاقی دی ځکه وطی د شپی عمدا او نسیانا یو برابر ده او تقید د نهار په ناسیا سره قید

احترازی دی د عمد نه ځکه د ورځی که ورسره قصدا جماع وکړی نو روژه ئی فاسده شوه او تتابع ختم شو نو پده باندی بالاتفاق استیناف لازم دی لانقطاع التتابع کذا فی الکفایه ۱۰۲/۴ ـ او که د ظهار والا ښځی نه ماسواله بلی ښځی سره ئی کوروالی وکړنو که د ورځی قصدا عمدا ؤ نو تتابع ختمه شوه او په ده استیناف لازم دی بالاتفاق او که د ورځی ناسیا وه او یا د شپې چې په هره طریقه وه نو تتابع نه ختموی نو استیناف هم بالاتفاق لازم ندی هکذا فی النهایه ـ

قوله لا الاطعام الخ : یعنی که مظاهر د کفاری د عتق او د صیام نه عاجزه شی او شپیتو مسکینانو ته طعام ورکوی نو که د اطعام په منځ کی د هغی ښځی سره چې کومی سره ئی ظهار کړی وطی وکړه نو تتابع نه ختمیږی او په ده استیناف د اطعام لازم ندی ځکه الله پاک په طعام ورکولو کی دا ندی شرط کړی چې مخکی دی د جماع نه وی او نه ئی (من قبل ان یتماسا) ویلی لکه څرنګه ئی چې په تحریر او صیام کی (من قبل ان یتماسا) ویلی شی لکن د طعام ورکولو نه مخکی وطی کول حرام دی ځکه کیدا شی چې په عتق او صیام باندی قادره شی نو بیا به عتق او صیام د وطی نه وروسته واقع شی ـ

هذا الخ : یعنی وجوب د استیناف په مذکوره صورتونو کی د امام ابو حنیفه او امام محمدؒ مذهب دی لکن د امام ابویوسف ورسره اختلاف صرف په دیکی دی چې مظاهر کله د ورځی په کفاره د روژه کی په شهوت سره کور والی وکړی نو امام ابویوسف وائی چې د روژی استیناف پری لازم نه دی ځکه شرط پدیکی دا دی چې روژه به متتابع وی (من قبل ان یتماسا) به وی نو اوس چې کله مظاهر روژه پرله پسی ونیسی او بیا د ورځی په سهوا سره وطی وکړی نو تتابع خو حاصله شوه ځکه چې قصدا ئی روژه ماته کړی نده ، او په هیره روژه نه باطلیږی پاتی دا خبره شوه چې تقدم د صوم په مسیس رانغی او باطل شو ـ صحی ده ! خو اوس که استیناف د صوم کوی نو توله روژه د مسیس نه وروسته راځی او که استیناف ئی نکوی نو بعض په مسیس مقدمه شوه او بعضی مؤخره شوه نو عدم استیناف د استیناف نه اولی شو ـ

و لابی حنیفةؒ و محمدؒ الخ : او د امام ابوحنیفةؒ او محمدؒ له طرفه دا جواب دی چې نص په کفاره د ظهار کی دوه شیان شرط کړی (۱) ان تکون مقدما علی المسیس (۲) خالیا عنه ای عن الوطی نو اوس تقدم علی المسیس خوفوت شو یعنی اول شرط ختم شو خو دویم شرط پاتی دی هغه دا چې روژه به خالی وی د مسیس نه او دا ممکن هم دی نو د دی رعایت پکار دی او د دی رعایت په استیناف سره راځی نو استیناف لازم شو ـ

و ان عجز عن الصوم اطعم هو او نائبه ستین مسکینا کلاً قدر الفطرة او قیمته هذا عندنا و اما عند الشافعیؒ لا یجوز دفع القیم و ان غداهم او عشاهم و اشبعهم فیهما و ان قل ما اکلوا او اعطی منَّ برٍّ و منوَیْ تمرٍ او شعیرٍ او واحدا شهرین جاز و فی یوم واحد قدر الشهرین لا الا عن یومه ای اعطی شخصا واحدا فی یوم واحدٍ قدر الشهرین لا یجوز الا عن هذا الیوم

هذا مذهبنا و اما الشافعیؒ فلا بد من التملیك كما فی الكسوة ، و وجه قولنا ما ذُكر فی اصول الفقه فی دلالة النص ان الاطعام جعلُ الغیر طاعماً و هو بالاباحة الی آخره .

تشریح او توضیح : او كه د روژی نه هم عاجزه شوه مثلا د مرض په وجه خو هغه مرض چې امید د جوړیدوئی نه وی او یا د بوډالی د وجی نه نو دا مظاهر په خپله او یا د ده نائب دی شپیتو مسكینانو ته طعام وركړی نو د نائب له طرف نه كفاره وركول هم صحیح دی ځكه چې اطعام عبادت مالی دی او په عبادت مالی كی نیابت او وكالت جاری كیدای شی او كه چیرته كوم كس د ده له طرفه بغیر د ده د اجازی نه طعام وركړی نو دا جائز نه ده ، او اطعام به هر مسكین ته په اندازی د سرسائی وركوی چې هغه نیمه پیمانه د غنمو ده او یوه پیمانه د وریشو یا د خرماؤ نه ده او یا دی د سرسائی قیمت وركړی ځكه قیمت د شی مثل د شی وی په اعتبار د معنی سره بلكه كله قیمت د دی فقیر لره زیات فائده ناك وی نو قیمت وركول هم روا دی ، د قیمت وركول جواز زمونږ په مذهب دی او د امام شافعیؒ په مذهب باندی د قیمت وركول جائز ندی بلكه هغه ماكولات چې منصوص علیها دی په هغی كی د سرسائی اندازه وركول واجب دی ۔

قوله و ان غذاهم الخ : غذا د تغذیه نه ده سحر طعام ته وائی او عشاء د تعشیه نه ده د مانبام ډوډی ته وائی یعنی كه طعام وركول په طریقه د تملیك ؤ نو بیا د سرسائی اندازه وركول واجب دی او كه په طریقه د اباحت سره ؤ نو بیا به د سحر او د مانبام طعام په دواړو وقتونو كی وركوی سره د موړ والی اگر كه دغه ماكولات د سرسائی د اندازی نه كم وی نو هم جائز دی خو په تملیك كی به د سرسائی د اندازی نه كم نه وی او بل دا چې په دغه شپیتو كسانو كی به هغه ماشوم نه وی چې كوم فی الحال د تی نه كټ شوی وی ځكه دا ماشوم مقدار معتاد طعام نشی پوره كولی ۔

قوله او اعطی منَّ برٍّ الخ : او یا وركړی یو من غنم او دوه منه خرما یا وریشی د من نه مراد د صاع څلورمه حصه ده چې تقریبا یو من په پاكستانی سیر سره یو سیر راځی نو د سرسائی مقدار نصف صاع یعنی دوه منه ده او د خرما یا وریشو مقدار یوه صاع یعنی څلور منه راځی نو حاصل د دی كلام دا دی چې كه یو سړی د غنمو نه د صاع څلورمه برخه یعنی یو من وركړی او د خرما نه یا د وریشو نه نیم صاع وركړی چې د یو نصاب تكمیل په بل سره وكړی نو دا هم جائز دی ځكه چې جنس دلته من حیث المقصود متحد دی چې هغه اطعام او سد الجوع دی او كه جنس مختلف وی نو بیا تكمیل د احد هما په بل سره جائز ندی مثلا پنځو مسكینانو ته كفاره د یمین كی په طریقی د اباحت سره طعام وركړی او پنځو كسانو ته جامی واغوندی نو پدی صورت كی جنس من حیث المقصود بدل شو چې یو اطعام دی او بل اكساء ده نو تكمیل د احد هما په آخر سره جائز ندی ۔

او واحدا شهرین جاز الخ : او یا یو فقیر ته دوه میاشتی طعام وركړی چې هره ورځ د سرسائی په

اندازه وی يعنی شپيته ورځی ځکه مقصود د دينه د فقير حاجت بندول دی ، او حاجت په هره ورځ جدا جدا وی نو فقير ته په دويمه ورځ ورکول داسی دی لکه يو بل کس ته ئی چې ورکوی نو ګويا چې ده (٦٠) مسکينانو ته طعام ورکړ نو دا هم جائز او روا دی ۔ قوله جازا : دا قول جزا ده د وان غدا هم او د ما بعد لپاره يعنی دغه مذکوره صورتونه ټول جائز دی ۔

قوله و فی يوم واحد الخ : يعنی که په يوه ورځ باندی يو کس ته د دوه مياشتو کفاره په يو ځل ورکړی نو دا جائز نده مګر صرف د دغی يوی ورځی نه اداء شوه ، او که شپيته مسکينانو ته طعام ورکړی نو دا بيا بلکل جائز ده ځکه مفروض چې دی هغه شپيته مسکينانو ته طعام ورکول دی چې هغه په يو وار وی او که په دفعاتو وی نو طعام ورکول په طريقه د اباحت سره او په طريقه د تمليک سره زمونږ مذهب دی ، او د امام شافعیؒ په نزد تمليک ضروری دی يعنی دغه فقير به مالک د دی طعام ګرځوی په ورکړی سره لکه څرنګه چې بالاتفاق په کسوه کی تمليک ضروری دی نو په اطعام کی اباحت نه کافی کيږی ، او زمونږ د قول وجه دا ده چې په اصول فقه کی په دلالت النص کی ذکر شوی دی چې اطعام کی همزه د تعديت لپاره ده مفعول ثانی غواړی نو تقدير داسی راځی چې (جَعْلُ الغيرِ طاعمًا) يعنی ګرځول غير لره خوړونکی يعنی چې ته بل خوړونکی وګرځوی او دغه جعل الغير طاعما په اباحت سره راځی الی آخره : ای الی آخر التقرير المذکور فی کتب اصول الفقه ۔

و ان اطعم ستين مسکينا کُلًّا صاعاً من بُرٍّ عن ظِهارين لم يصح الا عن ظهار واحد و عن افطار و ظهار صح هذا عند ابی حنيفةؒ و ابی يوسفؒ و اما عند محمدؒ يجوز عن الظهارين هما يقولان النية تعمل عند اختلاف الجنسين کالافطار و الظهار لا عند اتحادهما فاذا لغت النية ، والصاع يصلح کفارة واحدة لان نصف الصاع من ادنی المقادير فالمؤدّی و هو الصاع يصلح کفارة واحدة جعلها للظهارين فلا يصح .

تشريح او توضيح: مسئله ۔ که يو سړی باندی کفاره د دوه ظهارو وی نو دی شپيتو مسکينانو ته طعام ورکړی د دواړو کفارو نه هر مسکين ته يو صاع د غنمو نه ورکړی په نيم صاع سره نيت د يو ظهار وکړی او په نيم سره نيت د بل ظهار ورکړی نو دا کفاره صرف د يو ظهار نه صحيح کيږی نه د دواړو نه ځکه نيت په جنس واحد کی لغوه دی نو کله چې نيت لغوه شو او مؤدی صلاحيت د يوی کفاری لری نو هم د يوی څخه واقع کيږی او که نيت ئی د افطار د رمضان نه او د ظهار نه ؤ نو بيا صحی کيږی ځکه چې نيت جنسينو کی معتبر دی دا د امام ابو حنيفه او د امام ابو يوسف رحمهما الله تعالی مذهب دی ۔

او د امام محمدؒ په نزد د دوو ظهارينو څخه جائز دی شيخين وائی چې نيت په وخت د اختلاف د جنسينو کی عمل کوی لکه افطار او ظهار او په وخت د اتحاد د جنسينو کی نيت عمل نه کوی نيت لغوه

دی نو کله چې نیتِ لغوه شو ، او صاع چې ده نو صلاحیت د یوی کفاری لری ځکه نیم صاع د ادنی مقادیرو نه ده نو مظاهر چې کوم شی ادا کړی چې هغه یو صاع دی نو صلاحیت د یوی کفاری لری نو مکفِر چې دغه یو صاع اوس د دوه ظهارینو لپاره ګرځوی نو دا صحی نه ده ۔

کصوم اربعة اشهر او اطعام مائة و عشرین مسکینا او اعتاق عبدین عن ظهارین و ان لم یُعَیِّنْ واحدا لواحدٍ لان الجنس فی الظهارین متحد فلا یجب التعین .

بیان : کصوم الخ : کاف لپاره د تشبیه دی دا تشبیه په صحت کی ده یعنی کله چې پده دوه کفاری د ظهار وی او مکفِر د دینه خلور میاشتی پرلپسی روژه ونیسی او یا یو سلو شلو (۱۲۰) مسکینانو ته اباحةً یا تملیکا طعام ورکړی او یا دوه غلامان ازاد کړی په نیت د دواړو کفارو د ظهار نو دواړو نه صحی کیږی ځکه چې جنس متحد دی نو نیت معینه ته ضرورت نشته چې تعین د یو فعل وکړی مثلا د یو ظهار لپاره ۔

و فی اعتاق عبد عنهما او صوم شهرین له ان یُعَیِّنَ لایِّ شاء و ان اعتق عن قتلٍ و ظهارٍ لم یجُزْ عن واحد و عند زفرٌ لا یُجزِیُهِ عن احدهما فی الفصلین ، و عند الشافعیٌ یجعل عن احدهما فی الفصلین و کفر عبدٌ ظاهر بالصوم فقط لا سیِّدُه بالمال عنه لان الکفارة عبادة ففعل الآخر لا یکون فعله .

تشریح او توضیح : د غلام په ازادولو کی د دوه ظهارینو څخه او یا په روژه د دوه میاشتو کی ۔

قوله له ان الخ : ای ینبغی له یعنی مناسب دی لره چې معین کړی دغه کفاره د کوم ظهار لپاره ئی چې خوښه شی خلاصه د دی دا ده چې مظاهر مکفر چې کله د دوه ظهارینو څخه یو غلام ازاده وی او د دی دوو ظهارینو څخه دوه میاشتی روژه نیسی نو ده لره پکار دی چې دغه غلام یا دغه دوه میاشتی روژه د یو ظهار لپاره تعین کړی نو د کوم ظهار لپاره ئی چې بیا تعین کړی نود هغی سره وطی کولی شی او د بلی سره ئی نشی کولی ۔

و ان اعتق الخ : که غلام په کفاره د قتل او ظهار کی ازاد کړی نو د یوی نه هم نه صحی کیږی ځکه دلته جنس مختلف دی او مکفر عنه هم مجهول دی او امام زفرٌ وائی چې په دواړو فصلینو کی یعنی چې مختلف الجنس وی او که متحد الجنس وی د یوی کفاری نه هم صحی کیږی ، او امام شافعیٌ وائی چې په دواړو فصلینو کی چې د هر یوی کفاری نه ئی چې ګرځوی نو ګرځولی ئی شی ۔

و کفرعبدٌ الخ : یعنی کله چې غلام د خپلی ښځی سره ظهار وکړی هغه غلام خالص غلام وی او که مدبر وی او که مکاتب وی و غیره نو دا به کفاره صرف په روژی سره ورکوی نه په اعتاق سره او نه په اطعام سره ځکه غلام د یو شی مالک هم ندی ځکه ما فی الید د ده د بادار ملک دی ۔ لا سیده الخ : او بادار هم د ده لـه طرفه کفاره بالمال نشی ورکولی نه د ده په امر او نه بغیرد ده د امرنه ځکه کفاره من وجه عبادت دی او دی کی معنی د عقوبت شته نو د بادار فعل د غلام فعل نه کیږی ۔

باب اللعان

باب دی په بیان د لعان کی

پدی باب کی اول ځل د تولو نه مخکی د یو څو خبرو بیانول ضروری دی. (۱) وجه د مناسبت (۲) معنی لغوی د لعان (۳) معنی اصطلاحی (۴) شرط د دی (۵) رکن د دی (٦) اهلیت د دی (۷) سبب د دی (۸) حکم د دی (۹) او اصل او دلیل د دی.

التفسير: (۱) وجه د مناسبت د ماقبل سره دا ده چې مخکی بیان د محرماتو ثلاثوو ذکر شو او لعان د محرمات رابعوو څخه دی او لعان ځکه د نورو څخه وروسته کړ چې لعان کی اباحت نشته بلکه کله معصیت هم وی چې کله دسبب د لعان اضافت غیرمنکوحی ته وشی ځکه بیاحد واجبوی او موجب د حد معصیت وی.

(۲) په لغت کی لعان په معنی: طرداوابعاد سره دی یعنی شړل اولری کول د الله جل جلاله د رحمت نه.

(۳) او په اصطلاح کی عبارة عما يجرى بين الزوجين من الشهادات الاربع واللعن والغضب قائمة مقام حد القذف في حقه و حد الزنا في حقها.

(۴) شرط د لعان قیام د زوجیت او د نکاح دی (۵) او رکن د دی هغه خاص شهادات دی چې د زوجینو تر منځ په خاصو کلماتو سره جاری وی (٦) اهل د لعان هغه خوک دی چې خوک اهل د شهادت وی (۷) سبب دلعان تهمت د خاوند دی چې په خپله ښځه باندی داسی تهمت چې په اجنبیه کی حد واجبونکی وی.

(۸) حکم د لعان حرمت د وطی او د استمتاع دی فی الحال کله چې د لعان نه فارغ شی یعنی د لعان نه د فارغ کیدو نه سمدست پده حرمت د استمتاع راځی (۹) اصل او دلیل دا ایت کریمه دی (والذين يرمون ازواجهم و لم يكن لهم شهداء الا انفسهم . الايه) د دی ایت کریمه نه دا معلومه شوه چې لعان په خپله ښځه باندی په تهمت سره راځی او په پردی ښځه باندی تهمت لګولو سره حد قذف راځی لکه دا ایت کریمه کی چې راځی (والذين يرمون المحصنات ثم لم يأتوا بأربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة - الايه) او بل د لعان د ایت نه دا هم معلومه شوه چې لعان هلته راځی چې ګوهان قائم نشی نو که چیرته د خاوند د ښځی په زنا باندی ګواهان قائم کړل نو بیا نه لعان شته اونه په خاوند باندی حد شته بلکه ښځه باندی به حد د زنا قائمولی شی همدارنګی که ښځه اقرار د زنا وکړی او د خاوند د خبری تصدیق وکړی نو بیا به هم په ښځه باندی حد د زنا جاری کولی شی.

من قذف بالزنا زوجته العفيفة اى عن فعل الزنا غير مُتَّهَمَةٍ به كمن يكون معها ولد و لا يكون له ابٌ معروفٌ و انما اقتصر على كون الزوجة عفيفة و لم يقل ممن يحد قاذفها كما قال في الهداية ولاشك ان العفة اعم من كونها ممن يحدقاذفها لان اشتراط كونهما من

اهل الشهادة يدل على الحرية و التكليف و الاسلام فلاحاجة الى قوله وهى ممن يحد قاذفها بل يكفي ذكر العفة .

تشریح او وتوضیح: چا چې تهمت ولګولو په زنا سره په خپله ښځه چې کومه پاکه وی د فعل د زنا نه او متهمه نوی په زنا سره مثلا چې د دی سره بچی وی او معلوم پلار ئی نه وی ، دلته د فعل زنا نه مراد یواخی هغه زنا مراد نه ده کومه باندی چې حدود راځی بلکه د دینه مراد مطلق وطی حرامه ده چې حرامه لعینه وی هغه داسی چې په غیر ملک صحیح کی وی لکه وطی په نکاح فاسده کی او یا د دی بچی وی او معلوم پلار ئی نه وی او یائی زنا کړی وی اګر که یو کرت وی او یا وطی حرامه لعینه وکړی یو کرت لغیره لکه په حالت د حیض کی نو پدی صورتونو کی د ښځی او خاوند تر منځ په قذف سره لعان نشته ځکه چې لعان د دی لپاره وی چې ښځه د ځان نه عار لری کړی نو کومه ښځه چې د وطی حرامی نه یا د تهمت نه پاکه نوی نو بیا هغه عار ته نه ګوری ۔

و انما اقتصر الخ : غرض د شارح پدی عبارت سره دفع د یو اعتراض ده چې دغه اعتراض په مصنف واردیږی هغه داسی چې مصنف ولی د طرز او طریقی د صاحب هدایه نه مخالفت وکړه چې هغه داسی ذکر کړی چې والمرأة ممن يحد قاذفها او مصنف لفظ د عفيفة ذکر کړی ؟ نو شارح جواب وکړ چې مصنف اقتصار پدی لفظ چې ښځه به عفیفه وی ځکه وکړو چې عفت عام دی د من کونها ممن يحد قاذفها نه ځکه عفت عبارت دی د براء ت من الزنا نه او د تهمت نه او دغه صفت کله په کافره ښځه کی او په لونی کی او په ماشومه کی هم موندلی شی سره د دینه چې قاذف د دی نشی حد کولی او بل داسی چې دا شرط لګول چې زوجین به د اهل د شهادت نه وی دا دلالت په حریت مکلف والی او په اسلام کوی نو ضرورت ممن يحد قاذفها ته نشته بلکه ذکر د عفت کافی دی ۔ مَنْ قذفَ الخ : مبتدأ او لاعَنَ ئی خبر ، او عن فعل الزنا متعلق دی تر العفيفة پوری یعنی داسی ښځه چې پاکه وی د فعل د زنا نه (عبد الرشید صافی) ۔

و كلّ صلح شاهدا او نفى ولدها و طالبت به اى بموجب القذف لَاعَنَ فان ابٰى اى امتنع عن اللعان حُبِسَ حتى يُلاعن او يُكَذِّبَ نفسَه فيُحد فان لاعن لاعنت و الا حُبِسَتْ حتى تُلاعن او تُصدِّقَهُ فينفى نسبَ ولدِها عنه لكن لا يجب عليها الحد بهذا التصديق فان كان هوعبدا او كافرا او محدودا فى قذف حُدَّ لانه ليس من اهل اللعان لعدم اهلية الشهادة ، و ان صلح هو شاهدا و هى امة او كافرة او محدودة فى قذف او صبية او مجنونة او زانية فلا حد عليه و لا لعان لانها ان اتصفت بالزنا لا تكون عفيفة و ان اتصفت بغيره مما ذُكِرَ لاتكون اهلا للشهادة فلا حد على الزوج لعدم احصانها و لا لعان لعدم عفَّتِهَا او اهليتِها للشهادة .

تشریح او وتوضیح: او هر یو د زوجینو ځکه صالح د شهادت ؤ یعنی د اداء کولو د شهادت لپاره

هغه داسي چې نه محدود في القذف ؤ نه كافر ؤ او نه ليونى ؤ او نه غلام ؤ نه ماشوم ؤ او خاوند نفي كړى بچى د دى د خپل ځان نه چې دا بچى ستا زما څخه ندى او ښځه مطالبه په موجب د قذف سره وكړى يعني په كوم شي چې قذف ثابتيږى نو په دواړو صورتونو كې يعنى په صورت د قذف بالزنا كې او په صورت د نفى د ولد د دى كې به خاوند سره لعان وكړى نو كه خاوند د لعان نه انكار كوه نو بندى به كړاى شي تر دى چې لعان وكړى او يا خپل ځان دروغجن كړى چې ما دروغ ويلى نو په صورت د تكذيب د نفس كې به په حد قذف سره حد كړاى شي او كه خاوند لعان كوه نو په ښځه لازم دى چې دا هم لعان وكړى ، او كه ښځې لعان نه كوه نو بندى به كړاى شي تر دى چې لعان وكړى او يا تصديق د خاوند وكړى چې د ده خبره صحيح ده ما زنا كړيده ، نو كله چې ښځې تصديق د خاوند وكړ نو د دى د بچى نسب به د خاوند نه منتفى شي لكن د ښځې په تصديق سره په ښځه حد زنا نه جاري كيږى ، ځكه دا د ښځې ډارك اقرار بالزنا نه دى او حد د زنا هلته راځي چې زنا په شهودو سره ثابته شي او يا زانى څلور كرتى اقرار د زنا وكړى او ښځه هم اقرار د زناوكړى چه ما زنا كړيده نو پدى صورت كې به ښځه په حد كولى شي ـ

فان كان هو عبدا الخ : كه چيرته خاوند غلام ؤ او يا كافر ؤ يا محدود في القذف د دى نه مخكى ؤ خو اوس دى اهل د قذف ؤ مثلا بالغ عاقل ناطق ؤ نو پده باندى به حد د زنا اوس قائم كړاى شي ځكه دى اهل د لعان نه دى ځكه اهليت د شهادت پكې نشته ، او كه اهل دقذف نه ؤ مثلا ماشوم ؤ ګونګى ؤ ليونى ؤ نو بيا حد نشته ، او كه خاوند صلاحيت د اداء د شهادت درلوده خو ښځه وينزه يا كافره وه يا زناكاره وه او د دينه مخكى محدوده في القذف وه او يا ماشومه وه يا ليونۍ وه يا زناكاره وه نو په خاوند باندى حد قذف نشته او نه لعان شته ځكه چې ښځه كله په زنا موصوفه شي نو دا عفيفه نه شوه او په لعان كې عفت شرط دى او كه په نورو مذكورو اوصافو باندى لكه ليونتوب صغر و غيره موصوفه شي نو بيا دا ښځه اهل د شهادت نده او چې ښځه اهل د شهادت نوى نو په خاوند حد د زنا نشته ځكه ښځه محصنه نه ده او لعان هم نشته ځكه لعان كې عفت او اهليت د شهادت دواړه شرط دى او پدى ښځه كې دواړه شرائط معدوم شو نو لعان هم معدوم شو ـ

و صورته ان يقول هو اولاً اربع مرات اشهد بالله انى صادقٌ فيما رميتُها به من الزنا و فى الخامسة لعنة الله عليه ان كان كاذبا فيما رماها به من الزنا مشيرا اليها فى جميعه ثم تقول هى اربع مرات اشهد بالله انه كاذبا فيما رمانى به من الزنا و فى الخامسة غضب الله عليها ان كان صادقا فيما رمانى به من الزنا ثم يفرق القاضى بينهما .

تشريح او توضيح : د لعان صورت او كيفيت دا دى چې اول به خاوند څلور كرتى داسى وائى چې زه ګواهى كوم په الله جل جلاله چې زه رشتونى يم په هغه خبره كې چې ما ويشتلى ده دا ښځه په هغې سره

چې هغه زنا ده او په پنځم کرت به وائي چې لعنت د الله پاک دی په ما وی که زه په دی تهمت کی دروغجن یم کوم چې ما پدی ښځه لګولی دی او ښځی طرف ته به اشاره کونکی وی ، بیا به دا ښځه وائی څلور کرتی چې زه ګواهی کوم په الله پاک سره چې دا خاوند ځما دروغجن دی په هغه تهمت کی چې ده لګولی دی په ما باندی د زنا او په پنځم کرت به ښځه وائی چې غضب د الله دی په ما وی که چیرته دا خاوند ځما رشتونی وی په هغه تهمت د زنا کی چې ده په ما لګولی دی ، دا د لعان طریقه ده د لعان نه وروسته وطی حرامه ده بیا به قاضی د دوی تر منځ جدا والی راولی او د قاضی د تفریق وروسته بیا د دوی تر منځ تر قیامته نکاح نشی کیدای لکه څرنګه چې د مقتضی د حدیث نه معلومیږی چه (المتلاعنان لا یجتمعان ابدا ـ الحدیث) ـ

ان قذف بنفی الولد او به وبالزنا ذكرا فيه اى فى اللعان ما قذف به ثم يفرق القاضى و يـ فـى نسبه و يُلحقه بامّه و تبين بطلقة فان اكْذَبَ نفسَه حُدَّ و حل له نكاحها لانه لم يبق اللعان بينهما فقوله عليه السلام المتلاعنان لا يجتمعان ابدا اى ما داما متلاعنين لان علة عدم اجتماعهما اللعان فلما بطل اللعان لم يبق حكمه و هو عدم الاجتماع و كذا ان قذف غيرها فحدّ او زنت فحدت اى حل له نكاحها ان قذف غيرها بعد التلاعن فحد او زنت بعد التلاعن فحدت فان بقاء اهلية اللعان شرط لبقاء حكمه .

تشریح او توضیح: او که خاوند په ښځه باندی تهمت ولګولو په نفی د بچی سره چې دا بچی ستا زما څخه نه دی او یائی تهمت ورباندی ولګولو په نفی د ولد او زنا دواړو سره نو زوجین به په لعان کی هغه څه یادوی چې کوم تهمت په هغی سره لګیدلی یعنی که تهمت په نفی د ولد سره ؤ نو لعان کی به نفی د ولد یادوی او که په زنا او نفی د ولد دواړو سره ؤ نو لعان کی به دواړه یادوی بیا به قاضی د دوی تر منځ تفریق او جدائی راولی او د بچی نسب به نفی کړی د خاوند نه او د ښځی پوری به ئی پیوسته کړی او دا ښځه د قاضی د تفریق وروسته په یو طلاق سره بائنه وګرځیده او دغه فرقت په حکم د طلاق کی دی ځکه مقصد د دینه دفع د ظلم ده له ښځی څخه او د دوی تر منځ مکمل انقطاع حاصلول دی نو که د لعان نه ئی وروسته د خپل ځان تکذیب وکړ چې ما پدی ښځه باندی د دروغو تهمت لګولی دی نو په خاوند به حد قذف جاری شی او خاوند ته اوس د دی ښځی نکاح بیا حلاله ده ځکه چې مخکنی نکاح د لعان نه د قاضی په تفریق سره ختمه شوی ده ځکه د لعان اثر اوس د دوی تر منځ پاتی نشو نو اوس سوال دا راځی چې ته وائی چې بیا ورته نکاح حلاله ده او حال دا چې حدیث مبارک کی راځی چې المتلاعنان لا یجتمعان ابدا نو اوس څه کوی ؟

نو د دی جواب شارح ؒ پخپله کوی چې د حدیث معنی دا ده چې متلاعنان نشی جمع کیدای د همیشه لپاره یعنی ترڅو چې دوی د لعان په حالت کی موجود وی یعنی په حدیث کی چې کوم تابید

راغلی دا متعلق دی تر زمانی د بقاء لعان پوری ځکه علت د عدم اجتماع د دوی لعان ؤ لکن کله چې لعان باطل شو نو حکم ئې هم باطل شو چې هغه عدم اجتماع د دوی ده۔

قوله و کذا ان قذف الخ : د دې عبارت مطلب دا دی چې که یو سړی د خپلې ښځې سره لعان وکړې او د لعان نه وروسته دا سړی د یوی بلې ښځې سره زنا وکړې او دی په حد کړای شي یا دده ښځې دلعان نه وروسته زنا وکړه اوحد د زنا په جاري کړای شي نو دغه سړی ته د دغې ښځې سره (چې ده ورسره لعان کړی ؤ) اوس نکاح حلاله ده ځکه په زنا سره د دې عفت ختم شو او د خاوند په زنا او حد جاري سره اهلیت د شهادت ختم شو او د شرائطو د بقاء د حرمت مؤبده نه بقاء دا اهلیت د لعان دی نو کله چې دغه شرائط منتفی شو نو لعان هم منتفی شو او کله چې لعان منتفی شو نو د دغه ښځې نکاح د ده لپاره جائز ده ځکه علت د عدم اجتماع د زوجینو لپاره لعان دی او هغه باطل شوی۔

و لا لعان بقذف الاخرس و نفي الحمل عنه و ان ولدت لاقل من ستة اشهر هذا عند ابی حنیفةؒ و زفرؒ و عند ابی یوسفؒ و محمدؒ یجب اللعان اذا ولدت لاقل من ستة اشهر لانه حینئذٍ تبیَّن انه کان موجودا وقت النفی و لابی حنیفةؒ وزفرؒ انه لا یتیقن بوجود الکل و فیما اذا ولدت لاقل من ستة اشهر یصیر کانه قال ان کنتِ حاملا فحملكِ لیس منی ثم تبین انها کانت حاملا و القذف لا یصح تعلیقه .

تشریح او توضیح : د ګونګی په تهمت لګولو سره لعان نشته یعنی که یو ګونګی په خپله ښځه باندی د زنا تهمت ولګوی او یا د خپلې ښځې حمل د ځان نه نفی کړی یعنی چې دا حمل زما ځخه ندی اګر چې دا ښځه دا بچی د شپږو میاشتو نه په کمه موده کی وزیږوی نو په دواړو صورتونو کی لعان نشته ، ځکه لعان قائمقام د حد قذف دی نو دا به د صریح نطق او الفاظو پوری تعلق لری او په شبه سره به ختمیږی دا د امام ابو حنیفهؒ او زفرؒ قول دی۔

او د امام ابویوسف او امام محمدؒ په نزد چې کله د شپږو میاشتو نه مخکی بچی وزیږوی نو بیا لعان واجب دی ځکه کله چې ښځه د وقت د نفی ځخه د شپږو میاشتو نه په کمه موده کی بچی وزیږوی نو معلومه شوه چې دا حمل په وخت د نفی کی موجود ؤ ، ځکه د حمل کمه موده شپږ میاشتی وه امام ابو حنیفهؒ او امام زفرؒ دا دلیل وائی چې په وخت د نفی کی په وجود د حمل باندی یقین نه ؤ ځکه احتمال د دی لری چه د ګیډی دا پړسوب د اوبو یا د باد له وجی ځخه وی لکن که د شپږو میاشتو نه په کمه موده کی بچی راوړی نو بیا معلومه شوه چې دا حمل په وخت د نفی کی موجود ؤ نو پدی صورت کی د خاوند قذف معلق وګرځید ګویا چې ده داسی وویل که چیرته فرضا ته حامله ئې نو ستا حمل به زما ځخه نوی نو کله ئې چې بچی راوړ نو معلومه شوه چې دا ښځه حامله وه او د قذف تعلیق نه صحی کیږی نو داسی

قذف معلوم ته به اعتبار هم نه وي او كله چې قذف غير معتبر شو نو لعان هم نشته ـ

و بزنيتِ و هذا الحملُ منه تلاعنا و لا ينفي القاضي الحمل لان تلاعنها كان بسبب قوله زنيتِ لا بنفي الحمل و ان نفى الولد زمان التهنئة او شراء آلة الولادة صح و بعده لا ولاعَنَ في حاليه اى حال النفي زمان التهنئة و حال النفي بعد زمان التهنئة .

وضاحت : كه چيرته خاوند خپلې ښځې ته دا ووائي چې تا زنا كړيده او دا حمل د زنا څخه دى نو دواړه به لعان وكړي ځكه دلته قذف موجود دى په صريحي الفاظو د زنا سره نه يوائې په نفس حمل سره نو دا قول د خاوند چې دا حمل زما څخه ندى لغوه به وي په باب د تلاعن كې او قاضي به نفي د حمل د خاوند نه كوي ځكه تلاعن په سبب د زنيت لفظ سره راغى نه په نفي د حمل سره ، او بل دا چې د ولادت څخه مخكې پدې باندې حكم هم نشي كيداى كه چيرته خاوند نفي د بچي وكړي په زمانه د مبارك باد كې او يا په وخت د اخستلو د سامان ولادت كې نو دا صحيح ده ، او پس د زمان د مبارك باد نه نفي نه صحيح كيږي ـ

خلاصه د دى عبارت دا ده چې د ده بچي پيدا شو خلكو مباركي وركوله چې بچي دى مبارك شه نو ده وويل چې دا زما بچي ندى او يائي سامان د ولادت ورته اخستل لكه زانگو وروني و غيره او دغه وخت كې ده وويل چې د بچي زما څخه ندى نو دغه نفي د ده صحيح ده او كه مباركي ئې واخسته او قبوله ئې كړه او يائي سامان د ولادت ورته واخستل او د هغي نه وروسته ئې نفي د بچي وكړه نو دا نفي ئې صحيح نده بلكه دا د خاوند له طرفه د دى اقرار دى چې دا بچي زما څخه دى لكن په دواړو حالتونو كې يعني د مباركۍ نه مخكې ئې كه نفي كړي وي او كه پس له مباركۍ څخه په دواړو صورتونو كې به لعان كوي ځكه قذف موجود دى نو لعان په نفي د ولد سره ثابت شو او په دويم صورت كې يعني چې پس د مباركۍ اخستو څخه نفي وكړي نسب نه منتفي كيږي يعني نسب د ده به د دى خاوند څخه ثابت وي ـ

و ان نفى اول توأمين و اقر بالآخر حُدَّ لانه اَكْذَبَ نفسَه بدعوى الثاني لانهما خلقا من ماء واحدٍ و في عكسه لاعن اى اذا اقرّ بالاول و نفى الثاني لاعَنَ لانه قذفَ بنفي الثاني و لم يرجع عنه و صح نسبهما منه في الوجهين لاعترافه باحدهما و هما خلقا من ماء واحد

بيان : توامين هغه دوه بچيان دى چې د دواړو ولادت تر منځ د شپږو مياشتو نه فاصله كمه وي ـ

خلاصه د عبارت : كله چې يوه ښځه دوه بچيان راوړي نو خاوند اول بچي نفي كړي چې دا زما څخه ندى او د دويم اقرار ئې وكړو په ده باندى به حد قذف جاري كړاى شي برابره خبره ده كه د اقرار څخه رجوع وكړي يا نه ځكه كله چې ده يوائې د دويم بچي اقرار وكړ نو پدى اقرار سره ده خپل ځان دروخجن كړ چې نفي د اول بچي ئې وكړه ځكه چې دواړه د يو اوبو څخه پيدا شوي دى پس دى قاذف وگرځيده ـ

و في عكسه لاعنَ الخ : او د دى په عكس كې به لعان وكړي يعني چې اقرار په اول بچي وكړي او

دویم نفی کړی نو لعان به وکړی ځکه ده تهمت ولګوه په نفی د دویم بچی سره او رجوع ئی هم ونکړه د قذف نه نو که د قذف نه رجوع وکړی نو بیا به لعان نه کوی بلکه په حد کولی به شی ځکه ده خپل ځان دروغجن کړ ـ وصح الخ : او صحیح ده نسبت د دواړو توامینو د زوج څخه په دواړو صورتونو کی یعنی په نفی د اول او دویم بچی کی ځکه ده اقرار په احد هما سره وکړو حال دا چې دواړه بچی د یوی نطفی څخه پیدا شوی دی ـ

باب العنين

باب دی په بیان د عنین کی

مصنف" چې د احکامو د نکاح او د طلاقو متعلقاتو د طلاقو او د بیان د هغی خلکو څخه چې قابل د نکاح ؤ فارغ شونو شروع ئی وکړه په بیان د هغو خلکو کی چې قابل د نکاح نه ؤ نو ونی ویل چې باب العنين ـ عنین د فعیل وزن دی په معنی د مفعول سره ماخوذ دی د عَنَّ څخه په معنی د حبس سره ، او عنین هغه چاته وائی چې د ذکر باوجود په ښځو باندی قابو نشی موندلې او که چیری ثیبی ښځو سره په وطی کولو باندی قدرت لری او پیغلی سره ئی نلری او یا د بعضو ښځو سره وطی کولی شی او د بعضو سره ئی نشی کولی نو دا عنین دی برابره خبره ده چې دا د څه مرض د وطی څخه وی یا د پیدائشی کمزوری د وجی نه وی او یا بوډاوالی د وجی نه وی اویا د جادو په وجه وی نو دا عنین دی په حق د هغه چا کی چې هغی ته نشی رسیدلی ځکه مقصود فوت شو ، او بعضی علماء وائی چې عنین هغه دی : چې په داخلولو باندی قادر نوی او بعضی علماء بیا دا وائی چې عنین هغه دی چې ذکر ئی دومره ورکوتی وی چې د ښځی په شرمګاه کی ئی داخلول ممکن نوی ، او بعضی علماء وائی چې عنین هغه دی چه ذکرئی په حرکت نه راځی ـ

او د عنین د پیژند ګلو لپاره بیا علامه هندوانی" وائی چې په یو لوښی کی د یخی اوبه واچوی او عنین دی پکی کینی نو که د ده ذکر راغونډ شو نو دا عنین ندی او که ذکرئی راغونډ نه شو نو بیا دا عنین دی تاج الهدایه ۳۷۸/۷ فتح القدیر والکفایه ۱۲۹/۴ ، او که چیرته په دبر کی په وطی قادر ؤ او فرج کی قادر نه ؤ نو دا هم عنین دی او د عنین په حکم کی مجبوب هم داخل دی مجبوب چې ذکر او خصیتین دواړه ئی پریکړی شوی وی ، او خصی هم پکی داخل دی خصی چې صرف خصیتین ئی پری کړی شوی وی همدارنګه هغه کس چې ښځی سره خبری وکړی او د کوروالی نه مخکی انزال وشی په حکم د عنین کی دی ، کذا فی البحر ـ

إن اقرّ انه لم يصل اليها أجله الحاكم سنةً قمرية في الصحيح و في رواية الحسن عن ابى حنيفة انه يؤجل سنة شمسية و في ظاهر الرواية سنةً قمرية فالسنة الشمسية مدة وصول الشمس الى النقطة التي فارقتها من تلك البروج و ذلك في ثلاثمائة و خمسة و ستين يوما

و ربع یوم و السنة القمریة اثنا عشر شهرا قمریا و مدتها ثلاثمائة و اربعة و خمسون یوما و ثلث یوم و ثلث عشر یوم .

التقریر السالم فی بیان تاجیل الحاکم

کـه خاونـد اقرار وکړی چې زه ښځی ته نه یم رسیدلی یعنی ما ورسره جماع نده کړی نو قاضی به یـو کـال مهـلت ورکړی چې پدی یو کال کی د ځان دواء وکړی دغه کال به د صحیح روایت له مخی په شمسی کال سره معتبر وی او په روایت د حسن بن زیاد کی د امام ابو حنیفهؒ څخه دا دی چې په شمسی کال سره مهـلت ورکـړای شـی او پـه ظاهر الروایت کی دی چې په قمری کال سره به مهلت ورکړای شی ۔ اصل خبره دا ده چې لمر او سپوږمی دواړه د الله پاک په حکم سره په خپل فلک کی حرکت کوی خو د لمر دوره په یـو کـال کـی پـوره کیـږی او د قمر دوره په یوه میاشت کی پوره کیږی او دوره دیتـه وائی چې کله یو ستوری هغـه ځـای تـه ورسیږی چې له کوم ځای څخه جدا شوی د یو قطب نه تر بل قطب پوری دولس برجونه دی او د مشـرق څخـه تـر مـغـرب پـوری مـنـحنی فاصلی ته منطقه د بروجو وائی هغه دولس برجونه دا دی (۱) حمل (۲) ثور (۳) جوزا (۴) سرطان (۵) اسد (٦) سنبله (۷) میزان (۸) عقرب (۹) قوس (۱۰) جدی (۱۱) دلو (۱۲) حـوت ۔ او لـمـر دا یـو بـرج تـقـریـبا پـه میـاشـت کی ترسره کوی نو تول دوره د لمر په ۳٦۵ ورځو او ٦ ساعـاتـو کـی وی ، نـو دیتـه شمسـی کال وائی او سنه قمری عبارت دی د ۱۲ قمری میاشتو نه او موده د سنه قـمـری ۳۵۴ ورځـی او دویـمـه حـصـه د شپې او ورځې او دیرشمه حصه د شپې او ورځې ده د یوم نه مراد په عبـارت کـی شپـه اوورځ دی نو مجموعه حساب (۸ ساعاته او ۴۸ دقیقی راځی) ۲۴ × ٦۰ = ۱۴۴۰ ÷ ۱۰ = ۱٦٦ ÷ ۳ = ۴۸ سره په بل عنوان سره : ۴۸ × ۳ حصه د لسمی = ۱۴۴ × ۱۰ حصه د شبو روز = ۱۴۴۰ دقیقی د یـو سـاعـت ÷ پـه یـو سـاعـت (٦۰) = ۲۴ ساعتو پوری = خو موده د قمری کال د شمسی کال نه تقریبا لس ورځی کمه ده همدا وجه ده چې رمضان هر کال لس ورځی مخکی راځی ۔

و رمضان و ایام حیضها منها لا مدّةُ مرضه و مرضها فان لم یصِل فیها فرّق القاضی بینهما ان طلبتْهُ ای ان طلبت المرأة التفریق و تبِیْنُ بطلقة و لها کل المهر ان خلا بها و تجب العدة .

تشریح او توضیح : حاصـل د عبارت دا دی چې هر کال د موانعو د وطی څخه خالی نوی لکه میاشت د رمضان او ایام د حیض د ښځی نو قاضی چې کله عنین سړی ته یو کال مهلت ورکړی نو رمضان او د حیـض ورځـی به په همدغه کال کی حسابیږی او د دی په عوض کی به نوری ورځی نه حسابیږی لکن که خاونـد یـا ښـځـه مریضه شی نو دغه ورځی به د مودی د تاجیل څخه نه حسابیږی بلکه د دی په عوض کی به نوری ورځی حسابولی شی ځکه کال کله د مرض نه خالی وی او بل دا چې دا مرض د دوی په اختیار کی نـدی خـو مـراد د مـرض څـخـه هـغـه مرض دی چې وطی ورسره ساقطیږی پس کله چې قاضی یو کال

مهلت ورکړو نو که پدی يو کال کی خاوند ورته نزديکت وکړ نو فبها و نعمت او که نزديکت ئی ورته ونکړو نو که ښځی مطالبه د تفريق کوله نو قاضی به د دوی تر منځ تفريق راولی او دی طلب ته طلب تفريق وائی او اول طلب ته طلب تاجيل وائی نو دا تفريق د قاضی طلاق بائن ګرځی او ښځه په طلاق بائن سره جدا شوه نو که خاوند ورسره خلوت کړی ؤ نو دی ښځی لره کل مهر دی ځکه چې د عنين خلوت صحيح دی ځکه آله تناسلی ئی روغه ده او تفريق نه وروسته عدت پری لازم دی احتياطا ځکه کيدای شی چې رحم د ښځی کله دخاوند په اوبو مشغوله شوی وی ۔

و ان اختلفا عطفٌ علی قوله انما أقرّ ، فالمراد الاختلاف ابتداء لابعد التاجيل و كانت ثيبا او بكرا فنظرت النساء فقلن ثيبٌ حُلِّفَ فان حلف بطل حقها و ان نكل او قلن بكرٌ أُجِّلَ ، و لو اجِّلَ ثم اختلفا فالتقسيم هنا كما مر و بطل حقها بحلفه حيث يبطل ثمه كما لو اختارته و خُيِّرَتْ هنا حيث أُجِّلَ ثمه ای لا يخلو اما ان كانت ثيّبا او كانت بكرا فنظرت النساء فقلن ثيبٌ حلف فان حلف بطل حقها كما فی الاختلاف قبل التاجيل و ان نكل خُيرت المرأة ، و ان قلن هی بكر خُيِّرَتْ ايضا و قوله كما لو اختارته فان المرأة ان اختارت زوجَها بطل حقها فی طلب التفريق .

تشريح او توضيح : که ښځې او خاوند اختلاف وکړ خاوند ويل چې ما ښځه وطی کړی ده او ښځی ويل چې زه ئی وطی کړی نه يم او دغه ښځه د نکاح په وخت کی ثيبه وه يا باکره وه نو قاضی به پوهو ښځو ته امر وکړی چې تاسی دا ښځه وګوری چې ايا اوس هم باکره ده او که ثيبه ده ، دا په هغه صورت کی چې د نکاح په وخت کی باکره وی نو کله چې ښځی ورته اوګوری نو که دوی وويل چې دا ثيبه ده نو خاوند ته به بيا هم قسم ورکولی شی اګر چې ظاهر حال د ده لپاره ګواه دی ځکه احتمال د دی لری چې د دی بکارت په بله کومه وجه ختم شوی وی نو که خاوند قسم وکړ نو د ښځی دا حق چې نکاح دی فسخ شی او يا دی تاجيل ورکړای شی باطل شوو او که خاوند د قسم څخه انکار وکړ او يا ښځو وويل چې دا اوس هم باکره ده نو د ښځی دعوٰی ثابته شوه نو خاوند ته به يو کال مهلت ورکړای شی خو ياد ساته چې د اختلاف نه مراد هغه اختلاف دی چې هغه ابتداء وی نه بعد التاجيل ځکه بعد التاجيل اختلاف بيان راروان دی او د ښځو معلومول چې دا باکره ده او که ثيبه دا به په کومه طريقه وی ؟ دی لپاره بعضی علماء وائی چې د چرګی يوه ورکوتی هګی به د دی په فرج کی ورکړی نو که په اسانتيا سره پکی ننوته نو دا ثيبه ده او که سختی سره پکی ننوته نو دا باکره ده ۔

بله طريقه ئی دا ده چې هګی به د فرج په خوله کی ماته کړی که ننوته نو دا ثيبه ده و الا فبکر ۔

دريمه طريقه ئی دا ده چې ديوال ته به مخامخ کينی که ديوال ته ئی متيازی ورسولی نو دا باکره ده او که

ونی نه رسولی نو دا ثیبه ده ۔

ولو اُجّلَ ثم اختلفا الخ : او کـه خاوند ته یو کال مهلت ورکړای شو د کال د تیریدو څخه وروسته د ښځې او خاوند تر منځ اختلاف پیدا شو خاوند ویل چې ما ورسره وطی کړې ده او ښځې ویل چې وطی ئې نده شوی نو کـه ښځو وویل چې ثیبه ده او خاوند قسم هم وکړی نو د ښځې حق باطل شو ۔ وبطل حقها الخ : او باطل کیږی د ښځې حق په قسم د خاوند سره په هغه صورت کی چې هلته د ښځې د حق بطلان راتلای شی لکه په صورت د خوښوالي د ښځه کی چې خپل خاوند خوښ کړی یعنی مثلا که یوه ښځه پدی خبره وی چې دا سړی عنین دی او بیا د هغه سره نکاح وکړی نو پدی صورت کی بیا ښځه مطالبه د تفریق نشی کولی د دی حق باطل شو ۔

و خُیِّرَتْ هنا الخ : او ښځې ته به اختیار ورکړای شی پدغه وخت کی په کوم صورت کی چې تأجیل ورکړای شی یعنی کـه د تاجیل څخه وروسته خاوند دعوی د وطی وکړه او ښځې د عدم وطی او معلومه شوه چې دا ثیبه ده نو خاوند ته به قسم ورکړای شی او د ښځې حق به باطل شی او که خاوند د قسم څخه انکار وکړ او یا باکره معلومه شوه نو په دواړو صورتونو کی به ښځې ته اختیار وی چې د خاوند سره پاتې کیږی او کـه جدا کیږی نو که خاوند ئې خوښ کړ نو د ښځې د بیا مطالبې حق باطل شو ، او که تفریق ئې غوره کړ نو قاضي به خاوند ته امر وکړی چې دیته طلاق ورکړی ۔

والخصی کالعنین فیه ای فی التاجیل و فی المجبوب فُرِّقَ حالا ای فی الحال بطلبها اذ لا فائدة فی تاجیله بخلاف الخصی فان الوطی منه متوقع و لا یتخیر احدهما بعیب الآخر خلافا للشافعیؒ فی العیوب الخمسة و هی الجنون والجذام والبرص والقرن الرتق و عند محمدؒ ان کان بالزوج جنون او جذام او برص فالمرأة بالخیار و ان کان بالمرأة لا لانه یمکن للزوج دفع الضرر عن نفسه بالطلاق.

وضاحت : خصی هغه چاته ویل کیږی چې خصیتین (هګۍ) ئې ویستل شوی وی ، او مجبوب هغه چاته ویل کیږی چې ذکر او هګۍ ئې دواړه غوځ شوی وی ، نو حاصل د کلام دا دی چې خصی هم د عنین په شان دی په تاجیل کی که ښځه مطالبه وکړی نو خصی ته به یو کال مهلت رکړای شی و حکمه کحکم العنین ، او مجبوب ته به سمدستی له مطالبې سره جداوالي ورکړی انتظار د کال به نکوی ځکه چې په تاجیل کی هیڅ فائده نشته ځکه چې د هغه سره له سره ذکر نشته او له خصی سره خو ذکر شته چې امید د وطی تری کیدای شی نوددی وجی خصی ته یو کال مهلت ورکولی شی ۔

و لا یتخیر الخ : یعنی که د زوجینو څخه په یو کی عیب راووځی نو د فسخ د نکاح اختیار هغه بل ته نشته او امام شافعیؒ وائی چې پدی پنځو عیبونو کی ورته اختیار د فسخ د نکاح شته (۱) لیونتوب

(۲) جذام (۳) برص يعنى برگى (۴) قرن چې ذكر په فرج كى د داخليدو څخه منع كوى چې هغه هډوكى وى او كه بل څه وى (۵) رتق چې د متيازو د سورى څخه بل سورى پكى نوى ياد ساته چې په فرج كى د متيازو سورى جدا وى كما حقق الاطباء ۔

او امام محمدؒ وائى كه په خاوند باندى د ليونتوب جذام برص مرض ؤ نو ښځى ته اختيار د فسخ د نكاح شته او كه په ښځه باندى دا مرض ؤ نو بيا خاوند لره اختيار د فسخ د نكاح نشته ځكه خاوند كولى شى چې په طلاقو سره د ځان نه دا ضرر ختم كړى ۔

باب العدة

باب دى په بيان د عدت كى

فائده : د مخكى باب سره د دى باب مناسبت دا دى چې عدت اثر د هغه جدائى دى چې هغه په طلاق سره وى يا په خلع سره وى يا په نورو سره ، عدت په لغت كى شمارلو ته وائى او په اصطلاح كى عبارت دى د هغه انتظار نه چې په ښځه باندى په وخت د زوال دملك متى كى لازم دى ۔

اوسبب دعدت هغه نكاح چې مضبوطه شوى په دخول سره يا په مرگ سره اوركن ددى هغه حرمات دى چې ثابت تريوى نيتى پورىى هغه داچې يا به په مياشتو سره وى يا په حيض سره يا په وضع دحمل سره اوشرط دعدت فرضت دى په سبب دطلاقو سره يا دموت دزوج سره او حكم ددى عدم جواز وغيروى دى لره اوحرمت د خور ددى او حرمت د ځلورو نورو ماسواله دينه او ممنوعات دعدت زينت او خوشبوئ لگول په مبانه كى او خروج دكورنه دهرى معتدى لپاره ۱۲ بنايه ۵۹۲،۵

هى لحرة تحيض للطلاق و الفسخ كالفسخ لخيار البلوغ و ملك احد الزوجين الآخر و تقبيلها ابنَ الزوج بشهوة و ارتداد احدهما و عدمِ الكفاءة ثلاثُ حِيَضٍ كوامل ۔ افاد بقوله كوامل انه اذا طلقها فى الحيض لايُحتَسَبُ هذا الحيض من العدة .

تبيان : دا عدت د اصيلى ښځى لپاره په كومه چې حيض راځى د طلاقو يا د فسخ د نكاح د وجى نه درى مكمل حيضونه دى يعنى كومه ښځه چې حره يعنى اصيله وى او حيض پرى راځى د دوى لپاره عدت د طلاقو لپاره يا د فسخ د نكاح د وجى لكه فسخ په خيار بلوغ سره مثلا يو ماشومه جينۍ خپل ولى په ورو كوالى كى په نكاح وركړى نو اوس چې كله دغه جينۍ بالغه شوه نو ديته حق د فسخ او د ختملو د نكاح شته چې دا نكاح فسخه كړى او په بل ځاى كى نكاح وكړى نو د دى جينۍ لپاره عدت تيرول لازم دى ، همدارنگه كه احد الزوجين مالك د بل وگرځى نو د دوى تر منځ به نكاح فسخ وى او د دى لپاره عدت لازم دى ، او همدارنگه كه چيرته يوه ښځه خپل (بنزى) يعنى پركتى په نيت د شهوت سره

ښځه کړي نو د دوی نکاح به فسخه وی ځکه حرمت د مصاهرت موجود شو نو په دغه ښځه اوس لازم دی ، او همدارنګه که په زوجینو کی یو العیاذ بالله منه مرتد شی د اسلام نه نو ارتداد فسخ دی او د وجی عدت لازم دی ، او همدارنګه که یوه ښځه په غیر کفؤ کی نکاح وکړی نو ولی حق د فسخ د نکاح دوی لری او د فسخ نه وروسته به عدت تیروی وی ۔

حاصل د کلام دا دی چې فسخه د نکاح په مذکوره اسبابو سره په معنی د طلاقو کی ده نو څرنګه چې په طلاقو کی عدت شته نو همدارنګه به د فسخی په صورت کی هم عدت وی ځکه عدت برائت د رحم لپاره لازم دی د دی لپاره چې نسب کی خلط رانشی دغه عدت به د اصیلی حائضی لپاره مکمل حیضونه وی د حری قید ئی د دی لپاره ولګوه چې د وینزی لپاره عدت دوه حیضونه دی او تحیض قید ئی د دی لپاره ولګوه چې د غیر حائضی عدت په میاشتو سره دی ، او په کوامل لفظ کی دیته اشاره ده چې حنفی مذهب کی عدت دری مکمل حیضونه دی نه به کم وی نه به زیات وی یعنی که په حیض کی طلاق ورکړی نو دا مطلق فیه حیض به د عدت څخه نه شمارلی کیږی ځکه که دا د عدت څخه وشماری نو دری نیم حیضه برابریږی والتفصیل فی المقام او دا دری حیضه عدت هلته دی چې ښځه مدخول بها وی ځکه چې غیر مدخول بها باندی عدت نشته ۔

کام ولدٍ مات مولاها او اعتقها و موطوءة بشبهة کما اذا زُفَّتْ الیه غیر امرأته و هو لا یعرفها فوطیها او نکاح فاسدٍ کالنکاح الموقت فی الموت و الفرقة یتعلق بالوطی بالشبهة و النکاح الفاسدفالعدة فیهما ثلاث حیض سواء مات الزوج او وقع بینهما فرقة.

وضاحت : لکه ام ولده چې په دری حیضو سره عدت تیروی یعنی ام ولده هغی وینزی ته وائی چې بادارئی وطی کړی او د بادار څخه بچی راوړی او بادار د دغه بچی د نسب دعوه وکړی چې دا زما څخه دی نو حکم د دی ام ولدی دا دی چه دا پس له مرګ د بادار څخه ازادیږی نو که چیرته بادار ئی په خپل ژوند کی ازاده کړی او یا بادار مړ شی نو دا ام ولده به عدت په دری حیضو سره تیروی ، دا ځکه چې د بادار اعتاق یا د مرګ څخه وروسته په زوال د فراش سره پدی باندی عدت لازم شو نو دا مشابه شو د عدت د نکاح سره او عدت د نکاح دری حیض دی نو د دی به عدت دری حیضه وی ، او عدت وفات چې څلور میاشتی او لس ورځی وی پدی ځکه لازم نشو چې عدت وفات په نص سره خاص دی تر ازواجو پوری او ام ولده زوجه نده ، د دری حیضه عدت په هغه صورت کی دی چې ام ولده حامله نوی یا آیسه نوی او یا حرامه په مولی نوی په نکاح د غیر سره یا په عدت د غیر سره او په ښکلولو د څوی د مولی سره ځکه کله چې د ام ولد حمل وی نو بیا عدت د دی وضع د حمل ده او کله چې آیسه وی نو بیا عدت د دی دری میاشتی دی او کله چې په بادار باندی حرامه شی که هغه د غیر سره په نکاح کولو وی او که په عدت د غیر کی وی او که په تقبیل

دابن د مولی سره وی نو بیا پدی عدت نشته ځکه فراش د مولی نشته او عدت د فراش د وجی لازمیږی او همدارنګه هغه وینزه چې نه ام ولده وی او نه مدبره وی اګر که بادارئی وطی کوی عدت پری نشته۔

و موطوءة الخ : او هغه ښځه چې په شبهی د حلت سره وطی کړای شی او حالانکه پده حرامه وه نو پدی ښځه باندی عدت دری حیضه تیرول لازم دی د دی لپارہ چې د رحم براء ت ئی معلوم شی او د دی ښځی وطی کول په خاوند ئی ترڅو چې په عدت کی وی حرام دی۔

د وطی بالشبهة صورت دا دی چې یو سړی ته د خپلی ښځی په ځای باندی بله ښځه ناوی کړای شی چې هغه د بل چا منکوحه وی او که نه وی او دی هغه ښځه نه پیژنی او وطی ئی کړی بل صورت ئی دادی چې د شپې د ده په فرش باندی بله ښځه ویده وی او دی دا ګمان وکړی چې دا زما ښځه ده او وطی ئی کړی نو پدی ښځه دری میاشتی عدت لازم دی۔

او نکاح فاسد الخ : او یا هغه ښځه چې په نکاح فاسدی سره وطی کړای شی نو دا به دری حیضو سره عدت تیروی ، د نکاح فاسدی مثال لکه نکاح مؤقته ، نکاح مؤقته دیته وائی چې مثلا د یوی ښځی سره لس (۱۰) ورځی نکاح وکړی او نکاح متعی دیته وائی چې سړی ښځی ته ووائی چې زه به له تا څخه مثلا لس کرتی فائده اخلم په دومره مال سره ۔ فی الموت والفرقة الخ : دا تعلق لری تر وطی بالشبهی او نکاح فاسدی پوری د وطی بالشبهی یا د نکاح فاسدی په صورت کی که واطی مړ شی او یا د واطی او موطوء تر منځ فرقت او جداوالی راشي نو په دواړو صورتونو کی په ښځه باندی عدت دری حیضه دی۔

و لمن لم تحض عطف علی قوله لحرةٍ تحیض لصغرها أوْ کبرها او بلغت بالسِّنِّ و لم تحض ثلاثة اشهر ای العدة لحرة لا تحیض لصغر و نحوه للطلاق و الفسخ ثلاثة اشهر و للموت اربعة اشهر و عشرٌ قوله و للموت عطف علی قوله للطلاق و الفسخ معناه العدة للحرة للموت اربعة اشهر و عشر .

تشریح او توضیح: او عدت د هغی ښځی لپاره چې حیض پری نه راځی د ماشوم والی یا د بوډاوالی د وجی نه یعنی چې سن د ایاس ته رسیدلی وی چې هغه ۵۵ کاله دی او یا په کلونو سره بالغه شوی وی چې ۱۵ کاله دی خو حیض پری نوی راغلی د دی لپاره عدت دری میاشتی دی د طلاق او د فسخ د وجی نه یعنی خاوند طلاق ورکړی او یا د دوی تر منځ نکاح فسخ شی او د مرګ د وجی څلور میاشتی او لس ورځی ده یعنی د اصیلی ښځی لپاره عدت د مرګ د وجی نه یعنی چې خاوند ئی مړ شي څلور میاشتي او لس ورځي ده۔

و لامةٍ تحیض حیضتان و لمن لم تحض او مات عنها زوجُها نصفُ ما للحرة ای العدة لامة تحیض للطلاق و الفسخ حیضتان و لامة لم تحض للطلاق و الفسخ نصف ما للحرة ای شهرٌ و نصفُ شهرٍ و اما للموت فنصف ما للحرة ایضا و هو شهران و خمسة ایام .

تشریح او توضیح: هغه زوجه چې وینزه وی او مدخول بها وی او حیض پری راځی د دی عدت دوه حیضه دی لکه څرنګه چې حدیث مبارک کی راغلی عدة الامة حیضتان . قید د زوجه څکه ورسره ولګولی شو چې هغه وینزه چې په ملک یمینی سره وطی شی په هغی عدت نشته ، او د هغی وینزی لپاره چې په هغی حیض نه راځی د ماشوم والی د وجی یا د بوډاوالی د وجی و غیره نه او یائی خاوند مړ شی نو پدی باندی عدت د اصیلی ښځی په نیمائی دی یعنی عدت د هغی وینزی لپاره چې حیض پری راځی د طلاقو لپاره یا د فسخ د نکاح لپاره دوه حیضه دی او د هغی وینزی لپاره چې حیض پری نه راځی عدت د طلاقو یا د فسخ لپاره د وینزی په نیمائی دی چې یوه نیمه میاشت ده څکه د اصیلی ښځی لپاره عدت پدی صورت کی دری میاشتی دی او د خاوند د مرګ په صورت کی هم د حری ښځی په نیمائی عدت دی یعنی دوه میاشتی او پنځه ورځی څکه د اصیلی ښځی لپاره عدت پدی صورت کی څلور میاشتی او لس ورځی دی .

و للحامل الحرة او الامة فانه لا فرق فی الحامل بین ان تکون حرة او امة و ان مات عنها صبیٌ وضعُ حملها ای و ان کان زوجها المیت صبیا فعدتها بوضع الحمل و عند ابی یوسفؒ والشافعیؒ عدتها عدة الوفاة لان العدة بوضع الحمل انما تجب لصیانة الماء و ذلک فی ثابت النسب و هنا لا یثبت النسب عن الصبی و لابی حنیفةؒ و محمدؒ ان قوله تعالی (و اولاتُ الاحمال اجلُهن ان یضعنَ حَملَهن) نزل بعد قوله تعالی (والذین یُتَوَفَّوْنَ منکم و یذرون ازواجا یتربصن بانفسهن اربعة اشهر و عشرًا) فیکون ناسخا له فی مقدار ما یتناوله الآیتان و هو حامل تُوُفِّیَ عنها زوجها فان قیل المراد اولات الاحمال اللاتی یثبت نسب حملهن قلنا لا نسلم بل اولات الاحمال اللاتی وجبت علیهن العدة فعدتهن ان یضعن حملهن .

تشریح او توضیح : او عدت د حاملی ښځی حره وی او که امه وی اګر که خاوند ئی ماشوم مړ شی نو وضع د حمل ده څکه په حامله کی چې حره وی او که امه وی فرق نشته یعنی که خاوند د دی ښځی د ماشوم والی په حالت کی مړ شو نو عدت د دی ښځی به بیا هم وضع د حمل وی او د امام ابویوسفؒ او د امام شافعیؒ په نزد عدت د دی ښځی عدت د وفات دی چې هغه څلور میاشتی او لس ورځی دی څکه عدت په وضع د حمل سره چې لازمیږی د وجی د حفاظت د اوبو نه او دا حفاظت د اوبو په ثابت النسب کی راځی ، او پدی صورت کی یعنی چې خاوند ئی صغیر وی او ښځه ئی حمل وزیږوی د ماشوم نه نسب څخه ثابتیږی څکه د ماشوم له طرفه وطی ممکنه نه ده ، او د امام ابو حنیفةؒ او امام محمدؒ لپاره دلیل دا ایت کریمه چې (و اولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن) دی دا وروسته نازل شوی د دی ایت کریمه نه چې (والذین یُتوفون منکم و یذرون ازواجا یتربصن بانفسهن اربعة اشهر و عشرا) دی نو دا قول چې یتربصن الایه دی په دوه حصو

دلالت کوی چې عدت د متوفی عنها زوجها به بالاشهر وی (۱) حامله وی (۲) او که غیر حامله وی
او ایت د اولات الاحمال هم په دوه حصو دلالت کوی چې عدت د حاملې به په وضع د حمل سره وی برابره خبره ده چې (۱) خاوند ئې وفات شوی وی (۲) او که طلاق ئې ورکړی وی نو ایت د اولات الاحمال هم دوه حصې شو او ایت د یتربصن هم دوه حصې شوې نو ایت د اولات الاحمال ناسخ شو د ایت د یتربصن لپاره خو په هغه مقدار کې چې دواړه ایتونه ورته شاملیږي، چې هغه اوله حصه د ایت د یتربصن ده هغه دا چې عدت د متوفی عنها زوجها به بالاشهر وی که حامله وی نو دا حصه منسوخه شوه نو د ایت (والذین یتوفون - الایه) مطلب به داشي چې هغه ښځې چې غیر حاملې دې او خاوند ئې مړ شي نو عدت د دې به څلور میاشتې او لس ورځې وی، او کومې ښځې چې حاملې دی د هغوی عدت به وضع د حمل وی۔
او ایت د اولات الاحمال په اعتبار د دوهمې حصې سره هغه دا چې عدت د مطلقې حاملې به وضع د حمل سره وی ناسخ ونه ګرځید ځکه دا د ایت د یتربصن کې داخل ندی او ایت د والذین یتوفون په اعتبار د دوهمې حصې سره منسوخ ونه ګرځیده هغه دا چې عدت د متوفی عنها به بالاشهر وی که غیر حامله وی ځکه دا د ایت د اولات الاحمال لاندې داخل ندی نو نسخ صرف په هغه مقدار کې جاری کیږي چې هغې ته دواړه ایتونه شامل دی هغه دا چې متوفی عنها زوجها حامله وی نو عدت د دې به وضع د حمل سره وی نه په اشهر سره۔
فان قیل الخ : اعتراض داسې راځی چې ته وائې چې ایت د اولات الاحمال ناسخ دی د ایت د یتربصن لپاره او عدت د حاملې متوفی عنها زوجها په وضع د حمل سره دی نو په اولات الاحمال کې خو د حاملو ښځه مراد هغې حاملې دی چې نسب د حمل ئې د خپل خاوند ځخه ثابت وی او د متوفی ماشوم حاملې ښځې نسب خو د ماشوم نه ثابت ندی ځکه چې ماشوم ځخه حمل نه راځی ؟ قلنا الخ : شارح جواب کوی چې دا خبره مونږ منو چې د اولات الاحمال نه مراد هغه ښځې دی چې نسب د حمل ئې د خاوند ځخه ثابت وی بلکه د اولات الاحمال نه مراد هغه ښځې دی چې د خاوند په مرګ یا طلاقو سره په دوی باندې عدت واجب شي نسب ئې ثابت وی او که نه وی نو عدت د دوی وضع د حمل ده۔

و لمن حبلت بعد موت الصبی عدةُ الموت لانها لما لم تکن حاملا وقت موت الصبی تعین عدة الموت و لا نسب فی وجهیه ای فیما حبلت قبل موت الصبی او بعده و لامرأة الفار للبائن أبعد الاجلین ای ان انقضت عدة الطلاق و هی ثلاث حیض مثلا و لم تنقض عدة الموت فلابد ان تتربص انقضاء عدة الموت ولو انقضت عدة الموت و لم تنقض عدة الطلاق تتربص عدةَ الطلاق .

بیان : او که د متوفی ماشوم د مرګ ځخه وروسته ښځه حامله شوه هغه داسې چې شپږ

مياشتو يا زياتو څخه بچې راوړي نو عدت د دې ښځې به عدت د وفات وي چې هغه څلور مياشتې او لس ورځې دي ، څکه ښځه چې کله په وخت د مرګ د صبي کې حامله نه وه نو عدت موت متعين شو نو د يتربصن ايت لاندې داخله شوه او نسب په دواړو صورتونو کې يعنې که د ماشوم د مرګ څخه مخکې حامله شوې وي يا ورسته ثابت به نوي.

و لامرأة الفار الخ : او د ښځې د فار بالطلاق البائن لپاره ابعد الاجلين ده د فار بالطلاق بيان مخکې تير شوی دی يعنې که کوم سړي غواړي چې خپله ښځه د ميراث څخه محرومه کړي او په وخت د مرض موت کې طلاق ورکړي نو دغه سړي ته فار بالطلاق وائي يعنې دی د طلاقو په وجه د ميراث څخه تښتي نو که داسې ښځې ته طلاق بائن ورکړي نو د دې ښځې عدت به ابعد الاجلين يعنې که عدت د طلاقو تير شو چې هغه درې حيضه دي په درې مياشتو کې او عدت د موت ئې تير شوی نه وي چې هغه څلور مياشتې او لس ورځې ده نو اوس به دا ښځه ضرور عدت د موت تيروي چې هغه څلور مياشتې او لس ورځې دي او که عدت د موت تير شو او عدت د طلاقو تير شوی نه وو هغه داسې چې د دې ښځې طهر اوږد شو او درې حيضه پدې باندې د څلورو مياشتو او لس ورځو نه په زياته موده کې تير شو نو اوس به عدت د طلاقو ته انتظار کوي او ابعد الاجلين حکم د طرفينو يعنې د امام ابو حنيفه او د امام محمد قول دی او د امام ابويوسف په نزد به عدت په عدت د طلاقو سره تيروي ، والتفصيل في الحاشيه والهدايه۔

و للرجعي ما للموت و لِمَن اُعتِقَت في عدة رجعي كعدة حرةٍ اى عدتها كعدة حرة و في عدة بائن او موت كامةٍ اى عدتها كعدة امة ، و آيسَةٌ رأت الدم بعد عدة الاشهر تستأنف بالحيض اى اذا كانت الزوجة في سنّ الاياس اى خمسة و خمسين سنة فصاعدا و قد انقطع دمها فطلقها الزوج تعتد بثلاثة اشهر فقبل انقضائها رأت الدم فعلم انها لم تكن آيسة فتستأنف بالحيض قال في الهداية هو الصحيح و في رواية ابى على الدقاق انها متى رأت الدم بعد ما حُكم باياستها انه لا يكون حيضا و لا يبطل الاياس و لا يظهر ذلك في فساد الانكحة لانه دم في غير أوانه .

تشريح او توضيح: يعنې که يو مريض په مرض موت کې خپلې ښځې ته طلاق رجعي ورکړي او عدت د طلاقو چې درې مياشتې دي لا تير شوی نه ؤ چې خاوند ئې مړ شو نو اوس پدې ښځه باندې عدت وفات چې څلور مياشتې او لس ورځې دي تيروي څکه په طلاق رجعي سره نکاح بالکلية نه ختميږي نو د وفات په وخت کې هم زوجيت موجود دی پس عدت وفات به تيروي ۔ ولمن اعتقت الخ : يعنې که يوه وينزه چې خاوند والا وي او خاوند طلاق رجعي ورکړي او عدت د دې شروع شي او عدت د دې چې دوه حيضه دي لا نه ؤ تير شوی چې مولی ئې ازاده کړه او حره وګرځيده نو پدې صورت کې د دې

عدت د حرو ښځو عدت ته منتقل شو چې هغه درې حيضه دی د حائضې لپاره او درې مياشتې دی د غير حائضې لپاره ، ځکه چې نکاح په طلاق رجعي کې باقي پاتې کيږي نو دا داسې وګرځيده ګويا چې په حالت د قيام د نکاح کې دا حره وه او د حرې عدت مذکوره دی ۔

و فی عدة بائن الخ : او کـه چيرته خاوند طلاق بائن ورکړ او يائې خاوند مړ شو بيا مولی دا ازاده کړه نو پدې صورت کې عدت د دې عدت د اصيلو ښځو ته نه منتقل کيږي ځکه چې د عتق په وخت کې نکاح ختمه شوې وه نو عدت د دې به پشان د عدت د وينزې وي چې هغه دوه حيضه دی او يا دوه مياشتې او پنځه ورځې دی او عدت د عتق پرې نشته ځکه عدت د عتق په معتده د غير باندې او په منکوحه د غير باندې نشته ۔

و آيسة الخ : او کـلـه چې ښځه په عمر د اياس کې وي يعنې د حيض څخه نا اميده شي چې هغه پنځه پنځوس کالـه يا زيات دی او خاوند طلاق ورکړې بيا دا ښځه درې مياشتې عدت تير کړې د عدت تيريدو څخه وروسته وينه وګورې نو دا به اوس عدت بالحيض له سره تيروی لکن شارحؒ د مصنفؒ کلام پدې حمل کړې چې د درې مياشتې د عدت تيريدو څخه مخکې وينه وګورې د دې وجه دا ده چې شارحؒ يو بـل قـول تـه اشاره کـړې هـغـه دا چـې پـدې مسئـلـه کې شپږ اقوال دی (١) د عدت بالاشهر د تيريدو څخه وروستـه ويـنـه وګـورې نـو مـخـکـنـی عـدت ئې نه ماتيږې او نه بل عدت پرې واجب دی و افتی به الصدر الشهيد و قال فی المجتبی هو الصحيح المختار للفتوی ۔

(٢) مـخـکـنـی مـطـلـقـا ماتيږې يعنې يوه ښځه په سابقنی عادت باندې وينه وګورې خواه عدت بـالاشهر ئـې پوره شوی وی او که نه ، ځکه عدت بالاشهر خليفه د عدت بالحيض دی او عدت بالحيض ئې اصل دی او په وخت د وجود د اصل کې خلف ته اعتبار نشته نو اوس به عدت بالحيض تيره وی ۔

(٣) مـخـکـنـی عـدت مـطـلـقـا نـه مـاتـيږې يعنې که عدت بالاشهر پوره وی او که نه وی نو عدت بـالـحـيـض پرې نشته واختاره الاسبيجابی ۔ (۴) په روايت د عدم تقرير د اياس باندې يعنې چې د اياس لپاره څـه وخت او نيتـه او انـدازه مـقـرره نشـي نـو بيـا پدې صورت کې مخکنی عدت ماتيږې او عدت بالاشهر لازميږې ، او کـه چيـرتـه د اياس لپاه نيته مقرره ثابته شي لکه پنځه پنځوس کاله و غيره او د دينه وروسته وينه وګورې نو بيا مخکنی عدت نه ماتيږې او عدت بالحيض نه لازميږې ۔

(۵) کـه چيرته د دې په اياس باندې حکم نوو شوی نو بيا مخکنی عدت ماتيږې او که چيرته د دې پـه ايـاس بـانـدې حـکـم شـوی وو نـو پـه صورت د فساد د نکاح کې به دې اياس ته اعتبار وی او دغه وينه به حيض نه حسابيږې ځکه دا بې وخته وينه ده ۔

(٦) سـابـقـنـی عدت به په زمانه ماضی کې نه ماتوی لکن په آئنده کې به دا ښځه د ذوات الحيض څـخـه حسابيږې او عدت بالحيض به تيروی نو شارحؒ اول قول ته اشاره وکړه او د مصنفؒ کلام ئې چې بعد

عدة الاشهر دی حمل کریدی چې د دی نه مراد دا دی چې دعدت بالاشهر د پوره کیدو څخه مخکی وینه وګوری نو د دی ښځی ایاس والی ختم شو نو عدت به په عدت بالحیض سره له سره شروع کوی او که چیرته د عدت د پوره کیدو نه وروسته وینه وګوری نو بیا د هغی حکم د اول قول پشان دی او په دی قول کی چې و فی روایة ابی علی الدقاق اشاره پنځم قول ته ده .

کما تستأنف بالشهور مَنْ حاضت حیضَةً ثم آیسَتْ ای انقطع دمُها و هی فی سِنِّ الایاس تستانف بالشهور اقول الاستیناف مشکلٌ لانه لو ظهر ان عدتها بالاشهر من وقتِ الطلاق فالحیضة التی رأت قبل الایاس مشتملة علی الوقت فیجب ان یکون محسوبا من العدة من حیث انه وقت .

تشریح او توضیح : لکه څرنګه چې کومه ښځه چې حائضه شی په یو حیض سره بیا ایسه شی نو دا به اوس عدت په میاشتو سره له سره تیروی حاصل د کلام د مصنفؒ دا دی چې خاوند کله خپلی ښځی ته طلاق ورکړی او ښځه د ذوات الحیض څخه وه او د طلاق نه وروسته یو یا دوه حیضه پری راشی او بیا په سن د ایاس کی چې پنځه پنځوس کاله دی داخله شی او وینه ئی په مکمل طور سره بنده شی اوس به دا ښځه عدت په میاشتو سره تیروی چې هغه دری میاشتی مکملی دی او مستقلی به وی د دی لپاره چې جمع بین البدل والمبدل رانشی ځکه دا دری میاشتی بدلی دی د دری حیضو څخه نو کله چې زمانه د حیض هم حساب شی او نوری هم ورسره حساب شی مثلا چې د یو حیض وخت یو میاشت ده او دوه میاشتی نوری ورسره حساب شی نو دا جمع بین البدل والمبدل راغله و ذا لا یجوز نو اوس پدی سره د شارحؒ راتلونکی اعتراض هم دفع شو چې عنوان ئی اقول دی .

خلاصه د اعتراض دا ده چې وجوب دعدت د طلاقو څخه ورسته وی او د طلاقو پوری پیوسته وی نو اوس چې دا ښځه د طلاقو په وخت کی ذوات الحیض څخه وه یو یا دوه حیضه پری تیر شو او بیا آیسه وګرځیده نو د دی ښځی عدت عدت بالاشهر د وخت د طلاقو څخه رانغی چې دری میاشتی عدت پری واجب شی ځکه ایاس خو د طلاقو څخه وروسته ؤ او بل دا چې که فرضا معلومه شی چې د دی عدت بالاشهر خو د طلاقو د وخت څخه دی نو بیا د استیناف څه معنی او مقصد شو بلکه دا لازم ده چې د ایاس څخه مخکی کومه زمانه د یو حیض ده یا د وو حیضو ده چې دا هم حساب کړای شی پدی اعتبار چې دا هم یو وخت دی نه په دی اعتبار چې دا حیض دی ؟ نو د دی جواب ته مخکی مونږ اشاره وکړه چې د طلاقو څخه وروسته ایاس ته د دی وجی اعتبار ورکړی شو چې د بدل او مبدل تر منځ جمع رانشی او د استیناف نه دا مراد دی چې سابقنی زمانی ته مونږ اعتبار پدی حیثیت ونکړ چې دا من حیث الحیضة واخلی او په اعتبار د مطلقی وخت سره چې قید د حیضت پکی مراد نشی مونږ اعتبار ورکړی ، فاندفع

الاشکال انشاء الله بعونه ـ

و علی معتدةٍ وُطِئَتْ بشبهةٍ عدة اخری و تداخلتا و حيض تراه منهما حيض مبتدأ و تراه صفة و منهما خبره ای حيض تراه بعد الوطی بالشبهة و قد فُهِمَ هذا من انَّ وُطِئَتْ فعلٍ ماضٍ و تراه فعل مستقبل و منهما ای من العدتين و اعلم ان هذا مذهبنا اما عند الشافعی فيتداخلان ان کان الوطی بالشبهة من الزوج وهی فی عدته اما ان کان من آخر فلا .

تشريح او توضيح: او په هغه معتده باندی چې وطی شی په شبهی سره بل عدت دی او دواړه عدتونه به په يو بل کی ننوځی او د وطی بالشبهی څخه وروسته چې کوم حيض ښځه وګوری هغه به د دواړو عدتونو څخه شمارل کيږی ، چې کله په ښځه باندی دوه عدتونه واجب شی نو دا به يا د دوو سړو څخه وی او يا د يو سړی څخه وی نو که د يو سړی څخه ؤ نو بيا به بلاشکه دواړه عدتونه په يو بل کی ننوځی او که د دوو سړو څخه ؤ نو بيا به دا عدت خالی نه وی يا به د جنسينو څخه وی لکه متوفی عنها زوجها چې په شبهی سره وطی کړای شی او يا به د يو جنس څخه وی لکه مطلقه چې په عدت کی نکاح وکړی او دويم خاوند ئی وطی کړی او د دوئی تر منځ جدائی راوستی شی نو اوس به دواړو عدتونو کی تداخل وکړای شی د احنافو په مذهب باندی ، او د وطی وروسته چې کوم حيض وګوری هغه به د دواړو عدتونو څخه شمارل کيږی ـ

او کله چې اول عدت پوره شو نو دويم عدت پوره کول په ښځه لازم دی چې شکل ئی په متن کی راځی چه د کوم حيض ذکر دی د هغی نه مراد دغه حلقه کی بند حيض دی نو دا حيض به دواړه عدتونو څخه شمارل کيږی نو که د اول حيض نه وروسته ئی وطی ورسره وکړه لکه په لاندی شکل کی چه ليکل شوی نو اوس به دا ښځه دوه حيضه نور تيروی چه اول عدت مکمل شی او د وطی څخه وروسته چه کوم دوه حيضونه راغلی دابه د دويم عدت څخه هم شمارل کيږی نو چه بيايو حيض بل تيرکړی نو دويم عدت به هم مکمل شی ـ نو د وطی څخه وروسته حيض د دواړو عدتونو منځ کی شريک شو او د وطی څخه مخکی حيض هغه د اولنی عدت څخه شمارل کيږی لکه د رد المحتار د عبارت څخه چه معلوميږی.

(والمرائی منهما) بيان التداخل فلو کانت وطئها بعد حيضة من الاولی فعليها حيضتان تکملة الاولی و تحتسب بهما من عدة الثانی فاذا حاضت واحدة بعد ذلک تمت الثانية ايضا (نهر) و هذا اذا کان بعد التفريق بينهما و بين الواطی للثانی اما اذا حاضت حيضة قبله فهی من عدة الاول خاصة (رد المحتار ۲۰۳/۵ طبع مکتبه حقانيه) .

قوله و قد فهم الخ : دا دفع د يو اعتراض ده هغه داسی چه تا څه معلومه کړه چه په عبارت کی مذکور حيض نه مراد هغه حيض دی چه کوم د وطی بالشبهی څخه وروسته دی کيدی شی چه د وطی

ځکه مخکنی حیض تری مراد وی ؟ نو شارحؒ جواب وکړ چه ما دا د دینه معلومه کړه چه وُطِئَتْ صیغه د فعل ماضی مجهول ده او تراه صیغه د فعل مستقبل ده او په منهما کی ضمیر د تثنیی عدتینو ته راجع دی نو معنی داسی راځی چه په هغه معتده باندی چه وطی کړی شوی وی په شبهی سره بل عدت دی او د دواړو عدتونو تر منځ به تداخل راځی او هغه حیض چه په آئنده کی ولیدلی شی هغه به د دواړو عدتونو څخه شمارل کیږی نو معلوم شوه چه د مذکور حیض نه مراد هغه حیض دی چه د وطی څخه وروسته وی

او امام شافعیؒ وائی که وطی بالشبهه د خاوند له طرفه وه او دا ښځه د همدغه خاوند په عدت کی لاوه نو بیا تداخل راتلای شی او که غیر د خاوند له طرفه وه نو بیا تداخل نه شی راتلای ۔

فاذا تمت الاولی دون الثانیة یجب اتمامها صورته طلقها الزوج بائنا او ثلاثا فحاضت حیضة فوطیها غیر الزوج شبهة فعلیها عدتان فالحیضة الاولیٰ من العدة الاولی و حیضتان بعدها تکونان من العدتین فتمت العدة للاولی فتجب حیضة رابعة لیتم العدة الثانیة .

فائده : د دی تفصیل بعینه هم هغه دی چه کوم په تیره نقشه کی لیکلی شوی فلا ضرورة الی اعادته ثانیا والله الموفق و هو المستعان ۔

و تنقضی عدة الطلاق والموت و ان جهلت بهما ای بتطلیق الزوج و موته و مبدأها عقیبهما ای عقیب الطلاق والموت و فی نکاح فاسدٍ عقیب تفریقه او عزمه ترك الوطی و لو قالت انقضت عدتی حلفت ای ان قالت المرأة انقضت عدتی و کذّبها الزوج فالقول قولها مع الیمین .

تشریح او توضیح: او عدت ختمیدل د ښځی د علم پوری په طلاقو باندی یا په مرګ د خاوند باندی موقوف ندی که ښځه خبره وی او که نه وی خو د نیتی په تیریدو سره عدت ختمیږی ځکه عدت یوه نیته ده نو د دی په تیریدو باندی څه علم شرط ندی خو شروع د عدت به د طلاقو یا د مرګ څخه وروسته فورا وی ځکه عدت د وجوب په سبب د طلاقو او د مرګ سره راغلی خو وجوب د عدت چه وروسته د طلاقو نه فورا راځی دا په نکاح صحیح کی راځی او په نکاح فاسده کی یعنی چه یوشرط د شروطو د نکاح نه پکی موجود نه وی مثلاً ګواهان ۔

نو پدیکی به عدت وروسته د دوو کارونو څخه وی (۱) چه د قاضی د تفریق څخه وروسته چه قاضی د دوی تر منځ د تفریق حکم وکړی (۲) دویم د متارکی څخه وروسته چه په زړه سره عزم او قصد د ترک د وطی وکړی او بیا خبر ورکړی چه فارقتکِ یا ترکتکِ و غیره ۔

ولو قالت انقضت عدتی الخ : او که ښځی دا دعوه وکړه چه زما عدت تیر شوی دی لیکن خاوند ئی تکذیب وکړ نو د ښځی قول او وینا به معتبره وی خو سره د قسم نه چه ښځه به قسم خوری خو دا

په هغه صورت کی چه دغه مودی احتمال د پوره کیدو د عدت درلوده لیکن که دغه مودی احتمال د عدت پوره کیدو نه درلوده نو بیا پدی صورت کی د ښځی قول معتبر نه دی۔

و لو نكح معتدته من بائن و طلقها قبل الوطى فعليه مهرٌ تام و عدة مستقبلة هذا عند ابى حنيفة و ابى يوسفؒ فان اثر الوطى فى النكاح الاول باق و هو العدة فصار كأن الوطى حاصل فى هذا النكاح و عند محمدؒ يجب عليه نصف المهر و عليها اتمام العدة الاولى فقط و لاعدة للطلاق الثانى لان الزوج طلقها قبل الوطى فيه و عند زفرؒ لا عدة عليها اصلا لان العدة الاولى سقطت بالتزوج و لم تجب بالنكاح الثانى لدليل محمدؒ .

ترجمه : که چیرته ئی نکاح وکړه د خپلی معتدی ښځی سره چه معتده وه د طلاق بائن نه او طلاقه ئی کړه د وطی څخه مخکی نو پده باندی پوره مهر دی او په ښځه باندی مستقل بل عدت دی دا د امام ابوحنیفهؒ او مام ابویوسفؒ په نزد باندی ځکه اثر د وطی چه کومه په اوله نکاح کی وه اوس هم باقی دی چه هغه عدت دی نو دا داسی شوه چه گویا دا وطی په دویمه نکاح کی حاصله شوی ده او امام محمدؒ وائی چه په خاوند باندی نیم مهر واجب دی او په ښځه صرف د اولنی عدت پوره کول دی او په ښځه باندی د دویم طلاقو د وجی نه عدت نشته ځکه چه خاوند پس له دویمی نکاح څخه د وطی نه مخکی په دی اولنی عدت کی طلاق ورکړ۔

او امام زفرؒ په نزد په ښځه باندی بلکل عدت نشته ځکه اولنی عدت په دویمی نکاح سره ختم شو او په نکاح ثانی سره پدی عدت واجب ندی په دلیل د ده قول امام محمدؒ سره هغه داسی چه ده قبل الوطی طلاق ورکړی او په قبل الوطی طلاق کی عدت نشته۔

خلاصه د عبارت : چه یو سړی خپلی ښځی ته طلاق بائن ورکړه کم د دریو نه او هغه ښځه د عدت په حالت کی وه بیائی ورسره نکاح وکړه خو د دی دویمی نکاح نه وروسته د وطی نه مخکی ئی طلاق ورکړ نو د امام ابو حنیفهؒ او امام ابویوسفؒ په نزد پدی ښځه د دویمی نکاح په وجه مکمل مهر دی او پدی ښځه د دغی دویم طلاق د وجی ځانته مستقل بل عدت دی دوی (شیخین) وائی چه اثر د اولنی نکاح او د اولنی وطی اوس هم موجود دی چه هغه اثر عدت دی نو دا داسی وگرځیده لکه چه په اولنی وطی سره اوس هم د ده په تصرف کی ده گویا چه ده په دغه دویمه نکاح کی هم وطی کړه او بیائی طلاق ورکړ نو هم دی وجه نه مکمل مهر او مستقل عدت لازم شو۔

او امام محمدؒ وائی چه پدی صورت کی په خاوند باندی نیم مهر دی ځکه چه ده د دویمی نکاح نه وروسته د وطی نه مخکی طلاق ورکړی او طلاق قبل الدخول کی نیم مهر دی او بل مستقل عدت په ښځه هم نشته ځکه چه طلاق قبل الدخول کی عدت نشته بلکه په ښځه د اولنی عدت مکملول او پوره کول

پکار دی ، او امام زفرؒ وائی چه پدی ښځه باندی بلکل عدت نشته یعنی نه د اول عدت مکملول او پوره کول او نه دوهم مستقل عدت شته ځکه اولنی عدت په تزوج سره ساقط شو نو ځکه تکمیل ته ضرورت نشته او دویم مستقل عدت ځکه نشته چه ده طلاق قبل الوطی ورکړ او په طلاق قبل الوطی کی عدت نه وی نو امام زفرؒ په وجوب د نیم مهر کی په خاوند باندی او په عدم وجوب د عدت کی د دویم طلاق لپاره موافق دی د امام محمدؒ سره لیکن د اول عدت په تمامولو کی ورسره مخالف دی لکه مخکښی چه بیان وشو ۔

و لا عدة ذمية طلقها ذمي هذا عند ابي حنيفةؒ اذا لم يكن معتقدُ اهلاالذمة ذلك ، و ان كان معتقدهم ذلك تجب عنده و عندهما تجب مطلقا و لا حربية خرجت إلينا مسلمة.

تشریح او توضیح : که چیرته یوه ذمیه ښځه وه چه ذمی سړی طلاقه کړی وه نو پدی ذمی ښځی باندی عدت نشته د طلاقو نه پس د دی سره نکاح جائز ده متزوج ئی مسلمان وی او که ذمی وی د امام ابوحنیفهؒ په نزد باندی خو دا په هغه وخت کی چه دا اهل الذمه عقیده د وجوب د عدت نلری او که چیرته عقیده د وجوب لری نو بیا پدی ذمیه باندی عدت شته ۔

او بل دا چه هغه وخت په دی ذمیه عدت نشته چه حامله نوی او که دغه ذمیه حامله وی نو بیا په دی باندی تر وضع د حمل پوری عدت بالاتفاق واجب دی ځکه د دی په ګیډه کی بچی ثابت النسب دی ، او صاحبین وائی : چه د دوی یعنی اهل الذمه عقیده د وجوب د عدت وی او که نوی نو عدت پری واجب دی ، و لا حربية الخ : همدارنګه که یوه حربیه ښځه زمونږ دار اسلام ته په حالت د اسلام کی راشی یعنی په دی نیت چه دار الحرب ته به نه ځی مثلا احد الزوجین دار اسلام ته په حالت د اسلام کی راشی او یا په حالت د ذمیت کی راشی بیا اسلام راوړی ، او یا د استیمان په حالت کی راشی بیا ذمی وګرځیږی او بل د زوجینو نه په دار الحرب کی په خپل حربیت کی پاتی شی نو د دی زوجینو تر منځ زوجیت ختم شو او پدغه ښځه باندی پدی صورتونو کی عدت نشته خو دا په هغه صورت کی چه دا حربیه حامله نوی او که حامله وی ۔ نو بیا پدی باندی هم عدت شته خو پدی مسئله کی هم د سابق پشان اختلاف موجود دی ۔

و تُحِدُّ معتدة البائن و الموتِ كبيرة مسلمة حرة او لا ـ فقوله او لا عطفٌ على قوله حرةٌ و عند الشافعيؒ لا حداد على معتدة البائن بترك الزينة و لبس المزَعْفَرِ و المعصفر و الحِنَّاءِ و الطيب و الدُّهْنِ و الكحل الا بعذر لا معتدة عتق اى اذا اعتق المولى امَّ ولده و نكاح فاسدٍ لانه واجب الرفع فلا تأسف على فوته .

بيان الاحداد للنساء المعتدات

مصنفؒ چه کله د بیان د دی نه فارغ شو چه عدت په چا واجب دی او په چا واجب ندی نو شروع ئی وکړه په بیان د هغه څه کی چه معتدی ته په حالت د عدت کی مناسب دی نو وئی ویل چه وتحد الخ دا د

باب افعال څخه دی معنی ئی ترک زینت دی د وجی د مرګ د خاوند نه معتده د طلاق بائن به ترک زینت کوی په یو طلاق سره بائنه وی او که په دوو سره وی او که په دری سره وی او که خلعه ورسره شوی وی او په لفظ د بائِنٌ سره احتراز دی د معتدی د طلاق رجعی نه ځکه پدی باندی بالاتفاق احداد نشته بلکه لازم دی. په معتده د طلاق رجعی باندی چه زینت اختیار کړی چه خاوند ورته رغبت وکړی او بیا رجوع ورته وکړی۔

همدارنګه به ترک زینت کوی معتده د مرګ چه خاوند ئی وفات شوی وی خو په داسی حالت کی چه مکلفه وی او مسلمانه وی برابره خبره ده که حره وی او که نه وی ځکه احداد چه شریعت لازم کړی دا د تاسف او د اظهار د خفګان لپاره دی د خاوند په مرګ باندی یا په جدائی باندی او وینځه او اصیله ښځه پدیکی یو شان دی۔

قوله او لا عطفٌ وعلی قوله حرة : نو د او لا قول عطف دی په قول د حرةً باندی یعنی حره وی او که نه وی دا وهم ونه کړی چه ګویا په کبیرةً عطف دی ورنه معنی به بلکل غلطه شی۔

او امام شافعیؒ وائی چه معتده د بائن باندی احداد نشته ځکه احداد دی لپاره د اظهار د تاسف او خفګان په فوت کیدو د زوج باندی، او مبتوته ښځه خو خاوند په طلاق بائن سره په وحشت کی غورځولی وی نو د هغه په فوت کیدو هیڅ تاسف ندی پکار، احناف د دی جواب داسی کوی چه احداد دی لپاره د اظهار د تاسف په فوت کیدو د نعمت د نکاح یعنی چه دا نکاح یو عظیم نعمت دی او دا تری فوت شو او دغه فوت کیدل د نعمت د نکاح خو په ابانت کی هم شته۔

قوله بترك الزینة الخ : دا متعلق دی تر تحد پوری یعنی دا ښځه به احداد کوی چه دا احداد به وی په ترک زینت سره وغیره۔ **قوله و لُبسُ المزَعْفرِ الخ** : دا جمله او ما بعد له دینه عطف دی په الزینة لفظ باندی یعنی بترک لبس المزعفر الخ نو معتده د طلاق بائن او د مرګ به زینت نکوی همدارنګه هغه جامی چه په زعفرانو رنګ شوی وی نه به اغوندی یا په ګل معصفر رنګ شوی وی، او نکریزی به نه استعمالوی او خوشبوئی به نه استعمالوی۔ **الا بعُذر الخ** : مګر د عذر د وجی نه ورته روا دی دا جمله راجع ده تولو ته ځکه الضروریات تبیح المحظورات نو که سترګی خوګیدی نو بیا رانجه ورته روا دی ځکه دا هم یو عذر دی که په بدن ئی خاربنت وو نو د ریښمو جامی اغوستل ورته جائز دی یائی د سر نه څه شکایت کوه نو بیا تیل ورته روا دی او که فرضا نوری جامی ما سواء د مزعفرو او معصفرو نه نه لری نو بیا د مزعفرو او معصفرو جامو اغوستل ورته هم روا دی ځکه عورت پټول فرض دی۔ **کذا فی الجوهرة والفتح**۔

لا معتدة عتق الخ : او احداد واجب ندی په معتده د عتق باندی یعنی چه بادار کله ام ولده خپله ازاده کړی او د هغه د مرګ سره ازاده شی نو په دواړو صورتونو کی اګر چه پدی ام ولدی عدت واجب دی لیکن احداد یعنی ترک زینت و غیره لازم ندی ځکه احداد د اظهار تاسف لپاره دی په فوت کیدو د هغه

نعمت د نکاح او د بادار او ام ولدی تر منځ نکاح نه وی نو احداد هم نشته ـ

و نکاح فاسد الخ : او احداد لازم ندی په معتده د نکاح فاسدی باندی یعنی یو سړی د یوی ښځی سره نکاح فاسده وکړه بیا ئی طلاق ورکړه او یا قاضی د دوی تر منځ فرقت راولی اوس چه دا ښځه عدت تیروی نو احداد به نکوی یعنی زینت به کوی ځکه د نکاح فاسدی شرعا ختمول پکار دی نو د دی نکاح په ختمیدو باندی اظهار د تاسف پکار ندی نو احداد هم نشته ـ

و لا تُخطَبُ معتدَّةٌ الا تعریضا و لا تخرُجُ معتدة الرجعی و البائن من بیتها اصلا لقوله تعالی (و لا تُخرِجوهن من بیوتهن و لا یخرجن ـ الایة) و تخرج معتدة الموت فی المَلَوَیْنِ و تبیتُ فی منزلها فتحتاج الی الخروج بخلاف المطلقة لان النفقة دارَّةٌ علیها و تعتد فی منزلها وقت الفرقة والموت و الطلاق إلا أن تُخرَجَ او خافت تلفَ مالها او الانهدام او لم تجد کِرَاء البیت و لا بد من سُتْرَة بینها .

تشریح او توضیح : قوله ولا تخطب دا صیغه د فعل مضارع مجهول ده د خِطبه نه په کسری د خا سره او خِطبه وائی طلب المراة للنکاح نو معتده به د نکاح لپاره غوښتی نشی یعنی صراحة به داسی نه ورته وائی چه ته له ما سره نکاح وکړه او نه به پټی وعدی ورسره کوی لکه دی ایت کریمه کی راغلی (و لا جناح علیکم فیما عرضتم به من خطبةِ النساء ـ الایة) مګر تعریض جائز دی هغه داسی چه په اشاراتو کی ورته داسی ووائی چه فلانی دعا کوه چه الله پاک ستا غوندی یوه ښائسته بی بی راکړی او معتده د طلاق رجعی او طلاق بائن به د خپل کورنه بلکل نه وځی نه د شپی او نه د ورځی د وجی د دی ایت نه چه الله فرمائی چه تاسی ای خاوندانو مه وباسی دغه ښځی د خپلو کورونو څخه او نه دی خپله وځی ـ په من بیتها کی چه اضافت د بیت دیته شوی د دی مطلب دا دی چه هغه کور د دی چه په حالت د وجوب د عدت د دیکی نسبت دیته کیږی دا لازم نده چه دغه کور دی خامخا د دی ملکیت کی وی او معتده د مرګ یعنی چه خاوند ئی وفات شوی وی او دغه ښځه په عدت کی وی نو هر وخت یعنی د شپی او ورځی د کوره وتلی شی لیکن شپه به ئی کور کی وی یعنی مطلب ئی دا دی چه د شپی په اوله حصه کی یا اخره حصه کی ووځی خو شپه به ئی په کور کی وی د معتدی د مرګ لپاره وتل ځکه وتل د کور نه مباح شو چه د دی لپاره نفقه د عدت په ورثوو د زوج باندی واجب نده نو د دی وتلو ته ضرورت دی د دی لپاره چه د خپل معیشت تدبیر او انتظام وکړی نو وتل ورته مباح او روا شو لیکن دا ضرورت بیا ورته د خپل کور نه ماسوا په بل ځای کی د شپی تیرولو نشته نو په بل ځای کی د شپی تیرولو څخه منع کړی شوه ، او مطلقه ښځه د کوره د وتلو څخه په هر وخت کی منع کړی شوی ده ځکه چه د مطلقی ښځی نفقه په حالت د عدت کی په خاوند واجب ده (لان النفقة دارَّةٌ علیها) یعنی نفقه د مطلقی راتویدونکی او بهیدونکی ده د مال د خاوند نه پدی باندی ـ

قوله و تعتد فی منزلها وقت الفرقة الخ : وقت الفرقة متعلق دی تر منزلها لفظ پوری نو حاصل ئی دا شو چه دا معتده ښځه به عدت په هغه کور کی تیروی چه دا په هغی کی وه په وقت د طلاق کی یا د مرګ د خاوند کی یا په وخت د فرقت او جدائی کی چه د زوجینو تر منځ په صورت د نکاح فاسده کی قاضی فرقت راولی مګر د عذر د وجی نه ورته وتل جائز دی هغه عذر داسی چه د خاوند له طرفه یا د ورثو له طرفه وویستل شی اګر چه دا ویستل د دی په حالت دعدت کی د دغه کور نه حرام او ناروا دی لیکن هغوی که ویستله نو وتل ورته روا دی ، اویا دا ښځه په خپل مال د تلف او هلاکیدو څخه ویریده مثلا کور راغورځیده یا د نورو وجوهاتو نه او یا د مال د تلف ویره نه وی لیکن د جان د تلف ویره وی ، او د کور کرایه نشی ورکولی نو پدی عذرونو سره ورته وتل د دغه کور څخه جائز دی او روا دی۔

او په طلاق بائن کی چه خاوند ښځی ته طلاق بائن ورکړی وی او ښځه پدغه کور کی عدت تیروی نو د دغه خاوند او د دغی مطلقی ښځی تر منځ څه حائل او پرده لازمی ده مثلا دیوال یا داسی نور ، ځکه د دی سره خلوت یعنی په یو کور کی ځانته والی حرام دی لیکن په طلاق رجعی کی پرده لازم نده ځکه په طلاق رجعی کی بالکلیه د ښځی او خاوند انقطاع نه وی راغلی او خاوند ته په هر وخت کی چه وغواړی رجعت جائز دی تر څو چه عدت پوره شوی ندی لیکن ستره او پرده مستحب ده او که د هغی محل ته داخلیږی نو د هغی په اذن او اجازی سره به داخلیږی۔

و ان ضاق المنزل علیهما فالاولی حزوجه و کذا مع فسقه و حسُنَ ان یجعل بینهما قادرة علی الحیلولة ای تکون بینهما امرأة ثقة تحول بینهما و لو ابانها او مات عنها فی سفر و لیس بینهـا و بین مصرها مسیرة سفر رجعت و ان کانت تلك من کل جانب خیرت معها ولیٌ او لا والعود احمد و ان کانت فی مصر تعتد ثمه ثم تخرج بمحرم .

تشریح او توضیح: که چیرته کور تنګ شو په زوج مطلق او معتده باندی یعنی ورکوټی ؤ نو بیا غوره او راجحه دا ده چه خاوند له دغه کور څخه ووځی همدارنګه که خاوندـسق ؤ چه د هغه نه امن نه ؤ نو بیا هم راجحه دا ده چه خاوند ووځی لیکن که سره د فسق نه ونه ووت نو بیا بهترینه طریقه دا ده چه د قاضی له طرفه یوه عادله پاکه امینه ثقه ښځه د دوی تر منځ حائله وګرځوی چه پدی قادره وی چه د خاوند او معتدی تر منځ حائله واقع شی۔

قوله ولو ابانها الخ : که چیرته یو سړی خپله ښځه د سفر حالت کی په طلاق بائن سره طلاقه کړی او یا د دی ښځی خاوند په سفر حالت کی وفات شی او د دی ښځی او د دی د هغه ښار چه دا تری راوتلی وه تر منځ فاصله د مودی د سفر نه کمه وه یعنی د دری شوارو زو نه نو دا ښځه به بیرته خپل ځای د اقامت ته راوګرزیږی ، او که دغه مسافه د سفر د دی د اصلی ځای او د هغه ځای تر منځ چه پدی هلته عدت لازم

شوی دی دواړو طرفو ته یو شان وه یعنی دری شواروزه وه نو بیا اختیار دیته دی چه بیرته اصلی ځای ته ګرځی او که د مقصد ځای ته ځان رسوی ولی ورسره وی او که نه وی بدون د محرم نه دیته دلته ځکه سفر روا شو چه ضرورت دی والضروریات تبیح المحظورات ـ

همدا وجه ده که فرضا دیته په همدغه مقام کی داسی یو ځای برابر شی چه دا پکی عدت تیر کړی نو بیا ورته وتل جائز ندی لیکن خپل اصلی ځای د اوسیدو ته بیرته راګرځیدل غوره او ښه خبره ده ـ

و ان کانت الخ : او که دغه ښځه پدغه وخت کی چه په دی عدت واجب شو په ښار یا یو کلی کی وه نو بیا پدی لازم دی چه همدغه ښار یا کلی کی عدت تیر کړی برابره خبره ده چه محرم ورسره وی او که نه وی بیا د خپل وطن یا د مقصد ځای ته د محرم سره ووځی ـ

اعلم ان الابانة او الموت في السفر اما في غير موضع الاقامة فان لم يكن بينها و بين مصرها الذي خرجت منه مسيرة سفر رجعت ، و ان كانت تلك من كل جانب خيرت بين الرجوع والتوجه الى المقصد سواء كان معها ولي او لا ، لكن الرجوع اولى ليكون الاعتداد في منزل الزوج ، و ذكر الامام السّرخسِيّ تختار أقربهما ، بقي ههنا قسمان احدهما ما اذا كان من كل جانب اقل من مسيرة سفر ينبغي ان تخير و على قياس قول السرخسيؒ تختار اقربهما ، والثاني ما اذا كان بينها و بين مصرها مسيرة سفر و بينها و بين المقصد اقل تتوجه الى المقصد ، و اما في موضع الاقامة و هو ما قال : و ان كانت في مصر اى و ان كانت في مصرٍ حين ابانها او مات عنها ، فان لم يكن معها ولي تعتد ثمه و لا تخرج عنه بدون الولي و ان كان معها ولي فكذا عند ابي حنيفةؒ لان خروج المعتدة حرام ، و ان كانت المسافة اقل من مدة السفر و عندهما يحل الخروج لان نفس الخروج مباح دفعا لوحشة الفرقة و انما الحرمة للسفر و قد ارتفعت بوجود الولي ثم لما جاز الخروج عندهما فإلي اى الجانبين تتوجه فينبغي ان يكون الحكم على التفصيل الذي مرَّ .

تشریح او توضیح: پوه شه چه ابانت او مړګ د خاوند په سفر کی دا به خالی نه وی یا به غیر د ځای د اقامت نه وی لکه صحاری دشته و غیره او یا به په ځای د اقامت کی وی که په ځای د اقامت کی وی یعنی په هغه ځای کی چه هلته نیت د اقامت صحیح کیږی لکه قریه یا ښار ، نو که د دی ښځی او د هغه ښار تر منځ چه دا تری راوتلی وه فاصله د سفر نه وه نو بیرته به خپل ښار ته واپس شی او که دغه موده د سفر د هر طرف څخه وه یعنی دا ښځه چه اوس په کوم ځای کی ده د هغه ځای نه د ښار طرف ته هم فاصله د یو سفر اندازی وه او د مقصد ځای ته هم فاصله د یو سفر اندازه وه لکه پدی شکل :

(مصر) ......مدة السفر ......(موضع الابانة اوالموت) ......مدة السفر ......موضع المقصد

نو پدی صورت کی دا ښځه اختیار منه ده یعنی اختیار ورته حاصل دی چه بیرته خپل ښارته

رجوع کوی او که د خپل مقصد ځای ته ځی برابره خبره ده چه ولی ورسره وی او که نه وی لیکن بیرته خپل ښار ته رجوع کول غوره دی د دی لپاره چه عدت تیرول د خاوند په کور کی راشی او امام سرخسیؒ ذکر کړی چه کوم ځای نژدی وو همغه به غوره کړی یعنی که ښار نژدی ؤ ښار ته بیرته واپس شی او که مقصدی ځای نژدی ؤ هم هغه ځائ ته دی لاړه شی ۔

دلته اوس دوه قسمه پاتی دی (۱)یودا چه د هر طرف نه د فاصلی د سفر نه موده کمه وی لکه پدی شکل کی :

(مصر) .....اقل من مدة السفر .....(موضع الابانة او الموت) .....اقل من مدة السفر (مقصدها)

نو پدی صورت کی مناسبه دا ده چه دیته اختیار د دواړو ځایونو ورکړی شی چه هر ځای ته ځی لاړه دی شی لیکن د قول سرخسیؒ مطابق دا ده چه کوم یو نژدی ؤ همغه به غوره کړی ۔ (۲) دوهم قسم دا دی چه د دی او د ښار تر منځ فاصله د سفر د مودی په اندازه وه او د دی د مقصد تر منځ فاصله د مودی د سفر نه کمه وه لکه پدی شکل کی :

(مصر) .....مسیر مدة السفر .....(موضع الابانة او الموت) .....اقل من مدة السفر .....(مقصدها)

نو پدی صورت کی به د مقصد ځای ته لاړه شی ۔

او که ابانه یا موت د زوج په ځای د اقامت کی وو لکه ښار یا کلی نو که ولی محرم ورسره نه ؤ نو همغه ځای کی به عدت تیروی او بدون د ولی نه به نه وځی او که ښار یا کلی کی ولی ورسره ؤ نو بیا به هم د امام ابو حنیفةؒ په نزد باندی په همدی ښار یا کلی کی عدت تیروی ځکه د معتدی لپاره د کوره وتل حرام دی اګر که مسافه د سفر د اندزی څخه کمه وی ۔

او صاحبین وائی چه د محرم سره ورته وتل جائز دی ځکه نفس خروج مباح دی لپاره د دفع کولو د هغه وحشت چه د خاوند له طرفه راغلی او حرمت د خروج د سفر د وجی نه دی لیکن که ولی ورسره وی نو حرمت هم ختم شو چه اوس د صاحبینو په نزد وتل ورته جائز شو نو کوم طرفته به توجه کوی یعنی مصر ته به ځی او خپل مقصد ځای ته ؟نو فیصله به پدی کیږی چه کوم یونژدی ؤ همغه خوا ته لکه مخکی چه تفصیل ذکر کړی شو ۔

باب النسب والحضانة

باب دی په بیان د نسب او د تربیت د بچی کی

مصنف چه هر کله د بیان د اقسامو د عدت څخه فارغ شو نو شروع ئی وکړه په بیان د ثبوت د نسب کی او د کیفیت د نسب کی او بیان د حضانت ئی ورسره څکه ذکر کړ چه ثبوت د نسب د جانب د پلار څخه وی او حضانت له طرفه د مور څخه وی نو ضم د حضانت له نسب سره په ذکر کی مناسب شو۔

لفظ د نسب په فتحی د نون او سین سره مصدر دی د بچی نسبت کول پلار طرف ته او کله په نفس ارتباط باندی هم اطلاق کیږی، او حضانت په کسری د حا سره یا په فتحی د حا سره په معنی د تربیت د ولد سره راځی لکه وائی چه حضن الصبی حضنا و حضانة جعله فی حضنه او ربّاه کاحتضنه۔

من قال ان نكحتها فهي طلاق فنكحها فولدت لنصف سنة منذ نكحها لزمه نسبه و مهرها لانه لا يبعد انّ الزوج والزوجة وكّلا بالنكاح فالوكيلان نكحها في ليلة معينة والزوج وطئها في تلك الليلة و وُجد العلوق و لا يُعلم ان النكاح مقدم على العلوق او مؤخر فلا بد من الحمل على المقارنة على ان الزوج ان علم انه لم يكن على هذه الصفة و انه لم يطأها في تلك الليلة فهو قادر على اللعان فلما لم يَنفِ الولد باللعان فليس علينا نفيه عن الفراش مع تحقق الامكان فثبت نسبه منه و لزمه المهر .

تنقیح : دا مسئله او همدارنګه نور مسائل د نسب په دوو اصولو چه د کتاب الله او سنت نبویه څخه مستنبط دی مبنی دی اول دا چه د نسب په ثابتولو کی به ډیر احتیاط کوی نو د دی د ثبوت لپاره به یوه حیله جوړه وی اګر که په یو لری تاویل او یو نادر صورت جوړلو سره وی۔ دوهم دا چه بچی به د فراش لپاره ثابتیږی او د زناکار لپاره به تیږه وی یعنی هیڅ به نوی۔

من قال الخ : کله یو سړی ووائی که ما د فلانی سره نکاح وکړه نو هغه دی طلاقه وی نو ده همدغه ښځه په نکاح واخسته او په پوره شپږو میاشتو کی ئی بچی راوړ یعنی د نکاح د وخت نه تر بچی پیداکیدو پوری پوره شپږ میاشتی وی نو پده ئی نسب ثابت شو یعنی د دغه ناکح بچی شو او مکمل مهر هم پری لازم شو اګر چه په طلاق قبل الوطی کی نیم مهر وی لیکن په ثبوت د نسب سره خاوند حکما واطی وګرځولی شو نو طلاق بعد الوطی راغی او طلاق بعد الوطی کی مکمل مهر دی۔

لانه لا یبعد الخ : دا د مخکنی مسئلی لپاره تعلیل دی او دفع د یو اعتراض هم ده چه پدی مقام کی واردیږی هغه داسی چه ثبوت د نسب په ولد د منکوحه کی موقوف دی په ثبوت د وطی باندی او په امکان د وطی په نکاح سره یعنی چه وطی ثابته وی او بیا دا چه په نکاح سره وطی ثابته وی څکه په وطی

حرام سره نسب نه ثابتیږي او پدې مذکوره مسئله کې چه کله ده طلاق معلق د نکاح پورې کړل چه ان نکحتها فهي طالق ، چه کله ئې په نکاح واخسته نو د نکاح کولو سره فورا طلاق واقع شو نو دلته وطی نه متصور کیږي مګر که وي نو پس د طلاقو څخه به وي او پس له طلاقه وطی سره نسب نه ثابتیږي څکه د غیر مدخول بها لپاره عدت نشته چه ګویا دا وطی به رجعت وګرځي ؟ د جواب حاصل دا دی چه پدې کې څو هیڅ شک او شبه نشته چه کله ده طلاق معلق د نکاح پورې کړل نو طلاق د نکاح د تمامیدو څخه وروسته واقع شو نه داسې چه د نکاح سره پیوسته واقع شو ، څکه مشروط د شرط نه وروسته وي ، او د شرط او مشروط تر منځ خامخا څه وخت وي اګر که ډیر کم وي ، او وطی مقارن او پیوسته د نکاح سره ممکن ده یعنی کیدی شي چه د نکاح سره پیوسته وطی هم راغلی وي لکه په آئنده صورت کې به معلومه شي نو وطی قبل الطلاق راغله او دغه وطی په ثبوت د نسب کې کافي ده ۔

د دې لپاره چه وطی مقارن د نکاح سره وي یو صورت دا دی : چه شارح په متن کې ذکر کړی هغه دا چه کیدی شي چه دغه سړی او ښځې دوه وکیلان د دوی د نکاح کولو لپاره نیولي وي په یوه معلومه شپه باندې او په دغه شپه باند ئې وطی کړې هم وي ، او دا معلومات هم نه کیږي چه دغه وطی په عقد د وکیلینو مقدم وه او که مؤخر ؤ نو اوس به دا وطی حمل کولی شي په مقارنت باندې یعنی چه دا وطی د نکاح سره مقارنه وه د وجې د احتیاط نه څکه ثبوت د نسب کې به احتیاط کولی شي ۔

علا ان الزوج الخ : علاوه لا دا چه که خاوند پدې پوه شي چه دا علوق پس د فراش صحیحه څخه نه ؤ او ده په دغه شپه کې وطی کړې نه وه نو خاوند کولی شي چه د خپلې ښځې سره لعان وکړي چه دا حمل د کوم ځای څخه دی ؟نو کله چه ده نفي د ولد د ځان نه په لعان سره ونه کړه او چپ پاتې شو نو په مونږ څه لازم ندي چه د دې حمل نفي وکړو د فراش نه سره د ثبوت د امکان نه نو نسب ئې ثابت شو له ده څخه او پده مهر لازم شو څکه چه خاوند حکمي واطی وګرځیده په حالت د نکاح کې لیکن پدې وطی حکمي سره احصان نه ثابتیږي ۔

و یثبت نسب ولد معتدة الرجعي و ان جاء ت به لاكثر من سنتين ما لم تقر بانقضاء العدة لاحتمال العلوق في العدة و جواز كون المرأة ممتدة الطهر ، اما لو أقَرَّتْ بانقضاء العدة ثم ولدت و بين الطلاق و الولادة اكثر من سنتين لايثبت النسب على ما ياتي انه انما يثبت اذا كان بين المدتين اقل من نصف سنة .

وضاحت : او ثابتیږي نسب د ولد د معتدې رجعي د زوج مطلق نه یعنی چه یو سړي خپلې ښځې ته طلاق رجعي ورکړي او د عدت په حالت کې وه او بیا همدغې ښځې بچي راوړ اګر که د وخت د طلاقو نه د بچي د پیدا کیدو پورې موده د دوه کالو نه زیاته وه تر څو چه دغې ښځې د عدت په پوره کیدو

باندی اقرار نه وی کړی یعنی چه زما عدت ختم شوی ځکه احتمال لری چه وطی به عدت کی ... ځکه د طلاق رجعی په عدت کی وطی حرامه نده او کیدی شی چه دا ښځه ممتدة الطهر ... حیضونو تر منځ فاصله ډیره زیاته وی ځکه د طهر اکثره موده معلومه نده نو عدت به په دوه کالو یا ... نه په زیاتو کلو ختم نشی ځکه په سبب د اوږد والی د طهر سره دری حیضونه موجود نشو.

اما که اقرار ئی د عدت په ختمیدو سره وکړ چه زه په دری حیضه حائضه شوم او زما عدت خت... شوی او دغی مودی احتمال د دی لره لوده بیا ئی بچی راوړ او د طلاقو او ولادت تر منځ موده د دوو کا... ځخه زیاته وه اگر که یوه ورځ وه نو نسب نه ثابتیږی ځکه اکثره موده د حمل دوه کاله ده او کله چه د طلا... او د ولادت تر منځ موده د دوه کلو څخه زیاته شوه چه دا علوق بعد الطلاق ؤ ځکه که قبل الطلاق... وګرځوی نو بیا خو لازمیږی بقا د ولد د دی په ګیډه کی اکثر د دوو کلو نه او که ته وائی چه کیدای ش... وطی په عدت کی شوی وی نو دا احتمال نه چلیږی پدی مقام کی ځکه ښځی اقرار کړی چه عدت... شوی ځکه که خاوند چیرته په عدت کی وطی کړی وی او په هغی سره حامله ګرځیدلی وی نو بیا انق... د عدت ممکنه نه ده ځکه حامله ښځه نه حائضه کیږی، او مخکنی صورت کی کله چه ښځی اقرار... عدت د تیریدو کړی ندی نو احتمال د بقاء د عدت شته - همدارنګه احتمال د امتداد د طهر او وقوع د وطی په حالت د عدت کی شته نو په صورت د اقرار کی په انقضاء د عدت باندی هلته نسب ثابتیږی چه کله د دوارو مودو تر منځ د شپږو میاشتو نه کمه موده وی ځکه پدی سره د دی ښځی کذب ښکاره شو او یقینی شوه چه په وخت د اقرار د ښځی کی حمل د دی په ګیډه کی موجود ؤ نو اوس هغه مخکنی دروغجن اقرار ته ئی هیڅ اعتبار نشته.

و بانتُ فی الاقل و راجع فی الاکثر ای اذا کان بین الطلاق و الولادة اقل من سنتین بانتُ لان الحمل علی ان الوطی المُعلَّقُ کان فی النکاح اولی من الحمل علی کونه فی العدة علی ان الرجعة امر حادث فلا یثبت بالشك اما اذا کان بین الطلاق و الولادة اکثر من سنتین فلا بد من ان یحمل علی ان الوطی فی العدة فثبت الرجعة .

بیان : په کم کی ښځه بائنه شوه او په اکثر کی خاوند رجوع کونکی شو یعنی کله چه معتده د طلاق رجعی بچی راوړی د دوو کلو نه په کمه موده کی د وخت د طلاق نه نو دا ښځه د خپل خاوند نه جدا شوه په تمامیدو د عدت سره ځکه عدت د حاملی په وضع د حمل سره دی او په رجعت د ده سره په عدت کی حکم نشی کولی او دا په دوو وجوهو سره (۱) اول دا چه هر کله دا احتمال شته چه علوق په عدت کی دی او د دی احتمال چه علوق په حالت د نکاح کی دی خو حمل د هغی وطی چه هغه سره علوق راځی په نکاح کی ډیر اولی او غوره دی د دینه چه دا حمل شی پدی چه دا وطی په عدت کی ده او رجعت هلته

ثابتيږي چه دا وطی حمل کړي شي په عدت باندي يعني چه عدت کي وه ۔ (۲) دوهم دا چه رجعت امر حادث دی په شک سره نه ثابتيږي چه دا په عدت کي وه او که مخکي د عدت نه وه ۔ اوکه د طلاقو او ولادت تر منځ موده د دوو کلو نه زياته وه نو بيا به لازما دا پدي حمل کولي شي چه دا وطی په عدت کي ده نو رجعت به ثابت شي ځکه دا ممکنه نده چه دا علوق په حالت د قيام د نکاح کي دی ، ځکه که په حالت د قيام د نکاح کي شي نو بيا خو لازميږي چه دا بچي د مور په ګېډه کي د دوو کلو څخه زياته موده کي اوشو او حال دا چه د حمل اکثره موده دوه کاله دي نو معلومه شوه چه دا وطی په عدت کي وه ځکه کيدی شي چه دغه ښځه ممتدة الطهر وی ۔

و متوتة ولدت لاقل منهما ، و مبتوتةٍ بالجر عطف علی معتدة الرجعي ای يثبت نسب ولد المطلقة طلاقا بائنا لاقل من سنتين من وقت البينونة الی وقت الولادة لامكان العلوق فی زمان النكاح .

تشريح ا وتوضيح : مبتوته هغې ښځي ته وائي چه په طلاق بائن سره طلاقه شي او يا خلع ورسره وکړی شي نو که چيرته دغه مبتوته بچي راوړي د دوه کلو څخه په کمه موده کي د وخت د بينونت نه تر وخت د ولادت پوري نو د دی بچي نسب به ثابت وی ځکه امکان د علوق شته چه په زمانه د نکاح کي وی ۔ حاصل دا دی چه د دوو کلو څخه په کمه موده کي بچي راوړي نو برابره خبره ده چه دا د شپږو مياشتو څخه په کمه موده کي وی او که زيات وی که د شپږو مياشتو څخه په کمه موده کي وی نو بيا د نسب په ثابتيدو کي هيڅ شک او شبه نشته ځکه ښکاره ده چه علوق په حالت د نکاح کي دی او که دغه د بينونت نه تر ولادت پوري موده د شپږو مياشتو څخه زياته وی او د دوو کلو څخه کمه وی نو بيا هم احتمال د دی لری چه دا علوق په حالت د نکاح کي قائم دی نو پدی احتمال باندی عمل کولي شي ځکه په باب د نسب کي ډير احتياط ضروري دی ، خو دا د نسب ثبوت په هغه صورت کي چه دی ښځي د عدت په پوره کيدو سره اقرار نه وی کړی ، او که د عدت په پوره کيدو سره ئی اقرار کړی وی نو بيا حکم هغه دی چه شارح ئی مخکي بيان وکړ پدی الفاظو سره اما لو اقرّت بانقضاء العدة ۔

و ان ولدت لتمامها لا إلا بدِعْوَةٍ و يُحمل وطيها بشبهة فی العدة ای ان جاء ت لتمام سنتين من وقت الفرقة لم يثبت لان الحمل حادث بعد الطلاق فلا يكون منه لان وطيها و قوله إلا بدِعوةٍ لانه التزمه و له وجه بان وطيها بشبهة فی العدة .

بيان : اوکه چيرته مطلقي مبتوتي ښځي د وقت د طلاق نه د دوو کله په پوره کيدو سره او يا د دوو کلو نه په زياته موده کي بچي راوړ نو د دی بچي نسب د مُطلّقْ نه نه ثابتيږي ، ځکه که فرضا مونږ دا نسب ثابت کړو نو بيا خو لازميږي چه دا علوق د طلاقو څخه مخکي وْ ځکه د طلاقو څخه وروسته وطی

حرامه ده ځکه بائن طلاق دی ، او کله چه علوق مخکې د طلاقو څخه حساب شي نو بیا خو دا بچی
په ګیډه کی د دوو کلو څخه په زیاته موده کی پاتی شو او حال دا چه د حمل اکثره موده دوه کاله ده
لیکن بعضی علماء وائی چه کله په پوره دوه کالو بچی راوړی نو بیا نسب ثابتیږی ځکه ګیدل
شي چه دا علوق په حالت د طلاقو کی راغلی وی هغه داسی چه تطلیق او علوق په یو زمانه کی وی نو
اوس نه وطی بعد الطلاق راغله او نه بچی د مور د مور په ګیډه کی د دوو کلو څخه زیات پاتی شو و هذا
هو الصواب عندهم ۔

إلا بدعوةِ الخ : په کسری د دال سره دعوه کول د نسب یعنی پدی مخکی صورت کی نسب نه
ثابتیږی مګر چه مُطَلِّق ئی دعوه وکړی او منسوب ئی ځان طرف ته کړی نو بیائی نسب له مُطَلِّق یعنی
طلاق ورکونکی څخه ثابتیږی ۔

و یُحمل الخ : دا دفع د یو اعتراض ده چه پدی صورت کی په دعوی سره څرنګه نسب ثابتیږی
ځکه امکان د علوق نه د نکاح نه مخکی شته او نه وروسته مخکی خو ځکه نشته چه د حمل موده د دوو
کلو څخه زیاتیږی او پس له نکاح څخه خو ځکه نشته چه بیا وطی حرامه ده په عدت د طلاق بائن کی ؟
نو حاصل د جواب دا دی چه ممکنه ده چه وجود د وطی د عدت په حالت کی په شبهی سره شوی وی ۔

و مراهقةٍ أتت به لاقل من تسعة اشهر و تسعة لا ۔ و مراهقةٍ بالجر عطف على مبتوتة اى يثبت نسب ولد مطلقة مراهقة اتت بولد لاقل من تسعة اشهر من وقت الطلاق والمراد بالمراهقة صبية تجامع مثلها وهي في سن يمكن ان تكون بالغة اى تسع سنين فصاعدا و لم يظهر فيها علامات البلوغ و انما اعتبرت تسعة اشهر لان ثلاثة اشهر مدة عدتها و ستة اشهر اقل مدة الحمل ، او انما اعتبر اقل مدة الحمل ههنا و اكثر مدة الحمل في البالغة لان النسب يثبت بالشبهة لا بشبهة الشبهة ففي البالغة شبهة زمان النكاح او العدة ثابتة و حقيقة الوطى فى احد هذين الزمانين توجب ثبوت النسب فكذا شبهته ، و اما فى المراهقة فشبهة الوطى فى النكاح او فى العدة و هى ثلاثة اشهر ثابتة ثم حقيقة الوطى فى احد هذين الزمانين لا يوجب ثبوت النسب لعدم تحقق البلوغ فان البلوغ و هو امر حادث يضاف الى اقرب الاوقات و هو ستة اشهر الى وقت الولادة فهذا مذهب ابى حنيفة و محمدؒ و اما عند ابى يوسفؒ فان كان الطلاق رجعيا فالى سبعة و عشرين شهرا لان ثلاثة اشهر مدة عدتها و سنتان اكثر مدة الحمل و ان كان الطلاق بائنا فالى سنتين لانها معتدة يحتمل ان تكون حاملا و لم تقر بانقضاء العدة فصارت كالكبيرة .

تشریح او توضیح: مراهقه عطف دی په مبتوته باندی یعنی ثابتیږی نسب د ولد د هغی مطلقی

مراهقی ښځی چه بچی وزیږوی په کمه موده کی د نهو میاشتو ځخه د وقت دطلاق یعنی د خاوند د طلاق ځخه ئی وروسته د نهو میاشتو ځخه مخکی بچی راوړ نو نسب د دی بچی د همدغه مطلِق ځخه ثابت شو۔

مراهقه هغه انجلۍ ته وائی چه سن د بلوغ ته رسیدلی وی خو بلوغ پکی نوی لکه همدغه مفهوم ته شارحؒ هم اشاره کړی ده مراد په مراهقی انجلۍ سره هغه ماشومه انجلۍ ده چه د دی په مثل کی یعنی د دی په عمر کی او جسم کی انجلۍ سره جماع کولی شی چه دا هغه سن دی چه ممکنه ده چه دا بالغه وی چه هغه نهه کاله یا د دینه زیات دی، تر پنځلسو کلو پوری او علامات د بلوغ پکی نوی ښکاره شوی نو که د پنځلسو کلو ځخه کمه وی او علامات د بلوغ پکی ښکاره شوی وی لکه حیض احتلام و غیره نو بیا دا بالغه ده او که چیرته پنځلسو کلو ته ورسیږی او علامات د بلوغ پکی ښکاره شوی نوی نو بیا هم دا شرعا بالغه ده۔

و انما اعتبر الخ : په ثبوت د نسب کی نهه میاشتی ځکه معتبری شوی ځکه چه دری میاشتی موده د عدت د دی ده ځکه دا د ذوات الحیض ځخه نده نو عدت ئی بالاشهر دی او شپږ میاشتی کمه موده د حمل ده۔

و انما اعتبر اقل مدة الحمل الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره بیان د فرق دی په مابین د مسئلی د صغیری مطلقی کی او په مابین د مسئلی د کبیری مطلقی کی هغه داسی چه په صغیری مطلقی کی په باب د ثبوت د نسب د ولد د دی کی کمه موده د حمل معتبره شوه چه هغه شپږ میاشتی دی، یعنی که د وقت د طلاقو نه ئی په کمه موده کی د نهو مایشتو کی بچی راوړ نو نسب به ثابت او که په زیاته موده کی د نهه میاشتو ځخه یا په نهو میاشتو کی بچی راوړ نو بیا نسب نه ثابتیږی او په کبیره مطلقه کی ئی اکثره موده د حمل معتبره کړی وه یعنی علماء وائی که د دوو کلو ځخه په کمه موده کی بچی راوړ نو نسب به ثابت وی او که په دوو کلو کی یا د دینه زیاته موده کی بچی راوړ نو بیا نسب نه ثابتیږی وجه د فرق ئی څه ده ؟ لان النسب الخ ځکه نسب بنا بر احتیاط په شبهی سره هم ثابتیږی خو د شبهی په شبهی سره بیا نه ثابتیږی ځکه شبهة الشبهة ضعیفه وی او شرعا غیر معتبره وی نو په بالغه کی په حقیقی وطی سره په نکاح کی وی او که په عدت کی وی نو نسب ثابتوی نو همدارنگه په شبهی د وطی سره په نکاح کی یا په عدت کی هم نسب ثابتیږی او په مراهقه کی په حقیقی وطی سره په نکاح یا په عدت کی ثبوت د نسب نه راځی ځکه حمل د خواصو د بلوغ نه دی او په مراهقه کی بلوغ نشته نو شبه د وطی خو په مراهقه کی راغی خو چه په حقیقی وطی سره ثبوت د نسب نه راځی نو په شبهی سره به ئی ځنگه راشی نو دا شبهة الشبهة شوه او په شبهة الشبهی سره ثبوت د نسب نه راځی۔

فان البلوغ الخ : په مراهقه کی بلوغ ثابت نه دی ځکه بلوغ یو امر حادث دی چه نسبت ئی اقرب د اوقاتو ته کیږی چه هغه شپږ میاشتی دی تر وخت د ولادته پوری یعنی زمانه د حدوث د بلوغ نه

معلو میږی نو نسبت به ئې اقرب د اوقاتو د وجود د دیته کیږی مثلاً یو سړی د سحر او د ماسپښین لمونځ وکړو د مانځه نه بعد ئې په خپلو جامو باندې اثر د منی ولیده او احتلام ئې یاد نوؤ نو دا سړی به غسل کوی او هغه لمونځونه به راګرځوی چه کوم د نزدې خوب نه وروسته ده ادا کړی وی نو همدارنګه به مراهقه باندې حکم کولی شی چه دا هم پس له درې میاشتو بالغه شوی چه نتیجه کې ئې په شپږو میاشتو کې بچې راوړ دا د امام ابو حنیفهؒ او امام محمدؒ مذهب دی۔

او امام ابو یوسفؒ په مذهب باندې که طلاق طلاق رجعی ؤ نو بیا په ثبوت د نسب کې اوه ویشت (۲۷) میاشتې معتبرې دی ځکه درې میاشتې خو موده د عدت د دې ده نو کیدې شی چه وطی په آخر د عدت کې شوی وی ځکه په عدت د طلاق رجعی کې وطی حلاله ده او بیا دوه کاله یعنی څلیریشت (۲۴) میاشتې اکثره موده د حمل ده، او که طلاق بائن ؤ نو بیا په ثبوت د نسب کې د وقت د طلاقو څخه دوه کاله معتبر دی ځکه دا مراهقه احتمال د دې لرې چه کیدې شه چه دا حامله وی په وقت د طلاقو کې نو انقضاء د عدت به ئې په وضع د حمل سره وی او دا احتمال هم لرې چه کیدې شی چه پس د انقضاء د عدت د درې میاشتو څخه حامله وی او دې اقرار هم ختمیدو د عدت سره نه وی کړی نو دغه مراهقه صغیره اوس د بالغې پشان شوه۔

و معتدة اقرت بمضی العدة و ولدت لاقل من نصف سنة و لنصفها لا ، لانها لما ولدت لاقل من نصف سنة من وقت الطلاق ظهر کذبها بیقین فبطل اقرارها اما ان ولدت لنصف سنة او اکثر من وقت الطلاق لا یثبت النسب لانا نعلم بطلان الاقرار ثم لفظ المعتدة یشمل کل معتدة .

وضاحت: یعنی ثابتیږی نسب د ولد د هغې معتدې چه هغه اقرار وکړی د عدت په تیریدو سره او د اقرار نه وروسته د شپږو میاشتو نه مخکې بچې راوړ نو د دې معتدې دروغ په یقینی طور ښکاره شو۔ ځکه بچی د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې د مور په ګیډه کې نه پائی کیږی یعنی د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې نه زیږوی نو هر کله ئې چه د شپږو میاشتو نه مخکې بچی راوړ نو معلومه شوه چه دا بچی د دې په ګیډه کې د اقرار په وخت کې موجود ؤ نو د دې دا اقرار چه ځما عدت تیر شوی عبث دی ځکه عدت د حاملې په وضع د حمل سره ختمیږی او که په شپږو میاشتو کې یا د شپږو میاشتو نه په زیاته موده کې بچی راوړ د وخت د اقرار نه نو بیا نسب نه ثابتیږی ځکه د دې د اقرار دروغ او بطلان په یقینی طور سره معلوم ندی ځکه دا احتمال لرې چه علوق د عدت څخه وروسته وی خو دا په هغه صورت کې چه ووائی چه ځما عدت اوس تیر شوی یعنی چه د عدت د ختمیدو سره پیوسته اقرار د ختمیدو وکړی او که د عدت د ختمیدو سره پیوسته اقرار ونه کړی بلکه څه زمانه وروسته اقرار وکړی مثلاً یو کال وروسته د

طلاقو څخه اقرار وکړی او بيا د اقرار د وخت نه وروسته د شپږو مياشتو څخه مخکې بچی راوړی نو اوس يقينی طور سره د دی دروغ نه ښکاره کيږی نو بيا نسب نه ثابتيږی ۔

من وقت الطلاق الخ :په اکثره نسخو کې دا الفاظ دی او په بعضو کې د دی په ځای من وقت الاقرار ليکلی شوی نو د مسائلو د سياق سباق سره مناسب عبارت او موافق د کتب معتبرو سره من وقت الاقرار دی نو همدا وجه ده چه مونږ تشريح هم په همدی وکړه ۔

ثم لفظ المعتدة الخ : په دی عبارت کې لفظ د معتدی ټولو معتدو ته شامل دی چه هغه معتده د موت وی يا د طلاق رجعي وی او يا د طلاق بائن وی صغيره وی او که کبيره وی بالاشهر وی او که بالحيض وی ۔

و معتدة ظهر حبلها ، او اقر الزوج به او ثبت ولادتها بحجة تامة ای يثبت نسب ولد معتدة ادّعت ولادته و انكرها الزوج و قد كان قبل الولادة حبلٌ ظاهرٌ او اقر الزوج بالحبل او شهد على الولادة رجلان او رجل وامرأتان بأن دخلت المرأة بيتا و لم يكن معها احدٌ و لا في ا لبيت شيءٌ والرجلان على الباب حتى ولدت فعلما الولادة برؤية الولد او سماع صوته ، و انما قيد الحجة بالتامة حتي لا يثبت بشهادة امرأة واحدة على الولادة خلافا لهما ، فالحاصل ان عند ابی حنيفةؒ ان كان للمعتدة حبلٌ ظاهرٌ او اقر الزوج به تثبت الولادة بشهادة امرأة واحدة و ان لم يوجد الحبل الظاهر او اقر الزوج به لابد من الحجة التامة و عندهما يثبت بشهادة امرأة واحدة.

تشريح او توضيح: غرض د مصنفؒ پدی عبارت سره بيان د هغه شرائطو دی چه په هغی سره نسب ثابتيږی يعنی نسب به په وخت د وجود د يو د دی امورو کې ثابت وی ۔ (۱) ښکاره حمل د ښځی دی (۲) د خاوند اقرار په حمل باندی (۳) ثبوت د ولادت په پوره دليل سره (۴) ولادت د دوو کلو څخه مخکې وشی (۵) چه ورثه پری اقرار وکړی (٦) چه کومی ښځی بچی راوړی چه دا منکوحه وی ۔ د دی هر يو تفصيل به انشاء الله په پور طور سره راځی ۔

و معتدة الخ : کله چه ښځه معتده دعوه د دی وکړی چه دا بچی ځما د دی مطلق خاوند څخه دی او خاوند انکار وکړی چه دا ځما څخه ندی نو د دی بچی نسب به هله ثابتيږی چه د دی بچی د پيدا کيدو څخه مخکې د دی ښکاره حمل و يعنی چه چا به ليدله نو دا به ئی يقين کوه چه دا حامله ده او يا خاوند اقرار وکړی چه دا حامله وه ، او يا د دی په ولادت باندی دوه سړی يا يو سړی او دوه ښځی ګواهی وکړی ۔

بأن دخلت الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره دفع د يو اعتراض ده هغه داسی چه تاسی وويل چه د دی ولادت په حجت تامه سره ثابت شی يعنی په ګواهی د دوه سړو يا يو سړی او دوه ښځو سره نو په ولادت سره علم هلته راتلای شی چه ځای د ولادت کې حاضر وی او د ښځی عورت ته نظر کوی ليکن دا

نظر په سړو حرام دی نو که دا کار وکړی بیا دوی فاسقان وګرځیدل او د فاسق ګواهی معتبره نه وی نو په دی صورت کی صرف د ښځو ګواهی معتبره کیدی شی ؟

نو شارحؒ جواب کوی چه دا صورت پدی طریقه متصور کیدی شی چه دغه ښځه کوټی ته ننوځی او دغه دوه سړو ته له مخکی نه دا معلومات ؤ چه پدی کوټه کی بله ښځه نشته او نه پدی کور کی څه ماشوم شته او دغه دواړه کسان د کور په دروازه کی ناست ؤ او د دغی کور همدغه یوه دروازه وه د دی ښځی بچی پیدا شو او دغو دوو کسانو ته معلومات وشو چه د دی ښځی بچی پیدا شو هغه داسی چه دغه ماشوم ئی ولیده اوبائی اواز دده واوریده نو دغه معلومات د دوی د ګواهی لپاره کافی کیدی شی۔

و انما قید الحجة بالتامة الخ : مصنفؒ د لفظ د حجت سره د تامه قید ولی ولګولو ؟ دا د دی لپاره چه د امام ابو حنیفهؒ په نزد د یوی ښځی په ګواهی سره نه ثابتیږی یعنی امام صاحب وائی چه که د دغی معتدی ښکاره حمل ؤ او یا خاوند اقرار وکړی چه دا حامله وه او یا قیام د فراش وی یعنی د خاوند په نکاح کی موجوده وی نو پدی صورت کی د یوی ښځی ګواهی په ولادت باندی هم کافی ده او که چیرته ښکاره حمل هم نوو ، او نه د خاوند اقرار موجود ؤ بلکه خاوند انکار د ولادت څخه کوه نو پدی صورت کی د یوی ښځی ګواهی معتبره نده اګر که عادله وی بلکه حجت تامه ته ضرورت دی لیکن که خاوند په ولادت اعتراف کوه خو د تعین د ولد څخه ئی انکارکوه او ویل ئی چه دا بچی ئی زیږولی ندی نو تعین د دی بچی د دغی یوی قابلی په ګواهی سره بالاتفاق ثابتیږی او بغیر د قابلی د ګواهی نه به نه ثابتیږی او صاحبینؒ وائی چه نفس ولادت او همدارنګه په شهادت د یوی ښځی سره ثابتیږی۔

او ولدت لاقل من سنتین و اقرّ للورثة بها ای ان کانت العدة عدة وفاة و المدة بین الموت و الولادة اقل من سنتین ، اعلم ان لفظ الوقایة وقع بالواو فی قوله و اقرّ الورثة بها و المذکور فی الهدایة یقتضی کلمة اوْ لان عبارة الهدایة هکذا و یثبت نسب ولد المتوفی عنها زوجها ما بین الوفاة و بین سنتین فقوله ما بین الوفاة ظرف للولد فالولد بمعنی المولود ای یثبت نسب مَنْ وُلِدَ فی وقت بین الوفاة و بین سنتین ثم اورد هذه المسئلة فان کانت معتدةً عن وفاةٍ فصدقها الورثةُ بولادتها و لم یشهد علی الولادة احدٌ فهو ابنه فعُلِمَ من هاتین المسئلتین ان احدهما کاف و هو کون المدة اقل من سنتین اواقر الورثة .

تشریح او توضیح: یعنی معتدی د وفات بچی راوړو خو موده د وفات او ولادت تر منځ کمه وه او د زوج متوفی ورثوو هم د دی په ولادت باندی اقرار وکړو نو پدغه صورت کی د دغه مولود بچی نسب د متوفی نه بغیر د حجت تامه نه هم ثابتیږی ۔

اعلم الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره راوړل د یو اعتراض دی په مصنفؒ باندی چه د ده کلام

د هدایه د کلام سره منافات لری هغه داسی چه وقایه (د دی کتاب په متن) کی و اقر الورثة بها په واو سره راغلی دی ، او په هدایه کی چه ذکر دی تقاضا د اَوْ کوی یعنی د وقایی د متن نه دا معلومیږی چه د ثبوت د نسب لپاره دوه شیان کافی دی (۱) چه ولادت د اقل من سنتین (۲) په اقرار د ورثوو د زوج . او د هدایه د عبارت نه معلومیږی چه احد الامرین کافی دی چه هغه د دوو کلو څخه موده د وفات او د ولادت تر منځ کمه وی اګر چه ورثوو اقرار نوی کړی یا اقرار د ورثوو د زوج دی د دی په ولادت سره لیکن د دواړو وجود ضروری ندی ځکه د هدایه عبارت داسی دی (و یثبت نسب ولد المتوفی عنها زوجها ما بین الوفات و بین سنتین) چه ثابتیږی نسب د ولد د متوفی عنها زوجها چه دا بچی پیدا شوی وی په ما بین د وفات کی او په مابین د دوو کلو کی یعنی د وفات نه وروسته د دوو کلو څخه مخکی پیدا شوی وی نو دا امر واحد د ثبوت د نسب لپاره کافی دی او بل عبارت د هدائی داسی دی چه (فان کانت معتدة عن وفاةٍ فصدقها الورثة بولادتها الخ) که دغه ښځه چه بچی ئی راوړی معتده د وفات وه او ورثوو د دی په ولادت باندی اقرار وکړو او بل هیڅ څوک په ولادت باندی ګواهی ونه کړی ، نو د دی عبارت نه معلومیږی چه یواځی د ورثوو اقرار هم کافی دی دا امر آخر شو ـ نو د دی دوو مسئلو څخه معلومیږی چه یو د دی دوو امرینو څخه (۱) چه موده به د دوه کلو څخه کمه وی (۲) اقرار د ورثوو په ولادت د دی باندی وی کافی دی ـ نو شارحؒ د وقایی د عبارت په تائید او د هدایه په عبارت باندی د رد لپاره یو اعتراض راوړو چه فان قیل الخ ـ

> فان قیل ان اقرّ الورثة والمدة بین الوفاة والولادة سنتان او اکثر لا اعتبار لاقرارهم و انما یُعتبر اقرارهم اذا کانت المدة اقل من سنتین فالواجب کلمة الواو ، قلنا احدهما کاف أو الاقرار ای اذا کانت المدة اقل من سنتین یثبت النسب و ان لم یعلم المدة بین الوفات والولادة فحینئذٍ ان اقر الورثة یعتبر اقرارهم فیجب ان تُغَیَّر عبارة الوقایة الی هذا النمط ـ او تثبت ولادتها بحجة تامة او عُلم انها ولدت بعد وفاته لاقل من سنتین او لم یُعلم و اقرَّ الورثة به .

تشریح او توضیح : فان قیل الخ : چه که ورثه اقرار وکړی او موده د وفات او ولادت تر منځ دوه کاله یا زیاته وی نو بیا خو د دوی اقرار ته اعتبار نشته ځکه د دوی اقرار ته هلته اعتبار دی چه دغه موده د دوو کلو څخه کمه وی ځکه بچی د مور په ګیډه کی د دوو کلو څخه زیات نه پاتی کیږی نو دا ښکاره دروغ شو نو د دوی اقرار ته به هله اعتبار وی چه کله موده د دوو کاله څخه کمه وی نو مصنفؒ د دی وجی نه کلمه د واو راوړه چه پدی سره اشاره کونکی ؤ دی خبری ته چه اقرار د ورثوو هلته معتبر دی چه دغه موده د دوو کالو څخه کمه وی او تنبیه پدی خبره چه په باب د ثبوت د نسب کی صرف اقرار کافی ندی ـ قلنا : شارحؒ په قلنا سره د دی مخکی اعتراض جواب کوی وائی چه تاسی وائی چه یو د دی دوو امرینو څخه کافی دی ! دا صحی ده خو هلته چه کله موده د دوو کلو څخه کمه وی نو بیا نسب تابتیږی او د ورثوو اقرار

پکی شرط ندی لکن که چیرته د وفات او ولادت تر منځ موده معلومه نشی نو بیا که ورثه اقرار وکړی نو د ورثـوو اقرار بـه معتبر وی نو معلومه شوه چه په ثبوت د نسب کی وجود د دوو امرینو چه هغه ولادت دی د دوو کلو ځخه مخکی او اقرار د ورثوو دی شرط نه دی ۔

فیجب الخ : نو مناسب ده چه دوقایی عبارت دی طرزته بدل شی چه(اوتثبت و لادتها بحجة تامة الخ)۔

لـکـن د شارحؒ دا اعتراض د وقایی په عبارت باندی بی ځایه معلومیږی او د شارح دا نمط او طرز د عبارت مـقـصـود د هـدایـه د مـقصود سره موافق ندی هغه داسی چه د هدائی د عبارت نه د اول نه تر اخره پوری دا مـعـلـومیږی چه مقصود د صاحب هدائی دا دی چه ثبوت د هغه ولادت چه د هغی مدار ثبوت د نسـب وی دا پـه یـو د څلورو طریقو سره راځی (۱) ظهور د حمل سره (۲) اقرار د خاوند په حمل باندی ۳/۱ او قیام د شهادت ۴/۲ او اقرار د ورثوو سره او دا د معتدة الوفاة پوری خاص دی او دی امورو ته هلته اعتبار دی چه مـوده معینه د هری معتدی لپاره معتبره وی مثلا که داسی ګواهی پیش کړی شی چه مبتوته ښځی بچی راوړو نو دا تر هغی پوری معتبره نده تر څو چه دا معلوم نشی چه دا بچی په هغه موده کی پیدا شوی په کومه کی چه نسب د ولد د مبتوتی ثابتیږی یعنی چه ثبوت د نسب د ولد معتداتو راځی نو د یو د ددی امـورو سره بـه د دغـی مـودی لـحـاظ وی حاصل د کلام دا دی چه اقرار د ورثوو قائمقام د شهادت په اثبات د نـفـس و لادت کـی ګـرځـی نـه پـه ثبـوت د نسب کی لکه څرنګه چه شهادت په نفس ولادت باندی چه کله خارج د مـودی ځـخه وی مګر هلته ورته اعتبار شته چه دغه موده قابله د ثبوت د نسب وی نو مراد په اقرار د ورثـوو سره اقـرار د ورثوو دی په نفس ولادت باندی قطع نظر د اقرار نه په ثبوت د نسب د ولد کی د زوج نه نو معلومه شوه چه دغه د واو کلمه راوړل ډیر مناسب دی په (و اقرّ الورثة بها۔ ای بالولادة) کی ۔

فـقـولـه او لم یُعلم الی آخره یشمل ما اذا لم یُعلم انه وُلد قبل الموت او بعده و علی تقدیر الـعـلـم بان ولادته بعد موت الزوج لا یُعلم انه وُلد لاقل من سنتین او لسنتین او اکثر لکن اقـرَّ الـورثة ان هـذا الـولـد وُلـد مـورثهم فاذا اقرّوا بذلك فالذی اقرَّ ان لم یکن ممن یصح شهـادتـه لـعـدم نـصـاب الشهادة او عدم العدالة یُعتبر اقراره فی الارث فی حقه فقط و ان صح شهادته یثبت نسبه مطلقا ای فی حق المقرّ و فی حق غیره .

تشریح او توضیح: نـو د شارحؒ دغه عبارت چه اولم یعلم الی آخره دی دوه صورتونو ته شامل دی اول صـورت چه دا معلومات نه کیږی چه دغه بچی قبل الموت پیدا شوی او که بعد الموت پیدا شوی ، دویـم صـورت دا دی چـه دا مـعـلـومـات نـه کیږی چه ولادت د دغه بچی پس له مرګ له زوج نه د دوو کلو ځـخـه مـخـکـی ۀ او که په دوو کلو کـی ۀ او که د دوو کلو ځخه په زیاته موده کی ۀ نو پدی دواړو صورتونو کـی چه کله ورثه اقرار وکړی چه دغه مورث د دوی دی نو دا اقرار د ورثوو ثبوت د نسب لپاره کافی کیږی نو

کوم سړی چـه اقرار وکړی نو که دغه مقِر د هغی ډلی څخه ؤ چه د هغه ګواهی نه صحیح کیږی د وجی د عدم نصاب د هغی ډلی د شهادت چه شهادت نصاب برابر نه وی چه هغه دوه سړی یا یو سړی او دوه ښځی دی او یا دغـه مُقِـر عادل نه وی نو پدی صورت کی د مُقِر اقرار په میراث کی صرف په حق خپل کی معتبر دی یعنی د مقر په برخه کی به معتبر وی او د مقر له حصی څخه به میراث ورکولی شی او د نورو منکرینو په حق کی معتبر ندی او که ګواهی د ده صحیح وه یعنی د ګواهی عدد مکمل ؤ سره د وصفه چه عدالت دی نو بیا مطلقا نسب ثابتیږی یعنی د مقرّ او د غیر مقر تولو په حق کی ـ والله اعلم ـ

و منکوحةٍ اتت به لستة اشهر ای من وقت النکاح اقرّ به الزوج او سکت فان ثبوت نسب ولـد المنکوحة لا یحتاج الی الاقرار فان جحد ولادتها یثبت بشهادة امرأة فیلاعن ان نفاه ای بعد ما یثبت ولادتها بشهادة امرأة نفَی الولد ای قال لیس مِنّیْ .

تشریح او توضیح: او کـه منکوحه ښځه په شپږو میاشتو کی د وقت د نکاح نه بچی راوړی نو که خاوند اقرار پدی ولد وکړی او که وئی نکړی نو نسب د دغی ولد به د خاوند د منکوحی څخه ثابت وی ځکـه په ثبوت د نسب د ولـد د منکوحی کی اقرار ته ضرورت نشته ځکه حدیث مبارک کی راځی چه (الولـد للفراش و للعاهر الحجر) او که خاوند انکار وکړ د ولد د منکوحی څخه چه دی بچی ندی زیږولی او ښځی وویـل چـه مـا بـچی زیـږولـی نـو د یوی ښځی په شهادت سره به اوس د دغه بچی نسب ثابتیږی او شهادت کامله قائمولو ته ضرورت نشته ، ځکه ثبوت د نسب پدی ځای کی قیام د فراش دی نو نه شهادت کامله ته ضرورت شته او نه نورو ته نو که د یوی ښځی د ګواهی څخه وروسته خاوند نفی د بچی وکړه چه دا زما څخه پیدا شوی ندی نو دا په ښځه باندی تهمت لګول دی نو په خاوند باندی لعان کول لازم دی ـ

و لاقـل منـهـا لا یثبت عطفٌ علی قوله لستة اشهر انه اذا کان بین النکاح و الولادة اقل من ستة اشهـر لا یـکـون منه فان ولدت وادَّعَتْ نکاحها منذ ستة اشهر و الزوج الاقل صُدِّقَتْ بلا یمین عند ابی حنیفةؒ لان الظاهر شاهدٌ لها بان الولد من النکاح لا من السفاح .

تـنقیح المسئلة : او کـه د شپږو میاشتـو څـخه ئی مخکی بچی راوړو نو دا ولد بیا د دی زوج څخه ندی نو که ښځی بچی راوړو او دعوه ئی وکړه چه زما د نکاح شپږ میاشتی کیږی یعنی د دی مقصـد داوو چـه زمـا د دی بـچـی نسب لـه خاوند څخه دی او خاوند دعوه د اقل وکړه یعنی چه ستا د نکاح وخت د شپږو میاشتـو څخـه کم دی یعنی مقصد د ده داوو چه د دی ولد نسب زما څخه ندی نو د امام صاحب په نزد باندی به د ښځی قول معتبر وی بلا یمینه یعنی قسم به نشی ورکولی ، ځکه ظاهر حال د ښځی لپاره ګواه دی ځـکـه ښـځـه دعـوه د هـغـه شی کوی چه په هغی سره د بچی نسب ثابتیږی د خاوند نه چه هغه علوق د بـچـی د وطی حلالی نه دی نه د حرامی نه ، ځکه ظاهر حال د مسلمان سړی او د مسلمانی ښځی

شمدا دی ۔ سِفاح په کسری د سین سره په معنی د زنا سره دی ۔

و لو علق طلاقها بولادتها فشهدت امرأة بها لم یقع هذا عند ابی حنیفةؒ و اما عندهما یقع لان الولادة تثبت بشهادة امرأة ثم یثبت الطلاق بالتبعیَّةِ و له انَّ الولادة تثبت بشهادة امرأة ضرورة فیُقدر بقدرها فلا یتعدَّی الی الطلاق و هو لیس تبعا لها لان کلًّا منهما یوجد بدون الآخر .

تشریح او توضیح : که یو سړی یوی ښځی ته ووائی چه که ماله تاسره نکاح وکړه او تا بچی راوړ نو ته دی طلاقه ئی نو ده ورسره نکاح وکړه او بیا دغی ښځی بچی راوړ او خاوند انکار د دغی بچی د ولادت نه وکړو او قابلی ښځی د دی ښځی په بچی راوړلو باندی ګواهی ورکړه نو د دی یوی ښځی په ګواهی سره طلاق نه واقع کیږی اګر که نسب وریاندی ثابتیږی چه کله ولادت په شپږو میاشتو یا زیاتو کی وی ۔ او صاحبین وائی چه د قابلی په ګواهی سره طلاق هم واقع کیږی ځکه ولادت د یوی ښځی په ګواهی سره هم ثابتیږی او طلاق خو معلق دی تر ولادته پوری نو طلاق هم تبعا واقع کیږی ، د امام ابو حنیفهؒ لپاره دلیل دا دی چه ولادت د یوی ښځی په ګواهی سره چه ثابتیږی نو دا د ضرورت د وجی نه هغه ضرورت دادی چه حالت د ولادت ته سړی نشی حاضریدلی نو په اندازه دضرورت به کار کولی شی یعنی د دغی یوی ښځی ګواهی به صرف د همدغی ضرورت په بنا وی طلاقو ته متعدی نه وی ۔ او ای صاحبینو تاسی چه وائی چه طلاق تابع د ولادت دی نو دا خبره صحیح نده ! طلاق تابع د ولادت ندی ځکه هر یو د طلاقو او ولادت نه یو د بل نه بغیر موجودیدی شی یعنی طلاق وی او ولادت نه وی او کله ولادت وی او طلاق نه وی چه کله ولادت د طلاقو پوری معلق نه وی نو طلاق تابع د ولادت نشول ۔

و ان أقرّ بالحبل ثم علق ای علق طلاقها بولادتها فقالت قد ولدتُ و کذبها الزوج یقع بلا شهادة هذا عند ابی حنیفةؒ و عندهما تشترط شهادة القابلة لانها تدعی حنثه فلا بد من الحجة و له ان اقراره بالحبل اقرار بما یفضی الیه و هو الولادة و اکثر مدة الحمل سنتان و اقلها ستة اشهر .

بیان : که خاوند اقرار په حمل سره وکړو چه دا حمل ځما څخه دی بیائی طلاق د ښځی د دی ولادت پوری معلق کړل یعنی کله چه تا بچی راوړو نو ته دی طلاقه ئی نو ښځی وویل چه ما خو بچی زیږولی دی او خاوند د هغی تکذیب وکړو چه نه تا بچی ندی زیږولی نو دغه معلق طلاق د امام ابو حنیفهؒ په نزد بی له ګواهی څخه واقع کیږی یعنی بغیر له دینه چه دغه ولادت دی د قابلی په ګواهی ثابت شی یعنی د قابلی یا یو بلی ښځی ګواهی ته پکی ضرورت نشته او صاحبین وائی چه شهادت د قابلی پکی شرط دی ۔

لانها تدعی حنثه الخ : ځکه ښځه په خاوند باندی دعوه د حنث کوی یعنی چه خاوند په خپل

يمن کی چه ده کوم طلاق معلق کړی ؤ حانث دی یعنی طلاق واقع دی او د حنث مطلب په ایمانو کی تعلیقات دی یعنی خاوند چه کوم طلاق د کوم جزاء پوری معلق کړی ؤ هغه جزاء واقع شوی چه هغه ولادت دی نو طلاق واقع شو او خاوند تری انکار کوی چه زه په خپل یمین کی حانث نه یم نو اوس ښځی ته د ګواهانو ضرورت دی اګر که ګواهی د یوی ښځی وی ځکه د قابلی ښځی په ګواهی سره ولادت ثابتیږی۔

و له ان اقراره الخ : امام ابو حنیفهؒ لپاره دلیل دا دی چه هر کله خاوند اقرار په حمل سره وکړو نو ګویا چه دا اقرار په ولادت سره شو ځکه حمل مفضی الی الولادت دی او دا ولادت ثمره د حمل ده نو دا داسی شوه چه ګویا خاوند طلاق د ولادت پوری معلق کړی سره د اقرار نه په ولادت باندی او په صورت د اقرار د خاوند کی ګواهی ته ضرورت پیدا نشو نو طلاق بلا شهادته واقع شو ۔

و اکثر مدة الحمل الخ : زیاته موده د حمل د امام ابو حنیفهؒ په مذهب دوه کاله ده اصل او دلیل پدیکی قول د بی بی عائشی رضی الله عنها دی چه بچی د مور په رحم کی د دوو کلو څخه زیات نه پاتی کیږی اګر که د څرخی د سوری په اندازه وی او قول د صحابی په غیر معقولی شی کی خاص طور په مقادیرو او مودو کی محمول وی په سماع باندی د نبی ﷺ نه ۔

او امام شافعیؒ څلور کاله وائی د ده لپاره دلیل دا دی چه امام ضحاک د مور په ګیډه کی څلور کاله پاتی شوی دی او د مور په ګیډه کی ئی ثنایا غاښونه شنه شوی ؤ د پیدا کیدو په وخت کی ئی وخندل نو د همدی وجی په ضحاک سره مسمی شو ، او همدارنګه عبد العزیز الماجشونی په څلور کلو کی پیدا شوی دی ، همدارنګه په یو روایت کی راغلی چه یو سړی د خپلی ښځی نه دوه کاله غائب شوی ؤ چه کله راغی نو ښځه ئی حامله وه نو حضرت عمر رضی الله عنه د دی د رجم کولو اراده وکړه نو حضرت معاویه رضی الله عنه ورته وویل چه ستا د رجم کولو حق که د دغی سره شته لیکن د دی په ګیډه کی چه کوم ماشوم دی په هغی نشته نو حضرت عمر رضی الله عنه دا ښځه پریښوده تر دی پوری چه بچی ئی وزیږوه نو د بچی ئی مخکنی ثنایا غاښونه راشنه شوی ؤ او بل د خپل پلار سره ئی مشابهت درلوده نو پلار ئی وویل چه زما دی د کعبی په رب قسم وی چه دا خو زما ځوی دی نو عمر رضی الله عنه د دی ماشوم نسب د خپل پلار څخه ثابت کړ ، بیا حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل : که چیرته حضرت معاویه نوی نو عمر به هلاک شوی ؤ (بی ګناه ښځه به ئی رجم کړی وه) د احنافو لپاره د قصی د امام ضحاک او د عبد العزیز الماجشونی نه دا جواب دی چه نه امام ضحاک او عبد العزیزته او نه بل چاته د دی اطلاع معلومات شته چه دا د څه وجی نه په رحم کی پاتی ؤ نو کیدی شی چه د رحم خوله د کوم مرض د وجی نه بنده شوی وی نو بیا خو دیته اعتبار نشته ۔

او د دویم روایت څخه دا جواب دی چه مراد د غائب والی دا دی چه دی غائب ؤ قریب د دوو کلو

پوری او د نسب ثابتول خو د خاوند په اقرار وشو. والله اعلم.

و من نكح امةً فطلقها فشراها فإن ولدت لاقل من ستة اشهر منذ شراها لزمه و الا فلا، لانه اذا كان بين الشراء والولادة اقلُ من ستة اشهر كان العلوق سابقا على الشراء فهو ولد منكوحته فيلزم بلا دعوةٍ، اما اذا كانت المدة ستة اشهر او اكثر فالولد ولد مملوكته لان العلوق امر حادث فيُضافُ الى اقرب الاوقات فلا يلزم بلا دِعْوَةٍ.

صورة المسئلة: يو سړی د بل چا د وينزی سره نکاح وکړه، بيا ئی د دخول نه وروسته طلاق ورکړ د طلاقو نه وروسته ئی دغه وينزه د دی له بادار څخه واخيسته نو که دغی وينزی د شپږو مياشتو څخه په کمه موده د وخت د شراء نه بچی وزيږوه نو نسب د دغه بچی د ده څخه بی له دعوی د نسب د ده نه ثابت شو، او دغه بچی ولد د منکوحی د ده راغی نه د مملوکی ځکه د دينه معلومه شوه چه دغه علوق په شراء باندی سابق دی او د شراء نه مخکی دغه ښځه يا د ده معتده وه او يا د ده زوجه وه او په دواړو صورتو کی ښځه منکوحه د ده او د ولد نسب د ده نه ثابت شو که دی دعوه د نسب د ده وکړی او که وئی نکړی، ليکن که د شراء او ولادت تر منځ موده شپږ مياشتی يا زياته وه نو بيا دا ولد ولد د مملوکی دی ځکه علوق يو امر حادث دی نو د دی نسبت به اقرب الاوقات ته کيږی چه هغه پدی مقام کی ما بعد الشراء دی نو بی له دعوی نه به نسب د دی ولد نه ثابتيږی خو دا په هغه صورت کی چه طلاق يو طلاق بائن وی او يا خلع وی او يا رجعی اما که طلاق دوه ؤ نو بيا د وقت د طلاق نه تر دوو کلو پوری نسب ثابتيږی ځکه دا ښځه پده په حرمت غليظه سره حرامه شوه ځکه د وينزی طلاق دوه وی او حيضونه هم دوه دی نو د دی وينزی وطی کول په شراء سره جائز نه دی تر څو چه د بل خاوند سره نکاح ونکړی يعنی تحليل ونکړی نو د دی علوق نسبت به اقرب الاوقات ته نشی کولی بلکه ابعد الاوقات ته به کولی شی چه د طلاقو څخه مخکی موده ده او د طلاقو څخه مخکنی موده د نکاح وه نو که د دوو کلو څخه په کمه موده کی بچی راوړی نو نسب لازميږی.

په در مختار کی راغلی چه فراش په څلورو مراتبو سره دی: (۱) ضعيف چه دا هغه فراش د وينزی دی چه د بادار د دعوی څخه بغير پديکی نسب نه ثابتيږی (۲) متوسط چه دا هغه فراش د ام ولدی دی چه پديکی بغير د مولی د اجازی نه هم نسب ثابتيږی لکن په نفی د بادار سره منتفی کيږی (۳) قوی چه دا فراش د منکوحی او معتده رجعی دی چه پديکی نسب نه منتفی کيږی مگر په لعان سره (۴) اقوی چه هغه فراش د معتدة البائن دی چه ولد پديکی نه منتفی کيږی بالکل ځکه نفی د دی موقوف ده تر لعان پوری او شرط د لعان زوجيت دی او دلته زوجيت ختم شوی.

و من قال لامته ان كان في بطنكِ ولد فهو مني فشهدتِ على الولادة امرأة فهي ام ولده او لـطفل عطفٌ على قوله لامته هو ابني و مات فقالت امُ الطفلِ هو ابنه و انا زوجته يرثانه اى

یرث الطفل و امّه من المقر لان المسئلة فیما اذا کانت المرأة معروفةً بالحریة و بکونها ام الطفل فلا سبیل علیه الی بنوّة الطفل له الا بنکاح امه نکاحا صحیحا لانه هو الموضوع للحِلّ و ان قال وارثه انتِ ام ولده و جُهلَتْ حرّیّتها لا ترث ای ام الطفل و یرث الطفل .

تشریح او توضیح: کہ یو سړی خپلې وینزې ته ووېل چه که ستا په ګیډه کی بچی وی نو دا له ما څخه دی نو یوی ښځی د دی په بچی راوړلو ګواهی وکړه نو دغه وینزه د ده ام ولده وګرځیده یعنی د دغی بچی نسب د ده نه ثابت شو ځکه چې ثبوت د نسب په دعوی سره راځی او په دی صورت کی بادار دعوه وکړه چه دا له ما څخه دی (منّیُ) لفظ سره صرف ضرورت تعین د ولد ته وو او تعین د ولد کی د یوی ښځی قول کافی دی۔

او لـطـفـل : دا لفظ عطف دی په لامّته لفظ باندی یعنی یائی خپل ماشوم ته ووېل چه دا ځما ځوی دی او دغـه اقـرار کـونـکـی مـړ شو او د دغه ماشوم مور ووېل چه دا ماشوم د دغه متوفی ځوی دی او زه ئی ښځـه یـم نـو پـدی صـورت کـی دغه ماشوم او د ده مور دواړه له مُقِر څخه میراث وړلی شی ، خو دا په هغه صـورت کـی چـه طـفل او ام الطفل کی هم دا قیودات موجود شی (۱) چه دغه طفل به د هغی قبیلی څخه وی چـه داسـی قـسـم مـاشـومـان د داسـی مـقـرینو څخه پیدا کولی شی که داسی نه ؤ یعنی چه دغه ماشوم مسـاوی السن وی د مُقِر سره یا تری لوی وی او یا د دی مقر څخه دومره ورکوتی وی چه د ده پشان ماشومان نشی زیږولی نو پدی صورت کی د مُقِر قول باطل او عبث دی ۔ (۲) چه ماشوم به معروف النسب نه وی که معـروف النسب وی یعنی پلار ئی معلوم ؤ نو بیا د مقر قول معتبر ندی (۳) چه دغه ماشوم د ده تکذیب و نه کړی که تکذیب ئی وکړی نو بیا د مقر قول معتبر ندی او په ام الطفل کی قیودات دا دی :

(۱) چـه د دی حریت به معلوم وی ځکه که د دی حریت معلوم نه وی نو کیدی شی چه دا د متوفی ام ولده وی او ام ولده میراث نشی وړلی ځکه میراث وړل خاصه د زوجیت ده ۔ (۲) چه دا معلومه وی چه دا ښـځـه د دغـه ماشوم مور ده که دا معلومه نوی نو بیا میراث نشی وړلی ځکه ثبوت د زوجیت رانغی او چه زوجیت ثابت نشو نو ځوی والی هم ثابت نشو ۔ (۳) چه مسلمانه به وی ځکه که اسلام ئی معلوم نه وی نو بیا میراث نشی وړلی ځکه د کافری او مسلمان تر منځ نکاح جائز نده ۔

قـولـه لانـه هـو الـمـوضـوع للحل الخ : دا دفـع د یو اعتراض ده هغه داسی چه نسب لکه څرنګه چـه پـه نـکـاح صحیح سره ثابتیږی همدارنګه په نکاح فاسدی او په وطی عن شبهة سره او په ملک یمینی سره هـم ثـابـتـیـږی نـو ځـوی والـی د دغـه ماشوم خو مستلزم ندی زوجیت د ام لره ځکه ځوی والی بغیر د زوجیت نـه هـم راتلای شی لکه په ملک یمینی و غیره سره نو شارحؒ جواب وکړو چه د وطی د حلال والی لپاره صرف نکاح صحیح وضع شوی نور نو په نکاح صحیح سره به حمل کولی شی ۔

و ان قال الخ : که د دغی ښځی حریت معلوم نه وو یعنی مجهولة الحریت وه او د مړی ورثوو دغی

ښځی ته وویل چه ته د دغه مقرِ ام ولده ئی او منکوحه ئی نه نی نو پدی صورت کی دغه ښځه **یعنی** د ماشوم مور میراث نشی وړلی لیکن ماشوم ئی وړلی شی ځکه د ده نسب په اقرار د مورث سره **ثابت دی** چه دا ځما ځوی دی اما که د دغی ښځی حریت معلوم ؤ او بیا ورثوو ورته وویل چه ته ام ولده ئی نو بیا د ورثوو قول لغوه دی او ښځه بیا پدی صورت کی میراث وړلی شی۔

> **والحضانة للام بلا جبرها طلقت او لا ثم لامها و ان علت ثم لام ابیه ثم لاخته لاب و ام ثم لام ثم لاب ثم الخالة كذلك ای لاب و ام ثم لام ثم لاب فان الخالة اخت الام فاختها لاب و ام أولی ثم اختها لام ثم لاب و ذلك لان الاصل فی هذا الباب الام فالقرابة من جهتها قدمت علی القرابة من طرف الاب ثم عمته كذلك ای لاب و ام ثم لام ثم لاب فان العمة اخت الاب فتقدم اخته لاب و ام ثم الام ثم لاب بشرط حریتهن فلا حق لامة و ام ولد فیه ای فی الولد .**

كفاية الملهم فی بيان الحضانة للام

د حضانت لغوی معنی تربیت د بچی ته وائی نو حق د تربیت د بچی صرف د نسبی **مور سره** ثابت دی برابره خبره ده که د مور او پلار تر منځ نکاح قائمه وی او که نوی افتراق وی او که نوی بی له مجبوره کولو د مور نه یعنی که مور د تربیت ځخه انکار وکړی نو مجبوره کولی به نشی ځکه ډیر کرتی مور د تربیت ځخه عاجزه وی لیکن د تربیت لپاره بله ښځه نوی نو بیا به دغه مور په تربیت د دی بچی سره مجبورولی شی د دی لپاره چه د بچی حق تلف اوضائع نشی۔

طلقت او لا الخ : یعنی حق د تربیت مور ته ثابت دی په حالت د قیام د نکاح کی او پس له جدائی ځخه هم ځکه مور په بچی زیاته مشفقه او مهربانه وی د نورو نه نو که مورئی نه وه او یا وه خو د تربیت ځخه ئی انکار وکړو او یائی هغه کار وکړو چه په هغی سره حق د تربیت ساقطیږی لکه د اجنبی سړی سره نکاح کول او یا دا ښځه اهله د حضانت نه وه مثلا کافره وه او یا داسی فاجره وه چه په هغی سره ولد ضائع کیده لکه زنا، ډمتوب، غلا، و غیره، او یا غیر مأمونه وه مثلا هروقت د کوره وتله او بچی په کور کی پریښوده او یا داسی افعال چه وروسته به د هغی ذکر راشی نو پدی ټولو صورتونو کی به بیا حق د تربیت د ماشوم د دی ښځی مور لره یعنی د ماشوم مور مور یعنی نیا لره دی بیا همدارنګه د مور نیا لره یعنی د مور د مور مور لره دی بیا د پلار مور لره اګر که پورته وی یعنی د نیکه مور لره او د غور نیکه مور لره نو که دا هم نه وه نو بیا حق د تربیت د دی ماشوم اعیانی خور لره دی چه د مور او پلار ځخه وی یعنی سکنی وی بیا د دینه وروسته حق د اخیافی خور دی چه له موره ئی وی او د پلار ځخه ئی نوی بیا حق د علاتی خور دی چه له پلار ځخه ئی وی او مور ځخه ئی نه وی یعنی میرنی خور بیا د دینه وروسته د خالی یعنی د مور

خور چه ترور ورته وائی حق دی ۔

کذلک الخ : یعنی اول د هغی ترور حق دی چه د مور او پلار دواړو څخه وی بیا د هغی ترور حق دی چه د مور څخه وی او د پلار څخه نوی بیا د هغی ترور حق دی چه صرف د پلار څخه وی د مور څخه نوی د اخیافی ترور حق ځکه مقدم کړی شو چه اصل په باب د تربیت کی مور ده نو جهت د قرابت د مور به هم اولی او غوره وی د جهت د قرابت د پلار څخه ۔

بیا د دینه وروسته حق د عمی یعنی د پلار د خور دی په همدی ترتیب چه اول حق به د عمی اعیانی وی بیا د عمی اخیافی بیا د عمی علاتی وی خو پدی شرط چه دغه مذکوره ښځی اصیلی وی وینزی نه وی ځکه وینزی د خپل بادار په خدمت کی مشغوله وی نو تربیت د ولد ته نه فارغیږی همدارنګه هغه ام ولده چه خپل خاوند طلاق ورکړی نو دی لره هم حق د تربیت د دی بچی نشته لیکن که مولی ئی ازاده کړی نو بیا په شان د مطلقی حری ده حق د تربیت د ولد لری ۔

والذمیة کالمسلمة فیه حتی یعقل دینا ای فی ولد المسلم و فی الهدایة ما لم یعقل دینا او یُخاف ان یألف الکفر و قوله او یخاف یجب باالجزم وهو یخف لانه عطفٌ علی المجزوم بلَمْ لان المعنی ما لم یخف و هذا القید لم یُذکر فی الوقایة و یجب رعایته لان تألف الکفر قد یکون قبل تعقّل الدین فاذا خِیفَ تألف الکفر یُنزَ عُ عنها .

تشریح ا وتوضیح: او ذمیه ښځه چه خاوند ئی مسلمان شوی وی نو په حق د حضانت کی او یا په ولد د دغه زوج مسلم په شان د مسلمانی ښځی دی تر دی پوری چه دغه ماشوم دین وپیژنی ۔

فی ولد المسلم الخ : دا تفسیر د لفظ د فیه دی او لفظ مسلم صفت د ولد نه دی بلکه دا صفت د موصوف محذوفه دی یعنی فی ولد زوج المسلم ځکه چه دلته د ذمی ښځی چه کوم حکم ذکر دی دا په هغه صورت کی چه خاوندئی مسلمان شوی وی او که چیرته دواړه زوجان ذمیان ؤ نو بیا دی حکم ته ضرورت نشته ۔

و فی الهدایة الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره یو اعتراض دی په عبارت د مصنفؒ باندی هغه داسی چه په هدایه کی پدی باب کی دا الفاظ هم ورسره لیکلی ما لم یعقل الادیان او یخاف ان یألف الکفر الخ یعنی ذمیه ښځه زیاته حقداره ده په تربیت د ولد مسلم کی خو ترڅو چه دین نه پیژنی او دا ویره نه وی چه دا به ئی د کفر سره مینه پیدا کړی ، یعنی که دغی اندازی ته ورسیده چه ادیان پیژنی او یا دا ویره وه چه کفر ته به مائله شی نو پدی صورت کی به بیا ذمیی مور د حضانت څخه لری کولی شی ۔

شارحؒ وائی چه د صاحب هدائی دا قول چه او یخاف دی مجزوم پکار ؤ چه یَخَفْ دی ځکه یخاف عطف دی په یعقل باندی چه مجزوم دی په لَمْ سره ځکه معنی ئی داسیْ ده چه ما لم یخف ، او معطوف تابع وی د معطوف علیه په اعراب کی ۔

بهر حال خو د شرح الوقائی مصنفؒ بیا دا قید هم ذکر کړی ندی چه هغه قید د عدم خوف هلاکت د کفر دی د دی قید رعایت په کار ؤ ځکه د کفر سره مینه کفر ته میلان کول کله د دین د پیژندنی څخه مخکی هم راځی ډیر کرتی یو ماشوم بلکل نه دین پیژنی او نه د دین ښه او بد پیژنی لیکن دا ویره وی چه دی به کفر ته مائله شی هغه داسی چه د کافرو سره د کافرو عبادت خانو ته ځی او د هغوی باطلو معبودانو ته مثلا سجدی کوی همدارنګه داسی نور کارونه ، نو کله چه دا ویره پیدا شوه چه دا ماشوم به د کفر سره مینه پیدا کړی نو د دغی ذمي تربیت کونکی څخه د لری کړی شي او نورو مسلمانانو ته د وسپارلي شي۔

و بنكاح غير محرم منه سقط حقها اى في الحضانة و بمحرم لا كأم نكحتُ عمَّه و جدَّة جده اى جدة نكحت جده فهذا من باب العطف على معمولي عاملين و المجرور مقدم و يعود الحق بزوال نكاح سقط به ثم العصبات على ترتيبهم لكن لا تُدفع صبية الى عصبة غير محرم كمولي العتاقةِ وابن العم و لا فاسق ماجنٍ الذى يُعَلِّمُ الناس الحِيَلَ .

تشریح او توضیح : لفظ د بنكاح متعلق دی تر فعل مؤخر پوری چه یسقط دی او منه کی ضمیر صبی ته راجع دی چه متعلق دی تر غیر محرم پوری نو مقصد د کلام دا دی چه حاضنه ښځه مور وی او که غیر مور وی خو چه هغه چا سره نکاح وکړی چه هغه د دغه ماشوم نا محرم وی نو د دغی حاضنی حق په حضانت کی ساقط شو ځکه چه پردی سړی د دغه رنګی ماشوم سره مینه نلری بلکه بغض او دشمني ورسره کوی نو اوس که دغه ماشوم د دغی حاضنی سره پریښودلی شی نو دا به بی نظره وی او عمر به ئی تباه شی اما که دغی حاضنی ښځی د دغه ماشوم د نسبی محرم سره نکاح وکړه نو بیا حق د حضانت د دی نه ساقطیږی مثلا د ماشوم مور د ماشوم د تره سره او د ماشوم نیا د ماشوم د نیکه سره نکاح وکړی ځکه تره او نیکه د ماشوم لپاره محارم دی او دوی په شفقت کی په منزله د پلار وی خو پدی شرط چه نسبی تره یا نیکه وی ځکه رضاعی تره یا نیکه په باب د حفاظت کی په منزله د اجنبی سړی وی، ځکه چه حق د حضانت بنا دی په شفقت او مهربانی باندی ، او شفقت په نسبی رشته اوخپلوی کی زیات وی د رضاعی رشتی نه ۔

قوله فهذا من باب العطف الخ : غرض د شارحؒ دا دی چه دلته مصنفؒ لفظ د جدة عطف کړی په لفظ د امِ باندی او لفظ د جدة ئی عطف کړی په لفظ د عمه باندی نو دلته عطف د دوو کلمو راغی په دوو معمولینو د دوو عاملینو مختلفینو چه یو عامل جار مجرور دی (كأم) او بل فعل ناصبه دی (نكحت) او یو معمول لفظ د امِّ دی او بل لفظ د عمه دی دا قسم عطف د نحاتو په نزد جائز دی خو په هغه صورت کی چه جار مجرور مقدم وی او دلته هم مقدم دی ۔

و یعود الحق الخ : په کومی نکاح سره چه حق د حضانت ساقط شوی وی نو که دغه نکاح

زائله شی مثلا هغه اجنبی سړی مړ شی او یا طلاق ورکړی نو د دی ښځی حق د حضانت بیرته راګرځی ځکه مانع د حق د حضانت زائله شو۔

ثم العصبات علی ترتیبهم الخ : د مخکی ذکر شو ښځو نه وروسته حق د حفاظت عصباتو لره دی په ترتیب د دوی سره یعنی هغه ترتیب کوم چه په میراثو کی معتبر دی نو اول به پلار مقدم وی بیا به نیکه یعنی د پلار پلار اګر که پورته وی بیا به سکه ورور مقدم وی بیا هغه ورور چه له پلار ځخه صرف وی نو دا عصبه دی او په همدغه ترتیب به دوی د ماشوم تربیت کوی۔

لیکن ماشومه انجلۍ به هغه عصبه ته نشی ورکولی چه غیر محرم د دی ماشومی وی لکه په عصبات نسبیه کی د تره ځوی او په عصبات سببیه کی مولی د عتاقه ځکه دی کی احتمال د فتنی دی ، مراد د مولی د عتاقت نه دلته مُعتِق دی په کسری د تا سره ، کوم سړی چه غلام ازاد کړی یا وینزه نو ولاء د معتق به د معتِق لپاره وی او دا معتِقْ بهِ د ده وارث وی په هغه صورت کی چه د ده د اصحاب الفرائضو نه او د عصبات نسبیو ځخه بل څوک وارث نه وی۔

و لا فاسق ماجن الخ : ماجن صیغه د اسم فاعل ده د مجن نه په معنی د خلط او فساد سره یعنی هغه سړی چه خلقو ته هغه حیلی ښائی چه په هغه سره ابطال د احکام شرعیوو راځی او ارتکاب د امور منهیو راځی مثلا د سود په حلال والی فتوی ورکوی چه حیلی ګروی و غیره سره او داسی نور ، نو مطلب د مسئلی دا شو چه کوم کس چه حق د حضانت ئی درلود فاسق ؤ نو ده ته به ماشومه انجلۍ نشی سپارلی اګر که د دی ماشومی محرم دی او خاص طور بیا چه کله فاسق ماجن وی نو بیا خو به بلکل نشی ورته سپارلی ځکه دلته احتمال د فتنی ډیر قوی دی ځکه شرط په حاضن کی دا دی چه دی به امین وی او فاسق کی د امانت صفت نه وی۔

و لا یُخَیَّرُ طفلٌ خلافا للشافعی ؒ و الام و الجدة احق بالابن حتی یأکل و یشرب و یلبس و یستنجی وحده قدَّره الخصَّاف ؒ بسبع سنین و بالبنت حتی تحیض ، و عن محمد ؒ حتی تشتهی و هو المعتمد لفساد الزمان و غیرهما حتی تشتهی ای غیر الام و الجدة أحق بالبنت حتی تشتهی و لا تسافر مطلقة بولدها إلا الی وطنها الذی نکحها فیه و هذا للإمام فقط ای السفر المذکور .

تشریح او توضیح: زمونږ په مذهب حنفی سره به ماشوم ته دا اختیار نه وی چه په مور او پلار کی یو ځانته غوره کړی ځکه هغه پدی نه پوهیږی چه زما لپاره کوم یو انفع او اشفق دی او کوم یو مضر دی او غیر مشفق دی ځکه د هغه په عقل کی او فهم کی نقصان وی همدغه وجه وه چه کله د حضرت عمر ؓ او د ده د بی بی چې مطلقه وه تر منځ په ماشوم کی جګړه راغله نو حضرت ابوبکر الصدیق ؓ ماشوم مور ته وسپاره ، او وئی

ویل چه ما د نبی ﷺ نه اوریدلی دی چه مور به نشی جدا کولی له خپل بچی څخه . دا عدم تخیر زم
نزد قبل البلوغ دی اما بعد البلوغ زمونږ په مذهب کی هم ورته تخیر شته او که دغه ماشوم له یو سر
نشی او ځانته جدا شی نو هم صحی ده ، خو امام شافعیؒ پدیکی مخالف دی هغه وائی چه تخیر ورته شته.
وائی چه څکه نبی ﷺ یو ماشوم ته د مور او پلار ترمنځ اختیار ورکړو ورته ئی وفرمائیل چه لاړ شه هر یو ته
چه ستا خوښه وی او وئی فرمائیل یا الله دی ماشوم ته هدایت وکړی . نو ماشوم مور غوره کړه .

احناف د دی حدیث نه دا جواب کوی چه د نبی ﷺ دعا د دی ماشوم لپاره توفیق د دی ورکړو چه ارفق او اشفق انسان په مور او پلار کی غوره کړی چه هغه مور ده نو پدی باندی نور قیاس کولی نشی .

والام والجدة الخ : مور او نیا زیاته حقداره ده په ابن باندی ، د ابن نه مراد دلته هلک دی څکه مقابله کی ئی د بنت لفظ راغلی ، تر دی پوری چه پخپله خوراک وکړی ځنباک وکړی جامی واغوندی او اودس اوکړی دلته د استنجاء نه مراد مکمل اودس دی او د دغی اندازه احمد بن عمر الخصافؒ په اوو (۷) کلونو سره کړیده لکه څرنګه چه حدیث مبارک کی راغلی دی (مروا صبیانکم بالصلاة اذا بلغوا سبعاً) نو امر په مانځه هلته راځی چه کله ماشوم په اودس قادره وی نو په غالب اوقاتو کی چه کله ماشوم اوو (۷) کلو ته ورسیږی نو بیا خوراک ځنباک جامی اغوندل و غیره یواځی یعنی بغیر د بل د امداد نه کولی شی نو بیا د زنانو د خدمت نه مستغنی او بی پروا وی نو پدی صورت کی بیا تادیب او تعلیم ته ضرورت دی او تادیب او تعلیم په نارینو سره کیږی .

و بالبنت الخ : دا عطف دی په بالابن باندی نو مطلب ئی به دا شی چه مور او نیا زیات حقدار دی په انجلۍ باندی تر دی پوری چه بالغه شی دلته د حیض نه مراد بلوغ دی اګر که په حیض سره نه وی بلکه په انزال سره وی او یا پنځلس کلو ته ورسیږی څکه ښځه پدی عمر کی د نورو ښځو خدمت ته ضرورت نلری بلکه هر څه پخپله کولی شی او امام محمدؒ وائی چه مور او نیا پدی انجلۍ تر هغی زیات حقدار دی چه اندازی د شهوت ته ورسیږی یعنی چه مشتهاته شی چه اندازه ئی نهه کاله ده او همدا قول معتمد او مفتی به دی څکه اهل د زمانی کی ډیر فساد راغلی نو که دا ماشومه چه مشتهاته هم ده او د ښځو سره پریښودلی شی نو احتمال د یو عظیم فساد لری .

غیر هما الخ : او د مور او د نیا نه بغیر بل څوک زیات حقدار دی په انجلۍ باندی خو تر زمانی د شهوته پوری . دا قول اتفاقی دی یعنی انجلۍ به د مور او نیا نه ماسوا نورو حاضناتو سره تر زمانی د شهوته پوری پریښودلی شی او د دی نه وروسته به ورسره نشی پریخودلی بلکه نارینو ته به سپارلی شی چه د دی حفاظت وکړی او تعلیم ورکړی .

و لا تسافر الخ : مطلقی حاضنی ښځی ته د اجازت ندی چه هغه ماشوم بچی چه دا ښځه د هغه

ترتیبت کوی چه د ښار ځخه باندې ته وباسي او سفر وکړي اګر که د ښار او باندې تر منځ لګه فاصله وي ځکه احتمال د ضرر لږ ی ماشوم ته هغه داسي چه د اطرافي خلکو خوی او عادت به واخلي ځکه چه د باندو د خلکو اخلاق په نسبت سره د ښار خلکو ته خراب وي او لهجه ئي سخته وي لیکن که د یو ښار نه بل ښار ته یا د باندې نه ښار ته سفر کوي او فاصله کمه وي نو بیا جائز ده ځکه کیدی شي چه پلار ئي ورشي او ملاقات ورسره وکړي او بیا په همدغه ورځ بیرته خپل کور ته واپس راشي او که فاصله زیاته وه نو سفر کول جائز ندی مګر که دغي مطلقي ښځي هغه ځای ته سفر کوه چه د دي ماشوم له پلار سره ئي مخکي نکاح هلته کړي وه نو بیا جائز دي۔

و هذا الخ : او دغه سفر چه مخکي ئي بیان وشو د دي جواز صرف د ماشوم مور لره دی ، اما د نورو حاضناتو ښځو لپاره لکه نیا و غیره نو بیا سفر کول پدی ماشوم سره جائز ندی لکن که پلار ئي اجازه وکړي نو بیا جائز دي۔

باب النفقة

دا باب دی په بیان د احکامو د نفقه کي هغه نفقه چه واجبه وي په انسان باندې په یو سبب سره لکه نکاح یا خپلولي یا ملک سره۔

نفقه په لغت کي ویل کیږي هغه څه ته چه انسان ئي په خپل عیال مصرفوی ، او اصطلاحا عبارت دی د طعام نه او د متعلقاتو د طعام ځخه او د جامو او متعلقاتو د جامو ځخه او د کور او د متعلقاتو د کور ځخه او کله ئي اطلاق شرعا صرف په طعام او په متعلقاتو د طعام کیږي ، لکه راتلونکي عبارت کي ځکه ذکر د کسوه او سکني په خپله موجود دی ، او عطف تقاضا د مغایرت هم کوي۔

تجب هي و الکسوة و السکنی علی الزوج ولو صغیرا لا یقدر علی الوطی للعِرس مسلمةً کانت او کافرة کبیرة او صغیرة توطأ حتی لو لم توطأ کان المانع من جهتها فلم یُوجد تسلیم البُضع فلا تجب علیه النفقة بخلاف ما اذا کان الزوج صغیرا لا یقدر علی الوطی فان المانع من جتهه .

بیان : نفقه او جامي او د اوسیدلو ځای په میړه او خاوند باندې واجب دي اګر که خاوند ئي ورکوتي وي داسي ورکوټی اوروکی ماشوم چه په کور والي قادر نوی ، او دا نفقه واجب ده د ښځي لپاره عِرس په عربي کي ناوي ته ویل کیږي خو دلته تري مراد ښځه ده ، او للعرس متعلق دی تر تجب پوري دغه ښځه مسلمانه وي او که کافره وي غټه وي او که وړه وي خو چه د کور والي طاقت ولري ، تر دی که د کور والي طاقت ئي نه درلود نو بیا مانع د وطی د ښځي له طرفه راغلي نو حقیقتا د بُضع یعني د اندام

مخصوصه د ښځې خاوند ته ونشو سپارلې نو په خاوند باندې په دې صورت کې نفقه واجب نده او په هغه صورت کې چه خاوند ورکوټې وي او په وطي قدرت نلري نو بيا د ښځې نفقه واجب ده ځکه دلته مانع د وطي نه د خاوند له طرفه دي ـ

بقدر حالهما في الموسرين نفقةُ اليسار و في المعسرين نفقة العسار و في الموسر والمعسرة و عكسه بين الحالين هذا عندنا و اما عند الشافعي فالمعتبر حال الزوج و لو هي في بيت ابيها او مرضت في بيت الزوج لا لناشزة خرجت من بيته بغير حق احتراز عن خروجها بحق كما لو لم يُعطِها المهر المعجَّل فخرجت عن بيته .

تشريح ا وتوضيح: په خاوند باندې د ښځې نفقه واجبېږي خو په هغه صورت مقدار کې چه تقاضا د حال د زوجينو کوي په مالدارۍ او غريبۍ کې يعنې که ښځه او خاوند دواړه مالداره وُ نو د مالدارۍ نفقه به ورکوي که دواړه غريبان وُ نو د غريبۍ نفقه به ښځې ته ورکوي ، او که خاوند مالداره وُ او ښځه ئې غريبه وه يائې ښځه مالداره وه او خاوند ئې غريب وُ نو په دواړو صورتونو کې به درميانه نفقه ورکوي دا زمونږ په نزد ـ

اصل کې خو دا مذهب د امام خصافؒ دې خو جمهورو مشائخو پدې فتوی ورکړېده نو ځکه ئې لفظ د عندنا راوړو ، او د امام شافعيؒ په نزد باندې په نفقه کې به د خاوند حال معتبره وي يعنې که خاوند مالداره وُ نو د مالدارۍ نفقه پرې واجب ده ، او که خاوند غريب وُ نو د غريبۍ نفقه پرې واجب ده ـ

و لو هي الخ : يعنې د ښځې نفقه په خاوند واجب ده اګر که دغه ښځه د پلار په کور کې وي نو کوم وخت چه عقد وشو نو په خاوند نفقه واجب شوه اګر که دغه ښځه د خاوند کور ته رانقل شوې نوې ، او د امام ابويوسفؒ څخه يو روايت کې راځي چه تر څو ښځه د خاوند کورته راواده شوې نوې نو نفقه په خاوند واجب نده خو فتوی په اولنې قول ده ، همدارنګه که ښځه د خاوند په کور کې مريضه شي يعنې ښځه ابتداء چه څنګه واده شوه او خپل ځان ئې خاوند ته تسليم کړو مريضه شوه نو په خاوند نفقه واجب شوه ، همدارنګه که ښځه د پلار په کور کې مريضه شوه او د مريضۍ په حالت کې د خاوند کورته راواده شوه نو په خاوند ئې نفقه واجب شوه ـ

لا لناشزة الخ : غرض د مصنفؒ پدې عبارت سره شروع ده په بيان د هغه ځاکې چه نفقه ئې نه واجبېږي او يا ساقطيږي ، نشوز په لغت کې نافرمانۍ ته ويل کيږي ، او په شريعت کې ناشزه هغې ښځې ته ويل کيږي چه د خاوند د اجازې څخه بغير د خاوند له کور څخه اوځي بغير د څه حق شرعي نه نو د دې ښځې نفقه تر هغې په خاوند واجب نده چه بيرته کورته راشي او نا فرمانۍ او مخالفت د خاوند پرېږدي ، اما که په حق شرعي سره له کور څخه ووتله لکه مثلا خاوند مهر معجل نه ورکوه او دغه ښځه له کور څخه ووتله نو د دې نفقه په خاوند لازمه ده او ساقطيږي نه ـ

و محبوسة بدین و مریضةٍ لم تُزف و مغصوبةٍ کُرھا و حاجةٍ لا معه ، و لو کانت معه فلها نفقة الحضر لا السفر و لا الکِراء ، و علیه موسرا نفقة خادم واحدٍ لها فقط هذا عند ابی حنیفة و محمد ، و اما عند ابی یوسف فعلیه نفقة خادمین احدهما لمصالح الداخل والآخر لمصالح خارج البیت و هما یقولان الواحد یقوم بهما لا معسرا فی الاصح احتراز عن قول محمد فان عنده تجب علی المعسر نفقة الخادم .

تشریح او توضیح: لفظ د محبوسه عطف دی په ناشزه باندی یعنی هغه ښځه چه په شغی باندی د بل چا قرض وی او په ورکولوئی قادره وی او نه ئی ورکوی بیا د قاضی په امر باندی بندی کړی شی نو نفقه ئی ساقطیږی او که د خاوند قرض ورباندی ؤ نو بیائی نفقه نه ساقطیږی . همدارنګه که د خاوند رسیدګی دغی ښځی ته جیل ته کیدی شوه نو بیا هم نفقه واجب ده -

و مریضة لم تزف الخ : همدارنګه هغی ښځی ته هم نفقه واجب نده چه داسی مریضه وی چه د خاوند کورته واده نشی یعنی دغه مرض د دی د عقد څخه وروسته مانع د نقل کیدو وګرځی نو وجوب د نفقی په تسلیم سره راځی او دلته تسلیم رانغلی نو نفقه ئی هم واجب نه شوه -

و مغصوبةٍ کُرھا الخ : همدارنګه هغی ښځی ته هم نفقه واجب نده چه د خاوند نه په زور او په ناحقه سره څوک غصب کړی یعنی وئی تښتوی ځکه چه دلته احتباس د خاوند له طرفه رانغی اما که دغه ښځه په خوش رضا ورسره لاړه نو بیا خو بلکل نفقه ساقطه ده -

و حاجة لا معه الخ : همدارنګه نفقه نشته هغی ښځی ته چه حج ته د خاوند نه ماسوا د بل چا سره د خاوند د لیږلو نه بغیر لاړه شی برابره خبره ده چه حج فرضی وی او که نفلی وی ، او دغه بل سړی چه دغه ښځه ورسره لاړه محرم وی او که غیر محرم وی ، دلته ځکه نفقه واجب نده چه نفقه په احتباس سره راځی او لته احتباس فوت دی او که دغی ښځی ځان سره خپل خاوند بوته نو بیا د ښځی هغه اندازه نفقه حق ده څومره چه د دی په کور کی کافی کیده نو د سفر یا د طیاری د کراء یا د کور د کراء حق په خاوند نلری ، لیکن که خاوند دغه ښځه له ځان سره حج ته بوتلنه یائی د بل چا سره ولیږله نو پدی صورت کی بیا د سفر خرچه او داسی نور تول مصارف په خاوند باندی حق دی -

و علیه موسرا الخ : کله چه خاوند مالداره وی نو په ده لازم ده نفقه د یو خادم د ښځی لپاره فقط چه دښځی خدمت کوی دا امام ابو حنیفة او امام محمد په نزد باندی ، امّا د امام ابویوسف په نزد د دوو خارمانو نفقه په خاوند باندی لازم ده یو د کور د داخلی کارونو لپاره لکه پخول کور جارو کول و غیره ، او بل د کور د خارجی ضرورتونو لپاره لکه ضروری شیان اخستل یا چاته لیږل و غیره لیکن طرفین وائی چه یو خادم هم دواړه کارونه یعنی د کور داخلی او خارجی چاری اجراء کولی شی اصلی خبره دا ده چه که ښځه د

شریفو او عزتمندو خلکو لوروه نو بیا په خاوند د دوو خادمانو نفقه لازم ده او که د عامو خلکو **د کورنی** څخه وه نو بیا د یو خادم نفقه په خاوند لازم ده ۔

لا معسرا الخ : لیکن که خاوند غریب وُ بیا پری د خادم نفقه لازم نده په **صحیح قول سره فی** الاصح لفظ سره ئی احتراز وکړو د قول د امام محمدؒ څخه ځکه د امام محمدؒ په نزد **که خاوند غریب هم** وی نو د یو خادم نفقه پری واجب ده نو مصنفؒ پدی تصریح وکړه چه صحیح خبره دا ده **چه په غریب سړی د** خادم نفقه لازم نده ۔

و لا یفرَّق بینهما لعجزه عنها و تؤمر بالاستدانة علیه ای تؤمر بان تَسْتَقْرِضَ علیه و تَصْرِفَ الی نفقتها حتی إن غنی الزوجُ یؤدی فرضها و هذا عندنا و اما عند الشافعیؒ فالقاضی یُفَرِّقُ بینهما لانه لما عجز عن الامساك بالمعروف یَنُوْبُ الْقاضی مَنَابَهُ فی التسریح بالاحسان ، و اصحابنا لما شاهدوا الضرورة فی التفریق لان دفع الحاجة الدائمة لا یتَیَسَّر بالاستدانةِ و الظاهر انها لا تجد من یُقْرِضُها و غِنَی الزوج فی المال امر متوهم استحسنو ان ینْصَبَ القاضی نائبا شافعی المذهب یُفَرِّقَ بینهما .

تشریح ا وتوضیح : که خاوند د ښځی له نفقی څخه عاجزه وُ نو د دوی تر منځ به جدائی **نشی** راوستلی او ښځی ته به قاضی امر پدی وکړی چه ته د بل چا نه نفقه قرض راواخله **او په خپل ځان ئی** مصرفوه او د قرض خلاصول به ستا په خاوند وی تر دی که خاوند ئی مالداره شی ، نو کومه اندازه **چه قاضی** مقرره کړی ده هغه اداء کړی دا عدم تفریق او امر بالاستدانت زمونږ د احنافو په نزد دی ، اما د امام **شافعیؒ په** نزد به قاضی د دوی تر منځ جداوالی راولی ځکه چه په خاوند دوه خبری لازم دی (۱) **امساک بالمعروف (۲)** تسریح بالاحسان نو کله چه خاوند د امساک بالمعروف څخه عاجزه شونوپده لازم دی **چه ښځه طلاقه کړی**۔

او کله ئی چه خاوند نه طلاقوی او ښځی ته ضرر رسیږی نو قاضی به د خاوند **قائمقام وګرځی ، او** د دوی تر منځ به جداوالی راولی ، احناف علماء چه کله ضرورت د جداوالی ولیدو هغه **داسی چه همیشه او** مکرر ضرورت دفع کول په قرض اخستلو سره څه اسان کار ندی او بل دا چه **داسی به څوک وی چه دیته** روزانه قرض ورکړی ؟ او که ته وائی چه خاوند به ئی مالداره شی نو دا خبره **صحیح نده ځکه د خاوند** مالداره کیدل په آئینده کی وهمی کار دی نو احنافو علماؤ دا مناسبه او بنه وګنړله **چه یو شافعی مذهبه** قاضی به د دی ښځی د خاوند نائب وګرځی او د دوی تر منځ به جداوالی راولی ۔

و من فرضت لعساره فایسر تمَّمَ نفقة یساره إن طلبت و تسقط مدةٍ مضت الا اذا سبق فَرْضُ قاضٍ او رضیا بشيءٍ فتجب لما مضی ما داما حَیَّیْنِ فان مات احدهما او طلقها قبل قبض سقط المفروض الا اذا استدانت بامر قاضٍ هذا عندنا ، و اما عند الشافعیؒ فلا

تسقط بالموت بل تصیر دینا علیه .

تشریح او توضیح : کوم سړی چه فرض کړی شی چه هغه باندی د قاضی له طرفه نفقه د غریبی بیا دغه سړی مالداره شی نو د مالداری نفقه به ښځی ته پوره کړی خو پدی شرط چه ښځه مطالبه د پوره والی وکړی ۔

و تسقط الخ : د تیری شوی مودی نفقه ساقطیږی یعنی که خاوند په ښځه باندی نفقه ونه کړی د دی وجی نه چه یا غائب ؤ او یا حاضر ؤ خو نفقه ئی ونه کړه نو د دغه تیره شوی مودی نفقه په خاوند باندی لازم نده ، او د خاوند نه ساقطه شوه لکن له مخکی نه قاضی ورته مقرره کړیده او یا د مخکی نه په یو معلوم شی سره دواړه ښځه او خاوند راضی شوی ؤ نو بیا نه ساقطیږی . او هغه مقرره اندازه نفقه په خاوند واجبه ده ترڅو چه دواړه ژوندی وی خو دغه مقرره نفقه هم په مرګ سره یا په طلاقو سره ساقطیږی یعنی که په دواړو کی یو مړ شو او یا خاوند ورته طلاق ورکړی او ښځی نفقه وصول کړی نه وه نو دغه مقرره اندازه نفقه هم د خاوند څخه ساقطه شوه ، لکن بیا هم نه ساقطیږی که دغی ښځی د قاضی په امر سره د چانه قرض راوړی وه دا زمونږ د احنافو په نزد ، او د امام شافعیؒ په نزد سره په مرګ باندی هم نه ساقطیږی بلکه دغه نفقه په خاوند باندی قرض شوه د ښځی د مرګ څخه وروسته به د ښځی ورثوو ته ورکولی شی او که خاوند مړ شو نو د خاوند ورثه به دغه نفقه ښځی ته ورکوی لیکن احناف ورته وائی چه عوض د منافعو د بضع مهر دی او نفقه چه هغه یو احسان دی او د احتباس بدله ده او صلات یعنی احسانی شئ د قبض نه مخکی په ملکیت کی نشی راتلای او په مرګ سره ساقطیږی ۔

و لا تُستَرَدُّ معجَّلة مدةٍ مات احدهما قبلها ای اذا عُجلت نفقة مدة کستة اشهر مثلا فمات احدهما قبلها کما اذا مات عند مُضِیِّ شهر لا یُستَرَدُّ منها شیء عند ابی حنیفةؒ و ابی یوسفؒ لانها صلة اتصل بها القبضُ فبالموت سقط الرجوع کما فی الهبة ، و عند محمدؒ والشافعیؒ تُحتَسبُ نفقة ما مضی و هو شهر للزوجة و نفقة خمسة اشهر تسترد لانها عوضٌ عما تستحقه علیه بالاحتباس .

تشریح او توضیح : د دی عبارت مطلب دا دی که چیرته خاوند خپلی ښځی ته د ډیری مودی نفقه مخکی نه ورکړی مثلا شپږ میاشتی بیا پدی ښځی او خاوند کی یو د دی مودی پوری کیدو نه مخکی وفات شی مثلا په شپږ میاشتو کی یوه میاشت تیره شوی وه او پنځه میاشتی پاتی وی نو د ښځی څخه به د دغه پنځو میاشتو نفقه بیرته غوښتلی نشی په نزد د امام ابو حنیفةؒ او امام ابویوسفؒ ځکه دا نفقه یو قسم صله او انعام دی چه قبض شوی هم ده نو د احدهما په مرګ سره رجوع ساقطیږی لکه په هبه کی چه د قبض څخه وروسته رجوع ساقطیږی ۔

او د امام محمدؒ او امام شافعیؒ په نزد باندې به د دغې يوې مياشتې نفقه د ښځې لپاره شي يعنې کومه چه مخکې تيره شوې ده او د دغې پنځو مياشتو نفقه به د ښځې او يا د ښځې د ورثوو نه بيرته غوښتلې شي ځکه نفقه عوض د هغه څه دې چه ښځه ئې حقداره ده په خاوند باندې په سبب د احتباس سره ، او چه کله خاوند مړ شي او يا ښځه مړه شي نو احتباس ختم شو او د احتباس په ختميدو سره نفقه هم ختمه شوه يعنې په خاوند باندې حق نلري نو خاوند يا د خاوند ورثه د دغه پنځو مياشتو نفقه د ښځې يا د ښځې د ورثوو څخه بيرته غوښتلې شي۔

و نفقةُ عِرسِ القنِّ عليه يُباع فيها مرة بعد اخرى وفي دينِ غيرهما يباعُ مرةً ، صورته : عبدٌ تزوّج امرأةً باذن المولى ففرض القاضى النفقة عليه فاجتمع عليه الف درهم فبيع بخمسمائة و هى قيمته و المشترى عالمٌ أنّ عليه دين النفقة يباع مرة اخرى بخلاف ما اذا كان هذا الالف عليه بسبب آخر فبيع بخمسمائة لا يباع مرة اخرى .

صورة المسئلة : د غلام د ښځې نفقه په غلام ده په نفقه کې به دغه غلام خرڅولې شي يو کرت پس له بل څخه يعنې بيا بيا او په هغه قرض کې چه د نفقې څخه ماسوا وې نو صرف يو کرت به خرڅولې شي ، صورت د مسئلې دا دې چه يو غلام د خپل بادار په اجازه سره يوه ښځه په نکاح کړه بيا قاضي پدې غلام باندې د دغې ښځې نفقه مقرره کړه نو پدې غلام باندې مثلاً زر درهم جمع شو او دا غلام په پنځه سوه روپۍ خرڅ شو حال دا چه همدا پنځه سوه روپۍ د ده قيمت ؤ او مشترى (اخستونکى) هم پدې ښه پوه ؤ چه پدې غلام باندې د نفقې قرض دې نو اوس به دا غلام دوباره خرڅولې شي د دغې نفقې د پوره کيدو لپاره ، دلته دوه خبرې وې يوه دا چه دا نفقه هلته په غلام واجبه ده چه کله ئې ښځه حره وې دويمه خبره دا چه د متن نه دا معلوميږي چه دا غلام به دويم ځل په هغه ما بقي قرض کې خرڅولې شي او د څلورمې حاشيې نه دا معلوميږي چه کله يو ځل په غلام نفقه واجبه شوه نو غلام به ورته خرڅولې شي بيا چه دوباره ورباندې نفقه واجبه شوه نو بيا به غلام ورته خرڅولې شي نه داسې چه د مابقي لپاره ، خو زه بنده عاجز عبد الرشيد صافي وايم چه د دواړو علماؤ تر منځ نزاع لفظي ده اصل خبره يوه ده كما لا يخفى على اللبيب۔

بخلاف الخ : اما که د ښځې د نفقې څخه ماسوا بل قرض ورباندې ؤ برابره خبره ده که هغه د ښځې قرض وې او که د بل چا قرض وې نو که دا غلام يو ځل په پنځه سوه روپو خرڅ شو نو د باقي قرض د ادا کولو لپاره به دوباره خرڅولې نشي۔

و يجب سكناها في بيت ليس فيه احد من أهله ، و لو ولده من غيرها الا برضاها ، و بيتٌ مفردٌ من دارٍ له غَلَقٌ كفاها و له منع والديها و ولدها من غيره من الدخول عليها بناء على انّ البيت ملكه فله المنع من الدخول فيه لا من النظر اليها و كلامها متى شاء وا و قيل لا

منع من الخروج الی الوالدین و لا من دخولهما علیها کل جمعة و فی مَحْرَمٍ غیرهما کلَّ سنةٍ هو الصحیح .

وضاحت : په راروان عبارت کی دری الفاظ ذکر کیږی (۱) دار (۲) منزل (۳) بیت ، د هر یو جدا معنی ده (۱) دار دیته وائی چه دا مشتمل وی په حویلی کوټو چوتره مطبخ (اشپزخانه) غوجل و غیره سره (۲) منزل دیته وائی چه مشتمل وی په کوټو باندی مطبخ سره وغیره خو حویلی نلری . (۳) بیت صرف یوی کوټی ته وائی چه دهلیز هم لری ، نو په خاوند باندی لازم دی چه ښځی ته داسی کوټه کی استوګنه ورکړی چه په هغی کی هیڅوک نوی د خاوند د اهل څخه تر دی چه د خاوند اولاد: د بلی ښځی څخه به هم ورسره نه وی مګر د دی په رضا سره څکه چه که په یوه کوټه کی د دی سره د خاوند نور اهل وی نو په پوره طریقی سره خاوند سره ګپ شپ او ژوند نه شی کولی ، همدارنګه که د ښځی د خاوند سره جماع اشتها راشی نو په مکمله طریقه سره استمتاع نشی کولی او نه خپل د کور سامان محفوظ کولی شی .

و بیت مفرد الخ : که په یو کور کی ډیری کوټی موجودی وی او یوه کوټه پکی ځانته وه چه قلف ئی هم درلوده نو دا هم د ښځی لپاره کافی ده ، او خاوند ته دا حق شته چه د دی ښځی مور او پلار او هغه بچیان چه د بل خاوند څخه وی منع کړی چه کورته داخل نشی څکه چه دغه کور د ده حق دی او خاوند حق لری چه د داخلیدو څخه خلق منع کړی ، خو لیکن د ښځی مور او پلار دی ښځی ته د کتلو څخه او د خبرو کولو څخه منع کولی نشی هر وخت چه وغواړی نو د دی ښځی سره خبری کولی شی او بعضی علماء وائی چه ښځه مور او پلار ته د راوتلو نه نشی منع کولی او نه مور پلار د داخلیدو څخه هر هفته منع کولی شی یعنی که ښځه خپل مور او پلار ته یا مور او پلار دیته هر هفته راځی نو خاوند ئی منع کولی نشی لیکن د مور او پلار نه ماسوا نور محارم د دی ښځی کال کی یو ځل د دی ملاقات کولی شی نه هره هفته او دا قول صحیح قول دی .

و یُفرض نفقة عِرس الغائب و طفله و ابویه فی مال له من جنس حقهم فقط کالدراهم والدنانیر او الطعام او الکسوة التی تلبسها هی بخلاف ما اذا لم یکن من جنس حقهم کالعروض التی یُحتاج الی بیعها لتُصرف الی نفقتها عند مودَع او مدیون او مضارِب ان اقرَّ به و بالنکاح او عَلِمَ القاضی ذلك و یُکفِّلُهَا ای یأخذ منها کفیلا و یحلِّفُها علی انه لم یعطها النفقةالضمیرَ فی انه ضمیر الغائب ، لا باقامة البینة علی النکاح ای لا یفرض القاضی النفقة باقامة البینة علی النکاح .

تشریح او توضیح: او قاضی به مقرر کړی نفقه د ښځی د غائب سړی او د بچی د غائب او د مور او پلار د غائب په مال د غائب کی خو د جنس د حق د دوی نه کوم شی چه د دوی حق وی او د دوی ورته

ضرورت وی لکه دراهم دنانیر طعام جامی د اغوستلو او کوم چه د جنس د حق د دوئی څخه نه وی نو هغه به ورته نه مقرره وی لکه عروض یعنی سامان چه خرڅولو ته ضرورت لری یعنی چه بغیر د خرڅولو نه د دوی چاره پری نه روانیږی نو هغه به ورته نه مقرره وی ځکه د غائب سړی د مال خرڅول جائز ندی۔

عند مودَع الخ : دا ظرف دی د مال لپاره یعنی هغه مال د غائب چه کائن او موجود ؤ د مودَع سره یا د مدیون سره یا د مضارب سره۔ مودَع په فتحی د دال سره هغه چاته ویل کیږی چه غائب ورسره مال امانت ایخودی وی او مدیون دیته وائی چه د غائب قرض دار وی، او مضارِب په کسری د راء سره چه غائب سړی ورته مال د تجارت لپاره مضاربةً ورکړی وی۔

ان اقرّبه الخ : یعنی دا قاضی هلته د دی مذکورینو نفقه په مال د غائب کی مقرره ولی شی چه دغه مودَع او مدیون او مضارب د اقرار وکړی چه د دی غائب مال مونږ سره شته او دا د ده ښځه ده یائی بچی دی یائی دا مور او پلار دی او همدارنګه که قاضی پدی پوه ؤ چه دا د غائب مال دی او دغه ئی ښځه ده او دغه ئی بچی دی یائی دغه مور او پلار دی نو که قاضی ته د یوی خبری معلومات ؤ او د بلی نه ؤ نو د بلی خبری پوښتنه به د مودَع نه وکړی نو که قا[illegible] ته د دی معلومات نه ؤ او یا مودَع او مدیون یا مضارب اقرار ونکړی نو بیا قاضی ور[illegible] ظیفه مقرره ولی نشی او د ګواهانو په ثبوت سره یا په قسم سره اثبات د مال د غائب یا د قرابت د ده نه راځی ځکه خصم موجود ندی۔

و یکفلها الخ : اوس چه کله د غائب مال د مودَع و غیره سره ثابت شو او ښځی مطالبه وکړه چه دیته نفقه مقرره کړی نو قاضی به دی ښځی ته قسم ورکړی چه تاته خاوند مال درکړی ندی؟ ځکه کیدی شی چه خاوند مخکی نه ورته نفقه د څو میاشتو ورکړی وی نو کله چه ښځی قسم وخوړو چه ماته ئی نفقه راکړی نده نو قاضی به ورته مطابق د ضرورت نفقه مقرره کړی او مودَع ته به امر وکړی چه دی ښځی ته دومره نفقه ورکوه خو سره د دینه به قاضی د ښځی نه کفیل یعنی ضامن او ذمه وار واخلی ځکه کیدای شی چه خاوند طلاق ورکړی وی او د دی عدت ختم شوی وی نو کله ئی چه خاوند حاضر شو او د ښځی تصدیق ئی وکړو نو فبها و نعمت او که د ښځی تکذیب ئی وکړو نو خاوند به کفیل ته رجوع وکړی چه زما مال راکړه او کفیل به ښځی ته رجوع وکړی۔

لا باقامة البینة الخ : یعنی که د غائب مال د مودَع سره ؤ او هغه اقرار په مال وکړو چه هو د فلانکی مال له ماسره دی خو د زوجیت نه ئی انکار وکړو یعنی چه پدی پوه نه یم چه دا د فلانکی ښځه ده او که نه؟ او ښځی ګواهان راوستل چه دا د فلانکی غائب ښځه ده نو قاضی به پدی ګواهانو ښځی ته نفقه نه مقرره وی او نه به د نکاح فیصله پری کوی ځکه دلته خصم موجود ندی او په غائب باندی فیصله جائز نده۔

و لا إن لم يَخلِفُ مالا فاقامت بينة عليه اى على النكاح ليفرض القاضي عليه و يامرها بالاستدانة و لا يقضي به اى بالنكاح لانه قضاء على الغائب و قال زفرؒ يُقضٰى بالنفقة لا بالنكاح و عملُ القُضاة اليوم على هذا للحاجة .

تشريح ا وتوضيح: او قاضي به نفقه نه مقرره وي كه چيرته غائب مال پريخودى نه ؤ او ښځى ګواهان قائم کړه چه زه د دى غائب ښځه يم پدى نيت چه قاضي به ماته نفقه په خاوند مقرره کړى او ماته به امر وکړى چه نفقه قرض راواخله بيا به قرض خاوند پوره کوى ځکه به قاضي نفقه پدى صورت کى نه مقرره وى چه دا قضاء على الغائب ده او د ګواهانو قبلول بغير د حضور د خصم نه دى ، او دا ناروا ده همدا وجه ده چه قاضي به په نکاح سره هم فيصله نکوى چه ګويا دا د غائب ښځه ده ځکه چه دا هم قضاء على الغائب ده او امام زفرؒ وائى چه پدى صورت کى به نفقى باندى فيصله کولى شى او په نکاح باندى به فيصله نشى کولى ځکه چه فيصله په نکاح باندى قضاء على الغائب ده او قضاء على الغائب بلا ضرورته ناجائز ده اما د نفقى مقررول يا په قرض راخستلو سره امر کول دا هم قضاء على الغائب ده ليکن ديته ضرورت زيات راځى ځکه ډير کرتى خاوند غائب شى او ښځه بلا نفقى پريږدى ، او هيچا ته دا معلومات نوى چه دا د غائب ښځه ده او که نه ؟ نو د ښځى ګواهان به په حق د نفقه کى قبلولى شى ځکه چه ديکى غائب ته ضرر نشته ځکه کله چه خاوند ئى حاضر شو نو که د ښځى تصديق ئى وکړو نو ښځى خو بيا خپل حق اخستلى دى او که د ښځى تکذيب ئى وکړو نو خاوند به په ښځى ته رجوع وکړى ، او خپل حق به ترى واخلى ، دا د امام زفرؒ هغه قول دى چه پدى زمانه کى قاضيان د ضرورت د وجى پرى عمل کوى اګر که زمونږ د مذهب د علماؤ ښخه چه امام ابو حنيفةؒ دى امام ابويوسفؒ دى امام محمدؒ دى مخالف دى د امام زفرؒ په شلو مسائلو باندى علماء فتوى ورکوى د ضرورت له امله اګر چه د مذهب د علماؤ په خلاف دى او مذکوره مسئله هم د جملى د دى شلو مسئلو ښخه ده چه علامه شامي په رد المحتار کى ذکر کړى .

و لمطلقة الرجعي و البائن و المفرّقة بلا معصية کخيار العتق و البلوغ و التفريق لعدم الکفاءة النفقة و السکنى اى ما دا مت فى العدة و فى معتدة البائن خلاف الشافعيؒ له حديث فاطمة بنت قيس و لنا ردّ عمر رضى الله عنه لا لمعتدة الموت و المفرّقة بالمعصية کالرِّدَّةِ و تقبيل ابن ا لزوج و ردَّة معتدة الثلث تسقط لا تمکينُها ابنَه لانه لا اثر للردَّة ، والتمکين فى الغرفة لانها قد تثبت قبلهما فلا يُسقطان النفقة الا ان المرتدة تُحبَسُ لتتوب و لا نفقة للمحبوسة بخلاف المکّنة ابنَ الزوج .

تشريح ا وتوضيح : او د هغى ښځى لپاره چه طلاقه شوى وى په طلاق رجعي سره او د هغى ښځى لپاره چه طلاقه شوى وى په طلاق بائن سره او د هغى ښځى لپاره چه د خاوند ښخه جدا شوى بغير

د څه معصیت نه د ښځې له طرفه (نو که چیرته دغه جدائي د ښځې د معصیت په وجه راغلې وي نو بیا دې ښځې ته صرف سکنی یعنی د اوسیدلو ځای شته) نو د دوې لپاره نفقه او سکنی دواړه شته ترڅو په عدت کې وي لکه څرنګه چه د خیار عتق په صورت کې او د خیار بلوغ په صورت کې ښځې ته نفقه او سکنی دواړه شته خیار عتق دیته وائي چه بادار وینزه خپله چاته په نکاح ورکړې او بیائي ازاده کړې نو اوس دې وینزې ته اختیار دې چه همدا خاوند غوره کوي او که نکاح فسخ کوي۔ او خیار بلوغ دیته وائي چه یوه ښځه خپل ولي په ماشوم والي کې چاته په نکاح کړې وه اوس چه کله بالغه شوه نو دیته اختیار دې چه همدا خاوند غوره کوي او که نکاح فسخه کوي نو د خیار عتق او خیار بلوغ په دواړو صورتونو کې چه کله نکاح فسخه کړې او عدت تیر کړې نو نفقه او سکنی دواړه ورته شته همدارنګه که یوې ښځې د غیر کفؤ سره نکاح کړې وه او اولیاؤ د دې نکاح فسخه کړه نو دې لره نفقه د عدت او سکنی دواړه شته، لیکن په معتده د طلاق بائن کې چه حامله نوې خلاف دې اما په حامله کې اختلاف نشته ځکه د حاملې لپاره د امام شافعي په نزد هم نفقه شته په غیر حامله کې امام شافعي وائي چه د غیر حاملې لپاره نفقه نشته دلیل د فاطمه بنت قیس حدیث دې چه فاطمه بن قیس وائي چه ما ته خپل خاوند درې طلاقه راکړه نو نبي ﷺ ما ته نه سکنی مقرره کړه او نه نفقه مقرره کړه۔

لیکن زمونږ د احنافو لپاره بیا دلیل رد د حضرت عمرؓ دې هر کله چه حضرت عمرؓ د فاطمې بنت قیس روایت واوریده نو وئې ویل چه مونږ د خپل رب کتاب (قرآنکریم) او د خپل پیغمبر حدیث د یوې ښځې په وینا نشو پریخودلې، مونږ نه پوهیږو چه د دې به دا یاد وي او که هیر وي او معتدې د بائن لره نفقه او سکنی دواړه شته الله پاک فرمائي (لا تخرجوهن من بیوتهن)۔

لا لمعتدة الموت الخ : او د هغې ښځې لپاره چه معتده د موت وي یعنې خاوند ئې وفات شوې وي نفقه نشته ځکه دا احتباس د خاوند د حق له وجې ندې بلکه د شریعت د حق له وجې دې نو له همدې وجې په خاوند نفقه واجب نده همدارنګه د هغې ښځې لپاره چه د خاوند نه جدا شوې وي په سبب د معصیت چه د ښځې له طرفه وي لکه مرتد کیدل د دې ښځې او یا ښکلول د دې ښځې ځوي د خاوند لره یعني چه د خپل خاوند ځوي چه د بلې ښځې څخه ؤ ښکل ئې کړو او یا هغه دا ښځه ښکل کړه نو پدې صورت کې نو دې ښځې ته نفقه نشته صرف سکنی ورته شته، او ردت د معتدې د درې طلاقو نفقه ساقطوي خو تمکین د دې ښځې سره ځوي د خاوند لره نه ساقطوي یعنې که یوه ښځه په درې طلاقو طلاقه شوه او عدت په حالت کې مرتده شوه نو نفقه ئې ساقطه شوه لیکن که همدغې معتدې د خپل خاوند ځوي چه د بلې ښځې څخه ؤ په ځان قادره کړه یعنې وطي ورسره وکړه نو بیا د دې نفقه نه ساقطیږي فرق څه دې ؟ اصل خبره دا ده چه مرتد والي او یا د ښځې تمکین په فرقت او جدائي کې هیڅ اثر نکوي ځکه چه

فرقت خو د ردت او تمکین ځخه مخکې لا په طلاقو سره راغلي ؤ نو دا ځکه دواړو سره نفقه چه موجب د فرقت نشو نو نفقه هم نه ساقطوي ليکن په متن کې چه وائي چه ردت نفقه ساقطوي او تمکين ئې نه ساقطوي هغه فرق دا دې چه مرتده ښځه به محبس کې واچولې شي چه د ارتداد ځخه توبه وباسي او د محبوسې لپاره بيا نفقه نشته اما د تمکين په صورت کې خو ښځه د کور ځخه نه وځي نو پدې سره نفقه هم نه ساقطيږي. هذا ما حصل لي بعون الملک الوهاب فاحفظه لان الفرق بينهما دقيق و لا يبلغه احد الا من الله بالتوفيق۔

و نفقة الطفل فقيرا على ابيه انما قال فقيرا حتى لو كان غنيا فهي في ماله و لا يشركه احد كنفقة ابويه و عرسه اى لا يشركه احد في نفقة طفله كما لا يشركه في نفقة ابويه و عرسه و ليس على امه ارضاعه الا اذا تعيَّنت بان لا يوجد من تُرْضِعُهُ او لا يشرب لَبَنَ غيرها و يستاجر الاب مَنْ ترضعه عندها اى اذ لم تتعيَّن الام .

تشريح وتوضيح: او نفقه د ماشوم په داسې حالت کې چه دا ماشوم فقير وي په پلار ده ، پلار ئې مالداره وي او که غريب وي ، او د طفل سره ئې قيد د فقير ځکه ولګولو چه که دغه ماشوم چيرته مالداره ؤ نو بيا د ده نفقه د همدې مال ځخه ده ، او پلار سره به په نفقه د دې ماشوم کې بل څوک شريک نوي يعنې يواځې به ئې پلار ورکوي لکه ځرنګه چه د دې پلار سره په نفقې د مور او پلار کې او په نفقې د ښځې کې هيڅوک شريک ندي يعنې يواځې ئې اداکوي او د ماشوم په مور باندې چه د ماشوم د پلار په نکاح کې وي او که مطلقه وي دا لازم ندي چه خامخا به دې ماشوم ته تې ورکوي يعنې قضاءً پرې دا واجب ندي ، اما ديانةً پرې شته ليکن که مورئې د ارضاع لپاره تعينه شوه هغه داسې چه بله مرضعه نه پيدا کيده يا پيدا کيده خو د بلې مرضعې تې ئې نه اوروبده نو بيا به قضاءً ئې مور تې ورکوي او که چيرته بله مرضعه پيدا کيده نو بيائې په پلار لازم دي چه په مزدورۍ ورته مرضعه يعنې تې ورکوونکې ونيسي۔

و لو استأجرها منكوحة او معتدة من رجعي لترضعه لم يجز و في المبتوتة روايتان۔ اعلم ان قوله تعالى (والوالدات يرضعن اولادهن) ۔ اوجب الارضاع على الامهات ثم قوله تعالى۔ لا تُكلف نفس الا وسعها لا تضار والدة بولدها ولا مولود له بولده۔ اوجب دفع الضرر عن الامهات والآباء فان امتنعت والابُ لا يتضرر باستيجار المرضعة لا تُجبر الامُّ لان الظاهر أنَّ امتناعها للعجز لأن اشفاق الامومة تدل على انها لا تمنع الا للعجز فاذا اقدمت عليه و طلبت الاجرة لا تُعطى لانه ظهر قدرتها فالآيتان بالواجب لا يوجب الاجرة على ان الشرع لم يوجب للمرضعة الا النفقة قال الله تعالى۔ و على المولود له رزقهن و كسوتهن بالمعروف۔ فكل من ياخذ النفقة و هي المنكوحة و معتدة الرجعي لا تُعطى شيئا آخر للارضاع و اما

المبتوتة فکذا فی روایة و اما علی الروایة الاخری فان الزوج قد أوحشها بالابانة فلا یُرجٰی منها المسامحة والمساهلة فصارت کما بعد العدة و انما تجوز الاجارة بعد العدة لان النفقة غیر واجبة لها فتجب الاجرة لقوله تعالی ۔ و علی المولود له رزقهن ۔ الآیه ۔ .

تشریح او توضیح: او کـه د ماشوم مورئی د دی ماشوم لپاره په اجرت ونیوله پداسی حالت کی چه دغه مورئی منکوحه د دی موجِر وه او یا معتده د طلاق رجعی څخه وه د دی لپاره چه دی ماشوم ته تی ورکړی نو دا جائز نده ځکه چه الله پاک مورګانی پدی مکلف کړی چه خپلو بچیانو ته به تی ورکوی فرمائی ۔ والوالدات یرضعن اولادهن ، الایه ۔ او که معتده د طلاق بائن څخه وه نو بیا پدیکی دوه روایته دی (۱) چه په اجرت سره نیول د دی جائز دی (۲) چه استیجار د دی جائز ندی ځکه نکاح د دی په بعضی احکامو کی تر اوسه باقی ده فتوٰی په قول ثانی ده ۔

اعلم الخ : غرض د شارحؒ پدی عبارت سره وضاحت د دی مسئلی دی کومه چه متن کی ذکرده هغه دا چه الله پاک په خپل کتاب قرآنکریم کی فرمائی چه ۔ والوالدات یرضعن اولادهن ۔ ترجمه : چهٔ میندی او مورګانی به خپل اولاد ته تی ورکوی ۔ نو پدی ایت سره په میندو باندی خپل اولاد ته تی ورکول واجب شو ۔ بیا بل طرف ته دی ایات کریمه سره چه ۔ لا تُکلف نفس الا وسعها لا تُضارّ والدة بولدها و لا مولود له بولده ۔ الآیه ۔ ترجمه : تکلیف به نشی ورکولی هیڅ یو نفس ته مګر په اندازه د طاقت د دی نفس سره او ضرر به نشی ورکولی مورته په سبب د بچی د دی سره او نه به هغه سړی ته ضرر رسولی شی چه دا ماشوم پیدا شوی د ده لپاره (پلار) په سبب د بچی د ده سره ، دا لازم او واجب شو چه ضرر به دفع کولی شی د میندو او پلارانو څخه نو که چیرته مور د دی ماشوم د تی ورکولو نه دی ماشوم ته انکار وکړو او حال دا چه پلار ته ئی ضرر په دی نه رسیدو چه بله ښځه ئی په اجرت سره دی ماشوم ته د تی ورکولو لپاره ونیسی نو بیا د دی ماشوم په خپلی مور باندی د ده پلار یا قاضی جبر او زور نشی کولی چه خامخا به دی ماشوم ته تی ورکوی ځکه کیدی شی چه مورئی د تی ورکولو نه عاجزه وی سره د دینه چه مور په خپل بچی خومره زیاته مشفقه او مهربانه وی بیا چه هم مور انکار کوی نو معلومه شوه چه مور به ئی عاجزه وی خو که مورئی په تی ورکولو اقدام وکړو او د ماشوم له پلار څخه ئی د اجرت مطالبه وکړه نو بیا به اجرت نشی ورکولی ، ځکه د دی اقدام څخه دا معلومیږی چه دا ښځه په تی ورکولو قادره ده او تی ورکول پدی صورت کی پدی واجب دی او د واجبو په کولو سره اجرت نه لازمیږی علاوه لا دا چه الله جل جلا له د مرضعی لپاره چه ماشوم ته تی ورکوی د ماشوم په پلار باندی صرف نفقه واجب کړی چه فرمائی ۔ و علی المولود له رزقهن و کسوتهن بالمعروف ۔ خو د دی نفقی څخه ماسوا ئی نفقه د ارضاع یعنی د تی ورکولو نه ده ذکر کړی نو کومه ښځه چه منکوحه وی یا معتده د طلاق رجعی وی او نفقه اخلی نو هغی ته به د تی ورکولو

لپاره نوره نفقه ورکولی نشی ، اما د مبتوتي لپاره يعني چه معتده د طلاق بائن وی په يو روايت کی به هغی ته هم د نفقی د عدت نه ماسوا نور څه نشی ورکولی او په بل روايت کی د مبتوتي اجاره د تي ورکولو لپاره جائز ده ځکه په خاوند دا ښځه په طلاقو سره پداسی وحشت کی وغورځوله چه د دی نه د نرمی او د شفقت اميد بيا نشته نو دا داسی وګرځيده لکه بعد العدة نو ديته به د عدت د نفقی څخه ماسوا نور څه هم ورکولی شی او عدت څخه وروسته اجاره د دی ځکه جائز ده چه د دی نفقه بيا پلار باندی واجب نده نو اجرت ورباندی بيا لازم دی ځکه الله پاک فرمائی۔ و على المولود له رزقهن . . .الآيه۔۔

و لا رضاعة بعد العدة او لابنه من غيرها صح اى الاستيجار لارضاع ولده الذى منها بعد ما طلّقها وانقضت عدتها والاستيجار لارضاع ابنه الذى من غيرها اصح سواء كانت المستاجرة فى نكاحه او فى العدة او بعد العدة و هى اى الام احق من الاجنبية الا اذا طلبت زيادة اجرة .

تشريح او توضيح: او استيجار لپاره د ارضاع د ولد د ده هغه ولد چه د همدی ښځی نه ؤ وروسته د طلاقولو د دی ښځی نه او عدت ئی هم تير شوی نو صحيح ده يعنی چه دی ښځی ته ئی طلاق ورکړی وی او عدت ئی هم تير شوی نو اوس که همدا ښځه د ارضاع د هغه بچی لپاره چه د همدی نه دی مستاجر ګرځوی نو بلکل صحيح ده۔

او که د دی سړی د بلی ښځی څخه بچی ؤ يعنی د دی مطلقی څخه ماسوا ، او دا مطلقه ورته د تی ورکولو لپاره مستاجره ګرځوی نو دا هم صحيح ده برابره خبره ده دغه مستاجره د ده په نکاح کی وی او يا په عدت کی وی او يا وروسته د عدت څخه وی خو د دی ماشوم مور د ارضاع لپاره د پردی مور څخه زياته حقداره ده ، په هغه صورت کی چه مورئی مطلقه وی او عدت ئی ختم شوی وی مګر که مورئی مطالبه د زيات اجرت وکړه په نسبت سره اجنبی ښځی ته نو بيائی مور حقداره نه ده او که د اجنبی ښځی د اجرت په برابر يا د هغی نه کمه مطالبه ئی وکړه نو بيائی همدا مطلقه مور حقداره ده ۔

و نفقة البنت بالغةً والابنِ زمنا على الاب خاصة به يفتى انما قال هذا لان على رواية الخصاف والحسن تجب اثلاثا ثلثاها على الاب و ثلثها على الام و هذا اذا لم يكن لهما مال حتى لو كان لهما مال فالنفقة من مالهما .

تشريح او توضيح: او نفقه د بالغی لور او د هغه بالغ ځوی چه په هغه داسی مرض وی چه د کسب نه ئی کينولی وی لکه ړوند والی شل والی خاص په پلار ده ، د لور نفقه ځکه په پلار ده چه ښځه مطلقا عاجزه وی اګر که په کار کسب باندی قادره وی خو دا په هغه صورت کی چه واده ئی نوی کړی او که واده ئی کړی ؤ نو بيا د دی نفقه په خاوند ده نه په پلار ۔

او ځوی چه کله شل یا ړوند وی نو بیا دا په کسب باندی قادره نه وی نو بیا نفقه ئی په پلار واجب ده همدا مفتی به قول دی۔

زَمِنًا هغه مرض ته وائی چه د کار او کسب څخه ئی کینولی وی لکه ړوندوالی او شل والی او بعضی علماء ئی صرف معنی د دی په شل سره کوی ـ لوجه اللغة

مصنف لفظ به یفتی ځکه راوړو چه د امام خصافؒ او د امام حسنؒ په نزد به دا نفقه دری حصی کړی شی دوه حصی به پلار ورکوی او یوه حصه به مور ورکوی خو دا په هغه صورت کی چه دغه لورئی بالغه وی او دغه شل ځوی هم بالغ وی او که واړه ؤ نو بیا د دوی نفقه صرف په پلار ده ، او نفقه د بالغی لور او دشل ځوی په هغه صورت کی واجب ده چه د دوی خپل مال نه وی اما که دوی خپل مال درلوده نو بیا به د همدوی د دی مال نه نفقهورباندی خرچ کولی شی ـ

و علی الموسر یسارَ الفِطرة نفقة اصوله الفقراء بالسویة بین الابن و البنت و یُعتبر فیها القرب و الجزئیة لا الارث ففی من له بنت و ابن ابن کلها علی البنت و فی ولد بنتٍ و اخ وعلی ولدها مع ان الارث نصفان بین البنت و ابن الابن و الارث کله للاخ و لا شیء لولدُ البنت لانه من ذوی الارحام .

تشریح او توضیح: او په مالداره باندی پشان د مالداری د صدقه فطر نفقه د هغه اصولو ده چه فقیران وی او په ځوی او لور باندی په یو شان یعنی کوم سړی چه دومره مالداره وی چه په هغه باندی سرسایه واجب کیږی نفقه د خپلو فقیرانو اصولو ده چه پلار دی او د پلار پلار اګر که پورته وی او مور ده او د مور مور اګر که پورته وی خو دا نفقه په فروعو باندی په نارینوو او زنانوو باندی یو شان ده یعنی که د یو سړی مثلا یوه لور ده او یوئی ځوی دی نو د دی پلار نفقه به نیمه لور ورکوی او نیمه به ځوی ورکوی، پدی نفقه کی جزئیت یعنی جهت د ولادت او قرب ته اعتبار دی میراث ته پکی اعتبار نشته یعنی کوم سړی چه د ده جزء وی او ورته نزدی وی اګر که هغه میراث کی حق نلری نو همدا به د دی پلار یا نیکه یا مور نفقه ورکوی او کوم سړی چه اصولو ته نزدی نوی اګر که میراث کی حق لری نو دا به نفقه نه ورکوی مثلا د یو سړی یوه لور وه او بل د ځوئی ځوئی ؤ نو د دی پلار نفقه به ټوله لور ورکوی د ځوئی په ځوئی باندی هیڅ نشته ځکه چه لور پلار ته ډیره نزدی ده او د پلار جزء ده او د ځوی ځوی یوه واسطه لرئ دی اګر چه میراث نیم لور وړی او نیم د ځوی ځوی خو میراث ته اعتبار نشته همدارنګه د یو سړی د لور بچی ؤ بل ئی ورور ؤ نو نفقه ټوله د لور په بچی ده او په ورور هیڅ نشته ځکه چه د لور بچی د ده جزء دی او ده ته نزدی دی او ورور د ده جزء ندی اګر چه میراث ټول ورور وړی او د لور بچی ته هیڅ نشته ځکه چه هغه ذوی الارحام دی ځکه چه دوی لره په شریعت کی څه معلومه حصه نشته ـ

و نفقة کل ذی رحم مَحْرَمٍ صغیرٍ فقیرٍ او انثی بالغةٍ فقیرةٍ او ذکرٍ زمنٍ و اعمی علی قدر الارث و یجبر علیه و یعتبر فیها اهلیة الارث لا حقیقته ، و انما قال هذا لان نفقة هولاء انما تجب لقوله تعالی (و علی الوارث مثل ذلك) فینبغی ان لا تجب الا علی الوارث فقال المعتبر اهلیة الارث لا حقیقته و ذلك لان حقیقة الارث لا تُعلم الا بعد الموت فمن له خال وابن عمٍ یمکن ان یموت ابن العم و یکون الارث للخال فاعتبر الاقربیة مع اهلیة الارث .

وضاحت : دا عطف دی په نفقة اصوله باندی یعنی په هغه مالداره باندی چه په هغه باندی صدقه فطر واجبیږی نکه څرنګه چه نفقه د اصولو وه همدارنګه نفقه د هر هغه خپلوان ده چه د ده محرم وی ماشوم وی او فقیر وی او یا بالغه ښځه چه فقیره وی او یا هغه نارینه وی چه شل وی یا ړوند وی په اندازه د میراث باندی یعنی چه څومره ئی میراث کښی حق کیږی همدارنګه به په همغه اندازه نفقه هم یوه حصه به په مور وی او دوه حصی به په نیکه وی او که چیرته نفقه نه ورکوی نو قاضی به جبرا زور وربادی وکړی -

او پدی نفقه کی اهلیت د میراث معتبر دی نه حقیقت د میراث یعنی هغه کس به نفقه ورکوی چه فی الحال پده کی اهلیت د میراث شته ځکه د حقیقت د میراث معلومات نشته ځکه چه هغه د مرګ څخه وروسته معلومیږی او دا معلومات نشته چه حقیقی میراث به څوک وړی ځکه چه میراث به هغه څوک بیا وړی چه ژوندی وی مثلا د یو سړی یو ماما ؤ او بل ئی د تره ځوی ؤ نو د تره ځوی په وجود کی ماما میراث نشی وړلی خو که د تره ځوی وفات شی نو بیا میراث حق د ماما دی نو په وجوب د نفقه کی اقربیت معتبر دی سره د اهلیت د میراث نه نو مما کی اهلیت د میراث شته نو نفقه به هم ماما ورکوی -

فنفقة من له اخوات متفرقات علیهن اخماسا کارثه فقوله فنفقة من له اخوات الخ صورته ما ت احد و ترك منه ثلاث اخوات واحدة منهن لاب و ام والثانیة من اب والثالثة من ام فالترکة بینهن یقسم علی خمسة سهام ثلاثة اسهم لاخت لاب و ام و سهم لاخت لاب و سهم لاخت لام فکذلك النفقة .

وضاحت : دا تفریع ده په ماسبق باندی چه نفقه به په اندازه د میراث وی چه څومره حصه ئی په میراث کی رسیږی نو همغه اندازه به نفقه هم ورکوی مثلا یو کس ده چه د ده متفرقی خویندی دی متفرقی دا معنی چه یوه د مور او پلار دواړو څخه وی او بله صرف د پلار څخه وی او بله صرف د مور څخه وی او دا کس وفات شی نو د دی کس مال به پنځه حصی کولی شی دری حصی به هغی خورته ورکولی شی چه د مور او پلار دواړو څخه ئی وی او یوه حصه به هغی خورته ورکولی شی چه صرف د پلار څخه ئی وی او یوه حصه به هغی خورته ورکولی شی چه صرف د مور څخه ئی وی نو په همدی طریقه باندی به د دی کس نفقه د ده په ژوند کی پدغه متفرقو خویندو باندی په همدی طریقه ورکولی شی یعنی عینی خور

به دری حصی نفقه ورکوی او علاتي به یوه حصه نفقه ورکوی او اخیافي به هم یوه حصه نفقه ور

و نفقة من له خال و ابن عم علی الخال ، و لا نفقة مع الاختلاف دینا الا للزوجة والفروع ثم بعد هذا یحسن زیادة هذه العبارة و لا علی الفقیر الا لها و للفروع و لا للغنی الا لها و عبارة المختصر قد غَیَّرتُها الی هذه العبارة و حاصلها ان النفقة لا تجب علی الفقیر الا للزوجة والفروع و لا تجب للغنی الا للزوجة اما غیر الزوجة فان کان غنیا لا تجب له النفقة علی احدٍ .

تشریح او توضیح: دا تفریع ده په ما سبق دویم شق باندی هغه داسی چه معتبر په نفقه کی اهلیت د میراث دی نه حقیقت د میراث خو د دی عبارت شرحه مخکی تیره شویده ـ او سره د دینه اختلاف یعنی چه یو مسلمان وی او بل کافر وی نفقه د هیڅ یو کس په بل نشته مګر د ښځی لپاره د اصولو لپاره او د فروعو لپاره نفقه شته اګر چه د دوی تر منځ دینی اختلاف موجود دی مثلا سړی مسلمان وی ښځه ئی کافره وی یا سړی مسلمان وی پلار ئی کافر وی سړی مسلمان وی بچی ئی کافر وی ، د دوی نفقه د دین پوری څه تعلق نلری بلکه د ښځی نفقه په عقد سره راځی چه د دی ښځی احتباس د یو حق مقصود د وجی څخه وی او د اصولو او د فروعو نفقه د صله رحمی د وجی نه لازمیږی ـ خو شارحؒ وائی چه د دی سره څه نور عبارت زیاتی کول هم پکار ؤ هغه داسی چه (ولا علی الفقیر الا لها وللفروع ولا للغنی الا لها) او ما هم د مختصر الوقایة عبارت همدی طریقی ته راوړولی دی حاصل د زائد عبارت دا دی چه نفقه په فقیر نشته مګر د ښځی او فروعو لپاره یعنی که سړی هر څومره غریب وی خو د ښځی نفقه او د اولاد نفقه به په همده وی ، همدارنګه د غنی کس لپاره نفقه واجب نده مګر د ښځی لپاره یعنی کوم کس چه غنی وی د دی غنی نفقه په هیڅ چا واجب نده مګر د ښځی لپاره واجب ده ښځه اګر چه د خاوند نه ډیره مالداره وی خو نفقه ئی په خاوند ده ـ

و باعَ الابُ عرضَ ابنِه لنفقته و لا لدین له علیه سواها ای لا یبیع الابُ مالَ الابن لدین سوی النفقة له علی الابن قالوا : ان للاب ولایةَ حفظِ مال الابنِ و بَیعُ المنقولاتِ من باب الحفظ لا بیع العقار لانه مُحصَنٌ بنفسه فاذا باع المنقول فالثمن من جنس حقه وهو النفقة فیصرفه الیها قلت الکلام فی انه هل یحل بیع العروض لاجل النفقة لا فی البیع لاجل المحافظة ثم الانفاق من الثمن علا ان العلة لو کانت هذه لجاز البیع لدین سوی النفقة لعین هذا الدلیل بل العلة ان للاب ولایة تملّک مال الابن عند الحاجة کما فی استیلاد جاریة الابن فیکون له ولایة بیع عروض الابن لبقاء نفسه و انما لا یلی بیعَ العقار لانه مُعَدٌّ للانتفاع به مع بقائه و هو الزراعة و ولایة الاب نظریة و لا نظر فی بیع العقار بل بیعه اجحاف فمصلحة الابن ابقائه والانتفاع به .

بيان : د تفصيل نه مخکې دا خبره ياده کړه که ابن صغير ؤ نو بيا پلار ته دا حق شته چه د ده منقولې شيان او غير منقولې شيان لکه ځمکه و غيره د خپلې نفقې لپاره خرڅ کړي بالاتفاق همدارنګه که ځوی ئې بالغ ؤ او حاضر ؤ نو بيا پلار ته دا حق نشته چه د دې ځوی منقولې يا غير منقولې شيان لکه ځمکه و غيره خرڅ کړي بالاتفاق دا دواړه اتفاقي مسئلې دي چه ضمنا د متن نه معلوميږي ۔

دريمه مسئله چه صراحتاً د متن نه معلوميږي هغه داسې چه پلار په ځوی باندې د نفقې څخه ماسوا نور قرض ؤ نو پلار نشي کولی چه د دغې قرض لپاره د ځوی مال خرڅ کړي بالاتفاق ۔

اختلافي مسئله دا ده : چه د امام ابو حنيفةؒ په نزد باندې پلار کولی شي چه د ځوی عروض يعنې هغه مال چه منقولې وي چه د خپلې نفقې لپاره خرڅ کړي دا په هغه صورت کې چه ځوی ئې غائب وي او د صاحبينو په نزد د بالغ ځوی چه غائب وي مال چه منقولې وي او که غير منقولې وي پلار نشي کولی چه خرڅ ئې کړي ځکه چه په بلوغ سره د پلار ولايت ختم شو ، فقهاء د دې مسئلې چه پلار ته حق د جواز د بيع شته په مال د ځوی کې بغير له ځمکې څخه په تعليل کې وائي چه پلار ته د ځوی د مال د حفاظت حق شته او د منقولې شيانو خرڅول هم د باب د حفاظت څخه دي ځکه د منقولې شيانو د ضائع کيدو ويره زياته وي ۔

ليکن د ځمکې خرڅول د باب د حفاظت څخه ندي ځکه ځمکه پخپله محفوظه وي او په خرڅولو سره خو نه محفوظيږي نو خرڅول ئې جائز ندي ، کله چه پلار منقولې شيان خرڅ کړي نو کوم ثمن چه پلار سره جمع شو هغه د جنس د حق د ده څخه دي يعنې نفقه د ده حق دي او دغه ثمن هم نفقه کيدای شي نو پلار به دغه ثمن په خپله نفقه کې خرڅ کړي ۔

قلت الخ : غرض د شارحؒ پدې عبارت سره په مخکنې تعليل باندې دوه اعتراضه کول دي چه دويم اعتراض ته ئې په علا ان العلة الخ سره اشاره کړې : اول اعتراض دا دی چه ستاسې د دې کلام نه دا معلوميږي چه پلار د خپل ځوی مال منقولې حفاظت لپاره خرڅولی شي بيا انفاق د هغې د ثمن نه ځکه هغه د جنس د حق د ده نه دی نو دا تعليل ستاسې د دې مدعیٰ سره تطبيق نه خوري ځکه مدعیٰ پدې مقام کې دا ده چه پلار د ځوی مال د دې لپاره خرڅولی شي چه پخپله نفقه کې ئې خرڅ کړي او دا خبره ستاسې د مخکنې تعليل څخه ثابته نشوه انتهائي دا خبره ترې معلومه شوه چه د حفاظت لپاره بيع جائز ده ۔

دويم اعتراض دا دی چه ستاسې د همدې دليل څخه معلوميږي چه پلار د نفقې څخه ماسوا د نور قرض په وجه چه په ځوی باندې ؤ منقولې شيان خرڅولی شي ځکه پلار لره حق د حفاظت شته نو د حفاظت په خاطر باندې به مال خرڅ کړي بيا د همدې ثمن څخه خپل قرض واخلي ځکه دغه ثمن د جنس د حق د ده څخه دی ، خو شارحؒ د تعليل د تصحيح لپاره د خپل ځان نه يو بل علت بيانوي چه بل العلة سره ئې ورته اشاره کړې چه پلار ته ولايت د دې شته چه په وخت د ضرورت کې د ځوی په مال کې ځان مالک

کړی چه خپل ژوند پری وکړی لکه څرنګه چه پلار ته دا حق شته چه د څوی وینزه ام ولده وګرځوی **یعنی** چه وطی ئی کړی او بیا چه کله بچی راوړی د دی د بچی دعوی وکړی چه دا ځما څخه دی . نو **همدارنګه دا** حق هم پلار ته شته چه د خپل ځان د بقاء لپاره د خپل ځوی عروض یعنی منقولی شیان خرڅ کړی **خو په** شارح باندی په خپله یو اعتراض راغی هغه داسی چه ستا د دی دلیل څخه دا معلومیږی **چه پلار د بقاء** د ژوند په خاطر ځمکه هم خرڅولی شی ؟ نو شارح د دی جواب په (انما لا یلی) سره وکړو **چه پلار د ځمکی** د خرڅولو ولایت ځکه نلری چه ځمکه د دی لپاره مهیا او تیاره شوی چه سره د بقاء د **ځمکی د ځمکی نه** انتفاع واخلی چه هغه فصل دی او په منقولی شیانو کی خو سره د بقاء نه انتفاع نشی اخستلی او ولایت د پلار نظری دی یعنی شفقت او رحمت دی او کله چه مضر شو نو بیا د ده ولایت ساقط دی نو **د ځمکی په** خرڅولو کی شفقت نشته بلکه نور هم هلاکت دی نو ځوی لپاره مصلحت او خیر خواهی دا ده **چه ځمکه** پریښودلی شی او سره د بقاء نه تری فائده واخستلی شی .

و لا للام بیع ماله لنفقتها لان تملك مال الابن مخصوص بالاب لقوله ﷺ انت ومالك لابیك و لانه لیس للام ولایة التصرف فی مال الابن .

تشریح او توضیح: او مور ته جائز ندی چه د خپل غائب ځوی مال د خپلی نفقی لپاره خرڅ کړی همدارنګه د ده اولادی ته او نورو خپلوانو ته او قاضی ته همدا اختیار نشته چه د دی **غائب هلک مال** خرڅ کړی او پخپله نفقه کی ئی خرچ کړی ځکه د ځوی په مال کی په وخت د ضرورت کی **تملیک خاص** دی صرف تر پلاره پوری د وجی د دی حدیث نبی ﷺ نه چه ته او ستا مال ستا د پلار دی او **بل دا چه مور** لره د ځوی په مال کی ولایت د تصرف نشته ولایت د تصرف صرف پلار لره دی .

و ضمن مودَع الابنِ الغائب لو انفقها علی ابویه بلا امر قاضٍ لا الابوان لو انفقا ماله عندهما و اذا قضی بنفقة غیر العِرس و مضت مدة سقطت لأن نفقة هٰؤلاء انما تجب کفایة للحاجة فاذا مضت المدة حصلت الکفایة و قد نُقل عن الجامع الکبیر للبزدوی ان هٰذا اذا طالت المدة بعد الفرض اما اذا قصرت فلا تسقط و قدروا القصر بما دون الشهر الا ان یاذن القاضی بالاستدانة ای یأذن القاضی بالاستدانة فحینئذٍ یصیر دینا علی الغائب و نفقة المملوك علی سیده فان ابی کسب و انفق و ان عجز اُمِرَ ببیعه .

مودَع هغه کس ته ویل کیږی چه هغه سره امانت ایښودل شوی وی نو که ابن غائب خپل مال د مودَع سره ایخودی و او دغه مودَع دغه مال د غائب په مور او پلار باندی یا په ښځه باندی یا په بچیانو د ده باندی بغیر د مالک د امر نه یا بغیر د قاضی د امر نه مصرف کړی نو دغه مودَع به بیا تاوان خپل مالک یعنی ابن غائب ته ورکړی ، ځکه چه مودَع لره حق د تصرف نشته په مال د غائب کی او کله ئی چه تصرف

وکړو نو تاوان به ورکوی ، او کله چه مودَع تاوان وکړ نو بیائی د ابن غائب پلار څخه بیرته نشی اخستلی ځکه چه کله مودَع تاوان لنډ کړو نو اوس مودَع د ورکړی شوی مال مالک وګرځیده او په ورکړی سره احسان کونکی وګرځیده ۔

او که د قاضی په امرئی ورکړی ؤ نو ضمان یعنی تاوان په مودَع باندی نشته ځکه قاضی ولایت عامه لری نو قائمقام د اذن د مالک ګرځی ۔

لا الابوان الخ : او که د ابن غائب مال د خپل مور او پلار سره ؤ او هغوی په خپل ځان خرچه کړو بغیر د اجازی د ابن غائب نه نو ضمان پری نشته همدارنګه ښځه او اولاد ځکه چه نفقه د اصولو او فروعو او د ښځی مخکی د قضاء نه واجب ده نو دوی کولی شی چه کله ئی وس ورسیده چه خپله نفقه د جنس د حق خپل نه واخلی لیکن نور خپلوان بیا داسی کولی نشی ۔

و اذا قُضِیَ الخ : که قاضی په نفقه د اصولو او فروعو او نورو خپلوانو سره ماسوا د ښځی د غائب نه فیصله وکړه او د فیصلی څخه وروسته موده تیره شوه او نفقه ئی وانه اخستله نو نفقه ئی ساقطه شوه ځکه د دوی نفقه د دوی د حاجت پوره کولو لپاره واجب شوی وه نو کل چه موده تیره شوه نو کفایت راغی ۔

او د جامع کبیر د بزدوی ؒ څخه نقل شوی چه سقوط د نفقی په تیریدو د مودی سره په هغه صورت کی راځی چه د قاضی د مقررولو څخه وروسته اوږده موده تیره شی اما که لګه موده تیره شوی وه نو بیا نفقه نه ساقطیږی ځکه که د کمی مودی په تیریدو سره نفقه ساقطه شی نو بیا د قاضی د فیصلی څه فائده شوه ځکه د هری فیصلی څخه وروسته څه نا څه موده تیریږی ، خو علماؤ دغه کمه موده د یوی میاشتی نه په کمه موده باندی اندازه کړی یعنی د میاشتی نه کمه موده به په کمه مودی سره نومولی شی او میاشت او د میاشتی نه زیات به په زیاتی مودی سره حسابولی شی لیکن د غائب د ښځی نفقه په تیریدو د مودی سره نه ساقطیږی ۔

الا ان یاذن القاضی الخ : مګر د ښځی د غائب څخه ماسوا د نورو اقاربو نفقه هلته نه ساقطیږی چه قاضی دغه خپلوانو ته امر په استدانت سره یعنی په قرض را اخستلو سره وکړی او دوئی هم قرض راواخلی نو پدی صورت کی که هر څومره موده تیره شی نو نفقه ئی نه ساقطیږی او په غائب باندی قرض ګرځی ۔

و نفقة المملوك الخ : د مملوک نفقه غلام وی او که وینزه وی په خپل بادار ده که بادارئی د خرچی کولو څخه منع او انکار کوه نو غلام دی کسب وکړی او پخپل ځان دی خرچ کړی او که د کسب نه عاجز ؤ نو د قاضی له طرفه به سید ته امر وشی مملوک دی خرڅ کړه ۔ والله الموفق وهو المستعان علی ما تصفون ۔

تمت بالخیر بمونه و کرمه ۔